# مدرسه او مبارزه

ليکوال: مولوي عبد الهادي «مجاهد»

مدرسه او مبارزه

بسم الله الرحمن الرحيم

# د کتاب ځانګړنې


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | مدرسه او مبارزه |
| لیکوال: | مولوي عبدالهادي (مجاهد) |
| د کتاب موضوع: | معاصره اسلامي مبارزه |
| د چاپ کال: | ۱۴۴۵هـ ق/1403 هـ ش /۲۰۲۴م |
| د چاپ وار: | لومړی |
| چاپ شمېر: | ۶۰۰۰ (شپږ زره ټوکه) |
| چاپ چارې: | د حکمت خپرندويې ټولنې تخنيکي څانګه |

د تر لاسه کولو پتې: د هېواد ټولې مشهورې کتابخانې.



برېښنالیک: janm69921@gmail.com

اړیکشمېرې:

۰۰۹۳۷۸۵۱۶۲۲۶۶ / ۰۰۹۳ - ۷۳۱۴۹۹۸۹۸ /۰۰۹۳ - ۷۴۴۴۴۵۲۶۳ - ۰۰۹۳



**د کتاب د چاپ، ژباړې او هر ډول خپرولو حق یې له لیکوال سره خوندي دی.**

مدرسه او مبارزه

# اهداء

د خپل ولس او نظام هغو قدرمنو علماوو ته يې اهداء کووم چې د يوه غوره تعليمي نظام او نصاب له لارې د اسلامي مبارزې لپاره د علماوو د داسې نسلونو روزل غواړي چې د اسلام د هر اړخيز فهم او د معاصرې ديني مبارزې لپاره د پوره وړتياوو په لرلو د ولسونو ديني او سياسي قيادت په هغه ډول وکړای شي چې څنګه يې د الله تعالی دين غواړي.

## فهرست

د کورنیو چارو د وزارت د ستر سلاکار محترم مولوي عبدالرحیم (ثاقب) لیکنه: **16**
د لوړو زده کړو د وزارت د علمي معین محترم دکتور لطف الله(خیرخوا) لیکنه: **19**
د حُریت د هفته نامې د مسؤول مدیر محترم استاذ داد محمد «ناوک» لیکنه ..... **21**
سریزه........................................................................ **31**

### اول فصل

**کله چې په اسلامي نړۍ کې تعلیم پردی شو، نو څه پېښ شول؟............. 41**
د ولسونو او نظامونو په جوړولو او ړنګولو کې د تعلیم، فکر او فرهنګ نقش .... **42**
د اوسنۍ اسلامي نړۍ د فکري او تعلیمي اشغال شالید:................................ 43
د تعلیم د سیکولر کولو لارې چارې:........................................................ 47
د غرب تعلیمي مشاورینو څنګه تعلیمي نصابونه د دین په خلاف وکارول؟.......... 49
په حکومتي تعلیمي نصابونو کې د سلوک لپاره د معیار په حیث د دین د نه منلو توطیه................................................................ 49
په اسلامي نړۍ کې غربي ډوله تعلیمي ادارې د امریکا د استراتیژیکې جګړې پټ لښکر . 51
د ننني اسلامي نړۍ تعلیمي مراکز، که د غربي کلتور، نظریاتو او ژوند بنې نندارتونونه؟.................................................... 54
د غربي ډوله تعلیمي نظام او نصاب په نتیجه کې څه ډول حُکّام منځته راغلل؟...... 56
غربي ډوله تعلیم د ولسونو څه ډول ذهنسازي وکړه؟ ..................................... 58
د سیکولرو حکومتونو تعلیمي نصابونه او غرب پلوې مطبوعات په اسلامي نړۍ کې د غرب د برلاسۍ دوه خطرناکې وسیلې:............................................ 59
امریکایانو زموږ د هېواد تر څنګ زموږ نصابونه او مطبوعات هم اشغال کړي وو:.......... 61
د ولس د عامه ذهنیت اشغالول د یرغلګرو لوی هدف:.................................... 63
د عامه ذهنیت د جوړولو لپاره د یرغلګرو اقدامات:...................................... 64

۱-د لاسپوڅو حکومتونو قائمول:............................................................ 64
۲-په ولس کې د مخورو او بانفوذه څېرو خریداري:.................................... 65
۳-د تبلیغاتو او عمومي ذهن جوړونې لپاره د فرهنګیانو خریداري:.................. 66
۴-د یرغلګرو په ګټه د تعلیمي بهیر عیارول:.............................................. 67
۵-د غربیانو په اصطلاح د منځلاري اسلام پلویان په خپله ګټه کارول:.................. 68
۶-د سوله ییزې مبارزې پراخ او مسلسل تلقین:........................................... 70
۷-د مدني ټولنو د فعالیت تر نامه لاندې غرب پلوو عناصرو ته په ټولنه او نظام کې ځای جوړول:........................................................................ 72

## دویم فصل

**په معاصره اسلامي مبارزه کې د د دیني مدرسې قیادي نقش ....................76**
مدرسه د هېواد له دیني هویت څخه د دفاع د یوه انقلابي تفکر او عمل سمبول:.... 77
د مدرسې د اهل په مقابل کې د غرب څلور ستراتېژۍ:.................................. 79
۱-د احتواء ستراتېژي:.............................................................. 79
۲-د تحریف او اغفال ستراتېژي: ...................................................... 80
۳-د منځلاري اسلام په نامه د امریکایي اسلام د رامنځته کولو ستراتېژي: ............ 83
۴-د پوځي زور د کارولو ستراتېژي: .................................................. 85
د مسلمانانو د اوسني فکري انحراف او اخلاقي انحطاط په اړه باید د دیني مدرسې څه دریغ وي؟............................................................................. 86
د انقلابونو لاسته راوړنې په هراړخیزه پوهه او علمي انکشاف ساتل کېږي:........... 89
فکري اشغال او د وړتیاوو نه درلودل د اسلامي نظام د نه قائمېدلو دوه عوامل:....... 90
په علمي ډول د جهادي لاسته راوړنو د خوندي کولو ضرورت: ......................... 94
د جهادي فکر د خوندي کولو او انکشاف د یوې طرحې ابتدایي خاکه:.............. 94

## درېیم فصل

مدرسه او مبارزه

**د مدرسې په اوسني تعليمي نصاب کې د معاصرو فکري ادبياتو فقر يوه نه جبرانېدوکې خساره ........................................................ 102**
د مدارسو په اوسنيو نصابونو کې د فکري ادبياتو فقر: ................................ 103
د ارزښتونو او عقيدې جگړه ولې مهمه ده؟ ................................................ 103
د اسلام په خلاف د جاهليت د فکري او عقيدوي جگړې اوږد تاريخ: ............... 106
د پخواني او نني جاهليت تر منځ توپير: .................................................... 110
غربيان او معاصر جاهلي نظامونه ولې شريعت حاکمېدلو ته نه پرېږدي؟ ............ 112
د فکري جگړې پېژندل او کول ولې ضروري دي؟ ........................................ 123
ولې بايد د مدارسو منسوبين د فکري جگړې مقابله وکړي؟ .............................. 126
په اسلامي نړۍ کې د فکري جگړې د مقابلې دوه ستر مبارز عالمان: ................ 131

## څلورم فصل

**د ارزښتونو په جگړه کې د ايماني قوت او کمزورتيا تأثير .................... 145**
د عقيدوي او ارزښتي جگړې اهميت: ........................................................ 146
د امت خطرناکه کمزوري له کومه ځايه پيل شوه؟ ........................................ 152

## پنځم فصل

**په ديني مدارسو کې د انقلابي تربيې ضرورت ......................................... 159**
علماء مو بايد د کومې روحيې او کومو وړتياوو خاوندان وي؟ ........................ 160
انقلابيت په کومه معنى؟ ........................................................................ 162
ديني علماء څه وخت انقلابي کېدى شي؟ .................................................. 163
ولې بايد ديني علماء انقلابي شي؟ ........................................................... 164
علماء يوازې امامان، که د ديني او سياسي دواړو قيادتونو اصلي وارثان؟ ............ 167
انقلابي ديني علماوو څه وکولى شول؟ ...................................................... 169
افغان ديني علماء بايد ولې تر نورو ډېر انقلابي وي؟ ..................................... 170

مدرسه او مبارزه

## شپږم فصل

**افغانستان د غربي فرهنګ او سياسي تسلط په لوی سمندر کې يوه ناتسخير شوې جزيره ........ 175**

د افغانستان ساتنه د ديني مدارسو او علماوو وظيفه: ........ 176

او س څه کول پکار دي؟ ........ 180

## اووم فصل

**د ديني تعليم او تعلم اصلي اهداف ........ 186**

ديني تعليم د څه لپاره؟ ........ 187

د علماوو د مسؤوليت لويه ساحه: ........ 190

د ديني تعليم اساسي اهداف: ........ 191

اول هدف- په ټولنه کې د الله تعالی له لوري راغلی هدايت خپرولول: ........ 192

دويم هدف- په ټولنه کې هر اړخيزه اصلاح راوستل: ........ 195

دريم هدف- د فکري، عقيدوي، اخلاقي، سياسي او اجتماعي باطل مقابله: ........ 196

څلورم هدف- پر ديني بنسټونو د ولاړ سياسي او عسکري نظام رامنځته کول: ........ 197

## اتم فصل

**هغه مضامين چې لوستل يې د مدرسې په طالب کې انقلابي فکر او سياسي شعور پيداکوي خو زموږ په نصابونو کې نشته ........ 202**

د مبارزو علماوو د روزلو لپاره دوه اساسي کارونه: ........ 204

د قيادي شخصيتونو د روزلو لپاره د مدرسې په نصاب کې دوه ډوله علوم: ........ 206

**اول ضروري مضمون ـ معاصره باطل پېژندنه ........ 207**

د کفر د معاصرو ډولونو د پېژندنې پېچلتيا: ........ 209

د باطل پېژندنې اهميت: ........ 215

اسلامي مفاهيم د هدف له نظره: ........ 215

مدرسه او مبارزه

د باطل پېژندل ولې ضروري دي؟ ........................................ 224
په اوسني عصر کې د باطل پېژندنې پېچلتیا: ........................................ 228
په قرآن کریم کې د باطل معرفي کولو ولې لویه برخه نیولې ده؟ ........................ 232
د جاهلیت د پېژندلو اهمیت د پیغمبر صلّی الله علیه وسلم د اصحابو له نظره: ...... 234
د اسلام پخوانیو علماوو تل باطل پېژندنې ته د اهمیت په نظر کتلي دي: ............ 237
موږ د تعلیمي نصاب له لارې د معاصرې باطل پېژندنې په اړه څه کړي دي؟ ....... 240
د معاصر کفر ځینې دولونه چې باید نصابونه یې په اړه معلومات تدریس کړي: ... 246
د مدارسو په تعلیمي نصاب او د یني تفکر کې څه شي ته اولوویت ورکړو؟ ........ 247
په افغانستان او نورې اسلامي نړۍ کې د خونړیو جریانونو اصلي سبب د غربي
افکارو راصادرېدل دي: ........................................ 250
په افغانستان کې د معاصر غربي فکر د پلویانو جنایات: ........................................ 255
**دویم ضروري مضمون ـ اسلامي تاریخ ........................................ 265**
د اسلامي تاریخ د لوستلو اهمیت: ........................................ 267
د اسلامي تاریخ په مضمون کې باید لاندې مضامین تدریس شي: ........................ 268
۱- د جاهلیت مرحله ........................................ 268
۲ - د نبوي سیرت مکي او مدني مرحلې ........................................ 268
۳ - راشده خلافت ........................................ 268
۴ - اموي مرحله او په اروپا کې د اسلامي اندلس تاریخ ........................................ 269
۵- عباسي مرحله ........................................ 269
٦- د بېلابېلو اسلامي دولتونو مرحله ........................................ 269
۷- صلیبي جګړې ........................................ 269
د جاهلیت مرحله: ........................................ 269
د جاهلیت تعریف: ........................................ 270
زوړ او معاصر جاهلیت: ........................................ 272
نصراني جاهلیت: ........................................ 280

مدرسه او مبارزه

يهودي جاهليت: ........ 283
د روم جاهليت: ........ 284
د فارس جاهليت: ........ 285
د چين او هند جاهليت: ........ 288
د عربو جاهليت: ........ 289
په جاهليت کې عربو ځينې ښه صفات: ........ 297
نبوي مرحله: ........ 302
د سيرت النبي علم: ........ 302
سيرت النبي يو شرعي، مستند او معتبر علم: ........ 305
د سيرت د علم مصادر: ........ 306
اول مصدر ـ قرآن کريم ........ 306
دويم مصدر ـ د رسول الله صلى الله عليه وسلم احاديث: ........ 307
دريیم مصدر ـ د رسول الله صلى الله عليه وسلم د زمانې ادبيات او اشعار: ........ 307
څلورم مصدر ـ د صحابه کرامو، تابعينو او تبع تابعينو روايات او د مغازيو کتابونه: . 308
پنځم مصدر ـ د قرآن کريم تفاسير: ........ 308
د سيرةالنبي ځينې مهم کتابونه: ........ 309
د راشده خلافت مرحله: ........ 311
د يوه خلافت پر ځای د بېلابېلو دولتونو مرحله: ........ 311
د استعمار مرحله: ........ 314
د مستعمرينو په لاس تر استعمار د وروسته جوړو شوو دولتونو او نظامونو مرحله: 316
مابعد الاستعمار مرحله د علامه سيد ابوالحسن علي ندوي رحمه الله له نظره: ...... 317
په اسلامي نړۍ کې د غربي فکر مقابله د علامه ندوي له نظره: ........ 332
د اسلامي نړۍ د اوسني وضعيت مرحله: ........ 338
**دريیم ضروري مضمون ـ د دعوت علم ........ 345**
د عوت د ټولنو په ژوند کې څه اهميت لري؟ ........ 348

مدرسه او مبارزه

زموږ په مدارسو کې د دعوت مضمون نشته: ........................................ 351
د دعوت څلورګوني ارکان: ........................................................... 352
اول رکن - داعي: ............................................................................ 353
دويم رکن - مدعو: ........................................................................... 355
درېيم رکن - وسائل او مېتودونه: ....................................................... 357
څلورم رکن - د دعوت محتوا: ........................................................... 358
غربيان څنګه د دعوت او معاصرې تأثير ګذارۍ له لارې نور ولسونه تسخيروي؟. 360
په عقلي لحاظ د ولسونو تسخيرول يو دقيق علمي او تخنيکي عمل دی: ............ 362
د ولسونو د عقلي تسخير د علم معاصر تاريخ: ........................................ 363
غربيانو د افغانستان د اشغال په کلونو کې د دعوت او فکري تأثيرګذارۍ وسائل څنګه وکارول؟ ........................................................................ 369
**څلورم ضروري مضمون ـ معاصره ليکوالي ........................................ 373**
معاصره ليکوالي څه شی ده؟ ............................................................ 373
د معاصرې ليکوالۍ لپاره ضروري وړتياوې: ......................................... 374
ولې بايد ديني علماء معاصره ليکوالي زده کړي؟ .................................. 377
د اسلام علماء څنګه توانېدلي چې امت ته په ملياردونو صفحې ليکنه وکړي؟ ..... 378
افغان علماء او په ټولنه کې د اسلامي معلوماتو فقر: ................................ 379
د تأمل وړ او ځوروونکی وضعيت: ....................................................... 381
د مدارسو په طالبانو کې به ليکوالي څنګه راځي؟ .................................... 383
د معاصرې ليکوالۍ لپاره د ديني موضوعاتو پراخه ساحه: ........................ 384
يو ارمان او يو مهم وړانديز: ............................................................... 391
انټرنيټي کتابتون: ........................................................................... 394
**پنځم ضروري مضمون ـ د ژبو زده کول ............................................ 397**
د ژبو زده کړه مو علماوو او طالبانو ته څه ورکوي؟ ................................ 397
په افغاني ديني مدارسو کې مو د پښتو او دري ژبو د نه تدريسېدو ناوړه عواقب: .. 399

پیغمبر صلّی الله علیه وسلم د کفارو د ژبې پر زده کولو امر کړی: ...................... 402
ژبې شخصیتونه دي: ...................................................................... 405
د هېواد پر علمي بډاینه د ژبو د زده کړې تأثیر: ...................................... 406
ژبې څنګه زده کېږي؟ .................................................................... 408
**شپږم ضروري مضمون ـ تزکیه او اخلاق ............................................ 411**
اخلاقي روزنه د انبیاوو علیهم السلام او مصلحینو اساسي وظیفه: .................. 411
اخلاق څه شی دي؟......................................................................... 412
د ملتونو په بقا او زوال کې د اخلاقي قوت تأثیر: ...................................... 413
آیا اوس مو په مدارسو کې د اخلاقو کتابونه تدریسېږي؟.............................. 416
د ټولنې خلکو ته د اخلاقي روزنې ډېر ضرورت دی، که د لغوي او عقلي علومو؟ 417
د تزکیې او اخلاقو ځینې پخواني او اوسني کتابونه:...................................... 418
کوم اخلاقي موضوعات مو باید په نصابونو کې شامل شي؟ ........................... 420
**اووم ضروري مضمون ـ بدني روزنه او جهادي اعداد ............................ 427**
ولې باید په مدرسه کې د فکري او عسکري اعداد فکر او عمل وپالل شي؟ ........ 427
جهادي مدرسو ته له یوه متفاوت لیدلوري کتنه: ........................................... 429
د رسول الله صلّي الله علیه وسلم د مدرسې شاګردان هم ټول نظامیان وو: ........... 432
په اسلامي مبارزه کې اعداد او جهاد تر ټولو غوره عبادت دی: ........................ 434

**نهم فصل**

**د دین د حاکمولو پر لاره د مدرسې د اهل مزل، خنډونه او څو کامیاب مثالونه 439**
سیاسي، عسکري او اجتماعي قیادت ته د دیني علماوو له راګرځېدلو د غرب او غرب پلوو وېره: ........................................................................ 440
د انقلابي علماوو ظهور او د مستعمرینو زوال: ........................................... 443
په افغانستان کې د اسلامي او غربي فکر تر منځ د جګړې شالید:...................... 444
**په افغانستان کې د اسلامي مبارزې درې نومیالي شخصیتونه ................ 447**

۱-مولوي جلال الدين (حقاني) رحمه الله د دوو لويو جهادونو مبارز سرلارى:.. 447
حقاني د غرب له فکري تأثيراتو ليرې يو ريښتينى عالم او زړور مجاهد:............ 447
حقاني مرحوم د لوى فکر او پراخ اجتماعي افق خاوند مولوي: ....................... 449
حقاني د لويو امپراتوريو او زبرځواکونو په خلاف جنګېدونکى مولوي: ........... 451
حقاني د خپل ولس په فکري، سياسي او اجتماعي نبض پوه مولوي: ................ 452
حقاني د پخواني جهاد امين: ................................................................ 454
حقاني د جګړې، سياست او ټولنيز فعاليت تر څنګ د علم، فکر او فرهنګ سړى 455
د حقاني کورنى د مجاهد پلار مجاهد زامن: ............................................ 456
**۲- ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله د مدرسې هغه طالب چې نړۍ ته يې د اسلامي قيادت مثال وړاندې کړ ............................................ 458**
ملا محمد عمر په عمل کې امت ته ور وښوده چې په اسلام کې د دين او سياست تر منځ بيلتون ځاى نه لري: ................................................................ 459
د دين او سياست د بېلتون نظريې له اسلامي نړۍ څه واخيستل؟ .................. 460
د افغانستان، اسلامي فکر، او اسلامي سياست لپاره د ملا محمد عمر مجاهد مرحوم څو لوى کارونه: ............................................................................ 464
۱-د کمونيزم په خلاف د افغانانو د ستر جهاد د نتيجې له ضائع کېدلو ژغورل:..... 465
۲-د (ملا) سياسي کول او حاکميت ته رسول: ............................................ 468
۳-طالب او مکتبي ته جهادي روحيه ورکول او له دين څخه د دفاع په صف کې د هغوئ درول: ............................................................................ 471
۴-په فکر او عمل د يوه رښتيني مسلمان حاکم نمونه وړاندې کول: ................. 473
**۳- استاذ محمد ياسر د سنګر او منبر اتل او د مبارزې شيخ.................. 476**
د استاد محمد ياسر شخصيت: .............................................................. 478
د استاذ محمد ياسر سياسي ژوند: ........................................................ 481
د استاد محمد ياسر جهادي ژوند: ......................................................... 483
د استاد محمد ياسر علمي ژوند: .......................................................... 484

استاد محمد یاسر یو قانع کوونکي داعي: ........................................................ 485
استاد محمد یاسر د ولس مصلح او د مبارزی شیخ: ........................................... 488

مدرسه او مبارزه

## لسم فصل

**مساجد او تربیوي حلقات د مبارزې سنګرونه .................................. 489**
په ټولنه کې د مسجد تعلیمي، اصلاحي او اجتماعي نقش: ................................ 490
د مساجدو فعال ساتل د امت د قوتستره نقطه: ................................................ 492
د مسجد له لارې په ټولنه کې د اشغال د فکري تأثیراتو له منځه وړل: ................. 495
د اشغال تأثیرات: ..................................................................................... 496
د اشغال فکري او فرهنګي تأثیرات: ............................................................ 497

## یوولسم فصل

**ښځو ته به د الله تعالی دین څوک او څنګه ور زده کوي؟ ..................... 504**
ښځو ته د دیني زده کړو ضرورت: ................................................................ 505
د ښځو لپاره باید څه ډول تعلیمي نظام او نصاب رامنځته شي؟ ......................... 510
مولوي عبد الهادي مجاهد څوک دی؟ ............................................................ ۴۸۹

مدرسه او مبارزه

د کورنیو چارو د وزارت د ستر سلاکار مولوي عبدالرحیم (ثاقب) صاحب لیکنه:

**د (مدرسه او مبارزه) کتاب په اړه څو یادونې!**

په افغانستان کې مدرسه او مبارزه د خپل طبیعي تلازم له مخې اوږده سابقه لري.

په دې معنی چې څوک هم په مدرسه کې تدریس او یاهم د دین احکام زده کړي هغه به خامخا د یادو احکامو د تطبیق او یا هم د هغو د دفاع په لاره کې د دین له مخالفینو سره مبارزه او مقابله کوي.

په افغانستان کې د مدرسې مبارزه له کال ۲۰۲ هـ ق څخه د اسلامي نړۍ د سترو مشاهیرو او د پخواني خراسان له اعلامو لکه امام ابو داود السجستاني، شیخ الاسلام محمد بن محمد بن بکرالخلمي او امام ابواللیث السمرقندي البلخي... له وخته تر نن پورې رائجه ده.

د مدرسې او مبارزې دغه طبیعي تلازم د افغانستان په تاریخ کې د جهادي تحریکونو د قیادت او د هغوئ په ژوندي ساتلو کې اساسي رول لوبولی.

د مثال په توګه سلطان محمود غزنوي په کال ۳۷۷ هـ ق کې د هند لویه فتحه د مدرسې د علماوو په هدایت اولارښوونه ترسره کړه.

سلطان شهاب الدین غوري چې په کال ۵۵۹ هـ ق کې له افغانستان څخه د هند په نیمه وچه حکومت کاوه همدې د مدرسې علماوو د هغه د حکومت په لوړو مناصبوکې مهم مسؤلیتونه لرل.

همداراز کله چې د افغانستان مؤسس احمدشاه ابدالي په کال ۱۱۶۰ هـ ق کې د هندي مسلمانانو د مرستې لپاره هند ته خپل پوځونه ولیږل؛ د دغه جهادي اقدام د ترسره کولو لامل یې هم د همدغو دیني علماو توجیه او لارښوونه وه.

پر دې سربیره په تېرې پیړۍ کې که مونږ وګورو افغان مسلمان ولس د انګریزانو او پخواني شوروي اتحاد د یرغلونو داسې تاریخي مقابلې وکړې چې نه یواځې خپل هېواد یې د هغوئ له تاړاکه ازاد کړ؛ بلکې ټول هغه هېوادونه چې دوئ د خپلو

یرغلونو په نتیجه کې لاندې کړي وو خپلواک او دواړه (انګریزي او شوروي) مغرورې امپراتورۍ یې را و پرځولې.
[قُلْ بِفَضْلِ اللهِ وَ بِرَحْمَتِه فَبِذلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا...]
۲۵ کاله وړاندې چې یرغلګرې امریکا د خپلو ۴۸ ایتلافی اشربانو په ملتیا پر افغانستان یرغل وکړ نو افغان مجاهد ولس یې بیا همداسی تاریخي مقابله وکړه چې نړۍ ته یې د امپراتوریو په هدیرې کې د امپراتوریو د خښولو درسونه وریاد کړل.
که په دغو ټولو تاریخي مقطعونو کې د یرغلګرو په وړاندې د افغان مجاهد ولس مقاومت او جهادي مبارزې ته وکتل شي نو خامخا به دې حقیقت ته رسیږو چې دغه ټولي حیرانوونکي مقابلي، مبارزې او جهادونه د دې میړني مسلمان ولس د دیني علماوو په امر او فتوی ترسره شوي.
د انګریزانو خلاف جهاد کې ایپی فقیر، هډې ملا صاحب، چکنور ملاصاحب، ترنګزو حاجي صاحب، ملا مشک عالم... او د شورویانو په مقابل کي مولوي محمد یونس خالص، مولوي محمد نبي محمدي، مولوي نصرالله منصور، مولوي جلال الدین (حقاني) او... د بیلګې په توګه هغه قائدین علماوو چې د تېري کوونکو په وړاندې یي د افغان مسلمان ولس د جهاد او مقاومت قومنده په لاس کې لرله او د همدوئ تر مشرۍ لاندې مسلمانو افغانانو د شوروي اتحاد په نوم سره امپراتوري د نړۍ له نقشي وتوږله.
همدا راز د شوروي یرغلګرو په خلاف د اسلامي جهاد تر بریا وروسته د تنظیمي ګډوډۍ له منځه وړونکی، له تجزیې څخه د هېواد ژغورونکی او دلته د یوه اسلامي امارت تأسیسونکی امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد او د هغه په تعقیب د امریکایي اشغال په وړاندي قیادي شهید امیر المؤمنین ملا اختر محمد منصور او د هېواد فاتح امیرالمؤمنین شیخ هبة الله حفظه الله ټول علماء او د دیني مدارسو طالبان او استاذان وو.
همدې د دیني مدارسو طالبانو او استاذانو که له یوې خو ا د بهرنیو اشغالګرو په وړاندې د جهاد او مقاومت مورچل ګرم ساتلی د هغه ترڅنګ یې په فکري او

علمي لحاظ د ملحدينو او لادينانو «سيکولرستانو» په خلاف له ديني معتقداتو څخه د مقابلې ډګر هم د علم او پوهې په قوت ګټلی.

خلاصه ويلی شو چې ديني مدارس په افغانستان کې د اسلام او اسلامي مقدساتو د دفاع او مقابلې علمي او نظامي مستحکم مورچلونه او مضبوتې کلاګانې دي او چې څومره د دغو مدارسو استاذان او طالبان د علم، پوهې او فکري اعداد په قوت مجهز وي په هماغه اندازه يې د دښمنانو په وړاندې له اسلام او اسلامي معتقداتو څخه دفاع او مقابله بريالۍ وي.

محترم استاذ مولوي عبد الهادي مجاهد صاحب د خپل کتاب لپاره «مدرسه او مبارزه» يو داسې د حسين امتزاج نوم غوره کړی چې د افغان مجاهد ولس د اوږدې علمي مجاهدې او مبارزې ځلاند تصوير ورکې نغښتی.

محترم استاذ په خپل همدې کتاب کې د مدارسو استاذانو او طالبانو ته له دښمن سره د فکري مقابلې تکتيکونه او فکري ادبيات په خورا دقت، بصيرت او ښه استدلال سره بيان کړي دي.

نوموړي تر دې وړاندې د «فکري پوهنې» او «د يرغل پر وړاندې» په نوم هم قيمتي کتابونه ليکلي چې د جهاد او مبارزې د لارې لارويانو ترې ډېره استفاده کړې.

«مدرسه او مبارزه» د محترم مجاهد صاحب بل هغه علمي اثر دی چې د خپلو علمي معلوماتو او د جهاد او مبارزې د نيږدې څلورو لسيزو د تجربو پر اساس يې ليکلی.

په ياد اثر کې يې د مدرسې د مدرسينو او طالبانو لپاره هغه علمي اړتياوې که هغه د مدرسې د نصاب په اړه وي او که د مدرسې د تدريسې ميتودونو په اړه وی په خورا علمي تنسيق ځای پرځای کړي.

له الله تعالی څخه غواړم چې د قدرمن استاذ مجاهد صاحب دغه علمي اثر هم د هغه د نورو تاليفاتو په څېر د عامو او خاصو د قبول وړ وګرځي او نوموړي ته د دين او دعوت د دفاع په لاره کې مزيد توفيق ور په برخه کړي. والسلام.

عبد الرحيم (ثاقب)

مدرسه او مبارزه

کابل ۱۲/ ۱۴۴۵/۹ هـ ق – ۱۴۰۳/۱/۳کال هـ ش

د لوړو زده کړو د وزارت د علمي معين محترم دکتور لطف الله (خير خوا) ليکنه:

**د ملت ساتنې فرصت**

کابو له سلو کلونو ډېر وخت وشو، چې مدرسه له حکومتي سرپرستۍ بې برخې وه. مدرسې له خپل فکري او علمي منهج مراعاتولو پرته تغير او تجدد نه غوښت او نظامونو بيا مدرسه پر همغه فکري او علمي منهج نه خوښوله. دا د دې سبب شو، چې د مدرسې زمامدارانو پر شته ميراث منګولې کلکې کړې. مدرسه يې په پردي فکري او تعليمي منهج له بدلون وژغورله.

دې ثبات د الله تعالى په مرسته مدرسې ته د سريع بدلون زمانه کې هم نجات ورکړ او يوازې دا نه چې ځان يې وژغوره، بلکې د نظامونو عرشونه يې واړول او دا دی د يو ځانګړي نظام د فکري، سياسي، مبارزې او علمي شاليد په توګه همغسې هسکه غاړه ولاړه ده.

مدرسه وه، خو د بدلونونو په جريان کې د ځان ژغورنې په پار غايبه وه، ځکه چې دا بدلون مدرسې نه غوښت. د مدرسې دې غياب نظامونو او نړيوال نظام ته په اسلامي نړۍ کې په وضعي سياسي، اجتماعي او اقتصادي دينونو د نوې ملت جوړونې فرصت ورکړ. ټوله اسلامي نړۍ په جلا جلا مليتونو ووېشل شوه، هغه يو ګډ تاريخ، ثقافت او ارزښتونه نور د راټولېدو، يو موټی کېدو او د يو بل د ملاتړ جوګه پاتې نه شول.

همدا ټوکه پر افغانستان هم وشوه. په تېره بيا په تېر شل کلن ۲۰۰۱ – ۲۰۲۱ ز صليبي يرغل کې په زغرده د افغانستان د ملت نوې جوړونې هڅه ډېره په چټکتيا وشوه. په نوره اسلامي نړۍ کې د نوې ملت جوړونې دومره زغرده خبره نه وه شوې، خو د افغانستان په دې دوه لسيزو کې د نوې ملت جوړونې موضوع ډېره ښکاره مطرح شوه او په کور دننه د هېڅ حساسيت وړ ونه ګڼل شوه.

په افغانستان کې د ګوډاګۍ اداري -۲۰۰۱ – ۲۰۲۱ ز - جوړوونکي جيمز ډابينز په خپل کتاب «له طالبانو وروسته د ملت جوړونه» کې دا مطلب ډېر روښانه کړی او تر اوسه د امريکا د سياسيونو او نظرياتي اشخاصو په ژبه په افغانستان کې د نوي ملت جوړونې د پروسې ناکامي «ستراتيژيکه ناکامي» ګڼل کېږي.

دا شل کاله د افغانستان د خپل تاريخ، ثقافت او ارزښتونو د انقطاع موده وه. اوس يې وخت دی، چې د دې زخم علاج وشي او بېرته افغانستان خپل تاريخ، ثقافت او ارزښتونو سره وتړل شي. د قدرمن استاد عبد الهادي مجاهد صاحب دا کتاب مدرسې ته همدا رسالت تعينوي، چې اوس د خپلو زمامدارانو تر نظارت لاندې د خپل فکري او تعليمي منهج پر بنسټ د تغير او تجدد وخت دی.

مدرسه بايد د خپل سل کلن غياب موده جبيره کړي. دا يوازې د ځان د بدلونې او تجدد په پار نه، بلکې د افغانستان د تاريخ، ثقافت او ارزښتونو د دې دوه لسيزو د انقطاع د جبيرې لپاره يې په ځانګړي ډول اړتيا ده.

د دې کتاب محتوا مدرسه د اوسني افغانستان زمامداره ګڼي، د اوسني افغانستان د مادي او معنوي غوښتنو ځواب ويونکې يې ګڼي او په اوسني فکري او تمدني کشمکش کې يې د اسلامي امت د دفاعي او اقدامي جګړې سر اعلی بولندويه ګڼي؛ ځکه ورته د ځاني اصلاح هغه موارد په نښه کوي چې د دې ستر مسئوليت په اداء کولو کې ورسره مرسته کوي.

دا کتاب د ليکوال د تقريباً څلوېښتو کلونو د مطالعې، تجربې او د ژوند د مدرسې د عبرتونو غورچاڼ دی. ليکوال وايي، ما چې په ژوند کې څه ويل غوښتل، هغه همدا محتوا ده، چې دا کتاب يې رانغاړي. ليکوال نېکمرغه دی، چې سينډ په کوزه کې ځايولی شي او د ارمان تر پوره کېدو ورسره ژوند ياري کوي... خو تر ليکوال يې لوستونکی ډېر نېکمرغه دی، چې د نيمې پېړۍ مطالعه، تجربې او د ژوند د مدرسې عبرتونه په دوه ورځو کې لوستلی او زده کولی شي... حمزه بابا وايي:

ستا پـه اننګو کې د حمزه د وينو سره دي
ته شوې د پښتو غزله ځوان زه دې بابا کړمه

الله تعالی دې استاد مولوي عبدالهادي مجاهد ته د دې زيار بدلې ورکړي، د اخرت توښه او جاريه صدقه دې يې شي. آمين

لطف الله (خيرخوا)

د حُريت د هفته نامې د مسؤول مدير محترم استاذ داد محمد «ناوک» ليکنه

## مدرسه او مبارزه؛ يوه پېښه!

الحمد لله رب العلمين و الصلوه والسلام علی رسول الله محمد و علی آله و اصحابه اجمعين

په فرهنګي، علمي او ادبي ډګر کې د داسې اثارو رامنځته کېدل چې په خپرېدو يې ذهني يا عملي بدلون رامنځته شي او د ټولنې حاکم، تطبيقي او عملي فکر په مثبت لوري رهبري کړي؛ فرهنګي او علمي پېښه بلل کېدای شي.

ممکن ځينې داسې برداشت کړي، چې نو دا ډول حکم بايد د اثر له خپرېدو وروسته وشي يا ممکن کلونه وروسته وشي، چې منصفانه ښکاره شي او حکم کوونکی په لاس کې ښکاره شواهد ولري او بيا يې له خپاره شوي اثر سره تړاو ورکړي، چې د دې اثر د دې تأثيراتو په نتيجه کې دا ډول تغيرات راغلل نو پر دې بنا اوس دا اثر يوه پېښه بللی شو؛ خو که ځينې اثار تر خپرېدو وړاندې هم د هغو عواملو درلودونکي وي چې پر اساس يې ژور تغيرات او مثبت تحول راتلی شي يو لوستونکی دا حکم کولی شي چې په دراز مدت کې به دغه اثر د يوې پېښې حيثيت خپل کړي.

مدرسه او مبارزه؛ د فکري جګړې د متخصص، مفکر او استاد عبدالهادي مجاهد داسې اثر دی چې د کلونو تجربې، معلومات، لوستې نظريې، د رد او تاييد مستدلل ځوابونه، د راتلونکي لپاره پر واقعيت ولاړ وړانديزونه او هيلې پکې را ټولې شوې دي، چې په فکري برخه کې بې له مبالغې يوه پېښه بلل کېدای شي، هغه عوامل

چې یو اثر د یوې فرهنګي، ادبي، علمي یا ټولنیزې پېښې وړ کولی شي، ځینې یې ممکن داسې یاد کړو:

- **حاکم فکر ننګول؛** که کوم اثر کې له روانو علمي حالاتو، ټولنیزو پدیدو او فرهنګي بحثونو سره توافق ښوودل شوی وي، حتی ځای پر ځای یې یوازې ستاینه را اخیستل شوې وي، نو سړی ویلی شي چې دا ډول اثر به یوازې ژورنالیستيکي راپور، تاریخي جریان، یا هم ممکن توصیفي ګزارش وبللی شو؛ ځکه خو مهمه ده چې که غواړو په علمي، فرهنګي او د ټولنې په هره برخه کې د لا ښه کېدو په لور تغیر راولو، مجبور یو چې حاکم فکر وننګول شي، دا ننګول د ګواښ په معنی نه دی، بلکې موخه دا ده چې تنقیدي نظر پرې وشي، که تنقیدي نظر وجود ونه لري نو نیمګړتیاوې را برسېره کېدلی نه شي، چې نیمګړتیاوې درک نه شي د تصحیح یا پر مخ تګ سوال نه پیدا کېږي، نو پایله به یې له حالاتو سره توافق وي؛ ځکه خو هغه اثار چې د پېښې رول ور په غاړه وي په ځان کې دا عوامل لري چې په ټولنه کې روان حالات وننګوي؛ نه یوازې وننګوي بلکې د قوت نقطو د پیاوړتیا او د ضعف ټکیو د له منځه وړلو لپاره وړاندیزونه او طرحې هم له ځان سره ولري.

مثلاً دې اثر کې په حاکم وضعیت کې دا تشه احساس شوې چې د نویو فکري نړیوالو پدیدو او فتنو پر وړاندې زموږ د مدرسې په ښوونیز نصاب کې په هغه اندازه مواد نه پیدا کېږي چې له دې علمي مرکز راوتلی شخص یې د رد، غلط ثابتولو او پر وړاندې د دفاع مستدلل توان ولري؛ نه یوازې دا تشه په ګوته شوې بلکې د دې تشې د ډکولو لپاره وړاندیزونه شوي، نوې فکري پدیدې بحث شوې او تاریخي سیر یې له لوستونکو سره شریک شوی.

« موږ باید په خپلو نصابونو کې د خپلو لوستونکو لپاره د کفارو د عقیدوي، سیاسي او اخلاقي انحطاط معاصر او ښکاره مثالونه وړاندې کړو، ترڅو کفار زموږ نوي نسل ته د تقلید د وړ مثال او مقتدا په حیث نه، بلکې د داسې خلکو په حیث ورښکاره شي چې باید هدایت ورته ورورسول شي، او له کفر څخه

يې نفرت وشي. او دا کار ځکه ضروري دی چې نن غرب کوښښ کوي چې د مسلمانانو نوي نسل ته خپل ځان د مادي او صنعتي پرمختګ په مجال کې د مثال تر څنګ په اخلاقي او فرهنګي مجال کې هم د يوې غوره نمونې په ډول وړاندې کړي، او په دې ډول هغوئ په ځان پورې وتړي.»

- **د عملي کېدو وړتيا ولري؛** ښېښه بلل کېدونکی اثر يوازې د ارمانونو ټولګه نه وي، بلکې له ځمکنيو واقعيتونو سره اړخ لګوي، تشريح يې، ژبه يې او پکې وړاندې شوي موارد مخاطبينو ته د فهم او تطبيق وړ ښکاري. د دې تر څنګ له عملي کېدو نه يې موخه دا ده چې يوازې تيوريکي مسائل پکې نه وي چې ذهني غذا کېدای شي خو عملي شکل ته اړول يې ناشوني وي يا پر وړاندې کلتوري، ټولنيز يا سياسي خنډونه ولري.

دا ځانګړنه په دې اثر کې خورا په دقت مراعت شوې، د دې لپاره چې تعليمي جوړښت بشپړ تشريح کړل شي په نړۍواله سطحه بحث شوی، چې څنګه سيکولر حکام تعليمي جريانونه له ديني روح خالي کېدل غواړي، له خپلو دغسې ادرسونو يې څه ډول حکام را وايستل، پر وړاندې يې د ديني جريانونو مسؤليت څه دی او څنګه کولی شو چې پخپله داسې جامع اشخاص ټولنې ته وړاندې کړو، چې د ديني زده کړي تر څنګ د نړۍ په معاصرو فتنو خبر، په ولس کې يې پر ربښو ځغلولو اګاه او پر وړاندې يې د دفاع لپاره پر استدلال لاس بری او قانع کوونکی وي.

استاد ليکي: «د ارزښتونو او باورونو جګړه په هره زمانه کې جلا جلا شکل نيسي. لکه څنګه چې پرونی فرعون تر نني فرعونه فرق لري، همداسې ننی فرعونيت هم تر پروني فرعونيته فرق لري. او همدارنګه د نني فرعونيت په خلاف مقابله هم د پروني فرعونيت په خلاف تر مقابلې ډېر فرق لري.

پرونی جاهليت هم له نني جاهليت سره فرق لري. پرونی جاهليت محدود او ساده و، تأثيرات يې په لږو خلکو کې منحصر و، پر خلکو يې د تأثير وسائل ساده و، او مقابله يې هم په اسانه او په ساده وسائلو کېده. خو ننی جاهليت

دومره قوي، هراړخيز او پېچلی دی چې نه يې هر څوک درک کولی شي، او نه يې هم هر څوک د مقابلې توان لري.
له نننۍ جاهليت سره دومره وسائل او امکانات دي چې د نړۍ هرې برخې ته خپل فکري تأثيرات، عقائد، فرهنګ او ارزښتونه رسولی او پر خلکو تحميلولی شي.»

- **ځواب ګوی وي؛** ښه اثر بايد حتی مخالف لوري ته هم ځواب ګوی وي، په دې معنی چې کله يو اثر ښه بلل کېږي نو بايد دا وړتيا په ځان کې ولري چې منتقدينو او حتی مخالفينو ته ډاډمن ځواب ولري، ځکه چې کله يو اثر څومره مطرح کېږي پر وړاندې يې ممکن هومره مخالفتونه را وپارېږي دا مخالفتونه کېدای شي بېلابېل عوامل او کټګورۍ ولري، د عقيدې پر اساس مخالفت چې ممکن يو سيکولر مخالف اصلاً دا اثر ناديده ونيسي، خو که منطقي يې ولولي پوهېږي چې د دوی تعليمي سيستم او سياسي نظامونو بشر ته څه ورکړي، څومره زيان يې ور اوړولی او څنګه يې اخلاقي ټولنيزې پولې نړولې دي، همدلته ورته مدلل او منطقي تشريح شوي؛ اما هغوی چې د کفر تر رعب لاندې راغلي دي، استاد يې علت دا بولي:

«د کفر د معاصرو انواعو او د هغه د فلسفو او نظرياتو په اړه د مسلمانانو د اوسنيو نسلونو معلومات دومره سطحي او يا د نشت برابر دي چې نه يوازې دا چې د هغو د فکري مقابلې لپاره په دوئ کې همت نه پيدا کوي، بلکې د نننۍ کفر د تېر اېستونکو نظرياتو او اصطلاحاتو په جادو کې داسې راګير شي چې په پوره قناعت له کفارو سره کلکه ملګرتيا کوي، او د هغوئ په وينا له خپل کتاب، منبر، محراب، ملا، مسجد، خانقاه، جهاد او جبهې سره داسې دښمني کوي لکه ثواب چې ورکې ويني. او د دې لپاره چې د پرديو په عسکرۍ کې قبول او په صف کې يې ومنل شي هغوئ ته عريضې وړاندې کوي، تصديقونه او واسطې ورته لټوي ترڅو د يرغلګرو عسکر شي او بيا د هغوي په

قومانده او ټوپک خپل هغه مجاهد ورور ووژني چې له دين او خاورې څخه د دفاع پخاطر د همدې يرغلگرو کفارو مقابلې ته راوتلی وي.»

- **د ننگونو پر وړاندې مقاوم وي؛** که اثر پېښنه شو، نو معنی یې دا شوه چې تر اور اوبو را وتلی شي او په هر ډول حالاتو کې د ژوندي پاتې کېدو تومنه پکې ليدل کېږي، خو سوال دا دی چې د يو علمي اثر پر وړاندې ننگونه به نو څه وي؟ ممکن ځينې دا اثر د خپلو شخصي گټو پر زيان ووينې، ځينې يې د خپلې نظريې په تاوان او ځينې يې ممکن د کم فهمۍ له امله پر وړاندې مورچل ونيسي.

دا ځانگړنه د معزز استاد بل مهم اثر «فکري پوهنه» هم ثابته کړې، چې حتی خپرول، ساتل او وېش يې د زنداني کېدو، ورکېدو او حتی وژل کېدو سبب کېدای شوای، خو بيا يې هم پر وړاندې د وخت رژيم بې وسه شو او د دې اثر لوست او وېش ته ځوان کهول د سر په بيه ژمن پاتې شو.

د ننگونو را پيدا کېدل ممکن څنگ‌زني زيان هم ولري خو لويې گټې هم پکې نغښتې دي په دې معنی چې کله د يو اثر پر وړاندې ننگونه رامنځته کېږي مقصد يې دا را وځي چې دا کتاب لوستل شوی، بحث پرې شوی او بيا يې پر وړاندې يو نظر، ننگونه يا نيوکه را منځته شوې ده، دا چې کله په ټولنه کې حکام، لوستونکي او د نظر خاوندان پرې بحث کوي، په هماغه اندازه خپرېږي، بيا چې د کتاب منځ له زبردستې محتوا، منطقي استدلال او کلونو علمي تجربې ډک وي؛ نو که د مخالفت په نيت هم لاس ور غځېږي د کتاب پای ته رسېدو سره منصف لوستونکی د تاييد پايلې ته رسېږي.

- **پياوړې ژبه ولري؛** په هر اثر کې دا مهمه ده چې ليکوال دې ته پام وکړي چې څه ليکم، څنگه يې ليکم او چاته يې ليکم؛ دا درې ځانگړنې له موږ سره مرسته کوي چې هم پر خپل پيغام او تشريح تمرکز ولرو، هم د ليکلو ژبې ته پام وکړو او د ليکلو ژبه هغه وخت لا ښه صيقل کېږي چې خپل مخاطب هم په پام کې ونيول شي؛ د مخاطب په پام کې نيول له موږ سره مرسته کوي چې

په موضوع کې داسې عمیق او فلسفې ډوب نه شو، چې لوستونکی وانګړي چې لیکوال د موضوع د را رسولو پر ځای د خپل علمیت د را ښوودلو هڅه کړې ده.

همدا درې ځانګړنې تاسې په دې علمي خزانه کې دقیقې وګورئ، چې استاد په څومره جالب سبک د موضوع تاریخي شالید را اخلي، موضوع ته ور ننوځي، نیمګړتیاوې او ښېګړې یې تشریح کوي او په پای کې حللارې، وړاندیزونه او خپل نظر درسره شریکوي، سړی انګېري چې له هرې موضوع تش لاس نه دی وتلی بلکې منګول یې ډکه شوې ده.

استاد خپل مخاطبین پېژندلي، سره له دې چې ممکن ځینې هغه اصطلاحات چې په فکري ډیالوګونو کې تشریح کېږي، یا پر نړیوالو ستیجونو بدرګه کېږي، لوستونکو ته د «ایزمي» روستاړو له امله درانه ښکاره شي، خو استاد په خورا مهارت د هر یاد شوي ایزم جرړه پلټلې، تاریخ سیر یې تشریح کړی، بشر ته اړولي زیانونه یې په ګوته کړي او بیا یې پر وړاندې د مبارزې هغه لار خپله کړې چې یوازې د دې ایزمونو په زیانونو تشریح کېدو هم کافي ګڼل کېدای شي.

**د دې اثر ژبه**

که مو دا راسره منلې وي چې دا اثر یوه علمي پېښه ده، نو راځئ چې د دې عملي پېښې د مهمې ځانګړنې – ژبې – په اړه یې بحث وکړو؛ ژبه یوازې د کلماتو غړیز جوړښت نه دی، بلکې په لیکنۍ ژبه کې د جملو ترکیب، د کلماتو انتخاب او د خپل فکر د تشریح لپاره د مناسبو اصطلاحاتو موندل او داسې وړاندې کول چې حتی د لیکوال د سبک ځانګړنې یادې شي، مهم ځکه دی چې دا په ادبي او لیکنۍ دنیا کې لیکوال ته ځانګړی تشخص او شخصیت ورکوي.

تاسې که د استاد لیکنې ډېرې لوستې وي، نو به مو حتماً هغه ټکي په درک کړي وي چې استاد له نورو لیکوالو بېلوي او حتی که له کومې لیکنې سره د استاد نوم هم نه وي، لوستونکی پوهېږي چې لیکنه د دوی ده.

- **قاطع دریځ:** علامه ابوالحسن ندوي رحمه الله د شهید سید قطب رحمه الله د فکر اړوند وايي چې دی پر خپله لار دومره باوري دی چې دفاع یې نه کوي، بلکې د باطل د مانۍ پر بنسټونو تعرضي وارونه کوي؛ همدا ځانګړنه د معزز استاد په لیکنو کې هم واضح درک کېږي. استاد په داسې ډول د اسلامي فکر تشریح او د باطل د بطلان جرړې را پلټي چې په هیڅ ځای کې هم دفاعي انداز نه تر سترګو کېږي؛ ممکن په ټولنیز شکل، د نظام په شکل یا د یو سیستم په ډول یې د دفاع تجویزونه کړي وي، خو په شخصي ډول یې هغه باور چې په لیکنو کې تشریح کېږي تل تعرضي شکل لرلی دی، د خپل مفهوم په ارایه کې یې کله هم شف شف نه دی کړی، لار یې واضح، لوری یې معلوم او حق یې تر دې ډېر لوړ بللی چې د څو افرادو طبیعتونه خټه نه شي.

مثلاً که د تېر رژیم د معارف په نظام څوک بحث کوي نو ممکن ډېر شاوخوا لحاظونه په پام کې وساتي او خورا په محتاط ډول د ګڼو جعلي ښېګڼو په منځ کې یوه واقعي نمګړتیا هم په نه زړه یاده کړي، دا مصلحت په علمي او تاریخي مسائلو کې د راتلونکو نسلونو د تاریخي ګمراهۍ سبب کېدای شي، ممکن فعلاً یې ځینې د ځینې ملحوظاتو له امله مناسب کار وبولي خو په دراز مدت کې د تاریخي انحراف وېره ترې پیدا کېدای شي، خو معزز استاد په واضحو ټکو او په پوره صراحت سره د امریکایي اشغال تر سیوري لاندې په نصاب کې پرلپسې مداخله د دې علت بولي چې په پایله کې یې تعلیم په «تجهیل» واوښت.

«امریکایانو د یوې سنجول شوې توطیې په ترڅ کې د افغانستان پر خلکو داسې یو تعلیمي نصاب ور تحمیل کړ چې د اسلوب، تعلیمي مېتود او د

معلوماتو د سويې په لحاظ د افغانستان د اوسني جنګ ځپلي معارف د معليمنو او متعلمينو له سويې او وضعيت سره مطابقت نه درلود. د دې کار نتيجه دا شوه چې نه موجودو معلمينو دغه د پرديو له لوري فرمايشي نصاب په سم ډول تدريسولی شو، او نه هم زده کوونکو له هغه سمه استفاده کولی شوه، چې په دې ډول يې معارف، معلم، شاګرد او د هغوئ سرپرستان ټول له يوه ذهني اضطراب سره مخ کړل. او چې د معارف او د لوړو زده کړو په وزارتونو او نظام کې اداري او اخلاقي فساد هم وسره ملګري شو نو نتيجه يې د (تعليم) پر ځای (تجهيل) راووته، چې همدغه د غرب اوږد مهاله هدف هم و؛ ځکه چې غرب او د اسلام نور دښمنان نه غواړي چې افغانان دې پرمختګ وکړي.»

د دې قاطعيت او پر خپل فکر د باور د اوج مثالونه تاسې د عقايدو په بحث، د باطل په تشريح او د ايزمونو په تاريخي تشريح کې هم ليدلی شئ، زه به يې يوه بله نمونه دلته کېږدم:

«نن په مليونونو مسلمانان د قال او حال په ژبه وايي موږ مسلمانان يو، خو دين حاکم کېدلو ته نه پرېږدي. خپل اقتصاد يا په کمونستي او يا هم په کپيټالستي بنسټونو درول غواړي. په عقيدوي لحاظ به د مسلمانۍ دعوی لري، خو په اخلاقو کې به ځان ليبرال او له هر ديني قيد او بنده آزاد بولي.»

دا دريغ که په بل قلم تشريح کېدلی شايد دغسې واضح او ډانګ پېيلې يې نه وای ليکلي چې رښتيا هم د کرې دغومره مسلمانان د مسلمانۍ له ادعا سره سره پر خپلو بېلابېلو بنسټونو کې پردي نظامونه تطبيقوي او عملاً پکې ښکېل دي.

- **اسلام د ژوند نظام؛** کله کله د ځينو مفکرينو په اړه تاريخ ليکوال وايي چې هر چا کومه تشه ډېره احساس کړې پر هغه برخه يې تمرکز ډېر کړی، د ګوتو په شمېر داسې هم شته چې د بشري ټولنې د فلاح او د اسلامي امت د تېر برم د اعادې لپاره بشپړ اسلامي حاکم نظام يوازينی ادرس بولي او دا تر ټولو جامع نظر دی، اسلام که حاکم نه وي نو يوازې به د محدودو عباداتو مجموعه وي،

په داسې حال کې چې اسلام د ژوند بشپړ نظام دی، همدا ځانګړنه د استاد محترم د ليکنو هغه برخه جوړوي چې ځوان کهول تر لاس نيسي، د کمترۍ حس ترې توږي او نېغ يې هغه پوخ باور ته دروي، چې دين يې د ټول بشري ژوند د تنظيم، مديريت او بريا مشخصات له ځان سره لري. همدې اثر کې په دې برخه کې تفصيلي بحث شوی، د اسلامي نظام ارزښت، پر وړاندې يې د خنډونو عوامل او د دې نظام په اقامې او ساتلو کې د مدرسې او ديني علماوو رول بشپړ تشريح شوي دي.

- **د امت روحيه؛** د استاد محترم د ليکنۍ ژبې د محتوا بله ځانګړنه دا ده چې د بېلابېلو مصلحتونو تر نامه لاندې خپل مفاخر نورو ته نه پرېږدي، «امت» هغه اصطلاح چې د ټولو مسلمانانو تر منځ نورې په هر نوم را منځته شوې پولې نړوي استاد يې په پوره ډاډ او بشپړ قاطعيت استعمالوي.

د مسلمانو ملتونو تر منځ د فاصلې په پيدا کېدو غير اسلامي نظامونو دا هڅه وکړه چې داسې اصطلاحات او مفاهيم چې مسلمانان سره نږدې کوي، په نورو داسې اصطلاحاتو بدل کړي چې په محدودو جغرافيو، قومونو، سمتونو او ژبو کې را محدود شي، دا ورته دومره مهم معرفي کړل شي چې که يې د مقايسې او مقابلې ډګر راځي بايد خپل ملت، خپله جغرافيه او خپل قوم سمت ورته د امت د عليا اهدافو په نسبت لومړيتوب ولري.

استاد محترم همدې اثر کې ټول تشريحات داسې کړي چې د اسلامي نړۍ په سطحه غړېدلی، باطل يې که تشريح کړی او غندلی د يو ملت د وګړي په حيث نه؛ بلکې د امت د يو وګړي په حيث پرې بحث کړی دی.

دا اثر چې تطبيق يې يوه اړتيا ده، که تطبيق شي نو موږ به يوازې د يو ډګر نسل نه وي روزلی، بلکې يو عالم، پر معاصر تاريخ او جغرافيه خبر، ليکوال، داعي، مجاهد او د نظام جوړونې، ساتنې او دوام لپاره به مو داسې نسل روزلی وي چې د امت د تېر برم د تر لاسه کېدو هيله به ترې کېدای شي.

د دې عظیم اثر اړوند خبرې زما لپاره سعادت، د استاد محترم نېک نظر او له داسې تاریخي، علمي او فکري اثر سره زما تړون شرف او عزت او په اړه یې دومره اوږده تبصره خپله گستاخي بولم.

الله جل جلاله دې محترم استاد ته د هر توري بدله ورکړي، لار یې روښانه وساتې او د باطل پر وړاندې یې په هر مجال کې لاس بری ولرې.

که په دې تبصره کې کومه ښېگړه په نظر در ځي، د الله جل جلاله فضل او د استادانو برکت دی، که نیمگړتیا وینئ نو ښښنه راته وکړئ!

درنښت

داد محمد ناوک/ طارق بدر

۲۰/۱۰/۱۴۰۲- کابل

مدرسه او مبارزه

## سریزه

الحمد لله رب العلمین القائل: ﴿يُرِيدُونَ أَنْ يُطْفِئُوا نُورَ اللهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَيَأْبَى اللهُ إِلَّا أَنْ يُتِمَّ نُورَهُ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ﴾ والصلاة والسلام علی أشرف الأنبیاء و إمام المرسلین القائل: «مَنْ دَعَا إِلَى هُدًى، كَانَ لَهُ مِنَ الْأَجْرِ مِثْلُ أُجُورِ مَنْ تَبِعَهُ، لَا يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْئًا» و علی آله و أصحابه الهداة المهديين الذين أناروا الدنيا بنور الدين واليقين، ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين.

**ولې مې د دې کتاب د لیکلو ضرورت احساس کړ؟**

د افغانستان په تاریخ کې د اول لپاره داسې حکومت قائم شوی چې د نړیوال کفري اشغالګر تړون په خلاف د مجاهدینو د پوځي او سیاسي بریا په نتیجه کې منځته راغلی، د شریعت علماء یې اداره کوي، د ټولې اسلامي نړۍ له حکومتونو سره په سیاست، حاکمیت، عسکریت، فرهنګ، قانون او اجتماعي او معنوي ارزښتونو کې فرق لري.

د دغه رامنځته شوي اسلامي حکومت د تقویې او دوام لپاره باید د علماوو نوي نسلونه داسې وروزل شي چې له یوې خوا د نظام چلولو او نظام ساتلو فکر او علمي وړتیاوې ولري، او له بل پلوه دغه نظام ته له هرې خوا متوجه سیمه ییز او نړیوال خطرونه درک کړي او مقابله یې وکولی شي.

په افغانستان کې له تېرو سلو کلونو را هیسې غربي افکارو په فلسفیانه ډول د خلکو په ذهنونو، د نظام په قوانینو، په تعلیمي نصابونو او فرهنګي ارزښتونو کې ځای نیولي دی. د غربي افکارو او نظریاتو د زهرجن تأثیر په نتیجه کې دلته داسې نسلونه رامنځته شوي چې یا له اساسه پر دین او دیني ارزښتونو بې باوره شوي، او یا یې باور دومره کمزوری او متزلزل شوی چې د بې دینۍ او پردیو افکارو هره څپه یې له ځانه سره اخلي، او د خپل فکري انحراف له امله سعادت

او نجات په اسلام کې نه، بلکې په بل څه کې لټوي، او د خپل دين او ولس په خلاف د جګړې لپاره د پرديو په صف کې دريږي.

له پرديو متأثره شوي او د هغوئ پر افکارو روزل شوي پر دې باور نه لري چې اسلام دې د هر عصر له تقاضاو سره سم د مسلمانانو د فکري، قانوني، تمدني، اخلاقي، سياسي، اجتماعي، عسکري او اقتصادي وضعيتونو د تنظيمولو لپاره خپل تعليمات او قوانين ولري، نو ځکه خو هر وخت په دې تلاش کې شوي وي چې په دغو ټولو ډګرونو کې د مشکلاتو د حل په مقصد د شرقي او يا غربي کفري نظامونو نظريات، افکار او قوانين را وارد کړي، دلته يې خلکو ته ور تلقين کړي او د حاکمېدلو په حالت کې يې د زور او استبداد له لارې پر ټول ولس ورتحميل کړي دي.

په افغانستان کې د پرديو افکارو خپروونکو د خپلو افکارو د خپرولو لپاره د فکر خپرولو له ټولو وسائلو او فرصتونو کار واخيست، فکري حلقات يې جوړ کړل، کتابونه يې خپاره کړل، د اسلام خلاف فکري ادبيات يې رامنځته کړل، نشراتي ادارې يې جوړې کړې، نصابونه يې وليکل، ټولنې او احزاب يې ايجاد کړل، حکومتونه يې قائم کړل، او د لوړو زده کړو د درلودونکو لويه برخه خلک يې د اسلام د حاکميت د مخنيوي په مقصد په بېلابېلو نومونو له ځان سره ملګري کړل، او د کودتاګانو د کولو او د پرديو د رابللو په نتيجه کې يې د مليونونو انسانانو د وژل کېدلو، معيوبېدلو، بندي کېدلو او بې کوره کېدلو اسباب، عوامل او حالات رامنځته کړل.

په افغانستان کې غرب پلوي او د کمونستي نظريانو درلودونکي هر وخت په بېلابېلو طريقو له خپلو بهرنيو حمايت کوونکو سره په مستقيمه رابطه کې پاتې شوي دي، د هر وخت لپاره يې خپل نظريات او پلانونه د حالاتو مطابق نوي کړي، او هڅه يې کړې چې د دې ولس يوه برخه خلک په خپلو افکارو قانع کړي او په جلا جلا ډولونو يې په ځان پورې تړلي وساتي.

په افغانستان کې د پردیو افکارو درلودونکي که کمونستان دي او که لیبرالان او یا نشنلستان دي له یوې خوا یې خلکو ته یې خپل افکار د مترقي ارزښتونو او معقولو فلسفو په نامه وړاندې کړي دي او خلکو ته یې داسې ښودلې چې د دوئ فکر او نظام خلکو ته د سعادت ژوند ور په برخه کوي، او له بلې خوا یې د اسلام او اسلامي حاکمیت په اړه ولس ته تحریف شوی او غلط فکر ورکړی دی ترڅو نوي نسلونه له اسلامي فکر او نظامه متنفر کړي.

د غربي او کمونستي فکرونو او نظامونو پلویانو دلته له یوې خوا د ملیونونو انسانانو وینې تویې کړې دي، او له بلې خوا یې د خپلو افکار د پراخ خپراوي او سیستماتیک دعوت او ذهن جوړونې له لارې یوه لویه برخه خلک له ځان سره درولي او د خپل مسلمان ولس په خلاف یې جنګولي دي، او همدغه خلک بیا د عالم، منبر، محراب ، مسجد ، مدرسې، شیخ، خانقاه، پیر او هر دیني جهت په مقابل کې درېدلي دي. نه یوازي دا چې د متدینو په خلاف په فکري لحاظ درېدلي دي، بلکه په عملي ډول یې بې رحمه دښمني ورسره کړې، دیني جهتونه یی ځپلي، بمبار کړي، وژلي، زندانونه یې ترې ډک کړي، د هېواد پرېښودو ته مجبوره کړي، په ټولنه کې یې توهین کړي او بدنامه کړي دي، او چې خپله یې له حذفولو عاجز شوي نو بیا یې پردي پوځونه راغوښتي او د خپل ولس، د اسلام د دین او عقیدې په خلاف له اشغالګرو سره د جګړې په صف کې درېدلي دي.

پوښتنه دا ده چې ولې زموږ د ولس یوه برخه خلک د پردیو افکارو منونکي شول؟

ولې د پردیو په صف کې ودرېدل ؟

ایا دغو پردیو را واردو شوو نظریاتو رښتیا هم پر اسلام تفوق درلود چې دوئ یې منونکي شول؟

مدرسه او مبارزه

ایا دغو نظریاتو رښتیا هم داسي معقولیت درلود چې باید له اسلامي معتقداتو ورته تېر شي؟

نه، هېڅکله داسې نه ده!

مشکل له دې ځایه نشأت کړی چې په تېرې یوې پېړۍ کې زموږ د محراب، منبر، مسجد، مدرسې او معنوي ارشاد خلکو د دغو معاصرو باطلو نظریاتو په خلاف په علمي او فکري ډګر کې مطلوبه مبارزه نده کړې، موږ د هغوئ د افکارو د رد او بطلان په اړه کتابونه نه دي لیکلي، او د دغو باطلو نظریاتو په خلاف زموږ اواز په مؤثر او سیستماتیک ډول ندی اوچت شوي، موږ فکري کتابونه نه دي لیکلي، او تربیوي حلقات مو نه دي جوړ کړي، د دوئ په نظریاتو او فلسفو مو علمي نقد نه دی کړی، او د دوئ د عقائدو او نظریاتو بطلان مو خلکو ته په علمي ډول نه دي بیان کړی. خو د غربي او کمونستي فکر پیروانو خپل نظریات دلته د ترقۍ، مساوات، له نړۍ سره د هماهنګه رفتار، د ظلم او فقر د ورکولو او په مختلفو نورو نومونو خلکو ته معرفي کړي او له موږ پاتې تشه دوئ په خپلې فکري محتوا ډکه کړې ده.

په افغانستان کې د امان الله خان له وخت راهیسې د غربپالنې د منظمو او مسلسلو فعالیتونو په نتیجه کې سیاست، قوانین، نظام، بین المللي سیاسي او عسکري روابط د اسلامي معیارونو پر بنا نه، بلکې د غربي او یا کمونستي افکارو پر بنا عیار شوي دي.

په افغانستان کې د نظامونو سیاستونه داسې راروان وو چې دین او دیني علماء باید په نظام او ټولنه کې قیادي نقش ونه لري. دې ټول وضعیت په افغانستان کې یو داسې حالت پیدا کړ چې په نتیجه کې یې د دین علماء د ټولنې له قیادته محروم کړل، د ټولنې حاکم خلک او نخبه ګان په فکري، عقیدوي، سیاسي، عسکري او فرهنګي لحاظ له دیني التزاماتو لیرې شول او په پردیو پسې روان شول.

ديني علماء چې د انبياوو عليهم السلام وارثان وو يا هجرت ته او يا هم پټېدلو او چوپ پاتې کېدلو ته اړ کړای شول، او يا يې د اسلام پر داسې تعليم او تشريح اکتفاء وکړه چې نه پرې د مسلطو باطلو جهتونو مقابله کېده، نه يې په ټولنه کې چندان فکري او عملي تأثيرات درلودل، او نه يې د تغيير زمينه يې برابروله.

دا چې تر اوسه پورې په فکري مجال کې زموږ له نيمګړتياوو د نا اسلامي فکر خاوندانو استفاده کړې او په دې مجال کې تشه دوئ په خپلو فکري ادبياتو ډکه کړې ده او زموږ د ولس يوه برخه لوستي خلک يې په خپل فکر روزلې او بېرته يې د اسلامي فکر، مجاهد او د مدرسې د اهل په خلاف جنګولي دي، نو دغه حالت بايد د مدرسې اهل په دې مجال کې ژور تفکير او منظم فعاليت ته اړباسي چې د علماوو راتلونکو نسلونو ته د فکري مبارزې ادبيات ورتلقين او تدريس کړي، او داسې وړتياوې ورکې پيدا کړي چې هم د نن زمانې په ژبه د دې زمانې انسان ته د اسلام اصيل مفاهيم ورسولی شي، او هم د اسلام او اسلامي نظام په اړه د نن زمانې د انسان هغه شبهات ځواب کړای شي چې نا اسلامي فکري جهتونو ور اچولي دي.

بل سبب چې زه يې دېته اړ کړم چې د مدرسې اهل ته څو ستراتېژيکې خبرې او هغوئ ته د معاصرې اسلامي مبارزې په مجال کې د فکري ادبياتو په اړه خطاب او ځينې توصيې ولرم دا دی چې افغان ولس پر ديني علماوو لوی اعتماد لري، له همدوئ خپل دين اخلي، په همدوئ پسې د دين او ټولنې په چارو کې اقتداء کوي، د همدوئ په فتوی ټوپک را اخلي او په لسګونو کلونه د زبرځواکونو په مقابل کې جهاد او مبارزه کوي، د همدوئ په وينا له خپلو سرونو او مالونو تېرېږي، د همدوئ سياسي قيادت ته پر بل هر سياسي قيادت ترجيح ورکوي، نو پکار ده چې د مدرسې اهل هم بايد خپل نصابونه، د روزنې او تلقين کيفيتونه، اولويات، دښمن پېژندنه او د باطل په خلاف خپل فعاليتونه داسې عيار کړي چې د دوئ په لاس د نويو علماوو روزل شوي نسلونه د اسلامي دعوت، رهبرۍ،

ملتداري، حکومتداري، مسلح جهاد، له اسلام او اسلامي ارزښتونو د هر اړخيزې دفاع روحيه، وړتياوې او توانايي ولري.

پورته يادې شوې وړتياوې او توانايي تر هغه د مدرسې په اهل کې نه راځي چې ترڅو خپل ځان نقد نکړي، علمي او تربيوي اولويات د اسلام د اصيل فهم په رڼا کې له سره ترتيب نکړي، له جمود او سطحيته راونه وځي، د خپلې زمانې باطل نظريات او پر هغو رد ونه پېژني، د خپل هېواد حالت، د هېواد ترخه واقعيتونه، د علمي انکشاف فرصتونه او د ولس ديني، فکري، علمي، سياسي، اقتصادي، عسکري او فرهنګي ضرورتونه درک نکړي، د نړۍ د طاغوتي ځواکونو له اسلام دښمنه عزائمو او پلانونو خبر نشي او دا ونه ګڼي چې دوئ د يوې سترې او خطرناکې جګړې داسې طرف دي چې تقريبا د ټولې دنيا نظامونه يې په خلاف ولاړ دي او تر هغه به د دوئ له دښمنۍ نه اوړي چې تر څو خپلو اهدافو ته رسېدلي نه وي او يا مغلوب شوي نه وي.

زه د داسې يو چا په حيث د مدرسې اهل په دغو مفاهيمو مخاطبوم چې هم مې په تاريخ کې د مسلمانو ملتونو، نظامونو، سياسي او فکري جريانونو د عروج او زوال اسباب او عوامل لوستلي، او هم مې په افغانستان او نورې اسلامي نړۍ کې د سياسي او فکري جريانونو عروج او زوال په سترګو ليدلی دی.

الهي سننو او تاريخي شواهدو دا ښودلې چې کومو خلکو چې د خپل دين، فکر، دعوت، نظام او وجود د تداوم لپاره د مادي او معنوي قوت اسباب او عوامل سم نه دي کارولي، او پر وخت يې سمې فيصلې نه دي کړي، هغوئ که هر څومره لوی او ځواکمن هم وو واړه شوي، او د خپل مادي او معنوي وجود په ساتلو نه دي بريالي شوي. خو کومو جريانو چې د قوت او دوام مادي او معنوي اسباب او وسائل سم کارولي او پر وخت يې سم او مطلوب اقدامات کړي، هغوئ که څه هم چې په پيل کې به واړه او کمزوري وو، خو د وخت له

تېرېدلو سره يې هم خپل وجود ساتلی او هم يې نور انکشاف او پرمختګ کړی دی.

د دې لپاره چې د دوو سترو جهادونو په نتيجه کې دغه په لاس راغلی عظيم فرصت له لاسه ورنکړو او يوازې يوه څپه ونه اوسو، بلکې د يوه قوي، متمدن او ريښتيني اسلامي نظام په حيث نه يوازې خپل دوام وساتو، بلکې نورو مسلمانو ولسونو ته يو کامياب او مقتدا مثال وګرځو، نو بايد مدرسه او د هغې اهل په ځان کې مطلوبې وړتياوې پيدا کړي.

په دې کتاب کې که په ځيني ځايونو کې د مدرسې د اهل په اړه خبره د نقد او يا ګيلي په سياق کې ياده شوې وي هغه هېڅکه د هغوئ د ملامتولو او يا د هغوئ د قدحې په مقصد نده، بلکې د هغې انګېزه او مقصد دا دی چې د مدرسې اهل ته نن د ديني او سياسي قيادت، تعليم او تربيې، دعوت او ارشاد، فکر او فرهنګ، اقتصاد او صنعت، عسکريت، ملتداری، عدليې او قانون، د باطلو فکري، سياسي او عقائدي جريانونو مقابله، او د نظام او ولس ټول مسؤوليتونه ور له غاړې شوي دي چې د دې ټولو مسؤوليتونو د ترسره کولو لپاره د داسې علماوو د روزلو ضرورت دی چې د شرعي علم تر څنګ نورې مطلوبې وړتياوې هم ولري چې متأسفانه تر اوسه مو په تعليمي نصابونه کې د دغو وړتياوو ايجادوونکي مضامين او علوم نشته.

د دې لپاره چې په پورته يادو شوو مجالاتو کې تر يوه حده تشه ډکه شوې وي او د اسلامي مبارزې ضرورتونو او اولوياتو ته مو د علماوو او تعليمي مسؤولينو پام ور اووښتی وي په دې کتاب کې مې څو ټکي په يوولسو فصلونو په لاندې ډول ترتيب کړي دي:

**په اول فصل کې** پر دې موضوع بحث شوی چې کله چې په اسلامي نړۍ او افغانستان کې تعليم غربي ډوله شو، نو څنګه يې مسلمانان د تدين، فکر، فرهنګ، اخلاقو، سياست، حاکميت، عسکريت، اقتصاد، تعليم او ټولنيزو

ارزښتونو په مجالونو کې له اسلامي شریعته لیرې کړل او په غرب پورې یې وتړل، او څنګه اسلامي نړۍ خپل ځانګړی سیاسي هویت او خپل فکري ماهیت له لاسه ورکړ؟

**په دویم فصل کې** پر دې خبره شوې چې په معاصره اسلامي مبارزه کې د مدرسې او د هغې د اهل کوم مهم نقش دی، او غرب او په اسلامي نړۍ کې په غرب پورې تړلو سیکولرو جهتونو یې په مقابل کې کوم دریځ نیولی دی؟ مدرسه باید د اوسني فکري انحراف او اخلاقي انحطاط په اړه څه دریځ ونیسي؟ د جهاد او مبارزې لاسته راونې په څه ساتل کېږي؟ په اسلامي هېوادونو کې ولې اسلامي نظامونه نه قائمېږي؟

**په درېیم فصل کې** پر دې خبره شوې چې د دیني مدرسې په نصاب کې د معاصرو فکري ادبیاتو نشتون کوم تاوانونه پېښ کړي دي؟ د ارزښتونو جګړه ولې مهمه ده؟ پخوانی او اوسنی جاهلیت څه شی دي، او ولې جاهلي نظامونه اسلام حاکمېدو ته نه پرېږدي؟ د مدرسې اهل ولې باید فکري جګړه وپېژني او ولې یې وکړي؟ د فکري جګړې د مقابلې سر لاري عالمان څوک دي؟ او د فکري مبارزې ادبیات له کوم ځایه واخلو؟

**په څلورم فصل کې** پر دې خبره شوې چې د ارزښتونو په جګړه کې د ایماني قوت او کمزوتیا څه تأثیر دی؟ او د اسلامي امت خطرناکه کمزورتیا له کومه ځایه شروع شوې ده؟

**په پنځم فصل کې** په دیني مدارسو کې د انقلابي تربیې پر ضرورت، د انقلابي علماوو پر نقش او پر دې بحث شوی چې ولې باید افغان علماء تر نورو ډېر انقلابي وي؟

**په شپږم فصل کې** دا موضوع څېړل شوې چې افغانستان د غربیانو له نظره د هغوئ د فرهنګ او سیاسي تسلط په لوی سمندر کې یوه ناتسخیر شوې جزیره ده چې د تسخیرولو لپاره یې بېلابېلې هڅې کوي، او پر دې هم خبره شوې چې

د افغانستان د سیاسي هویت او د افغانانو د فکري حریم ساتنه د دیني علماوو وظیفه ده چې باید متوجه خطرونو او په اړه یې خپلو درنو مسؤولیتونو ته متوجه اوسي.

**په اووم فصل کې** د دیني تعلیم پر اصلي اهدافو تفصیلي خبره شوې او دا واضحه شوې چې ترڅو د دیني تعلیم اصلي اهداف درک او متحقق نشي په ټولنه کې مطلوب بدلون نشي راوستل کېدی.

**په اتم فصل کې** چې د دې کتاب تر ټولو تفصیلي او اساسي فصل دی هغه علوم او مضامین یاد شوي چې د مدرسې د اهل ورته شدید ضرورت دی، خو د مدرسې په نصاب کې ورته ځای ندی ورکړل شوی.

**په نهم فصل کې** د دین د بیا حاکمولو پر لاره د مدرسې د اهل د مزله او پر دې لاره د پرتو خنډونو او څو کامیابو مثالونو یادونه شوې ده.

**په لسم فصل کې** پر دې خبره شوې چې مساجد او تربیوي حلقات د مبارزې سنګرونه دي چې باید په سم ډول وپالل شي.

او **په یوولسم فصل** کې د شرعي، معقول او واقعي ځواب د موندلو په مقصد دا پوښتنه راپورته شوې چې ښځو ته به د الله تعالی دین څوک او څنګه ور زده کوي؟

په پای کې د جهاد، دعوت او اسلامي مبارزې د لارې د یوه لاروي په حیث مې د علم، فکر، ارشاد او قلم له خاوندانو غوښتنه ده چې افغان مجاهد ولس ته د اسلامي نظام او فکري مبارزې په مجالونو کې د عصر په ژبه پخې، اسلامي، هر اړخیزې، له افراط او تفریطه لیرې پر اعتدال ولاړې لیکنې او ویناوې وکړي ترڅو د نویو نسلونو د علمي او فکري ارتقاء سبب وګرځي.

د دې خبرې یادول هم ضروري بولم چې دغه کتاب د دیني مدرسې د اهل او د اسلامي مبارزې د لارویانو د اسلامي او مبارزاتي ترشید یوه انفرادي هڅه ده، که مې په دې هڅه کې حق بیان کړی وي، نو دا به پر ما د الله تبارک وتعالی

فضل شوی وي، او که چېرې په کوم حکم، دریځ، وصف او بیان کې تېروتلی یم، نو دا به زما د کم علمۍ له امله وي، نه دا چې زه به پر خطاء اصرار کووم. په دې اړه مې د اسلامي مبارزې له پوهو استاذانو هیله ده چې د تېروتنو په تصحیح کې ما ته د مرستې لاس راکړي. والله هو الموفق والهادي إلی سواء السبیل.

مدرسه او مبارزه

# اول فصل

## کله چې په اسلامي نړۍ کې تعلیم پردی شو، نو څه پېښ شول؟

مدرسه د مبارزه

## د ولسونو او نظامونو په جوړولو او ړنګولو کې د تعليم، فکر او فرهنګ نقش

تعليمي نصاب د هر ولس د ديني، اخلاقي، اجتماعي او وجداني جوړښت لپاره قالب وي. قالب چې څنګه جوړ شوی وي او څه ډول نقش او نګار ورکې کيندل شوی وي هماغه به د هغه ولس په دينې، اخلاقي اجتماعي، ادبي او وجداني جوړښت کې ښکاري.

که د تعليمي نصاب مفاهيم او ارزښتونه خپل وي، نو د هغه لوستونکي او د هغه پر بنسټ روزل شوی نسل به هم د خپل ولس ارزښتونو او د هغه اجتماعي جوړښت ته متعهد وي. او که د تعليمي نصاب مفاهيم او ارزښتونه پردي وي، نو د هغه نصاب لوستونکی نسل به هم پرديو ته وفادار او د هغوئ پر لاره روان وي.

د هر ملت د پايښت، ازادۍ، مقاومت او د سرلوړۍ د خونديتابه اسباب او عوامل د هغه ملت په فرهنګ او معنوي ارزښتونوکې نغښتې وي. او هر ولس چې خپل فرهنګ او معنوي ارزښتونه له لاسه ورکړي، هغه خپل وجود هم له لاسه ورکوي، چې نه بيا له نورو ملتونو سره سيالي کولای شي، او نه هم په نورو کې له منحل کېدلو ځان ژغورلای شي.

د تعليمي نصابونو منځپانګه عموما له لاندې دوه ډوله مفاهيمو تشکيلېږي:

۱- قواعد يا فارمولونه.

۲- ديني او اجتماعي مفاهيم.

قواعد يا فارمولونه چې هغه لغوي (ګرامري ادبي) قواعد وي او که (ساينسي او د تجربوي علومو) فارمولونه وي د ټولو انسانانو تر منځ مشترک دي. دغه قواعد او علوم د ولسونو په دين، عقيدې، اخلاقو، ذوق، وجدان، اجتماعي جوړښت او ملي ارزښتونو پورې اړه نه لري، نو ځکه خو هېڅ ستونزه نه

پېښوي که یې یو ملت له بل څخه واخلي، بلکې پکار ده چې وګړي او ولسونه یې یو له بل څخه واخلي، او د هغو په خپلولو ټول د مادي او ژبنې تکامل پر لار روان شي. او که دا کار ونه کړي، نو د انسانانو له مشترکو علومو او تجاربو به یې خپله برخه نه وي اخیستې، او په لوی لاس به یې خپل ځان د پرمختګ له کاروانه وروسته پاتې کړی او نورو ته محتاج کړي وي.

خو دیني او اجتماعي مفاهیم بیا هغه څه دي چې د بېلابېلو ولسونو اجتماعي هویت او د هغو دینې او فکري ماهیت ټاکي، او د ټولنې او افرادو معنوي ارزښتونه تمثیلوي، چې دغه ډول مفاهیم بیا د یوه ملت او ولس له بل ملت او ولسه جلا وي، او همدغه کار هم د الهي حکم مطابق دی، او هم د انسان د فطرت د تقاضا موافق.

له بل پلوه دیني او اجتماعي مفاهیم او معنوي ارزښتونه هغه څه دي چې ملتونه د هغو ساتل او پالل خپله وجیبه بولي، په خپلو تعلیمي نصابونو کې یې تدریسوي، او د پوهاوي او ذهن جوړونې د ټولنیزو سیستمونو او وسائلو له لارې یې خپلو نسلونو ته ورتلقینوي، او همدارنګه له هغو څخه د هر ډول مادي او معنوي دفاع پخاطر قربانیو ته حاضرېږي.

که له یوه لوري تعلیم، فکر او فرهنګ د ولسونو د مادي او معنوي بقا د استمرار د ضمانت عوامل دي، نو له بل لوري همدغه تعلیم، فکر او فرهنګ چې د پردیو لخوا اشغال شي د ولسونو د مادي او معنوي له منځه تللو اسباب هم برابروي. او همدا علت دی چې کله هم فاتحین کوم ملت او یا کوم هېواد لاندې کړي، نو ډېر ژر یې په تعلیمي نصاب کې لاس وهنه کوي، او پداسې ډول یې عیاروي چې د دوئ د اهدافو تحقق ورڅخه یقیني شي.

**د اوسنۍ اسلامي نړۍ د فکري او تعلیمي اشغال شالید:**

له تېرې يوې نيمې پېړۍ راهيسې چې د اسلامي نړۍ د هېوادونو تعليمي نصابونه او د ذهن جوړونې په مقصد فرهنګي او مطبوعاتي بهيرونه د غربيانو او روسانو تر تأثير لاندې راغلل او په کار واچول شول، نو په نتيجه کې يې د مسلمانو ولسونو د ذهن جوړونې چارې او د اجتماعي فرهنګ د تشکيل ادارې او وسائل د داسې سياسي او فرهنګي مسؤولينو لاسته ورولوېدل چې د (سيکولر) غرب او (کمونيست) شوروي له نظرياتو متأثر شوي وو. دغو سياسي، تعليمي او فرهنګي مسؤولينو په اسلامي نړۍ کې هم د (کفري نظريو) خپرېدو ته لاره هواره کړه، چې په نتيجه کې يې د شريعت حاکميت له منځه لاړ، پر اسلامي نړۍ پردي پالي حکومتونه مسلط شول، او داسې غرب پلوي سياسي نظامونه منځته راغلل چې خپل ټول وسائل او فرصتونه يې د اسلامي شريعت د حاکميت د مخنيوي په لاره کې وکارول.

پر اسلامي نړۍ غرب پلوو او کمونستو مسلطو نظامونو نه يوازې دا چې د سياست، فرهنګ او تعليمي نظام او نصاب له لارې په ټوله اسلامي نړۍ کې د شريعت د عملي کېدلو مخه ونيوله، بلکې پر مسلمانو ولسونو يې د شوروي د (کمونيزم)، د غرب د (فاشيست ليبراليزم)، د امريکا د (پراګماتيزم) او (صليبيت)، او د معاصرې اروپا د سياسي منافقت (ماکياوليزم) د ټولو جناياتو تمرينونه وکړل. دغو نظامونو د اسلامي نړۍ استقلاليت له منځه يووړ، او مسلمان ولسونه يې په سياسي، نظامي، اقتصادي، فرهنګي او اجتماعي لحاظ په روسانو، اروپايانو او امريکايانو پورې وتړل.

د تعليم له لارې د ولسونو په اشغالولو کې په هندوستان کې د برتانوي استعمار د تعليمي نصاب د بنسټ ايښودونکي (لارډ ميکالي) ستراتيژي ډېره واضحه وه چې ويل به يې: (موږ بايد په هندوستان کې داسې يو نسل وروزو چې رنګ او وينه يې هندوستانۍ، خو فکر، ذوق او اخلاق يې انګليسي وي،

ترڅو د هندوستان د نیمې وچې د پراخو پرګنو په تسخیرولو کې زموږ خدمت وکړای شي).

د لارد میکالي تعلیمي استراتېژي یوازې په هندوستان پورې خاصه نه وه، بلکې په پراخ ډول په ټولو مستعمره شویو اسلامي هېوادونو کې عملي شوه چې خطرناک عواقب یې ولرل، او ویجاړوونکو نتائجو یې د فکر، فرهنګ، سیاست او عسکریت په ډګرونو ټوله اسلامي نړۍ د غرب تابع وګرځوله، او ډېر مسلمانان یې په فکري او عملي ډول له حقیقي اسلامه لیرې او د غربیانو پر لاره روان کړل.

د عربي نړۍ د تسخیر لپاره هم انګریزي استعمار د تعلیم له وسیلې څخه کار واخیست. کله چې په ۱۸۸۲م کې مصر د انګریزانو په لاس سقوط وکړ، نو د انګلستان د هغه وخت حکومت د مصر له انګریز حاکم (لارډ کرومر) څخه وغوښتل چې په مصر کې د انګریزي تسلط د ټینګولو لپاره یې چې هر څه ته ضرورت وي د برتانیې له مرکزي حکومت څخه دې یې وغواړي.

د دې پر ځای چې (لارډکرومر) د برتانیې له حکومت څخه پوځي وسائل او پوځونه وغواړي هغه ورڅخه د (تعلیم ماهرین) وغوښتل. د برتانیې حکومت د (لارډ کرومر) د غوښتنې په ځواب کې هغه ته (ډوګلاس ډنلوپ) چې د لاهوت (مسیحي دینیاتو) د شاهي فاکولتې فارغ التحصیل مسیحي عالم وو ورولیږه.

(ډوګلاس ډنلوپ) د مصر لپاره د تعلیم یو داسې نظام او نصاب جوړ کړ چې هم یې د (الأزهر) د تعلیمي او معنوي تأثیر مخه ورباندې ونیوله، او هم یې د وخت په تېرېدلو په مصر کې د داسې یو نسل روزنه او پالنه وکړه چې د مصر راتلونکی یې له اسلامه بیګانه او د انګریز په رنګ کې رنګ کړ. او کله چې د مصر تعلیمي نصاب سیکولر شو، نو په هغه پسې تقریباً د ټولې عربي نړۍ

تعلیمي نصابونه (سیکولر) شول، او حکومتونه یې هم د غرب پر لاره روان شول چې تر ننه لا هم روان دي.

د همدغې استراتیژۍ پر اساس په نولسمې او شلمې میلادي پېړۍ کې استعماري دولتونو لکه برتانیې، فرانسې، روسیې، پرتگال، هسپانیې او ایټالیې د اسلامي نړۍ په خپلو مستعمراتو کې داسې نسلونه وروزل چې د مستقیم استعمار تر ختمېدو وروسته هم د سلگونو کلونو لپاره په خپلو هېوادونو کې د استعماري سیاستونو د تطبیق او دوام ضمانت ورکوي، او همدغه د استعمار په نصاب روزل شوی نسل د اسلامي شریعت او اسلامي ارزښتونو په له منځه وړلو کې تر استعماري ځواکونو زیات فعال او سخت زړي دي.

د دغې استعماري تعلیمي استراتیژۍ نتیجه دا راووتله چې هر څومره چې په اسلامي هېوادونو کې مکتبونه، پوهنتونونه او نورې تعلیمي ادارې ډېرېږي په هماغه اندازه خلک له اسلام څخه لرې کېږي او ټولنې د فکري بې لارېتوب او اخلاقي لوېدنې په لور سوق کېږي، حاکمان یې چې د همدغو استعماري نصابونو حاصل دي غلامۍ ته پر ازادۍ ترجیح ورکوي، او ټول هغه خلک چې د ازادۍ پر لرلو تأکید کوي او کار ورته کوي په ارتجاع، بنسټ پالنې او له تمدن څخه په لیرې والي تورن کېږي، چې سزا یې پرته له زندان، تبعید او قتل بل څه نه وي.

د شلمې پېړۍ له پیل راهیسې چې امریکا پر اسلامي نړۍ او په عمومي ډول پر شرق د تسلط کومې هڅې پیل کړې دي په هغو کې یې په مسلمانانو کې د سیکولر (لادین) تعلیم د مسلط کولو خطرناکې هڅې هم پیل کړې دي چې په دې کار کې تر اروپایي استعماري هېوادونو هم ډېر مخته تللې ده.

امریکایانو د اسلامي نړۍ د تعلیم او تربیې تقریبا ټول وزارتونه دېته اړ کړي دي چې خپل نصابونه، لوائح، قوانین او تعلیمي محیط پر سیکولرو (پر دین

نه ولاړو) بنسټونو ودروي، ځکه هغوئ پوهېږي چې همدا دين دی چې خلك د غرب د ملحدو نظرياتواو د استعمار د امپرياليستي پراخ غوښتنې په خلاف دروي او د مقاومت توان وربښي.

امريکا د افغانستان له اشغالولو وروسته دلته هم همدغه چاره تر سره کړه، او د خپل اشغال په وخت کې يې درې ځلې د افغانستان تعليمي نصاب تبديل کړ، او په هر ځل تبديلۍ کې يې په تدريج سره هغه مضامين ورڅخه ووېستل چې زده کوونکو ته يې د حقيقي اسلام، جهاد، دفاع، آزادۍ او له کفارو څخه د کرکې کولو مفاهيم ورتلقينول. او د دې مفاهيمو پر ځای يې په سيستماتيک ډول داسې مفاهيم ورکې راوستل چې نوی نسل د جهاد او دفاع له روحيې څخه محروموي، او په لاشعوري ډول يې له غرب سره په هر څه کې پيوند اخيستلو ته هڅوي.

**د تعليم د سيکولر کولو لارې چارې:**

غرب په پيل کې له لاندې يادو شويو دوو لارو په مسلمانانو هېوادونو کې د تعليم د لادينه کولو هڅې شروع کړې:

**اول:** غربي هېوادونو د يوې منظمې ستراتېژۍ له مخې هغه مسلمان ځوانان چې غرب ته د علومو د زده کړې لپاره ورغلي وو د علومو ترڅنګ په غربي فرهنګ او مادي فلسفه هم وروزل. دغو هېوادونو له بېلابېلو کانالونو او همدارنګه د سکالرشيپونو له لارې ذهين او با استعداده ځوانان انتخاب کړل، وروېې غوښتل، او له فراغت وروسته يې په خپلو مستعمره هېوادونو کې د چارو واګې ورسپارل، چې هغوئ بيا خپله هماغه غربي نظريه دلته په اسلامي هېوادونو کې د نصابونو، قوانينو، او نظام له لارې پلې کړه، او د خپلو هېوادونو

تعلیمي نصابونه یې پر هماغو غربي نظریاتو ودرول چې دوئ هلته پرې روزل شوي وو او منلي يې وو.

په افغانستان کې د دغه ډول خلکو یو واضح مثال پخپله د اشغال د ادارې رئیس اشرف غني و چې د بېروت په امریکایي پوهنتون کې د امریکایي منصرینو په لاس وروزل شو، او له ډېرو مرحلو تر تېرېدو وروسته د هماغو امریکایانو له لوري د افغانستان د رئیس په توګه وټاکل شو، ترڅو دلته د امریکایي اهدافو او اجنډاوو د تحقق لپاره پراخه زمینه سازي او ژور کار وکړي.

**دویم:** استعماري هېوادونو په خپلو مستعمراتو کې داسې مکتبونه، پوهنتونونه او تعلیمي اداري جوړې کړې چې نصاب، استاذان، لوائح، قوانین او هر څه یې په مستقیمه توګه د مستعمرینو له لوري پر مخ بیول کېدل، خو د دغو ادارو متعلمین یې د تر اشغال لاندې هېوادونو د مخورو کورنیو او چارواکو اولادونه وو چې په موروثي ډول به په نظام او حکومت کې مطرح کېدل.

دغو دواړو چارو داسې تعلیمي چارواکي، استاذان، مفکرین او پوځیان رامنځته کړل چې له اسلام سره دښمني او د مادي ژوند فلسفه یې په سیستماتیك ډول له غربیانو څخه په میراث اخیستې وه، او د هغې لپاره کار او مبارزه یې د پرمختګ او (روڼ اندي توب) تر عنوان لاندې خپل کار او افتخار باله.

پر اسلامي نړۍ د غرب پلوو خلکو حاکمیت د غرب لپاره د دې تضمین برابروي چې د اسلامي نړۍ ټولې سیاسي، اقتصادي، پوځي، تعلیمي، فکري او فرهنګي چارې به د غرب په خوښه عیارېږي او چلېږي، او په اسلامي هېوادونو کې به ټول هغه عوامل له منځه وړل کېږي چې دلته په دې ټولو

مجالونو کې د غرب د اهدافو د تحقق په مخکې خنډ گرځي چې همدغه وضعیت په مکرر ډول د اسلامي نړۍ په هېوادونو کې ولیدل شو.

## د غرب تعلیمي مشاورینو څنگه تعلیمي نصابونه د دین په خلاف وکارول؟

په ټولو اسلامي هېوادونو کې استعماری هېوادونو خپل تعلیمي ماهرین او مشاورین د مختلفو فشارونو او یا د تعلیم لپاره د مالي مرستو د ورکولو په بدل کې او یا هم له نورو لارو په کار وگومارل چې له تعلیمي نصابونو څخه ټول هغه مفاهیم وباسي چې د استعماري هېوادونو د اهدافو د تحقق په لار کې خنډ گرځي.

په لومړی قدم کې د دغو وېستل شوو مضامینو په سر کې اسلامې تاریخ او بیا وروسته د قرآن کریم ایتونه، نبوي احادیث او ټول ایدیالوژیك مضامین یا په مکمل ډول له نصابه ووېستل شول، او یا یې په مسخه شوي، نیمگړي او په بې اهمیته شکل کې متعلمینو ته وړاندې کړل شول چې د اسلام په اړه یې لوستونکو ته تر فائدې تاوان ډېر ور رساوو.

که له یوې خوا له نصابونو اسلامي مفاهیم ووېستل شول، له بلې خوا د اسلامي نړۍ په نصابونو کې د غربي نړۍ سیاسي، اقتصادي، فکري او اخلاقي ارزښتونو ته په پراخه پیمانه ځای ورکړ شو، او کوښښ وشو چې متعلمینو ته غرب د یوې (نمونه) ټولنې په حیث ور وپېژندل شي، چې د دې کار نتیجه له شرق او اسلام څخه د یوه کرکه کوونکي، خو په غرب او غربي ارزښتونو د یوه مَیِن نسل په شکل کې راووتله.

**په حکومتي تعلیمي نصابونو کې د سلوک لپاره د معیار په حیث د دین د نه منلو توطیه:**

د هرې تعلیمي ادارې واړه او ځوانان له خپل محیط څخه رنګ اخلي، او په هماغو معیارونو ځان برابروي چې په خپل محیط کې یې ویني.

د دې لپاره چې غرب د ټولې اسلامي نړۍ د هېوادونو په تعلیمي نصابونو کې د اسلام تأثیر له منځه وړی وي، او یا یې لږ تر لږه کم کړی وي، نو د ملګرو ملتونو نړیواله مؤسسه یې وکاروله، او په ۱۹۷۷م کال کې د یونسکو (د ملګرو ملتونو د تعلیم او فرهنګ د څانګې) په چوکاټ کې یې یوه تعلیمي اداره جوړه کړه چې نوم یې (اسلام او غرب) وو. د دې ادارې مشري په ملګرو ملتو کې د برتانیې پخواني سفیر (لارډ کارادون) کوله. دې ادارې ۳۵ غړي لرل چې ۱۰ یې د اسلامي ممالکو د (سیکولرو) حکومتونو استازي وو، او پاتې ۲۵ یې د اسرائیلو او غربي هېوادونو غړي وو.

د (اسلام او غرب) په نامه دغې ادارې پر دې موضوع کار کاوه چې څنګه په تعلیمي نصابونو کې د ادیانو تر منځ په مشترکو نقطو ترکیز وکړي، او په نصابونو کې د داسې مضامینو او مفاهیمو مخنیوی وکړي چې (دین) ورکې د (سلوک) لپاره معیار ټاکل کیږی.

دې ادارې د ټولو اسلامي هېوادونو د نصابونو ادارې دېته اړ کړې چې خپل نصابونه پداسې ډول جوړ کړي چې د اسلام تأثیر ورڅخه له منځه یوسي او یا یې تر ممکنه حده کم کړي، او د اسلام په عوض ورکې نور نظریات لکه (قومیت) (وطنیت)، (ژبپالنه) (رواج پالنه) او داسې نور په تعلیمي نصابونو کې د ملي ایډیالوژیو په حیث ورشامل کړي.

د دې ادارې د فعالیتونو یو مثال په مصر کې دا وو چې د نصاب تر تبدیلۍ دمخه د مصر د نصاب د تاریخ په مضمون کې د (فرعوني تاریخ) برخه یوازې ۷۵ صفحې وه، خو تر تبدیلۍ وروسته ۳۱۷ صفحوته پورته شوه.

او همدارنگه تر تبدیلۍ دمخه په نصاب کې د اسلامي تاریخ برخه ۲۰۷ صفحې وه، خو تر تبدیلۍ وروسته دغه برخه ۳۵ صفحو ته راکښته شوه.
همدغه فارموله تقریباً په ټولو اسلامي هېوادنو کې تطبیق شوه، ځکه چې د نه تطبیقولو په صورت کې هېوادونه د (یونیسکو) تر فشارونو لاندې راتلل.

## په اسلامي نړۍ کې غربي ډوله تعلیمي ادارې د امریکا د استراتیژیکې جګړې پټ لښکر:

غربي هېوادونو د اسلامي نړۍ پر غرب پلوو حکومتونو د خپل تأثیر او همدارنګه په نړیوالو تعلیمي او فرهنګي مؤسسو کې د خپلې برلاسۍ په کارولو په اسلامي نړۍ کې له رسمي تعلیمي نظام او نصاب څخه د اسلامي نړۍ د تسخیرولو لپاره د غرب تر ټولو خطرناکه وسیله جوړه کړه. او ترڅو چې دغه وسیله د غرب په خوښه چلیږي نتائج به یې هم هماغه ډول راوځي چې غرب یې غواړي.
په اسلامي نړۍ کې د غرب لپاره د غربي ډوله تعلیمي نصاب او نظام د افادیت په اړه د امریکا یو مهم پالیسي جوړوونکی شخصیت (رابرټ سوتلوف) چې د امریکا د نویو محافظه کارانو (مسیحی افراطیانو) د ډلې غړی او د نږدې ختیځ لپاره د واشنګټن د ستراتېژیکو مطالعاتو د انسټیټیوټ پخواني مدیر دی چې د امریکا حکومت ته د اسلامي هېوادونو په اړه مشورې ورکوي او د پالیسۍ جوړولو په چارو کې لارښوونه ورته کوي. هغه په اسلامي نړۍ کې د غرب لپاره د غربي ډوله تعلیم د افادیت په اړه وایي:
په عربي نړۍ کې امریکایي تعلیمي ادارې یوازې د لوړې سویې تعلیمي ادارې نه دي، بلکې هغه د عربي او اسلامي ټولنو د امریکایي کولو لپاره د امریکا د استراتېژیکې جګړې سرّي (پټ) لښکر دی).

د (رابرټ سوتلوف) دغه امریکایي پټ لښکر ربښتیا هم ټوله اسلامي نړۍ له جګړې پرته د امریکا لپاره فتح کړه. ځکه چې دغه تعلیمي نظام د مسلمانانو له نویو نسلونو څخه د غرب داسې پیروان جوړ کړل چې په هرڅه کې په پټو سترګو د غرب پر لاره روان دي. او د همدې غربي مشاورینو تر څارنې لاندې چې د اسلامي هېوادونو د تعلیم، لوړو زده کړو او نورو تعلیمي او تربیوي مراکزو لپاره کوم نصابونه جوړ او تطبیق شول هغو د مسلمانانو له نویو نسلونو څخه حقیقي اسلام پټ کړ، او د هغه پر ځای یې داسې یو څه د اسلام په نامه ورته معرفي کړل چې هغه یا اصلاً اسلام نه دی، او یا یو تحریف شوی، مسخ شوی او د غرب په خوښه برابر شوی اسلام دی چې منونکي یې تر ربښتیني اسلام او ربښتینیو مسلمانانو غربیانو ته ډېر وفادار دي.

غرب د مسلمانانو د تعلیمي نصابونو په بدلولو کې د روسانو په څېر له بیړې کار نه اخلي، بلکې د هغه انګریزي متل مطابق چې وایي: slow but sure (کار په کراره کوه خو پداسې شکل چې تأثیر یې یقیني وي) په کراره او تدریج سره د مسلمانانو د تعلیم او تربیې نصابونه بدلوي.

غربي استعمارګرو هېوادونو د (یونیسکو) او نورو مؤسساتو په توسط د اسلامي هېوادونو په نصابونو او تعلیمي نظام کې څو اساسي تغیرونه راوستل چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

۱- په مسلمانو هېوادونو کې د غربي ژبو او ادبیاتو خپرول او بیا همدغه ژبې د تعلیم او سیاست ژبې ګرځول. غرب له دې لارې خپل ټول سیاسي، اجتماعي، اخلاقي او فلسفیانه مفاهیم او نظریات د مسلمانانو د نوي نسل مخې ته کېښودل، او نوی نسل یې ورباندی له اسلام، اسلامي تاریخ، اسلامي تمدن، اسلامي اخلاقو او اسلامي ټولنیزو ارزښتونو مصروف کړ، چې په نتیجه یې کې غربي فرهنګ او معلومات ورته اصل وګرځېدل، او اسلامي معلومات

ورته داسې یو څه وګرځېدل چې د دوئ په اند په عملي ژوند او پرمختګ کې چندان نقش نه لري.

د انګلیسي ژبې د خپرولو او د پورته یاد شوي مقصد د ترسره کولو لپاره د اشغال په وخت کې یوازې د کابل په ښار کې د انګلیسي ژبې د زده کړې (۱۱۰۰) مراکز په فعالیت بوخت وو چې په هره دوره کې په زرګونو شاګردانو ته غربي فرهنګ او انګرېزي ژبه ورزده کوله. او په همدغه تناسب په ولایاتو کې هم د دغې ژبې د زده کړې مراکز په کار بوخت وو.[1]

۲- په نصابونو کې د دیني او اسلامي ټولنیزو مضامینو اندازه لږ کړای شوه، او د هغو پر ځای رسم، هنر، غربي ډوله مدني او اجتماعي زده کړه او د غرب تاریخ او پرمختګونو ته ځای ورکړ شو.

۳- د ژبې او ادبیاتو کتابونه یې له دیني موادو او مفاهیمو خالي کړل، او دیني مفاهیم یې په بې کیفیته، بې روحه او بې واقعیته شکل یوازې د (دینیاتو) په کتابونو کې محدود کړل.

۴- له نصابونو څخه د اسلام فتوحات، پر نړۍ د اسلامي تمدن احسانونه او د اسلام د مشاهیرو په هکله معلومات لیرې شول، او پر ځای یې د اروپا او امریکا تاریخ، د غرب لشکر کشۍ، د غرب مشاهیر، فیلسوفان، شاعران، مخترعین، سیاسي مشران، پوځي افسران او په اسلامي نړۍ کې سیکولر او غرب پلوې اشخاص د مسلمانانو نویو نسلونو ته د (ماډل) او د تقلید وړ شخصیتونو په حیث معرفي شول.

د غرب دې ټولو تعلیمي هڅو اسلام په یوه نیمګړې، تحریف شوي او بېرته پاتې شکل نوي نسل ته تقدیم کړ، چې نتیجه یې له اسلام سره د نوي نسل په

[1] (د بي بي سي راډیو د ویبسایټ د هغه راپور له مخې چې د انګلیسي ژبې د نړیوالې ورځې په مناسبت یې په23 اپریل 2017 - 03 غویی 1396هـ ش تاریخ خپورکړ).

بې رغبتۍ او د غربي فلسفې د نظرياتو په منلو کې راووتله. او دا طبيعي خبره ده چې که يو څوک د يو څه په اړه بې رغبته وي، نو ولې به له هغه څخه د دفاع په لار کې قربانۍ ته حاضربږي؟ او يا به ولې د هغو غربيانو او يا روسانو پر لاره نه ځي چې دوئ يې په فکر او فلسفې روزل شوي دي.

**د نننۍ اسلامي نړۍ تعليمي مراکز، که د غربي کلتور، نظرياتو او ژوند بڼې ننداړتونونه؟**

نن ورځ په اسلامي نړۍ کې د مستعمرينو د شاگردانو په لاس جوړو شويو تعليمي ادارو په پوره ډول د غربي هېوادونو د کلتور او ژوندبڼې د ننداړتونونو شکل غوره کړی دی. د دې لپاره چې د تعليمي ادارو محيط په ټوليزه توگه له اسلام او اسلامپالنې محروم شوی وي په ټولو تعليمي ادارو او د هغو په ليلييو کې د تدين د مخنيوي په مقصد يا د مسجدونو جوړولو ته هېڅ پام ندی شوی، او يا داسې محدود او مهمل ساتل شوي چې په تعليمي محيط او د لوستونکو په سلوک کې يې هېڅ تأثير ښکاره نشي. او دا ځکه چې تعليمي مسؤولين په تعليمي محيط کې د مسجدونو، ديني مناسباتو او د شاگردانو د تدين له رول او تأثير څخه په وېره کې دي.

د افغانستان په ټولو دولتي پوهنتونو او ليليه لېسو کې يو اساسي مسجد هم نه وو ودان شوی، خو په مقابل کې يې په هر پوهنتون او ليسه کې د سينما، تياتر او لوبغالي اسانتياوې په پام کې نيول شوې وې، او په هغو کې د زده کوونکو او ځوانانو لپاره د غربيانو د لوېدلي فرهنگ فلمونه او ډرامې ښودل کېدلې. همدغه سبب و چې په پوهنتونونو کې د پوهانو، مخترعينو او محققينو پر ځای زموږ له تعليمي ادارو او پوهنتونونو په پراخه پيمانه کمونستان، غرب پلوي او نور د نشنلستي چپي او ليبرال افکارو لرونکي اشخاص ټولنې ته

مدرسه او مبارزه

راووتل چې هېواد ته يې پردي افکار راوارد کړل، او بيا يې د خپلو حاکميتونو په وخت کې د زور او جبر له لارې پر خلکو ور وتپل چې په نتيجه کې يې د افغانانو ډاډمن ژوند د انقلابونو، کودتاګانو او اضطرابونو په طوفانونو کې لاهو شو او د سلګونه زرو افغانانو د وژل کېدو اسباب او عوامل يې رامنځته کړل.

د افغانستان او نورې اسلامي نړۍ په تعليمي ادارو کې چې استادان، شاګردان او تعليمي مسؤولين څومره په ظاهري لحاظ د غربيانو له موډ، فيشن او ژوندبڼې متأثر ښکاري په همدومره اندازه د هغوئ له افکارو، عقائدو، سياسي نظرياتو او سلوک څخه هم متأثره دي، او د دې خلکو همدغه تأثر بيا په اسلامي هېوادونو کې د دين او ولس په اړه د دوئ په پرېکړو او اقداماتو کې راښکاره کېږي چې همدغه پرديپال بهير له تېرې يوې پېړۍ راهيسې اسلامي نړۍ په هر څه کې د استعماري غرب تابع ګرځولې ده.

په اسلامي نړۍ کې د تعلمي محيط د لا خرابولو لپاره د نجونو او هلکانو تر منځ د مخلوط تعليم سلسله رواج کړای شوه چې مسلمانې ټولنې يې له خطرناکو عواقبو سره مخ کړې. د نجونو او هلکانو ګډ تعليم په حقيقت کې د غرب د شيطانی دامونو په سلسله کې تر ټولو خطرناك دام وو چې په اسانۍ يې ورکې په مليونونو پېغلې او ځوانان ښکار کړل. دغه کار نه يوازې دا چې د اسلامي ارزښتونو پر ضد يو اقدام و، بلکې د تعليم او تربيې په خلاف هم يوه نا اعلان شوې پټه جګړه وه، او دا ځکه چې پېغلې او ځوانان د خپل انسانی فطرت د تقاضا پر اساس د عمر په دغه مرحله کې د (جنس) خوا ته ډېر ميلان ښکاروي، او تر بل هر کار يې توجه دې خوا ته ډېره وي. د عمر په دې مرحله کې دا يو فطري کيفيت وي چې فطرتاً ورباندې انسان نه ملامتېږي. له همدې امله خو شريعت د دغې غريزې د کنټرول لپاره اصول او ضوابط وضع

کړي دي چې له اختلاط څخه لېرې والی، د حجاب رعایت او د دواړو جنسونو تر منځ د تماس د فرصتونو کمول يې په سر کې راځي.
خو له بلې خوا بيا مېډيا، د پردیو په خوښه جوړ شوی نصاب، بې لارې كوونكي ناولونه، كيسې او د جنسي غريزې پاروونكي ادبيات او د مخنيوونكو قوانينو نشتوالی دغه ډول تمایلاتو ته نوره هم هوا ورکوي چې په نتيجه کې يې ځوانان له علم څخه پاتې او په عشقبازيو او ناروا جنسي تمايلاتو کې اخته کيږي.

### د غربي ډوله تعليمي نظام او نصاب په نتیجه کې څه ډول حُكّام منځته راغلل؟

غرب چې د غربي کولو (وېسټرنايزېشن) د عمليې له لارې پر ټوله اسلامي نړۍ خپل فکري او فرهنگي تسلط ټينگ کړ، نو په افغانستان کې هم تعليمي بهير د وېسټرنايزېشن (غربي کولو) او اختلاط له فتنو څخه په امان کې پاتې نه شو، او د وخت په تېرېدلو دلته هم د تعليم نظام، نصاب، فرهنگ او تعليمي اهدافو غربي رنگ واخيست، او په کرار کرار يې د نوی نسل فکري او تاريخي روابط د هغوئ له خپلو معنوي او اجتماعي ارزښتونو سره پرېکړل، او دا يې ورته تلقين کړه چې که افغانان هم د پرمختگ پر لاره تلل غواړي، نو بايد په فکر، فرهنگ، سياسيت او اجتماعي ژوند کې دې د غرب پر لاره تلل پيل کړي، که نه نو له دې پرته بله د مثبت بدلون لاره نشته. دا پداسې حال کې چې حقيقي پرمختگ په ښې حکومتولۍ، علم او صنعت راځي، نه د پردي فکر او فرهنگ په خپلولو.
په افغانستان کې د اول ځل لپاره د دغه پردی فکر او غربي ډوله تعليمي نظام تيوري (محمود طرزي) چې له (سيکولر کماليزم) او اروپايي نظرياتو څخه

متأثره و راوارده کړه، او د خپل زوم امان الله خان د زور، زندان، فکري ارعاب او استبدادي حکومت په مټ يې د دغو پردېو نظرياتو د عملي کولو هڅې شروع کړې، چې له همدې امله خو يې غربي ليکوالان په افغانستان کې (د سيکولرېزم پلار) هم گڼي.

دا سمه ده چې محمود طرزي او امان الله خان به له دې لارې په هېواد کې مادي پرمختگ غوښت، خو دا چې مادي پرمختگ بايد د ولس له دين او معنوي ارزښتونو سره همغږی وي چې متأسفانه هغوئ دواړو دغه درک او روحيه نه لرله، او يا د ديني ارزښتونو په اړه بې تعهده وو، نو ځکه يې په خپلو غربپالو افراطي اقداماتو د راتلونکي لپاره د اوږدې بې ثباتۍ او د ولس او نظام تر منځ د ټکرونو لپاره لاره هواره کړه، او د هغه څه نتيجه چې دې دواړو (اصلاحات) بلل عملاً د (افساداتو) په شکل کې ښکاره شوه.

په افغانستان کې په پردي فکر روزل شويو حکامو او اسلامي شريعت ته ناملتزمو نظامونو داسې وضعيتونه او قوانين رامنځته کړل چې ولس او نظام يې په خپلو کې سره په جگړه کې ښکيل کړل، او هغه داسې چې ولس د خپل معنوي او اجتماعي اصالت پر ساتلو ټينگار کاوه، خو سيکولرو حکامو خامخا د غرب پر لاره د خلکو د روانولو په مقصد د خپلو راواردو کړو قوانينو د عملي کولو په لاره کې زور کاراوه، چې په نتيجه کې يې د ولس او نظام تر منځ مسلسل ټکرونه پېښ شول، او لا تر اوسه روان دي.

پورتنی وضعيت يو ځل د امان الله خان د نظام په شکل کې چې د ترکيې د مصطفی کمال د (دين دښمنۍ) تمثيل يې کاوو پېښ شو، او له غرب څخه د راواردو شويو نظرياتو او فلسفي مفاهيمو نتيجه يې د هغو (افساداتو) په شکل کې راووته چې ده به (اصلاحات) بلل. وروسته بيا تر هغې هم بده نتيجه د

ظاهرشاه او داودخان د نظامونو په وخت کې د کمونستو او غرب پلوو احزابو او بیا د هغو د کمونیستو او سیکولرو حکومتونو په شکل کې راووته.

افغانانو هر ځل د پردیو په فکر او نصاب د دغو روزل شویو سیکولرانو د جنایاتو کفاره د لکونو شهیدانو په ورکولو ادا کړې، خو لا یې تر اوسه هم ټولنه د بې دینې مفکورې له جنایاتو او منفي تأثیراتو نه ده پاکه شوې، بلکې په هر نوي پړاو کې دغو د پردیو په فکر او فرهنګ روزل شوو حکامو دا هېواد او ولس له داسې نویو فتنو او سیاسي او اجتماعي بحرانونو سره مخ کړی دی چې پخواني یې له خلکو هېر کړي دي. او دا هرڅه ځکه پېښېږي چې حکام یې د اسلام د دین په حقیقي روحیه او تعلیماتو نه دي روزل شوي، بلکې د پردیو په فکر او فرهنګ رالوی شوي او د هغوئ ارزښتونو ته معتقد دي.

## غربي ډوله تعلیم د ولسونو څه ډول ذهنسازي وکړه؟

په افغانستان او نورې اسلامي نړۍ کې په پردیو افکارو روزل شوو نه یوازې دا چې (پر دین نه ولاړ) نظامونه رامنځته کړل، بلکې اسلام ته په ملیونونو داسې منسوب خلک یې هم وروزل چې یوازې نومونه یې اسلامي دي او نور یې د ژوند تقریبا ټولې چارې له دیني ارشاداتو څخه د باندې د سیکولریزم، کمونیزم، لیبرالیزم او وضعي قوانینو مطابق عیارې کړې او روانې کړې دي. دغو خلکو هر وخت ځان د اسلامي امت له افرادو ګڼلی، خو کار یې تل د کفارو لپاره کړی، او د اسلام پر ځای یې خپله وفاداري له غربیانو او غربي نظریاتو سره ښکاره کړې ده، او هم عملا له هغوئ سره په صف کې درېدلي دي. او دا ځکه چې په اسلامي نړۍ کې د غربي ډوله تعلیم زېږنده حکامو او تعلیمي مسؤولینو د تعلیمي نصاب مفردات او مضامین پداسې ډ ول انتخاب

کړي چې لوستونکي يې بايد په پوره اخلاص د دغو نظامونو په خدمت کې پاتې شي، او د اسلامي نظام د راوستلو لپاره دې نه احساس ولري او نه توان.

## د سيکولرو حکومتونو تعليمي نصابونه او غرب پلوې مطبوعات په اسلامي نړۍ کې د غرب د برلاسۍ دوه خطرناکې وسيلې:

غربي استعماري هېوادونو د اسلامي نړۍ د تسخيرولو لپاره هر ډول پوځي، استخباراتي، سياسي، اقتصادي، تعليمي او فکري وسائل کارولي دي، او په دې ټولو ډګرونو کې يې ښه ډېر مصاريف هم کړي دي.

افغانستان هم هغه هېواد دی چې د هغه د نيولو په لاره کې استعماري هېوادونو ځانونه ستړي کړي دي. خو دا چې د تاريخ په اوږدو کې په افغانستان کې د يرغلګرو پښې نه دي ټينګې شوې، او هر ځل له دې خاورې سرماتي او شرمېدلي وتلي، نو يرغلګر هم د خپلو څېړنو او تجاربو له مخې د افغانانو د دغې مېړانې او معنوي قوت د سرچينې د موندلو په هڅو کې دې نتيجې ته ورسېدل چې ترڅو يې چې افغانان له خپلو معنوي ارزښتونو او خپل اصيل اسلامي او افغاني فرهنګه منحرف کړي او د غرب په بې لارې او غير فطري فرهنګ کې منحل کړي نه وي، نو هېڅکله به د دې خاورې په دايمي اشغال کې بريالي نشي. هماغه وو چې له ډېر پخوا راهيسې غربي هېوادونو په افغانستان کې د تعليم، فکر او فرهنګ په ډګرونو کې خپل فعاليتونه شروع کړل، او افغانان يې تر خپلو فکري، عقائدي او سياسي تأثيراتو لاندې راوستل.

په افغانستان کې د غربيانو د تعليمي او فکري تأثيرګذارۍ په سلسله کې خبره تر دې ځايه ورسېده چې حتی دولتي تعليمي ادارې هم په غربي هېوادونو پورې وتړل شوې، او په نصابونو کې يې د غربيانو ژبې او مفاهيم ځای پر

ځای شول. د مثال په ډول: د استقلال لیسه د فرانسویانو لخوا، اماني لیسه د جرمنیانو لخوا، د کابل پولیتخنیك د روسانو لخوا، د کابل پوهنتون د امریکایانو لخوا حمایه کېدل، او د همدغو هېوادونو ژبې ورکې تدریسېدلې او فرهنګ یې ورکې افغانانو ته تلقین کېده.

کله چې د نوي نسل غرب پلوي مشران د صلاحیتونو خاوندان او چارواکي شول، نو د هر ډول غربي فرهنګ او بې لاریتوب پر مخ یې د هېواد دروازې په پراخ ډول خلاصې کړې، او د بې دینۍ، فحشاء او بربنډتوب لپاره یې تبلیغات وکړل، چې په نتیجه کې یې د لکونو افغاني نجونو او مېرمنو له سره پړوني وغورځول. خو چې په دې یې هم بسنه ونشوه، نو نجونې او مېرمنې یې په مکتبونو او دولتي دوائرو کې د (موډ) او (فیشن) په نامه د کمیسونو لنډولو او د پرتوګونو غورځولو ته تشویق کړې چې هره ورځ به په ښارونو کې په لسګونو زره افغاني خویندې او میندې د اروپایانو په څېر بې پردې، بې پرتوګه او لوڅې پونډۍ ګرځېدلې، او دا هر څه د تمدن او ترقۍ تر عنوان لاندې تر سره کېدل.

کافرو یرغلګرو د خپلو پرله پسې یرغلونو او عسکري اشغال په زور له مسلمانو ښځو حیا او پرده لیرې نه کړای شوه، خو دغو افغانانو چې د غرب په فرهنګ لوی شوي او رنګ شوي وو جامې هم ورڅخه وایستلې.

په حقیقت کې د افغاني ټولنې په بې لارې کولو کې داخلي (فرهنګیانو) تر خارجي (فرنګیانو) ډېر خطرناك نقش ولوباوه. دوئ د هېواد نشرات او مطبوعات د غربي فرهنګ د خپرولو لپاره په یومخیز ډول وقف کړي وو. دوئ د هېواد په ښارونو کې د ځوانانو داسې یو نسل وروزه چې د غرب لوېدلی او بې معنویته فرهنګ ورته تر اسلام او افغاني فرهنګي ارزښتونو ډېر غوره ښکارېده.

مدرسه او مبارزه

**امریکایانو زموږ د هېواد د اشغالولو تر څنګ زموږ نصابونه او مطبوعات هم اشغال کړي وو:**

په وروستي ځل چې امریکا او انګریزانو د نورو غربیانو په ملتیا زموږ پر هېواد او دین بیا پوځي یرغل وکړ، د هېواد شرعي حاکمیت یې له منځه یووړ، په زرګونو بې ګناه انسانان یې ووژل، ښځې یې کونډې او ماشومان یې یتیمان کړل، او د افغانانو د سیاسي او فرهنګي سرنوشت واګې یې په خپل لاس کې واخیستل، نو بیا یې هم له ځان سره داسې غرب پلوي افغانان ملګري کړل چې د دوئ ټول جنایات توجیه کړي، او دغه استعماري یرغل افغانانو ته د ازادۍ، ډیموکراسۍ، مدنیت او ترقۍ په نومونو معرفي کړي.

امریکا د خپل اشغال په وخت کې د افغانانو او افغانستان د تسخیر لپاره په لاندې شکلونو کې له تعلیم څخه کار واخیست:

(**الف**) امریکا د افغانستان د اشغال په کلونو کې درې ځلې د افغانستان په تعلیمي نصاب کې بدلون راووست او له نصاب څخه یې د جهاد، دفاع، شهادت، غیرت، ازادۍ، اسلامي نظام، له کفارو څخه د کرکې، د اسلامي امت د یووالي او د دیني تعلیماتو او ساینسي اکتشافاتو تر منځ د ارتباط مفاهیم حذف کړل، او پر ځای یې د سولې، دېموکراسۍ، د غربیانو له نظره د بشر حقوقو، د ښځو د آزادۍ، د ښځو او نارینه وو ترمنځ د اختلاط، موسیقۍ، ګډا، د فرهنګ په نامه د زړو افغاني خرافاتي انګیرنو او رواجونو د راژوندي کولو، د غربي ډوله مدني ټولنو د معرفي کولو او رائجولو، د هیومنیزم د فلسفې له مخې ټولو انسانانو ته په یوه سترګه د کتلو، له کفارو سره د یو ډول سیاسي، فرهنګي، اخلاقي او ټولنیزو ارزښتونو د خپلولو او د غربي او یا غرب پلوو شخصیتونو د معرفي کولو مفاهیم او مضامین ورکې ځای کړل.

د تأسف ځای لا دا دی چې دا هرڅه یې د داسې خلکو په لاس وکړل چې ځانونه یې پخواني مجاهدین او د اسلامي فکر مدافعین بلل، او د جهاد او هجرت په محیط کې یې د مهاجرینو او مجاهدینو په خیراتي پیسو ماسټرۍ او دوکتوراوې هم اخیستې وې، خو په آخر کې له خپل ټول علم او تجربې سره د اشغال د حکومت په ادارو کې د یرغلګرو تر څنګ ودرېدل.

امریکایانو د خپلې خوښې مفاهیم اکثره د ادبي، اجتماعي، تاریخي، فرهنګي او د مدني زده کړو په مضامینو کې ځای پرځای کړي وو ترڅو په پراخه پیمانه د نوي نسل په ذهن کې ځای ونیسي.

(**ب**) د امریکایانو له راتللو سره د افغانستان د تعلیمي حریم دروازه د هر چا پر مخ خلاصه شوه، او هر چا دلته د خپلې خوښې تعلیمي ادارې، شخصي مکتبونه، پوهنتونونه، لنډمهالي او اوږدمهالي کورسونه جوړ کړل، او په هغو کې یې خپل خپل نصابونه عملي کړل.

غربي هېوادونه او مؤسسات چې د دغو تعلیمي ادارو تر شا ولاړ وو له یوې خوا یې د افغانستان تعلیمي نصاب له اسلامي ارزښتونو محروم کړ، په نصاب کې د شاملو دیني کتابونو د چاپ لپاره د پیسو ورکړه وربانديې بنده کړه ترڅو نوی نسل د مکتب په نصاب کې هم د دیني کتابونو له شتون څخه محروم شي، او له بلې خوا یې د ټولنې د شتمنې طبقې اولادونه د خپلو افغاني ملګرو په توسط په شخصي تعلمیي ادارو کې احتوا کړل، ترڅو یې هلته په واردو شویو پردیو نصابونو وروزي.

د پردیو په نصابونو روزل شوي نسلونه غواړي په راتلونکي کې افغانستان په هم هماغه ډول د پردیو پر لار روان کړي لکه څنګه یې چې د اسلامي نړۍ نور هېوادونه روان کړي دي.

(ج) امریکایانو د یوې سنجول شوې توطیې په ترڅ کې د افغانستان پر خلکو داسې یو تعلیمي نصاب ور تحمیل کړ چې د اسلوب، تعلیمي مېتود او د معلوماتو د سویې په لحاظ یې د افغانستان د اوسني جنګ ځپلي معارف د معلیمنو او متعلمینو له سویې او وضعیت سره مطابقت نه درلود. د دې کار نتیجه دا شوه چې نه موجودو معلمینو دغه د پردیو له لوري فرمایشي نصاب په سم ډول تدریسولی شو، او نه هم زده کوونکو له هغه سمه استفاده کولی شوه، چې په دې ډول یې معارف، معلم، شاګرد او د هغوئ سرپرستان ټول له یوه ذهني اضطراب سره مخ کړل. او چې د معارف او د لوړو زده کړو په وزارتونو او نظام کې اداري او اخلاقي فساد هم وسره ملګري شو نو نتیجه یې د (تعلیم) پر ځای (تجهیل) راووته، چې همدغه د غرب اوږد مهاله هدف هم و؛ ځکه چې غرب او د اسلام نور دښمنان نه غواړي چې افغانان دې پرمختګ وکړي، بلکې هڅه کوي چې د تل لپاره افغانان ځانته محتاج او تر لاس لاندې وساتي. او که د تعلیم په نامه څه مرستې ورکوي، نو هغه هم یوازې په هغو حدودو کې وي چې خلک دې ورکې په فکري، فرهنګي او اخلاقي لحاظ په دوئ پورې وتړل شي.

**د ولس د عامه ذهنیت اشغالول د یرغلګرو لوی هدف:**

کفري یرغلګرو هېوادونو تل کوښښ کړی چې ټوله اسلامي نړۍ د ځان لپاره تسخیر کړي، او دلته د هر څه واک او اختیار په خپل لاس کې ونیسي. دې هدف ته د رسېدلو لپاره دوئ د جګړې او سیاسي فعالیتونو تر څنګ د نرم قوت له کارولو کار اخیستی او د جګړې په نسبت یې د نرم قوت د کارولو لاسته وروړنې هم ډېرې دي.

د نرم قوت ډېر شکلونه دي چې مهم يې سياسي روابط، تعليمي پانګوونه، د غربي افکارو، عقائدو او نظرياتو خپرول، تبليغاتي وسائل په کار اچول، اقتصادي فعاليتونه، د بېلابېلو پروژو او مؤسساتو له لارې له ولس سره مستقيم تماس نيول، د يرغلګرو د شتون پر افاديت يې قانع کول او همدارنګه د عامه ذهنيت جوړول يې مهم شکلونه دي.

د عامه ذهنيت جوړول د يرغلګرو لپاره تر هرڅه مهم دي، او دا ځکه چې ترڅو چې د عام ولس ذهن د يرغلګرو مخالف وي، نو تر هغه به نه د يرغلګرو اجنداوې او پروګرامونه عملي کېږي، او نه به هم خلک د هغوئ په خلاف له مقاومته لاس اخلي.

**د عامه ذهنيت د جوړولو لپاره د يرغلګرو اقدامات:**

د دې لپاره چې يرغلګر د خپل ځان په ګټه د ولس عامه ذهنيت جوړ کړي لاندې اقدامات تر سره کوي:

**۱- د لاسپوڅو حکومتونو قائمول:**

يرغلګر په نيول شوو هېوادونو کې د دې لپاره لاسپوڅي حکومتونه قائموي ترڅو د هغو له لارې د هماغو هېوادونو ټولې ملکي او نظامي ادارې د خپلو اهدافو د تحقق لپاره وکاروي، او د هغو له لارې داسې قوانين، لوائح، دستورالعملونه، معيارونه او اصول وضع کړي چې په عملي کېدلو يې له يوې خوا د يرغلګرو د مقاصدو د ترسره کېدلو لپاره زمينه سازي وشي، او له بلې خوا په ټولو ملکي او نظامي ساحو کې د مخالفت او مقاومت مخنيوی وشي. او که څوک بيا د دغو اصولو او قوانينو مخالفت کوي، نو هغوئ بايد د

مجرمانو په حیث مجازات شي او وځپل شي، که څه هم چې هغوئ به په خپله مدعا کې پر حقه هم وي.

**۲- په ولس کې د مخورو او بانفوذه څېرو خریداري:**

یرغلگر کوښښ کوي په تر یرغل لاندې ولسونو کې دین خرڅوونکي، منحرف، دنیا پرست او د منصب وږي دیني علم ته منسوب مخور خلک او د روحانیت درواغجن دعوه داران خریداري کړي، ترڅو د هغوئ د فتواوو او تأیید له لارې خپل یرغل او ناروا شتون ته جواز برابر کړي، او هم د هغوئ د منفي تبلیغاتو له لارې چې د دین تر عنوان لاندې یې د مجاهدینو په خلاف کوي د جهاد او مجاهدینو په اړه عام ولس په شک کې واقع او له مقاومت څخه یې لاس پر سر کړي.

دیني علم ته منسوب خلک او د روحانیت درواغجن دعوه داران په حقیقت کې د یرغلگرو (دیني ملېشې) وي چې په په ډېره کمه بیه د دښمن لپاره خورا لوی خدمتونه ترسره کوي. او د دې ډول خلکو خطرناک نقش ته په پام سره چې د اسلامي ټولنې په خلاف یې لوبوي د اسلام پیغمبر صلّی الله علیه وسلم په خپل وخت کې په مدینه منوره کې د هغوئ د (ضرار مسجد) ور ړنگ کړ، او د هغوئ هسته یې نابوده کړه.

امریکایانو او د هغوئ ملگرو هم د افغانستان تر اشغالولو وروسته دلته همداسې وکړل او یوه برخه دنیا غوښتونکي پیران، ملایان او دیني مناصبو ته منسوب خلک یې په دې مقصد پر لوړو حکومتي منصبونو وټاکل چې د هغوئ په خوله خپل پیغام دې ولس ته خپور کړي چې د اشغال تر چتر لاندې ژوند ومني، خو د الله تعالی په احسان او بیا د دې ولس د جهادپالنې د

روحيې او د مجاهدينو د قوي پيغام رسوونې له برکته اشغالګر خپل دې هدف ته په رسېدو کې ناکام شول.

**۳- د تبليغاتو او عمومي ذهن جوړونې لپاره د فرهنګيانو خريداري:**

امريکا د دې هدف لپاره پخپله هم خورا ډېر وسايل په کار واچول، او د اطلاعاتو او فرهنګ د وزارت چارې يې هم داسې خلکو ته ور وسپارلې چې په پوره اخلاص يې د غرب د سياسي، اقتصادي او فرهنګي اهدافو لپاره يې کار کاوه.

دغو غرب پلوو د خپلو بادارانو د فرهنګ د متعارف کولو لپاره نوې جريدې، اخبارونه، مجلې، فرهنګي ټولنې، راډيوګانې او کيبلي تلويزوني چينلونه پرانيستل. دوئ شپه او ورځ په دې هڅه کې وو چې څنګه امريکايي او اروپايي يرغلګر افغانانو ته د نجات ورکوونکو په حيث معرفي کړي.

غرب پخپله هم زموږ د اصلي اسلامي فرهنګ د مسخه کولو لپاره خپلو راډيويې پروګروامونو کې څو برابره زياتوالی راووست. د مثال په ډول د امريکا غږ، بي بي سي، د ازادۍ راډيو، د المان غږ راډيو او نورو راډيوګانو چې پخوا به يې په ۲۴ساعتونو کې د افغانانو لپاره يوازې يو يا دوه ساعته خپرونې کولې، د اشغال په وخت کې دغو ټولو په مجموعي شکل په يوه شپه او ورځ کې په سلګونه ساعته خپرونې درلودې، او ټولو يې د بېلابېلو پروګرامونو له لارې د افغانانو د فرهنګ د بدلولو لپاره کار کاوه.

بي بي سي، امريکا غږ، المان غږ او د ازادۍ راډيوګانو د اشغال په وخت کې په مسلکي لحاظ د افغانانو تر ټولو غښتلي او مشهور ليکوالان، ژورنالستان، نوي اديبان او فرهنګيان په کرايه نيولي وو، او حتی ځيني هغه ليکوالان يې هم د خپل ځان لپاره مسخر کړي وو چې يو وخت يې په جهادي خپرونو او فرهنګ کې لوی لاس او شهرت درلود.

**۴- د يرغلگرو په گټه د تعليمي بهير عيارول:**

غربي يرغلكرو تر يرغل سمدستي وروسته د راتلونكي نسل د روزلو لپاره زمونږ د هېواد تر ټولو مهم تعليمي مراكز پخپل كنټرول كې ونيول. د تعليمي نصاب له ډېرو كتابونو څخه يې ټول هغه مفاهيم وويستل چې په جهاد، اسلامي تاريخ، ازادۍ او له كفارو سره په دښمني پورې يې اړه لرله. او دا هر څه يې د داسې چا په لاس له تعليمي نصابه ووېستل چې يو وخت يې په خپله د اسلامي تنظيمونو او اسلامي فرهنگي مركزونو د چلولو افتخار هم درلود، خو وروسته د اشغالگرو د ډالرو سېلاب ته ټينگ نه شول، او په پوره خِسَّت او بې شرمۍ يې د امريكايي مشاورينو تر څارنې لاندې د اشغال د حكومت لپاره د فرهنگي او تعليمي ملېشو نقش ادا كړ.

امريكايانو د افغانستان تر اشغالولو وروسته دلته د تعليم او تربيې په وزارت كې هغه نصاب د تطبيق لپاره راوړ چې د امريكا د (نبراسكا) د پوهنتون لخوا د افغانستان لپاره جوړ شوى وو.

المان يو ځل بيا (اماني ليسه) د دونيم ميليونو ډالرو په مصرف په الماني طريقه فعال كړه، ځكه چې المانيان پوهېدل چې له اماني ليسې څخه چې څوك فارغېږي حتماً به يوه منصب ته رسېږي، او بيا به د دوئ په درد خوري.

فرانسې هم بيا د استقلال د ليسې چارې تر خپل نظارت لاندې ونيوې.

د عالي تحصيلاتو په لړ كې يرغلگرو امريكايانو په كابل كې د (امريكايي پوهنتون) پروژه عملي كړه چې د بېروت، قاهرې او د استانبول د (امريكايي پوهنتونونو) په څېر به د غرب پلوو حكومتونو لپاره كدرونه تياروي. دې پوهنتون چې كله د ۲۰۱۱م كال د مئ په مياشت كې خپله لومړۍ ډله شاگردان د تجارت، معلوماتي ټكنالوژۍ او پبلك منجمنټ (عمومي ادارې) په څانگو كې د ليسانس په درجه فارغول، نو د دوئ د فراغت د مراسمو

غونډې ته د نورو اروپايي او امريکايي لوړ پوړو چارواکو تر څنګ په افغانستان کې د امريکا سفير جنرال (ايکنبيري) هم ويناوکړه. هغه د پوهنتون نوي فارغان ډېر وستايل او زياته يې کړه چې: (دا پوهنتون پلان لري چې په راتلونکي کې خپلې محلي څانګې د افغانستان په ځينې نورو ولاياتو لکه هرات او کندهار کې هم پرانيزي، ترڅو په افغانستان کې داسې يو نسل وروزي چې په افغانستان او سيمه کې د اقتصاد، تجارت، معلوماتي ټکنالوژۍ، قانون او حکومتدارۍ په ډګرونو کې قيادت په خپل لاس کې واخلې.

**۵- د غربيانو په اصطلاح د منځلاري اسلام پلويان په خپله ګټه کارول:**

غرب چې د افغانانو په خلاف په فکري او فرهنګي ډګرونو کې د کار کولو لپاره څومره غربي شوي افغانان له ځانه سره راوستلي وو له هغوئ څخه څه ګيله نه وه، ځکه چې هغوئ پرون هم په ښکاره د دښمن په صف کې ولاړ خلک وو او افغان ولس هغوئ ته د پرديو په سترګه کتل، او نن هم هغوئ د يرغلګرو په صف کې ولاړ دي، او له افغانانو سره په هر اړخيزه جګړه کې دي. خو د افسوس خبره دا وه چې يوه ډله نور (فرهنګيان) چې د کمونيزم په خلاف د جهاد په کلونو کې به يې ځانونو ته د اسلامي او افغاني فرهنګ پالونکي او وارثان ويل، د جهاد او مهاجرينو په چاپيريال کې به يې د ځينو اسلامي او عربي مؤسسو په مالي مرستو ځانونه هم د ښو او تحريکي مسلمانانو په حيث مطرح کړي وو او اسلامي نشرات به يې هم درلودل، خو وروسته هغوئ هم د (فرنګي) (فرهنګيانو) په څېر د يرغلګرو په خدمت کې واقع شول، او د جهاد او مجاهدينو په خلاف يې له يرغلګرو د تشکيک او منفي تبليغاتو پروژې واخيستې، او په ډېرې نامردۍ دوئ هم په اشغال شوي هېواد کې له يرغلګرو سره يو ځای په کار کولو د غرب د (کافرې

ډېموکراسۍ) مخ ورسپین کړ، او د دې خدمت په بدل کې په لاسته وروړو ډالرو او نورو امتیازاتو یې په خپل ګومان خپله دنیا او هم خپل آخرت (ښایسته؟!) کړل.

حقیقت دا دی چې دغه ډول فرهنګیانو د اشغال په تعلیمي اداره کې په خپل شراکت هم خپل ځان تېرویست، او هم یې په خپل دې کار د ولس د تېر ابستلو په کار کې خپل نقش ادا کړ، او د اشغال په خلاف د برحق جهاد د لارویانو په خلاف یې د (تشکیک) پوخ سنګر سمبال کړی و چې فایده یې په یقیني ډول د اشغالګرو غربیانو په ځولۍ کې ورلوېده. ای کاش چې دغه خلک رښتیا هم د (اولویاتو) په هغې (فقهې) چې دوئ یې دعوی درلوده پوهېدای او عمل یې وربانديې کولای، نو په هغه وخت کې به یې خپل قدرمن استعدادونه رښتیا هم د (اسلامي فکر) د خدمت په لار کې کارولي وو.

خو د امریکایانو په لاس د جوړ شوي حکومت تر سیورې لاندې په کار کولو او د اشغال د حکومت د تعلیمي پروژو په چلولو دغو خلکو په حقیقت کې تر (سیکولرو فرهنګیانو) هم غلط دریځ ونیوه، ځکه چې دوئ خپله مفکوره خلکو ته د اسلام په نامه وړاندې کوله، خو د کافرو اشغالګرو غربیانو او د هغوئ د افغانو ملګرو په خلاف د (فرض جهاد) په اړه یې نه یوازې دا چې خپل شرعي مسؤولیت ته شا کړې وه، بلکې د ښارونو متدینو ځوانانو ته یې هم شکونه وراچولي وو. دغه ډول خلک یا په زړه خیرن وو، او یا یې د بصیرت سترګې دومره کمزوې شوې وې چې د ازادۍ او غلامۍ ترمنځ ښکاره توپیرونه یې هم نه لیدل.

دغو فرهنګیانو خو یا د غرب مکاري نه وه درك کړې، او یا دوئ هم د بد نیت خاوندان وو چې د (په هر څه کې د اعتدال) تر شعار لاندې یې د اسلام

(ثوابت) هم تر پښو لاندې کول، او په آګاهانه ډول د دښمن په صف کې ولاړ وو. که داسې نه وو نو د صلیبي یرغلګرو تر سیوري لاندې اسلامي فرهنګ ته خدمت څه معنی درلوده؟

په عمومي ډول د تاریخي تجربو په نظر کې نیولو سره دا په زغرده ویلی شو چې (فرهنګي) (فرنګیان) د غرب لپاره د مسلمانو ولسونو په تسخیرولو کې تر (جنګي) (فرنګیانو) ډېر خطرناك وي، او دا ځکه چې هغوئ د یوه ملت افراد وژني، خو دوئ د هغه ملت دین، عقیده، ارزښتونه او معنوي پایښت له منځه وړي.

د تعلیم، فکر او فرهنګ په ډګرونو کې چې ترڅو د مجاهدینو او اسلامي نظام له لوري ژور، هراړخیز او مسلسل فعالیتونه نه وي تر سره شوي، او د اسلام د غوښتنو مطابق پاخه عصري او دیني نصابونه او فعاله مېډیا نه وي رامنځته شوي، د اسلامي نړۍ وضعیت به د دښمنانو په ګټه او د مسمانانو په تاوان روان وي، او د مسلمانو ولسونو بچیان به په هغه چا پسې ځي چې د چا کتاب یې په لاس کې وي، او د چا مېډیا یې پروګرامونه ویني او اوري.

په دې لاره کې تر ټولو ستر او مهم قدم دا دی چې موږ په خپلو تعلیمي نصابونو کې د کفر او بې لارېتوب د معاصرو انواعو او اشکالو په اړه کافي معلومات وړاندې کړو، او په پوره جرأت او بصیرت د هغو په اړه نوي نسل ته شرعي حکم بیان کړو، او په دې کار کې د هېڅ خاطرداري ونه کړو.

**٦- د سوله ییزې مبارزې پراخ او مسلسل تلقین:**

پداسې حال کې چې غربیان د اسلامي هېوادونو د اشغالولو او د مسلمانو ولسونو د تسخیرولو په لاره کې خپل تر ټولو پرمختللې جنګي ټکنالوژي او تر ټولو ویجاړوونکي حربي وسائل کاروي او د خلکو د مرعوبولو په مقصد

له بېلابېلو وېرونکو جنګي لارو چارو کار اخلي ترڅو د مقابل لوري د مقاومت روحیه وځپي او تسلیمېدو او یا د ساحې پرېښودو ته یې اړ کړي، خو په عین وخت کې د خپلو غلامانو په توسط تر یرغل لاندې راغلي ولس ته د (صبر)، (زغم) (اعتدال) او (د عدم تشدد) د مبارزې تلقین ورکوي، او هڅه کوي په دې یې قانع کړي چې له مسلح مقاومته څه نه جوړېږي، او دا چې که ولسونه غواړي چې آزادي دې ترلاسه کړي نو تر ټولو غوره او مأمونه لار یې د هغه قانون په چوکاټ کې چې خپله یرغلګرو جوړ کړی وي سیاسي فعالیت، زغم، مدني اقدامات او د عدم تشدد مبارزه ده.

غربي اشغالګر د تر یرغل لاندې مسلمانانو د غلطولو په هدف هغوئ ته د عدم تشدد د مبارزې په ډګر کې د (ګاندي)، (نلسن ماندېلا) او د اشنغر د(عبدالغفارخان) مبارزې په مثال کې وړاندې کوي. پداسې حال کې چې (ګاندي) او (نلسن ماندېلا) دواړه د عقیدې په لحاظ (صریح کافران) او عبدالغفار خان د انګرېزي استعمار تر ادارې لاندې په پېښور کې د عیسایي مبلغینو لخوا په چلېدونکي (مشن سکول) کې یو تربیه شوی شخص او بیا وروسته کمونیزم ته مایل یو سیکولر نشنلست خان وو.

د (ګاندي)، (ماندېلا) او (عبدالغفارخان) د یوه مبارزه هم د مستعمرینو په خلاف دیني مبارزه نه وه، او نه هغوئ د مستعمرینو له (دین)، (فرهنګ) او تمدن سره اختلاف درلود، بلکې (ګاندي) او (ماندېلا) د سیاسي آزادۍ تر اخیستلو وروسته هم خپل نظامونه د غربیانو پر اصولو جوړ کړل، او هم یې خپل ولسونه د غربیانو د قوانینو مطابق اداره کړل. او د عبدالغفارخان لارویانو هم په اول کې د چپي افکارو په لرلو د شوروي اتحاد لمنه نیولې وه، او د هغه تر ړنګېدلو وروسته یې د غربي لبرال نظریاتو او پالېسیو په خپلولو د امریکایانو ملګرتیا ته پداسې حال کې زړه ښه کړ چې امریکایانو تقریبا په

ټوله اسلامي نړۍ کې د اسلامپالو په خلاف خپله بې رحمه خونړۍ جګړه شروع کړې وه.
د پورتنیو درېواړو اشخاصو افکار او د هغوئ د سیاسي مبارزو نوعیت کله هم د کافر دښمن په مقابل کې د مسلمانانو لپاره ماډل نشي کېدای، ځکه چې د هغه اسلامي جهاد چې د مسلمانانو د هراړخیزې آزادۍ د حاصلولو او د اسلامي نظام د قائمولو لپاره پیل شوی وي عقیده، نظریه او تګلاره هم باید له اسلامه واخیستل شي، نه دا چې تش په نامه دې د آزادۍ حرکت وي او نور دې په حقیقت کې په فکري، سیاسي، فرهنګي او ټولنیز لحاظ بېرته ځان د غرب غېږې ته ور وغورځول، او د اسلام د حاکمولو په خلاف درېدل وي.
خو دا چې غربیان دلته د مسلمانانو په خلاف په یوه سخته جګړه کې راګیر او له درنو تاوانونو سره مخ وو، نو هڅه یې کوله چې د مسلمانو افغانانو نوی نسل د (ګاندي)، (ماندېلا)، او (عبدالغفارخان) پر لار په روانولو له شرعي جهادي مبارزې مصروف او په دې ډول یې د تر اشغال لاندې ولسونو سنګرونه له ځوانانو خالي کړي.

**۷- د مدني ټولنو د فعالیت تر نامه لاندې غرب پلوو عناصرو ته په ټولنه او نظام کې ځای جوړول:**

په اسلامي ټولنو او هېوادونو کې د مدني ټولنو په نامه فعالان د خپل ځان په اړه وایي چې دوئ د ولسي خلکو له منځه نادولتي خدمتګار خلک دي چې له دولت څخه د عامو خلکو د حقونو د اخیستلو لپاره هلې ځلې او خلکو ته د هوساینې د فرصتونو د برابرولو لپاره کار کوي. خو په حقیقت کې د مدني ټولنې فرهنګ او پدیده د غرب په پانګه وال نظام کې د زبېښګرو لویو سرمایه دارانو او کمپنیو له لوري په دې مقصد رامنځته کړای شوې چې له یوې خوا

دغو د مدني ټولنو فعالانو ته له خپلو لويو سرمايو څخه د لږ څه په ورکولو هغوئ د خپل ځان په ګټه د فرهنګي او اجتماعي فعالينو په توګه استعمال کړي او د ډېرو سطحي کارونو په کولو د ټولنې د ځپل شوې طبقې د اغفالولو او د سرمايه دارانو له اقتصادي جناياتو څخه د عامو خلکو د پام اړولو په مقصد ورڅخه کار واخلي، او له بلې خوا همدوئ د سيکولرو نظرياتو په لرلو د ديني ټولنو پر ضد راپورته کړي.

په غرب کې د مدني ټولنو په نامه فعالينو دا دواړه کاره وکړل، د ديني شعارونو، عباداتو او ارزښتونو په خلاف مبارزه يې د خپلو فعاليتونو محور وګرځوله، او په دې ډول يې په غربي سيکولره ټولنه کې ځانته ځای جوړ کړ، او وروسته بيا همدغه څه غربيانو تر خپل تأثير او تسلط لاندې اسلامي هېوادونو ته هم راصادر کړل.

کله چې غربيانو افغانستان اشغال کړ، دلته يې وليدل چې په ټولنه کې ديني توجهات او له غربيانو کرکه په ټول قوت سره وجود لري، او بايد دوئ دغه دواړه توجهات له منځه يوسي، نو هماغه و چې د خپل ځان په ګټه د ټولنې د ذهن جوړونې، د ښارونو په خلکو کې د غربي مدني ارزښتونو د خپرولو او د اسلامپالنې په خلاف د دربدلو په مقصد يې دلته هم د مدني ټولنو په نامه تشکيلات رامنځته کړل، او بې دينه، د لوېدلو اخلاقو خاوندان، له غربه متأثر او د يرغلګرو پلويان يې ورکې توظيف کړل، او په مالي او تبليغاتي لحاظ يې د هغو ملاتړ وکړ.

په افغانستان کې خلکو وليدل چې د مدني ټولنو فعالينو په ټول قوت د يرغلګرو خوا ونيوله، د حجاب په خلاف او د غربي فرهنګ د رواجولو لپاره يې ډېر شرمېدلي فعاليتونه وکړل، په (متدينو مسلمانانو) يې پسخندونه ووهل، خو د (خرو) د درناوي لپاره يې غوندې جوړې کړې، او په بېلابېلو شکلونو

يې د بهرنيو مؤسساتو، مسيحي ټولنو، غربي سفارتونو او د بهرنيو اشغالگرو قواوو په ملاتړ خپلو هڅو او فعاليتونو ته دوام ورکړ، ترڅو په دې ولس او هېواد کې د غربيانو په گټه د نوي نسل ذهن جوړونه وکړي.

اسلامي نظام که په ښه مؤثر او پراخ ډول د عامه ذهنيت جوړولو لپاره يوه افغانستان شموله استراتېژي او د تطبيق وړ پروگرامونه ونه لري، او د دې کار لپاره وړتيا لرونکي اشخاص په کار ونه گوماري، نو په دې ډگر کې زموږ غفلت او د غربيانو فعاليتونه به په راتلونکي کې خطرناک او نه کنټرولېدونکي عواقب ولري.

په پورتنيو بحثونو کې دا خبره جوته شوه چې له کومه وخته چې په اسلامي نړۍ کې د تعليم او تربيې د چارو واگي د متدينو او اسلامپالو خلکو له لاسه وتلي، او د غربيانو او يا غرب پلوو نظامونو او عناصرو لاسته ورغلي دي مسلمانانو د خپل ديني، تمدني، سياسي، اجتماعي، عسکري او اقتصادي ژوند په ډگرونو کې لوی تاوانونه ليدلي او ډېر کړاوونه يې گاللي دي. او د دې پر ځای چې ساينس، ټکنالوژي، انساني او اجتماعي علوم زموږ ټولنو ته رفاه، آزادي، استقلال، سعادت او روحي اطمينان ورکړي، مسلمانې ټولنې يې له کړاوونو، غلامۍ، بلواکۍ، شقاوت او اضطراب سره مخ کړې دي. د دې مشکلاتو سبب دا ندی چې دغه علوم او ټکنالوژي په ځان کې خير نه لري، بلکې سبب يې دا دی چې دا هر څه د داسې خلکو له لوري د پرديو د اهدافو د تحقق لپاره کارېدلي دي چې د هماغو پرديو په فکر، فرهنگ، عقائدو روزل شوي وو، او د پرديو فکري، سياسي او اجتماعي ارزښتونو ورته د خپلو ولسونو تر ارزښتونو ډېر ارزښت درلود.

دا چې اوس د الله تعالی په فضل او تر هغه وروسته زموږ د ولس د جهادونو، قربانيو، صبر او پر حق د استقامت په نتيجه کې يو ځل بيا اسلامي نظام قائم

شوی، او د دغه نظام د چارو واګي تر ډېره حده د دیني مدرسې د اهل په لاس کې دي، او ټولې نړۍ ولیدل چې د مدرسې اهل پوره شل کاله د جګړې، سیاست، اسلامپالنې، آزادۍ اخیستنې، مجاهد روزنې او د نړیوال کفري پوځي ائتلاف په مقابل کې په پوره هوښیارۍ، صبر او متانت د درېدلو په ډګرونو کې خپل وجود ثابت کړ او خپل ارزښتونه یې وپالل، دا هرڅه پر دې دلالت کوي چې مدرسه نوره یوازې د کتابونو د ویلو او علمي فعالیت یوه ساده درسګاه نده، بلکې هغه نوره په هراړخیز ډول د اسلام د بیا راګرځولو او حاکمولو د یوه ژوندي او فعال نهج نوم دی چې باید په ډېر ارزښت وپالل شي، تقویه او توسیع شي، او د دعوت، جهاد، مبارزې، سیاست، حاکمیت او ملت دارۍ په فکري ادبیاتو او روحیې نوره هم عیاره شي، او په اهل کې یې دا وړتیاوې په ښه شکل ایجاد شي چې د دیني او دنیاوي دواړه ډوله تعلیمونو بهیرونه داسې اصلاح او پرمختللي کړي چې لوستونکي یې په ریښتینې معنی یو معاصر اسلامي نظام اداره کړای شي.

دا چې مدرسې د معاصرې اسلامي مبارزې په بهیر څه نقش درلودلی؟ او ولې یې باید نقش او تأثیر تقدیر شي؟ او د ځینې خللونو او نیمګړتیاوو تدارک او علاج یې په سنجول شوي او معاصر ډول وشي، په راتلونکي فصل کې یې په اړه څو ژورې خبرې د لوستونکو مخې ته ږدم، هیله ده چې د ذیربطو جهتونو د توجه وړ وګرځي.

## دويم فصل

## په معاصره اسلامي مبارزه کې د د يني مدرسې قيادي نقش

مدرسه او مبارزه

**مدرسه د هېواد له ديني هويت څخه د دفاع د يوه انقلابي تفکر او عمل سمبول:**

که په اوسني وخت کې په اسلامي نړۍ کې له غرب سره د فکري، سياسي او عسکري کشمکش له زاويې ديني مدرسې او په معاصرو سياسي، فکري او عسکري جرياناتو کې د مدرسې د اهل نقش او تأثير ته وگورو، نو وبه وينو چې مدرسه اوس يوازې يوه ساده علمي درسگاه نده، بلکې هغه نوره له يو څه نيمگړتياوو سره سره له اسلام، اسلامي قلمرو او د مسلمانانو له ديني هويت څخه د دفاع او مقاومت د يوه انقلابي تفکر او عمل د يوه سمبول نوم دی چې د ټولې نړۍ کفار او د هغو پر فکر روزل شوي اسلام ته منسوب حکام او فکري جهتونه هم ورته په همدې نظر گوري، او په استراتېژيک لحاظ يې په همدومره کانې تلي. له همدې امله خو يې د مدرسې د خالص اسلامي تفکر او د هغې د اهل د فکري، سياسي او فزيکي وجود د له منځه وړلو په مقصد نړيوال سياسي او پوځي تړون جوړ کړی، او په هراړخيز ډول يې له مدرسې د رازېږېدلې پديدې په خلاف په ټوله اسلامي نړۍ کې خونړۍ جگړه پيل کړې ده، او په دې جگړه کې له بېلابېلو فکري، عسکري، اقتصادي او اجتماعي وسائلو کار اخلي.

د نړۍ استعماري نظامونو ځکه د مدرسې په خلاف لويه جگړه پيل کړې چې له همدې مدرسې څخه راوتلي فکر له نيمې پېړۍ په کمه موده کې د نړۍ دوه لوی زبرځواکونه (پخوانی شوروي اتحاد او اوسنی امريکا او ملگري يې) له ماتې سره مخ کړل، او له همدې مدرسې راټوکېدلي ديني فکر په افغانستان کې د دې لويې او اوږدې جگړې لپاره داسې بشري ځواک (مجاهدين) رامنځته کړل چې پرته له کومې تنخوا او يا مادي امتيازاتو د ديني روحيې په لرلو پنځه څلوېښت کاله صبر ازمايونکې جگړې ته اوږه ورکړه چې دا د

اوسنۍ نړۍ د پوځي قوتونو د عسکري تفکیر له نظره یو خارق العاده کار دی چې دیني مدرسې ترسره کړ.

دیني مدرسه به کدی شي خپله د مدرسې اهل او عامو مسلمانانو ته داسې یو فکري او عسکري قوت نه ښکاري چې په پوځي موازنه کې دې په یوه قطب کې د نړۍ عسکري زبرځواکونه او په بل قطب کې دې مدرسه وګڼي، خو د غرب د پوځي او فکري محاسبې له مخې د مدرسې همدا حیثیت دی، ځکه چې د شوروي له ماتې وروسته غربیانو او نورې نړۍ ولیدل چې د امریکا په ګټه یوقطبي شوې نړۍ بېرته دوه قطبي شوه چې یو قطب یې د امریکا د نړیوالتوب تفکر او پوځي ځواک، او بل قطب یې د مدرسې فکر او اهل تشکیلوي.

د مدرسې بچیانو د پوځي وسایلو له نابرابرۍ سره سره ځکه د نړۍ د لوی نظامي ځواک په مقابل کې مقاومت وکړای شو چې یو خو یې عقیده پر دې جوړه ده چې:

﴿وَمَا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِنْدِ اللهِ﴾ [الأنفال:١٠]

ترجمه: (نصرت یوازې د الله تعالی له لوري دی). او نور ټول ځواکونه د هغه د ځواک په مقابل کې ناتوانه دي، چې دغې پخې عقیدې د مدرسې د اهل په فکر او نفس کې له لویو نظامي قوتونو د نه مرعوب کېدلو قوت پیدا کړ، او د دښمن تسلیحاتي تفوق دوئ د مقاومت له پیلولو او دوام ورکولو را ایسار نه کړای شول.

ځینې خلکو ته به د مدرسې د بچیانو اوسنی موقف یو عسکري تهور او عاقبت ناسنجوونه ښکارېده، خو وروسته د اسلامي امارت سیاسي او جنګي بهیر ثابته کړه چې دا کار کوم تهور او عاقبت نا اندېشي نه، بلکې د مدرسې د

فکر دديني سايکالوژۍ اثر وو چې د مادي فکر او مادي محاسباتو خاوندان يې له درک څخه عاجز وو.

او د مدرسې د اهل د معنوي قوت بل عامل دا دی چې نه د غرب پر فکر د رالويو شويو خلکو په څېر د پراگماتيزم او ماکياوليزم له سياسي منافقته متأثره دي، او نه يې هم اسلام د سيکولرو حکومتونو په تعليمي ادارو کې په بې روحه ډول او په استشراقي روحيه زده کړی چې يوازې د شهادتنامو له مادي امتيازاتو يې گټه اخيستل او د شيطاني مقاصدو لپاره د دين د نصوصو استعمالول ورکې اساسي هدف وي، بلکې د مدرسې د اهل هم له هر چا سره تعامل د دين پر اساس او مخلصانه دی، او هم يې اسلام د منلو او عملي کولو لپاره زده کړی دی، چې همدې دوو خصوصيتونو دوئ په خلکو کې له پاخه سياسي وجاهت او له معنوي او سايکالوژيک تأثير څخه برخمن کړي، او د دوئ د قوت پله يې ور درنه کړې ده.

**د مدرسې د اهل په مقابل کې د غرب څلور ستراتېژۍ:**

د غرب سياسي، فکري او نظامي ادارې هم چې د مدرسې د معنوي او ولسي ځواک خطر ښه درک کړی دی د هغې د اهل په مقابل کې يې د هغوئ د مهارولو او د هغوئ د فکر او فعاليت د بې تأثيره کولو په مقصد له څلورو ستراتېژيو کار اخيستی چې په لاندې ډول دي:

**۱- د احتواء ستراتېژي:**

د احتواء ستراتېژي په دې معنی ده چې غرب او او په اسلامي نړۍ کې د هغه سيکولر ملگري کوښښ کوي چې د مدرسې اهل د مستقلانه تفکر او عمل له ساحې راوباسي او د مادي امتيازاتو په بدل کې يې د غرب پلوو حکومتونو او

نظامونو په ادارو او مؤسساتو کې توظیف کړي، او یا ورته د خپل تأثیر او تسلط په ساحو کې د محدود فعالیت اجازه ورکړي چې هم وربانديې د سیکولرو حکومتونو مخ سپین کړي او اسلامي يې وښيي، او هم له هغوئ څخه بېرته د شریعت د حاکمولو د مخنیوي، د جهاد د مشروعیت په اړه د تشکیک، او د اسلامي نظام د قائمولو په مخنیوي کې کار واخلي، لکه همدغه کار چې د اریکایي اشغال په وخت کې زموږ په خپل هېواد او زموږ په یوه گاونډي هېواد کې له ځینې اسلامي گوندونو او دیني مدارسو واخیستل شو.

## ۲- د تحریف او اغفال ستراتېژي:

د تحریف او اغفال په ستراتېژۍ کې غربیان په اسلامي نړۍ کې اسلام ته له منسوبو تفریطیانو او افراطیانو دواړو کار اخلي.

له تفریطیانو په دې ډول کار اخلي چې غرب د خپلو ځینې لویو فکري او تحقیقاتي مؤسسو له لارې هڅه کوي چې په اسلامي نړۍ کې یوه برخه طماع، عیش پرست، په فکري لحاظ منحرف او مکار خلک چې په ظاهره يې د روحانیت عبا او قبا اغوستې وي خو په حقیقت کې د اسلام له حقیقي روح او روحانیت څخه لیرې وي په اسلامي ټولنو کې رامخته کړي، او د خپلې مېډیا او د تأثیر د نورو وسائلو له لارې ورته په خلکو کې وجاهت ورکړي، او هم ورته د بې دریغه مالي او تخنیکي مرستو له لارې لویې فکري، تبلیغاتي، تعلیمي او اقتصادي مؤسسې په اختیار کې ورکړي، او په حکومتونو کې يې له سیکولرو جهتونو سره شریک کړي، او یا یې تنظیمونو ته د سیاسي او فکري فعالیت اجازه ورکړي، ترڅو مسلمانانو ته د اسلام په نامه داسې فکر ورتلقین کړي چې اسلام له نور ادیانو سره پر یوې لارې د تللو، د وضعي

قوانینو د منلو، د دین په نامه د منکراتو د ارتکاب، او د دې فکر د خپرولو چې اسلام له هر ډول جګړې څخه د نفرت دین دی، او د مسلمان لپاره همدا بس دي چې انفرادي عبادات وکړي او په دې پسې ونه ګرځي چې امت په څه حال کې دی؟ حاکمیت وربانديې د چا قائم دی؟ د مسلمانانو د ژوند په ټولو ابعادو کې شریعت نافذ دی او که وضعي طاغوتي قوانین؟ او یا دا چې مسلمانان له دیني، سیاسي، عسکري او اقتصادي آزادیو برخمن دي او که نه دي؟

غرب په اسلامي نړۍ او په افغانستان کې له دغه ډول خلکو د دین د اصلي محتوا د تحریف، په غفلت او بې حسۍ کې د مسلمانانو د ساتلو، له غرب سره د فکري او اجتماعي پیوندونو د رامنځته کولو، او د جهاد او مجاهدینو له ملاتړ څخه د ولسونو د راګرځولو لپاره کار اخلي. د دغه ډول برنامو او فکري پروژو تر شا په امریکا کې (د رانډ کارپوریشن څېړنیز مرکز)، (د نېکسن د څېړنو مرکز)، (د سولې لپاره د امریکا انسټیټیوټ)، (د کارنیګي د څېړنو مؤسسه)، همدارنګه په امریکا کې میشت (د فتح الله ګولن د خدمت مؤسسه)، د عربي اماراتو په مرستو او نګرانۍ د (طابة)، (مؤمنون بلاحدود)، (مرکز المسبار)، (مجلس حکماء المسلمین)، (منتدی تعزیز السلم في المجتمعات الإسلامیة) مؤسسې، په چیچنیا کې د همدې جمهوریت (د رئیس رمضان قدیروف دیني مؤسسه) او په سیمه او اسلامي نړۍ کې د امریکا، برتانیې او جرمني سفارتونه، او زموږ په هېواد او ګاونډ کې ځینې هغه مشهور خاندانونه او اشخاص چې یو څه دیني او روحاني وجاهت لري، او همدارنګه نور پټ او ښکاره دیني او فکري تنظیمونه او سازمانونه او د غرب فکري او استخباراتي مشاورین فعال دي.

غرب او په اسلامي هېوادونو کې د هغه سیکولر ملګري په پوره زیرکتیا کوښښ کوي چې د دغو جهتونو له لارې مسلمانان د غرب په مقابل کې له مسلحې مبارزې او د جهاد له لارې د اسلامي نظام د اقامه کولو له فکره راوګرځوي، په سطحیت یې مصروف وساتي، له اساسي قضایاوو یې بې حسه کړي، او له غرب او سیمه ییزو سیکولرانو سره یې مشترک عمل او فکري پیوندکارۍ ته وهڅوي، او پرېنږدي چې په مدرسه کې د انقلابیت روحیه، د اولویت پېژندنې فکر، او د ټولنې د سیاسي قیادت وړتیاوې پیدا شي.

له افراطیانو څخه بیا غرب په دې ډول کار اخلي چې په جهادي حرکتونو او دیني جهتونو کې له بېلابېلو استخباراتي لارو داسې خلک ورداخل کړي چې هلته په ځوانانو او مسلحو مجاهدینو کې داسې افراطي او شاذ افکار خپاره او د هغو له لارې دین بدنام کړي چې د دغو شاذو او بې لارې افکارو منونکي بیا د مسلمانانو د تکفیر، د وینو د ناراوا او بې دریغه تویولو، د اسلامي امت پر عظماوو او امامانو د نوي نسل د اعتماد د له منځه وړلو، د مجاهدینو د صفوفو د ټوټه کولو، د اسلامي علومو او علماوو په اړه د خلکو د شکمن کولو او نورو داسې دعوو د پورته کولو له لارې چې په ظاهره حق ښکاري خو تر شا یې د باطل او نړیوالو استخباراتي جهتونو لوی هدفونه پراته وي دین او مدرسې ته صدمه رسوي.

دغه ډول افراطي خلک پداسې ډول د دین نصوص تفسیروي چې د اهل السنة والجماعة له فکر او منهج څخه مخالف وي، ترڅو خلک ورڅخه متنفر کړي، پر دین، مدرسې او علماوو د ولسونو اعتماد له منځه یوسي، د دین او اسلامي نظام په نامه دین تخریب کړي، پر دین د خلکو اعتراض ته لارې هوارې کړي، او له داخل څخه دین او جهاد ته هومره تاوان ور ورسوي چې کافران یې له خارج څخه نشي ور رسولی.

د دغه ډول خلکو د ایجاد لپاره په اسلامي نړۍ کې د غرب ملګري له لاندې دوو لارو کار اخلي:

**الف**: په استخباراتي ډول په علمي او جهادي صفوفو کې رخنه کوي، د جعلي قیادتونو د تبارز لپاره زمینه برابروي، هغوئ ته د وجاهت ورکولو په لاره کې خپله میډیا کاروي، په مستقیم او غیر مستقیم ډول له هغوئ سره خپل مشاورین ملګري کوي او پوځي او نور وسائل په لاس ورکوي.

**ب**: یوې برخې مخلصو علماوو، مجاهدینو، مفکرینو، طلابو او نیکو عامو ځوانانو ته په خپلو زندانونو کې په سنجول شوي ډول داسې سخت تعذیبونه ورکوي چې هېڅکله یې هېر نشي، او همدارنګه د هغوئ په مخکې په دې مقصد د دیني شعائرو سپکاوی کوي چې هغوئ باید داسې عقده واخلي چې تر آزادېدو وروسته د حکامو او د هغوئ د اتباعو او د خپلو هر ډول مخالفینو په اړه له علی الاطلاق تکفیر، افراطیت او ډېرې ویني تویونې پرته یې په بل هېڅ شي تسلي نه کېږي. دغه خلک که څه هم چې له پیله د غرب او د هغه د ملګرو ملګري نه وي، خو دریځونه او فکري ادبیات یې پداسې ډول عیار شي چې نتیجه یې د دین تحریف او د جهاد له بدنامۍ پرته بل څه نه وي، چې همدغه ورځخه د کفارو او د هغوئ د غلامانو توقع هم وي. دغه ډول خلک د اسلامي نړۍ په بېلابېلو سیمو کې په بېلابېلو وختونو کې رامنځته شول او په ارادي او غیر ارادي ډول یې په دیني مجال کې د غربیانو او د هغوئ د ملګرو پټ او ښکاره پلانونه پلي کړل.

### ۳- د منځلاري اسلام په نامه د امریکایي اسلام د رامنځته کولو ستراتېژي:

له دیني مدرسې څخه د رازېږېدلي خالص اسلامي مقاوم فکر د فعالیت د مخنیوي لپاره د غرب درېیمه ستراتېژي دا ده چې اسلامي فکر ته یوه برخه

منسوب خلک یې پر دې گومارلي چې اسلام له خپلې اصلي محتوی خالي کړي او پر ځای یې د غربي فکر مفاهیم او مفردات د اسلام قالب ته ور واچوي، ترڅو له یوې خوا هغه اسلامي فکر له منځه لاړ شي چې د غربي افکارو مخالفت کوي، او له بلې خوا د داسې یوه دین د خپرولو له لارې چې دوئ ورته منځلاری اسلام وایي مسلمانان په ځان پسې روان کړي.

دا چې منځلاری اسلام چې امریکا یې غواړي څه شی دی؟ د امریکا لپاره یو پالیسي جوړوونکی څېړنیز مرکز (رانډ کارپورېشن) یې په لاندې ډول تعریفوي:

*(امریکا، نوې صنعتي نړۍ او په مجموع کې بین المللي ټولنه داسې یو اسلام غواړي چې د نورې نړۍ له نظامونو سره پر یوه لار روان شي، ډیموکراتیک او مترقي اسلام وي، او پر نړیوالو قوانینو، احکامو او اخلاقو وچلېږي).*([1])

پورتنی تعریف په دې معنی دی چې: اسلام باید د امریکا او بین المللي ټولنې په خوښه وي، یو بېل تشخص او ځانګړی نظام دې ونه لري، بلکې د نورې نړۍ له نظامونو سره دې یوشی وي، ډیموکراټیك دې وي، یعنې د خلکو لخوا دې رامنځته شي، نه دا چې د (وحیې) پر بنسټ دې ولاړ وي، خپل اصلي شکل دې یې پرې ایښی وي، او نوی مترقي شکل دې یې غوره کړی وي، او په احکامو او اخلاقي فلسفه کې دې د غرب له احکامو او اخلاقو سره یو ډول وي.

غرب د دغه ډول یوه دین لپاره هغه خلک استخدام کړي چې ځانونه د منځلاري اسلام پلویان یا دېموکرات علماء بولي، له جهاد او د ولاء او براء له عقیدې څخه یې بد ایسي، او د بېلابېلو دیني مؤسسو له لارې کوښښ کوي چې د قوانینو، اخلاقو، سیاست او فرهنګ په مجالاتو کې له غرب سره د

---

[1] - اتم مخ Civil democratic Islam Partners Resources and strategies

پیوندکارۍ او له جهادي لوریو څخه د بېزارۍ زمینې ایجاد کړي. دغه د غرب فکري ملګري د اسلامي نظام د اقامه کولو لپاره راپورته شوي مجاهدین او فکري مبارزین افراطیان بولي، او د غرب د تبلیغاتي وسائلو په مرسته د هغوئ په خلاف پراخ منفي تبلیغات کوي، ترڅو وکولی شي د هغه فکر تأثیر محدود کړي چې له غرب سره پر یوه لاره نه ځي.

**۴- د پوځي زور د کارولو ستراتېژي:**

د پوځي زور د استعمال ستراتېژي دا ده چې ټول هغه اسلامي جهتونه او په خاص ډول مقاوم جهتونه باید له منځه یوړل شي چې نه له غرب او نه هم د غرب له سیکولرو ملګرو سره غاړه وږي، بلکې په ټول جدیت د دې لپاره کار کوي چې خپل ولسونه او سیمې د غرب او په خاص ډول د امریکا له پوځي، سیاسي، فکري او اقتصادي حضور څخه پاکې کړي، او په ریښتنې معنی اسلامي نظام ورکې جوړ او د ژوند په ټولو چارو کې شریعت تطبیق کړي.

امریکا او ملګري یې د اسلامي نړۍ په هېڅ ځای کې په سیاست، نظام، عسکریت، اقتصاد او د ژوند په نورو اجتماعي چارو کې د شریعت تطبیق ته څوک نه پرېږدي. او که کوم ولس او یا کوم اسلامي جهت په دغو مجالاتو کې د شریعت د تطبیق اقدام وکړي، نو حتماً د غرب او په خاص ډول د امریکا له لوري له ډول ډول بندیزونو، جګړو، کودتاګانو، زندانونو، دښمنیو او فشارونو سره مخ کیږي.

امریکا په اسلامي نړۍ کې ټول هغه مدارس، تعلیمي نصابونه او نظامونه خپل دښمنان ګڼي چې خپلو لوستونکو ته د غربي فکر له تأثیراتو خلاص خالص اسلامي تعلیمات ورکوي.

امریکا په ټولې اسلامي نړۍ کې حکومتونه دېته اړ کړي چې له خپلو تعلیمي نصابو هغه څه وباسي چې امریکا یې نه غواړي، او دا ځکه چې هغه له دې

وېرېږي چې که يو ځل د اسلامي نړۍ په کومه سيمه کې د ربښتيني اسلام د تعليماتو پر اساس کوم سياسي نظام قائم شي، او ولسونه د هغه تر سيوري لاندې د امن په فضا کې د باسعادته او مرفه ژوند خاوندان شي، نو په يقيني ډول به خلک د اسلامي نړۍ په نورو سيمو کې هم د همدغه ډول نظام د اقامه کولو لپاره قيام او مبارزه کوي، چې په نتيجه کې به يې د غرب د نوکرانو نظامونه او قوانين له زوال سره مخ کېږي، او د هغو په زوال به له اسلامي نړۍ د غرب لاس خېږي، چې دا په هېڅ ډول د غرب لپاره د منلو نده. نو د دې لپاره چې د دغه ډول يوه وضعيت د رامنځته کېدو مخنيوی يې کړی وي کوښښ کوي ټول هغه علمي، مبارز، مقاوم او اجتماعي جهتونه وځپي چې پر اسلامي نړۍ د غرب مستقيمه او يا بالواسطه باداري نه مني.

## د مسلمانانو د اوسني فکري انحراف او اخلاقي انحطاط په اړه بايد د ديني مدرسې څه دريځ وي؟

له غربي نظرياتو او افکارو څخه د مسلمانانو د متأثر وضعيت په اړه به ديني مدرسه او مسلمان دعوتگران له لاندې دوو دريځونو څخه يو انتخابوي:

يا به مدرسه عام خلک، ټولنه او حکومتونه پرېږدي چې همداسې د غرب په خُم کې رنگيېږي، خپل اسلامي هويت دې له لاسه ورکوي، نظامونه دې يې د پرديو په قوانينو چلېږي، پوځونه دې يې د دښمن په صف کې درېږي او د خپلو مسلمانانو ولسونو په خلاف دې جنگېږي، راديو گانې، او تلويزونونه، چاپي او آنلاين خپرونې د مسلمانانو وي، خو افکار، نظريات، اخلاق، ارزښتونه او فلسفې دې پردۍ خپروي. په تعليمي ادارو کې دې زامن د مسلمانانو وي، خو د ماډل او مقتدا په حيث دې ورته نامسلمان او يا د نامسلمانو ملگري شخصيتونه معرفي کېږي. وطن دې د مسلمانانو وي، خو

حاکمیت دې ورکې پردې وی. ځوانان او پېغلې دې زموږ وي، خو فکري او عاطفي تړاوونه دې یې له نامسلمانو سره وي. دا ټول نامطلوبه وضعیتونه دي چې باید نه عام مسلمان او نه مدرسې ته چې د نبوت د میراث متصدي او د قیادت جوړونې مرکز ده د منلو وي.

بل دریغ به دا وي او باید همدا وي چې مدرسه او د مدرسې منسوبین باید بېرته خپل قیادي نقش ته وروگرځي، او په خپل مؤثر فعالیت او بلیغ پیغام ټولنې ته لارښوونه وکړي چې بېرته خپلو اسلامي اصولو او د ژوند تېرولو معیارونو، د عزت او دینپالې لارې، د شریعت د حاکمولو هدف، د آزادۍ د گټلو او ساتلو عمل، د اسلامي دعوت د خپراوي کار ته راوگرځي. او دغو اهدافو ته هغه وخت رسېږو چې مدرسه د عالم روزلو لپاره په خپل نصاب او غیر نصابي فعالیتونو کې خالصو دیني مفاهیمو ته ډېر ځای ورکړي، نه دا چې د دیني مدرسې طالبان د (منطق) په نامه د افلاطون او ارسطو د ورستو او نا اسلامي نظریاتو د زده کړې لپاره د څوارلسو کتابونو لوستلو ته اړ کړای شي، او کلونه عمر دې یې په داسې څه ضایع شي چې نه دین ته گټه رسوي، نه معاصر اسلامي نظام پرې جوړېږي، او نه هم د کفر او گمراهۍ د معاصرو ډولونو مخنیوی او مقابله پرې کېږي.

د اسلامي نظام د رامنځته کولو، پیاوړتیا او تداوم لپاره په کار ده چې دیني مدرسه خپلو طالبانو ته د ټول اسلام او ټول امت په اړه هر اړخیز تصور ورکړي او پر دې یې وپوهوي چې په دیني، فکري فرهنگي، تعلیمي، سیاسي، اقتصادي عسکري او استخباراتي ډگرونو کې له اسلام او مسلمانانو سره په جگړه کې د ښکېلو کفري ځواکونو او فکري فرهنگي مؤسساتو مقابله څنگه کېدی شي؟

دلته باید دا خبره واضحه شي او داسې و نه انګېرل شي چې موږ باید طالبانو ته دا ووایو چې هلئ! د ټولې دنیا په خلاف جګړه اعلان کړئ! دا یو نا معقول فکر او نامناسب اقدام دی، بلکې هدف دا دی چې موږ دې طالب پر دې پوه کړو چې د ټول دین په اړه معرفت حاصل کړي چې دین څه شی دی؟ اتباع یې څوک دي؟ چېرې او په څه حال کې دي؟ حاکم دي که محکوم؟ مظلوم او یرغمال دي، او که آزاد؟ شتمنۍ یې په خپل واک کې دي، او که د بل چا په واک کې؟ قیادت یې خپل رهبران او مشران کوي، او که د پردیو له لوري وربانديې مسلط شوي دي؟ فیصلې یې د خپل دین مطابق صادریږي او د ژوند چارې یې د خپل دین مطابق تنظیمیږي، او که د پردیو له لوري د تحمیل شویو قوانینو او اصولو په منلو او په پردیو پورې د تړاوونو په لرلو مجبوریږي؟

زموږ مدرسې باید په خپلو نصابونو کې د ټول اسلام او د امت د اوسني وضیعت د پېژندګلوۍ په اړه مضامین ولري. او چې کله دا کار وشي، نو بیا به لکه څنګه چې د قتال، فدائیت او مسلحې مبارزې په ډګر کې زموږ ځوانان باثباته ولاړ وو، همداسې به په فکري میدان کې هم له دښمن سره د مقابلې وړتیا لري، د معاصرو قضایاوو په اړه به اسلامي استدلال کولی شي، او د خکو شبهاتو ته به ځواب ویلی شي، د دښمن خبره او د هغه پېچلې تبلیغات به تحلیلولی شي، د نړۍ له خلکو سره به خپل د وصل او فصل ټکي معلومولی شي، او له اسلام او اسلامي امته به آګاهانه او هراړخیزه دفاع کولی شي.

اوس خو چې کتل کېږي زموږ د مدرسو په نصاب کې د کفر او اسلام تر منځ د جګړې د مفاهیمو پر ځای لغوي او ګرامري مفاهیمو ډېر ځای نیولی دی. طالبانو ته د کفر او اسلام تر منځ د معاصرې جګړې په اړه څه نه تدریسیږي.

په سیاسي، فرهنګي، اخلاقي او تمدني مضامینو کې هم د پام وړ مفاهیم نشته، او داسې منظمه فکري روزنه هم نه لیدل کېږي چې طالب ته د مبارزې پر لار د مزل پړاوونه وروښیي، او د دې لارې له خطرونو او غوښتنو یې خبر کړي.

د دې کار لپاره تر ټولو لوی مسؤولیت حکومت، د نصاب جوړولو مراجعو او بیا د مدارسو چلوونکو او استادانو ته راجع کېږي. دیني مدارس مو ځکه باید دغه وړتیاوې په خپلو طالبانو کې پیدا کړي چې مدرسه په حقیقت کې د اسلامي مبارزې هغه قوي او نه تسلیمېدونکی مقاوم سنګر دی چې که د ټولې دنیا مسلمانانو د نړۍ د زبرځواکونو په مقابل کړی سقوط کړی، مدرسې بیا هم د دفاع او مقاومت بیرغ لوړ ساتلی دی.

مدرسه هېڅکله نه انګریز ته تسلیم شوې، نه روس، نه امریکا، نه نړیوالو او داخلي فشارونو ته تسلیم شوې، او نه هم د غربي سیکولر تمدن څپو لاندې کړې ده، نو ځکه خو باید د مدرسې نصاب د جمود په حالت کې ونه ساتل شي او بېرته باید خپل قیادي حیثیت ته وروګرځول شي. او کله چې د مدرسې فارغ التحصیل د قیادي صلاحیتونو په ترلاسه کولو د خپل کلي، اولس، وطن او سیمې خلک په ځان پسې روان کړای شي، نو بیا به د قربانیو، مبارزو، شهادتونو او جهادنو حاصل ساتل کېږي.

## د انقلابونو لاسته راوړنې په هراړخیزه پوهه او علمي انکشاف ساتل کېږي:

دا یو منل شوی حقیقت دی چې د انقلابونو د لاسته راوړنو ساتنه، د آزادۍ ساتل او پالل، له دین او فرهنګ څخه دفاع، د هر ډول پرمختګ د وسائلو ایجاد او تهیه کول په پوهنه، تحقیقاتو او د ولس د فکري، اخلاقي او علمي سطحې په لوړولو ترسره کېږي. په کومو ولسو کې چې د دیني علم خپراوی

وشي هغه د پردیو له پیروۍ په امان پاتې کېږي، او چې د دنیاوي علم پرمختګ او خپراوی ورکې وشي د پردیو له محتاجۍ خلاصېږي.
موږ افغانانانو درې ځله د انګرېزانو او وروسته بیا د روسانو په مقابل کې د دیني قیادتونو په مشرۍ جګړه ګټلې ده، خو دا چې د جګړې تر څنګ مو علمي پرمختګ ندی کړی او خپل ولس مو په فکري، تشریعي او سیاسي لحاظ په مطلوب دیني علم ندی منور کړی، نو ځکه خو یې هر ځل د آزادۍ د مبارزو نتیجه او حاصل بل چا ورڅخه غلا کړی، او تر آزادۍ وروسته داسې نظامونه ورباندې مسلط شوي چې اکثره په پردیو پورې تړلي وي، او د دې پرځای چې د آزادۍ د مبارزینو یې قدرداني او د آزادۍ یې ساتنه او پالنه یې کړې وي، برعکس یې مبارزین ځپلي، او د آزادۍ پر سر یې بېرته له دښمنانو سره پټه او یا ښکاره سودا کړې ده.

## فکري اشغال او د وړتیاوو نه درلودل د اسلامي نظام د نه قائمېدلو دوه عوامل:

دا چې ولې پښوا د اشغالګرو تر وېستلو وروسته د جهادونو په نتیجه کې په اسلامي نړۍ او افغانستان کې اسلامي نظام ندی راغلی د دې تر شا دوه مهم عوامل وو چې په لاندې ډول یې یادوو:
اول عامل دا و چې مستعمرینو د وطن په خلکو کې د ځان لپاره د خپلو ځایناستو په ډول داسې خلک روزلي وو چې د نظام د اداره کولو په هر مجال کې یې هم تجربه او علم درلود، او هم یې د غربیانو لپاره ښه وفاداري درلوده. مستعمرینو د وتلو په وخت کې د هېوادونو د چارو واګې همدغو خلکو ته وروسپارل، چې دې خلکو بیا د آزادۍ له مبارزینو سره جفاګانې، غدرونه او خیانتونه وکړل، او بېرته یې په اسلامي هېوادونو داسې نظامونه

حاکم کړل چې د اسلام د حاکمېدلو په لاره کې د خنډونو په جوړولو کې تر مستعمرینو هم ډېر مکار او منافق وو، چې د دوئ پر حاکمیتونو د لسګونو کلونو له تېرېدو وروسته هم په هېوادونو کې نه اسلام حاکم شو، او نه رېښتینې آزادي ولیدل شوه.

بل مهم عامل یې دا و چې دیني او جهادي جهت نه په خپل ځان کې د نظام د چلولو وړتیاوي پیدا کړې وې، او نه یې هم له جګړې د وروسته مرحلې لپاره خلک روزلي وو. همدا اوس مو هم فاتحین چې عمدةً د مدرسې اهل دي تر ډېره حده له همدغه ډول یوه وضعیت سره مخ دي، او دا ځکه چې لا تر اوسه یې په تعلیمي نصاب کې اداره او نظامداري، د ټولنې د رهبري کولو لپاره اجتماعي او سیاسي علوم نشته، د معاصرو کفري ادیانو او مذاهبو رد، د معاصر اسلامي نظام تعریف او تصور، معاصر جهادي فکر او دښمن پېژندنه، د دعوت او بلاغ معاصر اسالیب او وسائل، ادبیات او معاصره لیکوالی، د رسول الله صلی الله علیه وسلم او تر هغه وروسته د راشده خلفاوو رضي الله عنهم د سیاسي او عسکري قیادت، دعوت، تبلیغ، نظامدارۍ او ډپلوماسۍ په اړه مضامین، د رسول الله صلّی الله علیه وسلّم مبارک سیرت او د اسلامي امت د عظماوو، فاتحینو او مشاهیرو په اړه معلومات چې د نصاب لوستونکي د هغو له تاریخ او کارنامو الهام واخلي او نور ډېر ضروري علوم نه تدریسېږي.

که د اسلامي نظام په دیني تعلیمي نصاب کې د شرعي او لغوي علومو تر څنګ پورتني ضروري علوم موجود نه وي، نو د هغه نصاب له فارغانو څنګه توقع کېدی شي چې په یویشتمه پېړۍ کې دې په کامیاب ډول د عصر د تقاضاوو مطابق یو قوي اسلامي نظام اداره کړي؟

نو د دې لپاره چې موږ بیا د تېر حالت سره مخ نه شو، باید دا قضیه په ټول حجم په خپل ذهن کې متصوره کړو، او پر دې ځان پوه کړو چې زموږ جهاد، قرباني، استشهاد، زخمونه او کړاونه ټول د دې لپاره وو او دي چې د اسلام اعلاء او د شریعت حاکمیت راشي، مسلمانان له ظلمه خلاص شي، او د شریعت تر سیوري لاندې د امن په فضا کې د خپل رب عبادت وکړي.

فاتحین مو باید دغه هدف ته د رسېدو لپاره خپل تعلیمي نصاب ته انکشاف ورکړي او د عصر تقاضاوې ورکې پوره کړي. او که داسې ونشي نو نتیجه به یې بیا پداسې شکل کې راوځي چې د یوې بېرته پاتې او د دین او دنیا په اړه د سطحي فهم درلودونکې ټولنې په حیث به د محتاجۍ په حالت کې ژوند تېروو، او یا به بیا هم پخوانۍ منفي تجربې او ناکامۍ د تکرارېدلو فرصتونه پیدا کوي.

د دیني مدارسو لپاره د تعلیمي نصاب جوړول کومه وړه او ساده موضوع نده چې یو څو تنه چې د نصاب جوړونې متخصصین دې هم نه وي سره راټول شي او د خپل ذوق او خاصې تجربې پر بنیاد دې یو څو لغوي او دیني کتابونه دېته له کتنې پرته د نصاب په حیث وټاکي چې له دغو کتابونو د دې زمانې د مسلمانانو دیني، فکري، اخلاقي، ادبي، او اجتماعي ضرورتونه پوره کېږي او که نه؟

د هرې زمانې دیني مدرسې ته نصاب جوړول په حقیقت کې په هماغه زمانه کې د هماغه هېواد ټولو مسلمانانو ته د دین ښوونې په معنی وي، چې د مضامینو په تعیین او د هغو تر منځ د تناسب په رعایت کې یې باید له پوره دقت کار واخیستل شي، او هغو ټولو ضرورتونو ته ورکې ځواب وویل شي چې د هماغې زمانې خلک یې لري.

ديني مدارسو ته نصاب بايد د داسې علماوو د يوې متخصصې ټولنې له لوري جوړ شي چې هم د شريعت له مراد او مقاصدو خبر وي، هم د زمانې په نبض پوه وي او امت ته ورپېښې ستونزې ورمعلومې وي، هم د تعليم او تأليف په مجال کې له نويو انکشافاتو او رامنځته شويو تعليمي طريقو، کتابونو او علومو خبر وي، او هم د ژبو، معاصر ادب او معاصرې ليکوالۍ ماهرين وي؛ ځکه چې ژبه او ادب د مفاهيمو د اخيستلو او ورکولو وسايل دي، او هم بايد دغه علماء د ديني علومو تر څنګ په دنياوي علومو خبر وي، ترڅو د دنياوي او ديني علومو تر منځ داسې رابطه قائمه کړای شي چې ديني علوم د دنياوي علومو لاربښود وګرځوي، او د افکارو او انقلابونو په دې څپڅپانده زمانه کې مدرسې ته يو داسې قوي، معاصر، د دين د مقاصدو ښه بيانوونکی او د زمانې غوښتنو ته ځواب ويونکی نصاب ورکړ شي چې د علماوو داسې نسل پرې وروزل شي چې په واقعي معنی اسلامي نظام اداره کړای شي.

## په علمي ډول د جهادي لاسته راوړنو د خوندي کولو ضرورت:

دا چې اوس دا دی زموږ ولس بيا د نړۍ يوه لوی پوځي ځواک (امريکا) ته د الله تعالی په نصرت او بيا د لويو قربانيو په قيمت ماتې ورکړه او ټول هېواد يې له تسلطه خلاص شو، نو پکار ده چې په دې ولس کې جهادي فکر او روحيه پياوړې شي او وپالل شي، او جهادي لاسته راوړنې په منظم ډول وساتل شي.

دا چې د جهادي فکر پالل او د هغه انکشاف زموږ يو ديني حکم او ستراتېژيک ضرورت دی او په له لاسه ورکولو يې په راتلونکي کې ډېر څه له لاسه وځي، او دين، هېواد او ولس مو له لويو تاوانونو او خطرونو سره مخ کېدی شي، نو ځکه خو يې د ساتلو، پاللو او لا نور انکشاف په مقصد د اسلامي نظام د چارواکو په خدمت کې د يوې طرحې خاکه په لاندې کرښو کې وړاندې کووم:

## د جهادي فکر او لاسته راوړنو د خوندي کولو او انکشاف د يوې طرحې ابتدايي خاکه:

دا يوه معلومه خبره ده چې که له يوې خوا د جهاد د کاميابولو، د هېواد د آزادولو او په هغه کې د اسلامي نظام د حاکمولو لپاره مسلحانه قتال او تر څنگ يې سياسي عمل ته ضرورت وي، له بل لوري د جهاد د بېلابېلو فکري، سياسي، عسکري او اجتماعي لاسته راوړنو او د هغه د ارزښتمنو آثارو خوندي کولو، له ضايع کېدلو څخه ژغورلو او لا نور انکشاف ته ضرورت دی چې د فتنو په دې زمانه کې دغه ستر او سپېڅلی جهادي فکر او پر هغه د مرتبو شوو نتائجو دروند امانت په منظم او مؤثر شکل راتلونکو نسلونو ته وساتل شي.

لکه څنګه چې د مسلح جهاد پر مخ بیول یو هراړخیز تسلیحاتي إعداد او روزل شوي بشري ځواک ته ضرورت لري، همدغه ډول د جهادي فکر او عمل د نتائجو خوندي کول او هغو ته انکشاف ورکول هم یو مسلسل عمل دی چې منظم او عصری میکانیزم او په اسلامي فکر روزل شوي، صابر، متعهد او د زماني له تقاضاوو باخبره او بااستعداده بشري ځواک ته ضرورت لري چې تر اوسه یې په منظم شکل د نظام په تشکیلاتو کې نه لرو.

د دې لپاره چې پورته یاد شوي مقاصد په ښه او منظم ډول حاصل شي د یوه مستقل څېړنیز او اکاډمیک انکشافي مرکز د رامنځته کولو ضرورت دی چې باید د اسلامي نظام په تشکیلاتو کې توجه ورته وشي.

د طرحې تفصیلات:

د مرکز نوم: (د جهادي فکر او عمل د خوندي کولو او انکشاف څېړنیز او اکاډمیک مرکز). او یا بل هر مناسب نوم چې ورته غوره کېږي.

د مرکز څانګې: مرکز به لاندې درې لويې څانګې لري:

۱ـ د جهادي فکر او عمل د نتائجو د آرشيف او انکشاف څانګه.

۲ـ څېړنيز مرکز او د خبره ګانو (متخصصينو) بورډ.

۳ـ د کدرونو د روزلو لپاره د معاصرې ليکوالۍ او ژورناليزم اکاډمي.

د مرکز د بېلابېلو څانګو د کارونو تفصيلات ښايي په لاندې ډول وي:

۱ـ د جهادي فکر او عمل د نتائجو د آرشيف او انکشاف د څانګې کارونه:

الف ـ زموږ د جهاد اړوند ليکل شوي کتابونه، څېړنې، احصايي، مجلې او نور تفصيلي معلومات راټولول، منظمول، خوندي کول او انکشاف ورکول. د دغو معلوماتو خوندي کول په حقيقت کې د ټول جهادي فکر خوندي کول، او نه خوندي کول يې د لويې جهادي فکري سرمايې له لاسه ورکول دي. دغه لويه فکري او تاريخي علمي پانګه په راتلونکي وخت د دې ملت د اسلامي

هویت د تثبیت، پاللو، تاریخ لیکنې او نسل روزنې په لاره کې په بېلابېلو ډولونو کارېدلی شي.

ب ـ د جهاد مربوط ټول تصویري، وېډیویي او صوتي مواد راټولول، منظمول، په فني شکل خوندي کول او انکشاف ورکول. دغه تصویري او وېډیویي لویه ذخیره په راتلونکي وخت کې په جهاد، دعوت، تعلیم، فرهنګ، تاریخ لیکنه او مېډیایي فعالیتونو کې په بېلابېلو ډولونو کارېدلی شي.

ج ـ د امریکایانو د اشغال په خلاف د جهاد د ټولو شهیدانو منظمه او تفصیلي احصایه تر سره کول او (د شهیدانو د کتاب) په نامه یې په ډېرو جلدونو کې په ډېجټلي (کمپیوټري) او چاپي شکل ترتیبول، چې دا کار به هم د شهیدانو ستره ملي احصایه او د هغوئ قدرداني کول وي، او هم به د جهاد او شهادت له مفاهیمو سره د راتلونکو نسلونو د تړاو ذریعه وي چې هر څوک به بیا د وخت په تېرېدلو پر خپلو شهیدانو افتخار کوي او په دې کتاب کې به یې نومونه لټوي، او هم په بېلابېلو سیاسي، ملي او بین المللي محاسبو کې یوه درنه وثیقه وي.

دـ د سلګونو زره هغو حیرانوونکو جهادي کیسو، معرکو او د مجاهدینو د کراماتو د پېښو مستند راټولول، لیکل او په ډېجټلي (کمپیوټري) او چاپي شکل یې په مجلداتو کې ترتیبول چې لا تر اوسه یې هم اتلان ژوندي دي، او هم زموږ د ولس په اجتماعي حافظه کې تازه دي. که دغه په سلګونو زره کیسې خوندي کړو نو له یوې خوا به مو د دې مسلمان ولس د جهادونو او رشادتونو تاریخ خوندي کړی وي، او له بلې خوا به مو راتلونکو نسلونو ته داسې ایمان پالونکي فکري ادبیات او علمي او تاریخي پانګه پرې اېښې وي چې له امله به یې ټولنه د پردیو افکارو له تأثیراتو محفوظه وي.

د جهادونو د کیسو کتاب به نه یوازې زموږ د ملت لپاره د دې زمانې د جهادي تاریخ وثیقفه او انځور وي، بلکې د ټولې اسلامي نړۍ لپاره به د جهادي فرهنګ یوه لویه ذخیره او لارښود وي، او هم به د نړۍ د لویو زبرځواکونو د ماتې او هم د هغوئ د ترسره کړو جنایاتو داسې شواهد وي چې هیڅوک به انکار ترې نشي کولی، او دښمنانو ته به دا ورتلقینوي چې کله هم دا خاوره او ولس نشي لاندې کولی.

هـ ـ د استشهاد د کتاب تدوینول: پرته له شکه چې په دې جهاد کې د استشهاد جهادي عملیات تر ټولو نورو عملیاتو مهم او پر دښمن د لوی عسکري او سایکالوژیک (رواني) تأثیر درلودونکي وو. د دغو عملیاتو په اړه باید یو مهم کتاب ولیکل شي چې هم د استشهادیانو د تاریخ تخلید او قدرداني وشي، او هم د دې کتاب له لارې د استشهاد فقه، فکر او عمل وپالل شی.

افغانان ښایي په نیږدې راتلونکي کې د نړۍ له نورو دولتونو سره تسلیحاتي او جنګي سیالي و نشي کولی، خو که په خپل جهادي او عسکري عمل کې د استشهاد فکر او روحیه وپاللی شي، نو هیڅوک به دلته د یرغلګرو په حیث د راتللو فکر او جرأت ونشي کولی. استشهادي فکر او عمل به د افغانانو یوه نه تسخیریدونکې ستراتېژیکه وسله وي.

د استشهاد کتاب باید لاندې درې برخې ولري:

۱ـ فقهي او شرعي برخه.

۲ـ د ترسره شویو سلګونو استشهادي عملیاتو مفصل تدوین او ورکې د برخه اخیستونکو استشهادیانو معرفي.

۳ـ له عسکري او ستراتېژیک لیدلوري د استشهادي عملیاتو تحلیل او ارزوونه.

مدرسه او مبارزه

**و ـ** د اسلامي او جهادي فکر او په راتلونکي کې د ځوانانو د اسلامي او جهادي تربيې په مقصد د تعليمي نصابونو تدوينول او په بېلابېلو وختونو کې علمي او څېړنيز سيمينارونه، کنفرانسونه او روزنيزې غونډې او دورې ترتيبول او اجرا کول دې هم د همدې څانګې له کارونو څخه وي. دغه کارونه ځکه ضروري دي چې څومره چې د جهادي فکر په خلاف په نړۍ کې منفي تبليغات او د شبهاتو راپورته کېدل او له بېلابېلو جهتونو د جهادي فکر د مسخ کولو لپاره منفي کوښښونه روان دي، په هماغه اندازه بايد د دې فکر د پاللو او د هغه د حقيقت او حقانيت د روښانولو لپاره فکري او علمي فعاليت وشي.

**۲**ـ د څېړنيز مرکز او د خبره ګانو (متخصصينو) د بورډ کارونه:

د نړۍ په ټولو هېوادونو کې نظامونه د ښې حکومتوالۍ، د ملت د چارو د ښې سمبالونې، د هر ډول سياسي، عسکري، اقتصادي، اجتماعي، تعليمي، فکري او فرهنګي ستونزو او چلنجونو د حل لپاره د تفکير او څېړنو مراکز جوړوي چې د بېلابېلو مجالاتو متخصصين ورکې پر موضوعاتو او ستونزو غور کوي او د حل لپاره يې له بېلابېلو ادارو سره په شريکه پر علمي بنيادونو ولاړې د تطبيق وړ طرحې او تګلارې جوړوي او د تطبيق لپاره يې د نظام بېلابېلو ادارو ته سپاري.

اسلامي امارت هم چې په نا ملايمو حالاتو او شرائطو کې د جهاد، نظام او ملت قيادت ور له غاړې دی او غواړي چې دا هېواد آزاد او آباد کړي دېته ضرورت لري چې په بېلابېلو علمي او تخنيکي مجالاتو کې د خپل ولس له خبره ګانو او متخصصينو مشورې او طرحې واخلي، او په علمي بنيادونو د ستونزو د حل لپاره لارې ولټوي، نو ځکه خو بايد همدغه ډول يو فکري او علمي مرکز ولري.

څېړنیز مرکز به نه یوازې دا چې پخپله طرحې او حل لارې تیاروي، بلکې په داخل او خارج کې د بېلابېلو خواخوږو اشخاصو او جهتونو له لوري د طرحو، مشورو او وړاندیزونو د اخیستلو لپاره به یو متصدي ادرس هم وي چې مسؤولو جهتونو ته به یې راجع کوي. اوس خو زموږ یو مشکل دا هم دی چې دغه ډول یو مشخص جهت او آدرس هم معلوم ندی چې خلک خپلې طرحې او مشورې ورته ور وسپاري.

د متخصصینو بورډ به یو علمي او غیر سیاسي ارګان وي چې د بېلابېلو مجالاتو اهل خبره متخصصین به ورکې غړیتوب لري چې د همدې مرکز یوه څانګه به تشکیلوي او د مرکز عمومي اداره به یې کارونه تنظیموي.

د څېړنیز مرکز د کارونو تفصیل او د متخصصینو د بورډ د اعضاوو لپاره معیارونه به په ځانګړې لائحه کې شوول کیږي.

۳ـ د کدرونو د روزلو لپاره د معاصرې لیکوالۍ او ژورنالیزم د اکاډمۍ کارونه:

په نننۍ نړۍ کې انسانانو ته هم د پیغام رسولو وسائل بدل دي، او هم د هغوئ د ذهنسازۍ لپاره طریقې، فکري ادبیات او رواني وضعیتونه. نن د نړۍ برلاسي ولسونه د مېډیا او پرمختللي معاصر ژورنالزم له لارې نور ولسونه تسخیروي او نظریات، عقائد، اخلاق او اولویات یې وربدلوي او په ځان پسې یې روانوي چې په دې ډول عصري تخنیک او د مخاطبولو نویو طریقو د قوت پخواني توازنات مختل کړي او د تأثیر ګذارۍ نوي اصول یې رامنځته کړي دي. دا هر څه د دې تقاضا کوي چې موږ هم باید له دې بهیره وروسته پاتې نشو او خپل دعوت او دیني او سیاسي مفاهیم په معاصر او مؤثر ډول خلکو ته ورسوو.

زموږ په دیني تعلیمي نصاب کې خلل دا دی چې معاصرې لیکوالۍ، د تأثیر او خطاب نویو اسالیبو، سیاسي او اجتماعي علومو، ژبو او معاصرو ادبیاتو، د

موجودو فکري او عقائدي جريانونو پېژنګلوی، معاصرې نړۍ پېژندنې، علم النفس او د مبارزې د عصري اساليبو زده کړې ته مو هېڅ ځای ندی ورکړی، چې دې کار زموږ د ديني مجال په لوستو خلکو کې له موجوده وضعيت سره د مناسب تعامل په مجال کې تشه او کمزورتيا رامنځته کړې ده، او دښمنانو له همدې خلا څخه په استفادې د اسلامي نړۍ د هېوادونو نوي نسلونه په ځان پسې روان کړي دي.

د دې لپاره چې هم مو تر يوه حده دغه تشه ډکه کړې وي، او هم مو د خپل څېړنيز مرکز او په ولاياتو کې د هغه د څانګو د فعالولو او چلولو لپاره بااستعداده کدرونه رامنځته کړي وي، دېته ضرورت دی چې د څېړنيز مرکز په چوکاټ کې د معاصرې ليکوالۍ او ژورنالزم دوه کلنه اکاډمي پرانستل شي.

د ژورناليزم اکاډمۍ کې دې د ديني مدارسو له نويو فارغانو با استعداده ځوان علماء د څانګړو معيارونو مطابق جذب شي او د دوو کلونو په موده کې دې علمي او عملي روزنه ورکړای شي او په کار دې وګومارل شي.

له ديني علومو فارغ التحصيل طالبان به په اکاډمۍ کې لاندې علوم ولولي:

۱ـ معاصره ليکوالي
۲ـ ملي ژبې او ادبيات
۳ـ د وينا والۍ فن
۴ـ خارجي ژبې (عربي) (انګلېسي)
۵ـ کمپيوټر او معلوماتي ټکنالوژي
۶ـ اسلامي تاريخ او د افغانستان تاريخ او جغرافيه
۷ـ نړۍ پېژندنه او د اسلامي نړۍ اوسنی وضعيت
۸ـ معاصر ژورناليزم او د مېډيا او مطبوعاتو اوسني وسائل.
۹ـ معاصر فکري او عقائدي جريانونه

مدرسه او مبارزه

۱۰- نړیوال سیاسي، عسکري او اقتصادي تړونونه

۱۱- ټولنپېژندنه

۱۲- روانپوهنه

۱۳- اداري علوم

۱۴- قوانین

۱۵- نړیوالې اړیکې

کله چې د پورته یادو شویو علومو په لوستلو او د مهارتونو په حاصلولو د ځوانانو یو نسل وروزل شي، نو به بیا زموږ اداري تر یوه حده د کارونو په مجال کې خپل روزل شوي کدرونه ولري او د جهادي فکر او فرهنک د خوندي کولو چارې به په مسلکي ډول تر سره شي.

مدرسه او مبارزه

## درېیم فصل

## د مدرسې په اوسني تعلیمي نصاب کې د معاصرو فکري ادبیاتو فقر یوه نه جبرانېدوکې خساره

مدرسه او مبارزه

**د مدارسو په اوسنیو نصابونو کې د فکري ادبیاتو فقر:**

د اوسنۍ مدرسې په نصاب کې د افکارو او عقائدو د جګړې په اړه د ضروري عصري اسلامي مفاهیمو او فکري ادبیاتو د نشتون خبره به ځینې د سطحي نظر خاوندان راسره و نه مني، او دا استدلال به کوي چې موږ خو په مدرسه کې د عقائدو کتابونه لولو، د عقائدو کتاب تدریسوو، او په قرآن کریم او احادیثو کې زموږ عقیده له پوره تفصیلاتو سره موجوده ده.

په عمومیاتو کې به دا خبره سمه وي چې په مدارسو کې مو قرآن کریم او احادیث تدریسیږي؛ خو ستونزه له دې ځایه راولاړه شوې ده چې د هرې زمانې د جاهلیت او د هرې زمانې د کفارو جلا عقیده، جلا تصورات او باورونه، له اسلام او مسلمانانو سره یې جلا تعامل او د دښمنۍ جلا لارې چارې وي. دغه جلا لارې چارې او تعامل، او په فکري مجال کې د اسلام په خلاف د هر عصر پیچلې دښمنې د مقابلې جلا طریقې او نوي فکري ادبیات غواړي. خو د تأسف ځای دا دی چې زموږ په تعلیمي نصابونو او مدرسو کې نه د معاصرو جاهلیتونو، نه د کفر د معاصرو اشکالو، انواعو او فلسفو په اړه څه شته، او نه له هغو سره د مقابلې په مقصد څه تدریسیږي.

**د ارزښتونو او عقیدې جګړه ولې مهمه ده؟**

د عقیدې، فکر او ارزښتونو جګړه ځکه مهمه ده چې که په دې جګړه کې څوک ولړزېدل او ماتې یې وخوړه هغه بیا د ژوند په ټولو ډګرونو لکه سیاسي، عسکري، اقتصادي، تعلیمي، اجتماعي، اخلاقي، تقنیني او له نړیوالو سره د تعامل او د ژوند لپاره د معیارونو د ټاکلو په ډګرونو کې معرکه بایلي، د وخت په تېرېدلو د ښمن د صف عسکر ګرځي، د دښمن پر لاره ځي، او خپل تشخص له لاسه ورکوي.

خو که یو ځل چا د باورونو په جګړه کې ځان ټینګ کړ، خپل ثبات او استقامت یې ښکاره کړ، نو په هغه صورت کې که دوئ ډېر لږ کسان هم وي د دوئ په کار، مفاهیمو، عقائدو، ثبات، صبر او دعوت کې الله تعالی برکت اچوي. بیا که دوئ مړه هم شي، الله تعالی به د دوئ فکر او مفاهیم په خلکو کې دومره خپروي چې وروسته به بیا نظامونه وربandې جوړېږي، حکومتونه به پرې قائمېږي، تمدنونه به پرې رامنځته کېږي، او د انسانیت ذهنسازي به پرې کېږي.

موږ په قرآن کریم کې د اصحاب کهف په کیسه وینو چې هغوئ یو څو محدود کسان دي، خو له جاهلیت سره یې د تفاهم او پیوندکارۍ روحیه نه لرله، پر خپلو مفاهیمو او عقائدو ټینګ پاتې شول، د دې پر ځای چې په ښارونو، تمدن، نعمت، عیش او عشرت، منصبونو او وظایفو کې پاتې شي، د مشکلاتو، یوازېتوب، وېرې، لوږې او بې سرنوشتۍ او په غره کې د اوسېدلو لار یې ونیوله، خو له خپلو عقائدو تېر نشول، او د باورونو جګړه یې ونه بایلله. الله تعالی هغوئ د همدې کار په نتیجه کې داسې وستایل چې د قیامت تر ورځې به ستایل کېږي، الله تعالی یې په اړه فرمایي:

﴿ إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ آمَنُوا بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَاهُمْ هُدًى (13) وَرَبَطْنَا عَلَى قُلُوبِهِمْ إِذْ قَامُوا فَقَالُوا رَبُّنَا رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ لَنْ نَدْعُوَ مِنْ دُونِهِ إِلَهًا لَقَدْ قُلْنَا إِذًا شَطَطًا﴾ [الکهف: ۱۴]

ترجمه: (دوئ د ځوانانو یوه داسې ډله وه چې پر خپل رب یې ایمان راووړ او لا زیات مو هدایت کړل، هغه مهال چې پاڅېدل او ویې ویل: زموږ رب همغه دی چې د آسمانونو او زمکې رب دی، له ده پرته به د هیڅ معبود عبادت ونکړو، (او که یې وکړو) یقیناً هغه مهال به مو خوشې او پوچه خبره کړې وي).

کله چې د عقائدو په جګړه کې أصحاب الکهف پر خپل دریځ ثابت قدمه شول، نو الله تعالی د دوئ له مرګه وروسته هم لوی لوی ولسونه د دوئ پر عقیده راوستل او مسلمانان شول.

د ارزښتونو او باورونو جګړه په هره زمانه کې جلا جلا شکل نیسي. لکه څنګه چې پرونی فرعون له نننی فرعون سره فرق لري، همداسې نننی فرعونیت هم له پروني فرعونیت سره فرق لري. او همدارنګه د نننی فرعونیت په خلاف مقابله هم د پروني فرعونیت په خلاف له مقابلې سره فرق لري.

پرونی جاهلیت هم له نننی جاهلیت سره فرق لري. پرونی جاهلیت محدود او ساده و، تأثیرات یې په لږو خلکو کې منحصر و، پر خلکو یې د تأثیر وسائل ساده و، او مقابله یې هم په اسانه او په ساده وسائلو کېده. خو نننی جاهلیت دومره قوي، هراړخیز او پېچلی دی چې نه یې هر څوک درک کولی شي، او نه یې هم هر څوک د مقابلې توان لري.

له نننی جاهلیت سره دومره وسائل او امکانات دي چې د نړۍ هرې برخې ته خپل فکري تأثیرات، عقائد، فرهنګ او ارزښتونه رسولی او پر خلکو تحمیلولی شي.

لکه څنګه چې د نننی جاهلیت او نړیوال فرعونیت د تأثیر ساحه پراخه، وسائل یې پرمختللي او افراد یې ماهر دي، همدغه ډول باید له دغه جاهلیت سره د مقابلې لپاره زموږ د فهم، توانایيو او فعالیت مجال هم ډېر پراخ او محاسبات مو دقیق او هر اړخیز وي.

که زموږ د فکري او عقیدوي مقابلې وسائل او فعالیت د دښمن د وسائلو او فعالیت هومره نه وي، نو داسې خو دې هم نه وي چې هغه دې زموږ فضا او ځمکې تسخیر کړې وي، حکومتونه دې یې ځانته تابع کړي وي، نظامونه دې یې خپل کړي وي، تعلیم، تربیه او نصابونه دې یې په خپله خوښه عیار کړي

وي، د خلکو ذهنسازۍ دې يې د ذهن سازۍ په مختلفو وسايلو لکه انټرنټ تلويزيونونو، نصابونو، پوهنتونونو، مجلو، اخبارونو، فلسفي بحثونو، راصادرو کړو نظرياتو، پرديپالو مدني او ادبي ټولنو، سمينارونو، کنفراسونو او خطرناکو او زهرجنو مفاهيمو کړې وي، خو زموږ د ديني مدارسو او مکاتبو په نصابونو کې دې نوي نسل ته د معاصر جاهليت د ورمعرفي کولو په اړه هيڅ فکري ادبيات او ابحاث وجود ونه لري، او په مليونونو طالبان، متعلمين او محصلين دې په دې مجال کې په تياره کې پرېښودل کېږي!

نن چې موږ د خپلو ديني مدارسو نصابونو ته گورو نو وينو چې هلته نه د اوسنۍ زماني د جاهليت په خلاف کوم کتاب شته، نه کوم مضمون شته، نه ورباندې رد شته، نه يې په اړه د مقابلې په اړه کومه ذهنسازي شته، نه د مدارسو په غير تدريسي علمي او فرهنگي فعاليتونو کې دې کار ته ځای ورکړ شوی، او نه هم په دې اړه د کوم معتبر جهت او يا نظام له لوري کومه اراده او جدي اقدام شته. نو طبيعي ده چې زموږ له دغه غفلت څخه به دښمن لويه استفاده کوي، او د خپلو افکارو د خپرولو لپاره به زموږ د ولس او نوي نسل په ذهنونو کې د خپل فکر غزونې کوي.

**د اسلام په خلاف د جاهليت د فکري او عقيدوي جگړې اوږد تاريخ:**

د ارزښتونو جگړه اوسنۍ نه ده، بلکې دا جگړه له ډېرې پخوانۍ زمانې رارونه ده. کله چې الله تعالی اسلام د يوه کامل عقيدوي، اخلاقي او تشريعي دين په حيث را نازل کړ، نو له هماغه وخته يې پر ځمکه موجودو جاهليتونو مقابله شروع کړه. اول يې په مقابل کې د قريشو او شاوخوا نورو عربو جاهليت ودرېد او د دې نوي دين پيغمبر يې لېونی او جادو گر وباله، او دا له دې امله نه وو چې هغوئ رېښتيا هم په پيغمبر صلی الله عليه وسلم کې د کوډگر او يا

لیوني څه نښې لیدلې، بلکې هغوئ د نبوت تر حالته مخکې هغه صلی الله علیه وسلم (صادق)، (امین) مهربانه او هوښیار شخص ګڼلو، خو د نبوت تر اعلان وروسته یې دغه ټول تهمتونه او دغه ډول نومونه په دې مقصد ور پورې کول چې د هغه مبارک شخصیت بې اعتباره وښيي، د خلکو اعتماد ورباندې متزلزل کړي، او د هغې زمانې په ټولنه کې د ده شخصیت داسې داغمن کړي چې عرب او همدارنګه د نورو افکارو او نظریاتو، اعتقاداتو او دینونو خلک د هغه پر حقانیت له اعترافه منصرف کړي.

قریشو او نورو مشرکینو د هغه مبارک د شخصیت او د هغه د راوړي دین په خلاف نه یوازې دا چې په بېلابېلو ډګرونو کې مختلف منفي تبلیغات کول، بلکې پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه صحابه کرامو رضي الله تعالی عنهم ته یې بدني اذیت هم ورساوه. هغوئ یې د وطن پرېښودلو ته مجبور کړل، د هغوئ په خلاف یې لښکرې راټولې او لویې جګړې یې وکړې.

د هغې زمانې جاهلیت پوره یو ویشت کاله خپل ټول وسائل، خپل دیني باورونه، خپل اقتصاد او خپله واکمني استعمال کړه، او د اسلام د خپرېدا د مخنیوي لپاره یې سخته مبارزه وکړه.

یهودیت هم د عربو له جاهلیت سره لاس یو کړ، او عربو ته به یې ویل چې ستاسې دین د مسلمانانو تر دین غوره دی. د عربې جاهلیانو دا باور و چې یهود اهل الکتاب دي، په دین پوهېږي، له وحیې سره یې کار دی، انبیاء ورکې راغلي دي، په اسماني کتابونو پوهېږي، نو له دوئ به خبره وپوښتو او هغوئ به سمه لار او خبره راوښيي. خو د دې پر ځای چې یهودانو عربي جاهلیانو ته ریښتینې خبره کړې وای، هغوئ ته یې وویل چې ستاسې دین حق دی، تاسې پر خپل دین ټینګ پاتې شئ او اسلام مه منئ.

يهوديت پخپله هم د رسول الله صلى الله عليه و سلم او اسلام په خلاف په فکري او عملي لحاظ لويې توطيې جوړې کړې. د يهودو لوی کوښښ دا و چې مسلمانان د اسلام پر دين شکمن کړي. هغوئ کوښښ وکړ چې له دين څخه د دين په خلاف د تشکيک وسيله جوړه کړي. د تشکيک د يوې خطرناکې هڅې په حيث د هغوئ مشرانو په خپلو کې سره وويل: راځئ چې مسلمانانو ته د شک ورچولو په مقصد د سهار له مخې مسلمانان شو، ځکه چې مسلمانان پر موږ گومان لري چې موږ اهل کتاب يو، په موږ کې موسی او هارون او نور انبياء عليهم الصلاة و السلام تېر شوي دي، په موږ کې تورات و، په موږ کې د وحيې تسلسل و، او عرب موږ ته په ديني قداست او بارو قائل دي، نو راځئ د سهار له مخې به مسلمانان شو، مسلمانان به ووايي چې دوئ هم مسلمانان او له موږ سره ملگري شول، خو ماښام به بېرته له دې دين څخه ووځو. او کله چې له اسلام څخه ووځو، نو خلکو ته به ووايو چې دا هغه دين نه دی چې موږ يې په خپلو کتابونو کې وصف ليدلی و، نو په دې ډول به مسلمانانو ته د هغوئ په دين کې شک ورواچوو.

يهودو عملاً د پيغمبر صلى الله عليه و سلم د وژلو کوښښ وکړ، او نه يوازې دا چې د نورو قومونو او قبايلو لکه قريشو، غطفان او د جاهليت له نورو عناصرو سره يو ځای شول، او د اسلام په خلاف يې لويه فکري، ديني، عقيدوي او عسکري جگړې وکړې.

يهودان د خندق په غزا کې له مشرکانو سره شامل شول، او په نورو مجالاتو کې يې د پيغمبر صلى الله عليه و سلم په خلاف خلک را وپارول او د پيغمبر صلى الله عليه و سلم د وژلو عملي کوښښ يې وکړ، خو الله تعالی د هغوئ توطيه ناکامه کړه.

همدارنگه نصرانيت هم د رسول الله صلی الله عليه و سلم او اسلام په خلاف، او د رسول الله صلی الله عليه و سلم د صحابه کرامو تر زمانې وروسته بيا د صليبي جګړو په شکل کې د نصراني هېوادونو پادشاهان پخپله په صليبي جګړو کې شامل وو ترڅو په جنګ کې خپلو عسکرو ته روحيه ورکړي.

د نصرانيت پيروان کله هم د اسلام په خلاف په آرام نه دي ناست، دوه سوه کاله يې په زاړه شکل کې صليبي جګړې وکړې، او اوس هماغه صليبي جګړې په نوي او معاصر شکل کې را روانې دي چې د اسلامي نړۍ ډېر ولسونه او حکومتونه يې په ډېر خطرناک شکل تر خپلو تاثيراتو لاندې راوستلي دي.

د مجوسيت پيروان هم د اسلام په خلاف په آرام نه وو ناست. مجوسيت په بېلابېلو شکلونو کې د بيا ظهور هڅه وکړه، چې تر ټولو خطرناک شکل يې د زنه ديقيت په شکل کې و.

د زنه ديقيت فکر او حرکت دومره زور واخيست چې عباسي خلافت دېته اړ شو چې د مخنيوي په مقصد يې د (ديوان صاحب الزنادقة) په نامه يو جلا وزارت جوړ کړي، چې په هغه کې به د زنديقيت پر وړاندې د مبارزې ستراتيژۍ جوړېدې، او په زنه ديقانو پسې به لښکر کشۍ کېدې. کله به چې چېرته د فارس او خراسان په ولاياتو کې زنه ديقان پيدا شول، لکه يو څوک چې د (استاد سيس) په نامه را پيدا شو، د الحاد او زنديقيت دعوت يې شروع کړ، او خلک به يې له اسلامه بېرته پخوانيو فارسي اديانو لکه مزدکيت او زردشتيت ته ور اړول. نو بيا به صاحب الزنادقة د خپل ديوان يا وزارت له لوري علماء او مفکرين او خپل پوليس ور ورلېږل، او د هغوئ شبهات به يې ځوابول، خو چې په دعوت او علمي مناقشه به اصلاح نشول نو بيا به يې ووژل.

مجوسیت هم د اسلام په خلاف په بېلابېلو شکلونو کې مسلسل کوښښ وکړ چې د فارس په سیمه کې بېرته راژوندی شي، او په هغې سیمه کې ریښتینی اسلام د خلکو له ژونده وباسي. که څه هم چې مجوسیت په خپل پخواني شکل کې بېرته راونشو ګرځېدلی، خو هلته د تشیع په شکل کې داسې یو مذهب راښکاره شو چې تر ننه پورې یې له هغې لارې سره جوړه نده چې پیغمبر صلی الله علیه و سلم خپل صحابه کرام ورباندې پرېښی وو.

تشیع د هغو صحابه کرامو په خلاف د دښمنۍ موقف ونیو چې الله تعالی یې عقیده او ایمان نورو خلکو د مسلمان کېدلو معیار ګڼلی دی لکه چې فرمایي:

﴿فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنْتُمْ بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوْا﴾ [البقرة: ١٣٧]

ترجمه: (که یې هغه ډول ایمان راووړ چې تاسې راوړی نو بیا په یقیني ډول د هدایت پر لاره دي).

الله تعالی په پورتني آیت کې صحابه کرام مخاطبوي او د دوئ ایمان نورو ته د منل شوي ایمان د معیار په حیث معرفي کوي او ورته فرمایي چې: ای د رسول الله صحابه کرامو تاسې چې څنګه ایمان راوړی، که خلکو په دغو (مُؤْمَن بِه) شیانو او په دغه معیارونو او کیفیت ایمان راوړ، نو بیا دا ایمان یو صحیح ایمان دی.

د صحابه کرامو دغه امتیاز هغوئ ته داسې یو تکریم دی چې نورو خلکو ته ندی حاصل، خو له دې هر څه سره بیا هم د تشیع فکر او مذهب د صحابه وو رضي الله عنهم په اړه منفي دریځ لري.

## د پخواني او نني جاهلیت تر منځ توپیر:

د جاهلیت پخوانیو مختلفو شکلونو لکه د عربو جاهلیت، یهودیت، نصرانیت، مجوسیت او د بېلابېلو زمانو نورو جاهلیتونو د اسلام په خلاف په بېلابېلو

شکلونو هم جګړې وکړې، هم یې فکري مقابلې وکړې، هم یې مسلمانانو ته شبهات ور واچول، او هم یې پر اسلام اعتراضونه وکړل، خو دا هرڅه په ساده شکلونو کې وو چې د هغو زمانو مسلمانانو یې مقابله په زغرده وکولی شوه، او د اسلام علماوو په متقابل ډول د هغو د افکارو، عقائدو، باورونو او شبهاتو په خلاف په خپلو زمانو کې کتابونه ولیکل او مسلمانان یې د خپلې زمانې د کفارو او ګمراهانو له کفر، ګمراهیو او د هغوئ له جدلیاتو، فلسفو او جاهلیتونو خبر کړل.

په خپلو خپلو زمانو کې د کفري او ګمراهانه عقائدو او افکارو په خلاف د علماوو د فعالیتونو او عام ولس ته د هغوئ د مسلسل پوهاوي تر ټولو لویه فائده دا وه چې پر مسلمانانو د جاهلیت داسې څپه نه راتله چې په ملیونونو مسلمانان دې یا د خپل دین په اړه شکمن شي، او یا دې دا ووایي چې موږ په خپلو چارو کې دین حاکمول نه غواړو لکه نن یې چې سیکولر حاکمان او د هغوئ نظامونه او پیروان وایي.

نن په ملیونونو مسلمانان په داسې وضعیت کې دي چې په ژبه وایي مسلمانان یو، خو دین حاکم کېدلو ته نه پرېږدي. خپل اقتصاد یا په کمونستي او یا هم په کپیټالستي بنسټونو درول غواړي. اسلام ته ډېر منسوب خلک به په عقیدوي لحاظ د مسلمانۍ دعوی لري، خو په اخلاقو کې به ځان لیبرال او له هر دیني قید او بنده آزاد بولي. همدارنګه به ځان مسلمان بولي، خو په نظام او حاکمیت کې به دیموکراسي غواړي، او د الله تعالی دین ته به حق نه ورکوي چې پر دوئ دې حاکم وي. حکام به یې ځانونه مسلمانان ګڼي، خو د تشریع، قانون جوړونې، سیاست، اقتصاد، عسکریت، او نظامدارۍ په ډګرونو کې به د حِل او حُرمَت صلاحیت د دین نه، بلکې د ځان یا د پارلمان ګڼي.

مدرسه او مبارزه

نن د اسلامي نړۍ د حکامو دا حال دی چې د الله تعالی له لوري راغلی احکام نه خپله تطبیقوي، او نه بل څوک ورته پرېږدي چې تطبیق یې کړي. او دغه کار ځکه کوي چې غربي دولتونه همدا ورڅخه غواړي.

په ۲۰۱۳ کال کې چې د افریقا په غرب د مالي په هېواد کې د انصار الدین په نامه جهادي ډله راپورته شوه، د (تمبکتو) په مشهور ښار کې یې اسلامي بیرغ پورته کړ، اسلامي نظام او محاکم یې جوړ کړل، او هلته د اسلام د حاکمیت یوه څپه داسې راغله چې په هغه سیمه کې چې څومره خلک اوسېدل یوه لویه برخه یې په دغه څپه کې له دوئ سره ملګري شول، او نږدې و چې هلته په حقیقي معنی یو اسلامي حکومت قایم شي. هماغه و چې فرانسویانو عملي مداخله وکړه، او د فرانسې د هغه وخت جمهور رئیس (فرانسوا اولاند) اعلان وکړ چې نه یوازې دا چې په مالي هېواد کې د اسلام تطبیق ته اجازه نشته، بلکې په ټوله اسلامي نړۍ کې د شریعت تطبیق ته اجازه نشته، او یوازني هغه څه چې موږه له مسلمانانو سره جوړجاړي ته ورباندې حاضر نه یو هغه د اسلامي شریعت تطبیق دی.

**غربیان او معاصر جاهلي نظامونه ولې شریعت حاکمېدلو ته نه پرېږدي؟**

غربیان او په اسلامي نړۍ کې د معاصر جاهلیت پر بنسټ ولاړ نظامونه چې د غربي فکر پلوي او تطبیقوونکي دي ځکه شریعت عملي کېدلو ته نه پرېږدي چې د اسلامي نړۍ د ژوند په ټولو چارو کې د شریعت تطبیق د دې امت د بېرته قوي کېدلو اسباب برابروي او په تصور، عقیده، اخلاقو، سیاست، حاکمیت، عسکریت، امنیت، اقتصاد، ټولنه او هر څه کې د فساد مخه نیسي. او کله چې د فساد مخه نیولی کیږي اسلامي امت قوي کیږي، یووالی او صالح قیادتونه ورکې پیدا کیږي، چې په هغه حالت کې بیا دلته د غربي

هېوادونو پلانونه نه عملي کېږي، او ارمانونه یې نه پوره کېږي، نو ځکه خو غربیان نه غواړي چې شریعت دې د اسلامي نړۍ په یوه ځای کې هم تطبیق شي.

پخوا که د ارزښتونو په جګړه کې که مجوسیت، نصرانیت، یهودیت او د عربو جاهلیت د اسلام مقابله کوله، نو په هغه وخت کې په مسلمانانو کې د مقابلې لپاره لاندې دوه شیان موجود وو:

١- د مقابلې لپاره اسلامي پوهه او مفاهیم.

٢- مقابله کوونکي علماء او دعوتګران.

په هغه وخت کې داسې نه و چې دیني علم دې یوازې په علماوو پورې خاص وي، بلکې په مجموعي ډول په ټول امت کې د دین په اړه پوهه عامه وه، او خلکو به دین د عمل، دعوت او مبارزې لپاره زده کاوه، او په دې به هم پوهېدل چې څنګه د کفري افکارو له شره ځان وساتي.

د اسلام علماوو به هم په هغه وخت یوازې تدریس، افتاء او امامت خپل مسؤولیت نه ګاڼه، بلکې د هر ډول کفري او منحرفو افکارو مقابله او د هغو په اړه کتابونه لیکل، خلکو ته د هغو حقیقت بیانول، او د هغو له شر څخه د عامو مسلمانانو خبرول یې هم خپله اساسي وظیفه ګڼله. له همدې امله خو به په هغه وخت کې نااسلامي افکار په پراخ ډول په مسلمانانو کې نه خپرېدل. او که به خپاره هم شول، نو حاکمیت ته به نه رسېدل. او که په کوم ځای کې حاکم هم شول، نو تر ډېره وخته به په حاکمیت کې نه پاتې کېدل.

د جاهلیت د پخوانیو څپو برعکس چې له تېرې یوې نیمې پېړۍ راهیسې د اسلام او مسلمانانو په خلاف کومه فکري، فلسفي او تمدني جګړه روانه ده دا ډېره پراخه، ژوره، هر اړخیزه او سنجول شوې جګړه ده چې د ژوند په ډېرو ډګرونو کې یې مسلمانان لاندې کړي دي.

د غرب له مادي او الحادي تفکره راوتلې دغې جګړې په نصراني غرب او اسلامي شرق دواړو کې د دین په خلاف سلګونه میلیونه خلک له ډېرو عصري او خطرناکو وسائلو سره د جګړې ډګر ته راووېستل. دغه خطرناکه او ایمان لړزوونکې جګړه له هغه وخته پیل شوه چې د غرب معاصره فلسفه د فرانسې له انقلابه را وروسته اول په غربي نړۍ کې حاکمه شوه او هلته یې د دین مخنیوی وکړ، او تر هغه وروسته یې د استعمار او بیا د سیکولرو حکومتونو او احزابو په وخت کې پر اسلامي نړۍ د تسلط دوره راغله او دلته یې د ژوند په هر ډګر کې د دین د حاکمیت د مخنیوي هڅې شروع کړې.

د اسلامي نړۍ په خلاف د غربي فکر، فرهنګ او فلسفې دغې جګړې په اسلامي نړۍ کې نه یوازې دا چې د سلکونو میلیونو مسلمانانو ایمانونه ولړځول، بلکې په ملیونونو اسلام ته منسوب خلک د اسلام د حاکمیت په خلاف د خپلې جګړې په صف کې له ځانه سره ودرول، چې دا په حقیقت کې د غرب د معاصرې فلسفې له فکري مذاهبو سره د اسلام یو خطرناک ټکر دی چې له اسلامپالو ژور فکر، ډېر کار، او مسلسله مبارزه غواړي.

اسلامي نړۍ ته د غرب راصادرې شوې معاصرې فلسفې او فکري مذاهب یوازې د فکري مفاهیمو او فرهنګ په شکل کې پاتې نشول، بلکې له هغو عقیدې جوړې شوې او د همدې عقیدو پر بنا نظامونه جوړ شول، او نظامونو بیا د پردیو په خوښه د ولسونو د تنظیمولو لپاره قوانین وضع کړل، لښکرې یې رامنځته کړې، نا اسلامي اقتصادي سیستمونه یې ایجاد کړل، ځینو د کمونیزم د حاکمولو لپاره د نظام ټول وسائل په کار واچول، او ځینې نورو بیا د غربي لیبرال فکر او نظام د حاکمولو لپاره همدا کار وکړ.

په تېره یوه پېړۍ کې پردي افکار په پراخه پیمانه په افغانانو کې خپاره شول، او خطرناک نتائج هم پرې مرتب شول. خو په مقابل کې یې زموږ دیني او

مدرسه او مبارزه

علمي مراجعو د تعليمي نصاب له لارې په پراخه او مسلسل ډول مقابله و نه کړه، او د فکر او فرهنګ په مجال کې زموږ د مدرسې په نصاب داسې مضامين ورداخل نه کړای شول چې په لوستونکي کې يې د نوي جاهليت په خلاف د مؤثرې فکري مقابلې داسې توانايي پيدا کړي چې په ټولنه کې د کمونستي او ليبرالو افکارو د خپرېدو مخنيوی پرې وکړای شي.

په افغانستان کې د غرب د معاصرې فلسفې له فکري مذاهبو سره زموږ ټکر راغی، خو دغه ټکر زموږ له لوري مؤثره مقابله نه درلوده، په دې معنی چې مدرسې، محراب، منبر، خانقاه او دينپالو خلکو د فکري مواجهې لپاره کتابونه و نه ليکل، په مدارسو، مساجدو، منابرو، مجالسو، علمي او ديني ټولنو کې د غرب د فکري، اخلاقي او ديني ارزښتونو په مقابل کې کوم نصاب جوړ نشو، او تر ننه لا جوړ نه دی.

موږ همدا اوس تر څه باندې څلويښت کاله جهاده وروسته هم په مدارسو کې نه د کمونيزم په خلاف څه تدريسوو، نه د ليبراليزم، هيومنيزم، رېشنليزم يا عقل پرستۍ او نه هم د نشنليزم په خلاف څه تدريسوو.

په افغانستان کې د غرب د فکري ادبياتو خپرېدو په مليونونو انسانان په متفاوتو درجو د ژوند په بېلابېلو برخو کې د غرب پر لاره روان کړل، خو د دې خلکو په اړه نه زموږ په نصابونو کې معلومات شته، نه يې په اړه د شرعي حکم بيان شته، او نه يې په خلاف د مبارزې فکر شته. له همدې امله خو د معنوي ارزښتونو د جګړې په ډېرو ډګرونو کې موږ ډېر څه د دښمن په ګټه له لاسه ورکړل چې مثالونه يې په لاندې ډول بيانوو:

د شوروي د اشغال په وخت کې د دې پر ځای چې زموږ پوځونه د شورويانو په خلاف وجنګيږي، متأسفانه په ډېر ذلت د هغوئ تر څنګ د خپل ولس په خلاف وجنګېدل، او د اسلام پر ځای يې له کمونيزم څخه دفاع وکړه.

د امریکا د اشغال په وخت کې هم د افغان پوځ په نامه پوځي او امنیتي تشکیلات شل کاله د امریکایانو لپاره د خپل ولس د مجاهدینو په خلاف وجنګېدل.

ستونزه په دې ځای کې ده چې دلته چې څوک د مدارسو نصابونه عملي کول غواړي، هغوئ د دې مقابلې لپاره په خپلو تعلیمي نصابونو کې قوي اراده، ښه ستراتېژي او فعال میکانیزم نه لري، او که اراده او عزم ورته لري، نو بیا په عمل کې د هغو د پلي کولو لپاره خبیر اشخاص نه لري.

زموږ مدارس تر ډېره حده د (زید) او (عمرو) په جګړه کې ښکېل دي، او تر اوسه یې لا دېته کار ندی ویلی چې د غرب د هغو فکري مذاهبو او الحادي افکارو او نظریاتو په خلاف مبارزې ته په خپلو مدارسو کې فعالیت وکړي چې غواړي له الله تعالی څخه الوهیت او له پیغمبر څخه رسالت سلب کړي، او مسلمانان د بې دینۍ پر لاره روان کړي.

په هېواد کې مو په تېره یوه پېړۍ کې یوه لویه برخه مسلمانان د ژوند په مختلفو ډګرونو کې د پردیو پر لاره روان شول، د ټولنې جوړښت مو تر ډېره حده دیني پاتې نشو، بلکې په فکري لحاظ په پردیو پورې داسې وتړل شول چې د دیني عالم، روحاني مرشد، ولسي مصلح او مشر خبره د غربیانو د خبرو په مقابل کې بې ارزښته ښکارېده.

په افغاني ټولنه کې هغه خلک چې ځانته روښانفکران ویل د خپلو ادبي او فکري ټولنو او بنسټونو له لارې یې الحادي افکار خپرول، د ملحدو شاعرانو، ادیبانو، لیکوالانو او فیلسوفانو د تقدس تر حده درناوی کاوه، خو دیني عالم، مجاهد او له اسلامه دفاع کوونکي ته به یې سپک الفاظ کارول، او د هغوئ د دیني او اجتماعي افکارو بې ارزښته ښودل به یې خپله وظیفه ګڼله. دوئ دغه کار ځکه کاوه چې موږ د یوه ستراتېژیک تفکر د نشتون له امله د خپل

فکري خطاب او تعلیمي نصاب له لارې په دې نه یو توانېدلي چې په فکري، فرهنګي او اجتماعي مجالونو کې دوئ راخپل کړو، شبهاتو او پوښتنو ته یې ځواب ووایو، او د اسلام په محاسنو او د غربي فکر په مشکلاتو او بطلان یې خبر کړو.

که سپینه یې ووایو نو حقیقت دا دی چې زموږ د اوسنیو مدارسو لویه برخه طالبان او فارغان له غربه د راصادرو شویو افکارو او شبهاتو په مقابل کې له خپل دیني فکر، عقیدې او خپل اسلامي تمدنه د فکري او علمي دفاع توانایي نه لري. او دا له دې امله نه چې زموږ دین او یا فکر او تمدن کمزوری دی، بلکې له دې امله چې د مدرسې طالب ته د غربي فکر او تمدن د مقابلې تعلیم ندی ورکړ شوی، ځکه چې موږ د ارزښتي او فکري جګړې لپاره لا تر ننه په خپل نصاب کې څه نلرو. نه یوازې دا چې د غربي فکر د مقابلې لپاره په مدرسه کې څه نه تدریسوو، بلکې د پیغمبر صلي الله علیه وسلم سیرت، د صحابه وو رضي الله عنهم او د اسلام د عظماوو تاریخ هم نه تدریسوو. او که په یو نیم ځای کې تدریسیږي هم، نو هغه هم له اولې درجې په کښته درجه کې تدریسیږي چې طالب وربانديې خط او املاء زده کوي. د عمر په دې مرحله کې که طالب ته سیرت تدریس هم شي، نو هغه به د پیغمبر صلي الله علیه وسلم په پیغمبرۍ، سیاست او دپلوماسۍ، سولې او جنګ، ټولنه جوړونې او حکومتدارۍ څه پوه شي؟!

د سیرت او تاریخ علم چې په حقیقت کې د سیاست علم دې د مدرسې په ابتدایي درجو کې نه، بلکې له دریېمې درجې تر اومې درجې پورې چې طالب خپل فکري بلوغ ته رسېدلی او لږ د پند اخیستنې، استنتاج او له حالاتو د سالم برداشت اخیستلو وړتیا ورکې پیدا شوې وي په تقسیم شوي شکل او د زمانې له عیني مثالونو او واقعیتونو سره په تطابق کې ور تدریس شي چې د

اسلام تکاملي سیر او د مسلمانانو د عروج او زوال اسباب او عوامل ورمعلوم شي.

په فکري او تمدني جګړه کې ماتې خوړل په عسکري، سیاسي، فکري، فرهنګي، اجتماعي، تعلیمي، اقتصادي او د ژوند په نورو ډېرو ډګرونو کې د ماتې خوړلو اسباب او عوامل برابروي، ولسونه له خپل تاریخ او ارزښتونو پردي کوي، او په دښمن پورې یې تړي.

موږ باید د یوه متدین او انقلابي ولس په حیث په ټول جدیت سره کوښښ وکړو چې له دښمن سره په فکري مقابله کې د خپل ولس نوی نسل د دیني مفاهیمو له فقره وژغورو.

زموږ د دیني مدارسو نصابونه باید داسې پاتې نشي چې طالبانو ته د یونان د زړو منطقو او فلسفې څوارلس کتابه او د عربي ژبې د صرف او نحوې د قواعدو شپاړس کتابه او هغه هم په غیر تطبیقي شکل تدریس کړو، خو له دښمن سره د فکري مقابلې په مجال کې په شپاړسو کلونو کې هم د معاصرو اسلامي مفاهیمو، اسلامي دعوت، معاصرې لیکوالۍ، اسلامي نظام او اسلامي سیاست، نړۍ پېژندنې، افغانستان پېژندنې، دښمن پېژندنې او د دښمن د ژبې په اړه یو کتاب هم ورته تدریس نه کړو.

نن چې د افغانانو نوی نسل د کمونیزم، لیبرالیزم، دیموکراسۍ، الحاد، نشنلیزم، هیومنزم (انسان پرستۍ)، استعمار، استشراق، تنصیر، ګلوبلایزېشن (نړیوالتوب) وېسټرنایزېشن (غربي کولو) فیمینیزم (د ښځو د آزادۍ)، (د شریعت پر ځای د وضعي قوانینو د تطبیق) او د لسګونو نورو کفري او ګمراه کوونکو نظریاتو او فکري مذاهبو له خطر سره مخامخ دی، او همدغو فتنو زموږ د ولس په ملیونونو خلک په داخل او خارج کې له اسلامه پردي کړي او په شعوري ډول یې د غربیانو په صف کې درولي او یا یې له هغوئ سره روحي او فکري

مدرسه او مبارزه

پیوندونه ورجوړ کړي دي، ولې یې په اړه زموږ د دیني مدارسو طالبانو ته څه نه تدریسیږي؟! پداسې حال کې چې له دین څخه د دفاع او د اسلامي نظام د اقامه کولو تمه هم له همدغو طالبانو کیږي.

د دې لپاره چې په واقعي دلیل دا ثابته کړو چې زموږ طالبان او ځوان عالمان تر ډېره حده په فکري مجال کې د مقابلې د مفاهیمو له فقر سره مخ دي زه یې یو مثال وړاندې کوم:

په **۱۳۹۹هـ** ش کال کې مې د افغانانو په یوې عالي او مشهورې مدرسې کې د سیاسي علومو د تخصص په کلاس د مولانا تقي عثماني صاحب د مشهور کتاب (الإسلام والنظریات السیاسیة) کتاب چې د حاکمیت په مجال کې د اسلام او نورو سیاسي نظریاتو په اړه یو تقابلي کتاب دی درس ورکاوه، په دې کتاب کې مختلف افکار او نظریات لکه کمونیزم، لیبرالیزم او نور پخواني او معاصر فکري او سیاسي مذاهب څېړل کیږي. د دې لپاره چې زه پوه شوی وای چې زما د کلاس د تخصص د مرحلې مخاطبین چې د مدارسو فارغان وو او لس دولس کاله یې درس ویلی وو زما له مضمون او خبرو سره څومره آشنایي لري، نو د صنف له یوه شریک او فارغ شوي عالم سره مې دغه ډول سوال او ځواب وشو:

- ته خو افغان یې او افغانانو تقریبا دوه لسیزې د کمونیزم په خلاف مبارزه کړې ده، نو آیا ته کولی شې د کمونیزم په اړه یو څه معلومات راکړې؟

- نه، نه یې پېژنم.

- د کمونستانو په اړه دې څه لوستي یا اوریدلي دي؟

- له پلار او نورو مشرانو مې اوریدلی دي چې کمونستان په افغانستان کې یو حزب وو، دلته یې د شورویانو په ملاتړ حکومت کاوه او ډېر خلک یې ووژل.

- ته ښه فکر وکړه او کوښښ وکړه چې که ته د کمونستانو په اړه څو ټکي داسې راته ووایې چې کمونستان د الله تعالی جل جلاله، رسول الله صلی الله علیه وسلم، اخلاقو، نظام، اقتصاد او د انسان د خلقت په اړه څه تصور لري؟

باور وکړئ چې زما د مکررې پوښتنې په ځواب کې یې راته وویل چې:

- په دې اړه مې هیڅ نه دي زده.

- له دې به زه در تېر شم چې کمونیزم څه شی وو، او کمونستان څوک وو؟ ځکه ته اوس په داسې زمانه کې یې چې کمونیزم اوس په هغه ډول نه دلته او نه بل ځای کې حاکم دی چې د شوروي په وخت کې و. خو ته چې په دې وخت کې مسلح جهاد ته هم ځې، دا راته ووایه چې ته د چا په خلاف جنګیږې، او د جنګ او جهاد هدف دې څه دی؟

- د اشرف غني د امریکایي پلوي حکومت په خلاف جنګیږم او هدف مې د اسلامي نظام راوستل دي.

- د اشرف غني حکومت څه ډول نظام غواړي؟

- هغوئ دیموکراسي غواړي.

- دیموکراسي څه شی دی؟

د غربیانو نظریه او طریقه ده.

- ته یو څو ټکي راته ووایه چې دوئ څه وایي چې دیموکراسي څه شی ده چې ته یې په خلاف جنګیږې؟

- یوه ګمراه طریقه ده، خو نور نه پرې پوهېږم.

زه دغه طالبان ملامت نه بولم، ځکه چې په تعلیمي نصاب کې د دې مضامینو نشتون دوئ په اوسنۍ فکري جګړه کې د باطلو فکري مذاهبو له نه پېژندنې او د هغو په مقابل کې د مبارزې د معاصرو اسلامي مفاهیمو له فقر سره مخ کړي دي.

زموږ د مدرسو طالبان چې د نحوې او صرف پېچلي مسائل زده کولی شي، د معاصر کفر په اړه غتې او ساده خبرې هم زده کولی شي. دوئ چې جهاد، سر ورکولو او استشهاد ته حاضرېدلی شي، دې ته هم حاضر دي چې یو څوک دې یې په کمونیزم او نورو غربي نظریاتو پوه کړي او دوئ دې وربإندې پوه شي اوبیا دې یې په خلاف مبارزه وکړي. خو مشکل دا دی چې مدرسې په دې مجال کې د خپل نصاب له لارې څه نه دي ورزده کړي.

د معاصرې فکري مقابلې په مجال کې د مفاهیمو د فقر خطرناکه نتیجه دا راووته چې زموږ یوه لویه برخه دیني علماء او طالبان د معاصر انسان له مطلوبې فکري او مفاهیمي مخاطبې او مناقشې عاجز شول، او د دغه عجز په نتیجه کې ملیونونه مسلمانان ځینې د کمونیزم غېږې ته ورولوېدل، ځینو لیبرالیزم، نشنلیزم، معاصر الحاد او قوم پرستي ومنله، او بلې لویې برخې د شرعي ژوند پر ځای رواجي ژوند ته ترجیح ورکړه.

د مسلمانانو د نوي نسل په ذهن کې چې د غربي ډوله ژوند او فکر له امله چې د اسلامي شریعت او نظام په اړه کومې شبهې او بې باورۍ رامنځته شوې دي د هغو د له منځه وړلو لپاره پکار ده چې عالم او طالب خلک پداسې لهجه او مفاهیمو مخاطب کړي چې بېرته یې پر اسلامي شریعت باورمنه دي جوړه شي، او بېرته په پوره معنی د اسلام غېږې ته ور وګرځي.

د معاصرې مفاهیمي او فکري جګړې په مجال کې د فکري شبهاتو له ځوابولو زموږ د طالب او عالم عجز له دې امله ندی چې مخلص نه دی. یو څوک چې استشهاد او پر بمونو ختلو، د لوږې تېرولو، په واورو کې مزلونو او د زندانونو زغملو ته حاضرېږي، هغه دې ته هم حاضرېږي چې یو څوک دې یې پوه کړي او دی دې د دغې جګړې ماهر جنګیالی شي. خو ستونزه دا ده

چې په نصاب کې يې د دغې خطرناکې جګړې په اړه هېڅ ډول فکري مضامين نشته.

او دا چې په مدرسه کې د دې کار لپاره مطلوب علوم او مطلوب فعاليت نشته، نو په مليونونو مسلمانان د فکري ادبياتو په مجال کې پرديو ته پرېښودل شوي دي، او پرديو بيا دغه تشه د نصاب، تلويزون، راډيو، اخبار، سيمينار، مجلې، پوهنتون، خواله رسنۍ او د توجيه او پيغام رسونې د بېلابېلو وسائلو له لارې ډکه کړې ده، او د مسلمانانو د نوي نسل ډېر خلک يې د اسلامي شريعت او اسلامي نظام د صالحيت او تطبيق په اړه شکمن کړي دي.

دې وضيعت يو داسې حالت رامنځته کړی دی چې يوه لويه برخه اسلام ته منسوب خلک پخپله د اجتماعي ژوند، سياست او نظام په چارو کې اسلام نه غواړي. دغه ډول خلک وايي مسلمان يم خو د اسلامي حکومت په خلاف ولاړ يم او نه يې غواړم. مسلمان يم، خو په اخلاقو کې دې له ماسره نه ديني عالم او نه بل څوک کار لري. وايي مسلمان يم، خو اسلامي حدود بايد راباندې تطبيق نشي. الله تعالى منم، خو احکام او د دين پيغام او حکومت يې نه منم. مسلمان يم خو په عسکري او امنيتي ساحه کې له کافرانو سره د مجاهدينو په خلاف تړونونه کووم او د هغو په چوکاټ کې عمل کووم.

دا چې موږ د يوه ملت په حيث له دغه ډول يوه وضيعت سره مخامخ يو، نو د دې مشکل د حل لپاره بايد په خپلو مدارسو کې د اسلامي فکري ادبياتو مفاهيم ور داخل کړو او خپل طالبان، محصلين او استادان ورباندې وپوهوو، ترڅو د مقابلې په مجال کې دا لويه تشه ورباندې ډکه کړای شي. او دا يوه داسې تشه ده چې دښمن يې په خپله ګټه د ډکولو لپاره په مليونونو مسلکي کسان ګومارلي دي او ډېر پرمختللي او د پراخ تأثير وسائل يې په لاس ورکړي دي.

مدرسه او مبارزه

## د فکري جګړې پېژندل او کول ولې ضروري دي؟

د دې لپاره چې د دغې جګړې ماهیت پېژندل او په اړه یې د مدارسو په نصابونو کې د دې جګړې د علومو او فکري ادبیاتو د تدریس ضرورت احساس کړو، باید په دې پوه شو چې موږ د مسلمانانو په حیث د اسلام لپاره په یوې ډېرې لویې او پېچلې جګړې کې چې د ژوند په تقریبا ټولو ډګرونو کې جریان لري ښکېل یو، او په دې هم باید پوه شو چې دا جګړه په عسکریت، اقتصاد، فکر، فرهنګ، ادب، اخلاقو، دیانت، د ټولنې په اجتماعي جوړښت او د ژوند په ټولو اړخونو کې روانه ده چې باید دغه تشه په مطلوب ډول ډکه کړو.

د دې پېچلې جګړې د مقابل لوري ماهرینو په اسلامي امت کې هغه خلک چې دوئ یې باید د هدف په توګه تر کار لاندې ونیسي ښه دقیق تشخیص کړي دي او د هر چا د متأثره کولو لپاره یې د هغوئ د فکر د تبدیلولو او ذهن جوړولو بېلابېل پروګرامونه او وسائل جوړ کړي دي چې د هغو له لارې یې د اسلام له ارزښتونو، افکارو او اعتقاداتو سره نا آشنا کوي او په ځان پسې یې روانوي، چې د وخت په تېرېدلو بیا پردي افکار، اعتقادات، ارزښتونه، افکار او نظریات د دوئ په روح او روان کې داسې ځای ونیسي چې لکه همدغه چې د دوئ لپاره اصل وي.

د دې جګړې ماهرینو د ښځو لپاره هم ځانګړي فکري ارزښتونه او حیثیتونه رامنځته کړي دي ترڅو د هماغو غربي فکري ارزښتونو په خپلولو مسلمانه ښځه له خپل فطري او شرعي وضعیته وباسي، د ښځو د آزادۍ، د ښځو د حقوقو د غوښتنې او له نارینه سره د برابرۍ د دعوی په پورته کولو یې د دیني مسؤولیت د منلو په مقابل کې ودروي.

ښځې هم پرته له دې چې وګوري او غور وکړي چې آیا هغه حقوق د دوئ په ګټه دي چې اسلام او خپلې ټولنې یې ورته ټاکلي دي او د دوئ دیني، فکري، اخلاقي او ټولنیز حیثیت ورکې خوندي کېږي؟ او که هغه حقوق او غوښتنې ورته په ګټه دي چې د یوه بل دین، بل فرهنګ، بلې عقیدې، بل محیط او حتی د بل بر اعظم خلک یې ورته غواړي؟!

موږ د دیني مدارسو منسوبین باید په دې هم پوه شو چې په اقتصادي ډګر کې هم د مسلمانانو پر اقتصادونو د مافیاوو داسې ډلې او ادارې مسلطې کړای شوي دي چې دلته د سرمایې، اقتصادي قوانینو، لوائحو، تعاملاتو او پولي سیستم په اړه چې هر څه رامنځته کېږي او یا جریان لري د هغو په تنظیم او میکانیزم جوړولو کې یې باید د زورورو دولتونو او لویو اقتصادي جهتونو لاس وي.

د سرمایې تنظیم او ګردش دې هم داسې عیار شي چې زمکه او معادن دې زموږ وي، خو ګټه دې یې نورو ته رسېږي.

اقتصادي فعالیتونه دې هم داسې عیار شي چې مسلمانان او په ځانګړې توګه اسلامي حرکتونه ورکې کمزوري شي او وځپل شي.

د اقتصاد د چارو واګې دې د داسې چا لاسته ورشي چې له دین سره هېڅ تعهد او التزام ونه لري.

د لویو اقتصادي کمپنیو مشران، د کلیدي اقتصادي وزارتونو وزیران، د ژوند د چلولو لپاره د لومړنیو توکو د نرخ ټاکونکي دې په حقیقت کې په مسلمانانو کې د فقر ایجادوونکي او د نړیوالو زبېښګرو ملګري وي.

د مدرسې منسوبین باید په دې په ښه ډول پوه شي چې دښمن د ژوند په هر مجال کې موږ هدف ګرځولي یو، او په هر مجال کې یې زموږ د کمزوري کولو او د تأثیر له ځایونو د حذفولو لپاره دقیق میکانیزمونه جوړ کړي،

اشخاص يې روزلي، مؤسسات او ادارې يې ورته ايجاد کړي، او د هغوی لپاره يې د کارپوهانو او تکنوکراتانو داسې يو تېراېستونکی هويت ټاکلی او مشهور کړی چې لکه همدوئ چې د اسلامي هېوادونو پېژندګلوي وي، همدوي د نظام مخلص چلوونکي، د وطن مشران، رهبران او د ولس غمخوران وي. او که دوئ نه وي نو هېوادونه به وران وي. خو حقيقت به دا وي چې دغه طبقه خلک به له خپلو ټولو القابو سره سره د دې ولس دين، ارزښتونو، مصالحو، اولويتونو او راتلونکي ته هېڅ تعهد او التزام نلري.

پر دې هم بايد پوه شو چې موږ د مسلمانانو په حيث د اسلام د حاکميت لپاره په يوه لويه جګړه کې اخته يو. خو دا جګړه ډېره پېچلې، دقيقه او د ژوند په ټولو اړخونو کې ده. او چې جګړه دومره پېچلې ده چې زموږ د ولسونو د ژوند هر مجال يې نيولی دی، نو هر يو بايد له ځانه دا پوښتنه وکړو چې د دغې جګړې په اړه زموږ د عالمانو، طالبانو، معلمانو، محصلانو، زده کوونکو او په ټول ولس کې د باسواده او بې سواده خلکو پوهه څومره ده؟ آيا کولی شي په د دغې جګړې کې له دښمن سره مقابله وکړي؟ او يا د دې جګړې له شره ځان وساتي؟

په ديني مدارسو کې د فکري جګړې د موضوعاتو په اړه پوهه او د همدغې پوهې په ذريعه خلک د فکري فتنو له شره ژغورل داسې مثال لري لکه په يوه ښار کې چې نظام او حکومت شتون ولري، هلته راډيو موجوده وي، د هوا پېژندنې سسټم فعال وي، او د هوا پېژندنې اداره د هوا پېژندنې د علم له مخې د ولس خلکو ته د باد، باران، واورې او توپان په اړه دقيق ملومات ورکوي چې واوره، باران او يا توپان به په فلاني وخت کې راځي او دومره وخت به دوام کوي، خطرناک متوقع نتائج به يې په دغه ډول وي، او خلک بايد په دغه او هاغه ډول مطلوب تدابير ونيسي. که په دغه صورت کې خطرناک

سېلابونه او توپانونه را هم شي، نو ډېر زیانونه به ونه لري، ځکه چې که خلک د سېلاب یا توپان مقابله نشي کولی، نو دومره خو کولای شي چې خپل ځانونه او ضروري سامانونه د سېلاب یا توپان له مخې لیرې او خوندي کړي.
خو که په یو هېواد کې د هوا پېژندنې په اړه پوهاوی او سیستم موجود نه وي، او هلته د خلکو د ناخبرۍ او خوب په حال کې بارانونه او توپانونه راشي، نو ترڅو چې خلک راویښېږي لوی زیانونه به ور اووښتي وي.
نو ویلی شو چې د خطرونو پېژندل، د دښمن له پلانونو او توطیو باخبري، او د دغې لویې او پېچلې جګړې د فلسفي او فکري ادبیاتو په اړه پوهه هغه څه دي چې یا خو موږ د دښمن مقابلې ته تیاروي، او که مقابله نشو کولی نو لږ تر لږه له خطره خو به یې تر یوې اندازې خپل ځان او ولس ساتلی شو.

**ولې باید د مدارسو منسوبین د فکري جګړې مقابله وکړي؟**

دا چې ولې زه د مدارسو له منسوبینو د غرب د فکري تأثیراتو د مخنیوي تمه کووم او دا کار د دوئ اساسي وظیفه بولم، د دې خبرې لاندې دوه دلیلونه دي:
اول ـ د مدرسې له منسوبینو باید ځکه له غرب سره د فکري مقابلې تمه وشي چې همدوئ د دینپوهنې، دینښوونې او دینرسوونې مسؤولیت په غاړه لري، او په فکري او علمي لحاظ له دین څخه دفاع هم د همدوئ کار دی. همدوئ باید د دښمن د فکري جګړې مقابلې ته ودرېږي، د دښمن لخوا خلکو ته ور اچول شوې شبهې ځواب کړي، او د نوي نسل هغه په ملیونونو خلک چې د دښمن له لوري یې غلطه ذهنسازي شوې او په فکري او فرهنګي مجال کې یې پر دښمنانو اعتماد جوړ شوی، بېرته خپلو دیني او اجتماعي ارزښتونو ته را وګرځوي.

مکتب او پوهنتون که څه هم چې د پوهې لوی او مهم مرکزونه دي، خو د اوس لپاره له هغو د دښمن د فکري جګړې د مقابلې تمه ځکه نه کیږي چې دغه مرکزونه د داسې سیکولر ډوله نظامونو له لوري جوړ شوي او اداره شوي دي چې نه یې د دین پر حاکمیت باور درلود، نه یې د دین د خپرولو او له هغه څخه د دفاع اراده درلوده، او نه یې خپل نصابونه او تعلیمي نظامونه داسې جوړ کړي وو چې لوستونکي دې یې له هغو څخه دیني فکر واخلي.

دا سمه ده چې دغو تعلیمي ادارو به په اجتماعي، ادبي، ساینسي، تجربوي او انساني علومو کې خلک باسواده کړي او یا متخصص کړي وي، خو په فکري لحاظ یې لوستونکي نه په اسلامي فکر او تمدن روزلي، او نه یې د غرب د مادي فکر له زهرو ساتلي دي. د دغه ډول فکر، نصاب او روزنې په نتیجه کې داسې باسواده نسلونه منځته راغلي چې اکثرو یې مادي ګټو ته پر معنویت او دیني التزاماتو ترجیح ورکړې، او له دښمن سره د مقابلې په ورځ یا د مادي ګټو د تحقق پخاطر له دښمن سره دریدلي، او یا لږ تر لږه له دین او وطن څخه د دفاع په صف کې نه دي دریدلي او بې احساسه پاتې شوي دي.

خو د مدرسې له فکره خړوبو شوو اکثرو خلکو د بهرنیو یرغلونو په مقابل کې له دین او وطن څخه د دفاع لاره نیولې، د ابتلاګانو په وخت کې یې خپل استقلالیت ساتلی، په فقر او لوږه یې صبر کړی، له خپلو دیني او اجتماعي ارزښتونو سره یې التزام ښودلی، د خپلو ارزښتونو ساتنه یې کړې او د هغو پر سر یې له چاسره معامله نه ده کړې.

دویم ـ د مدرسې له منسوبینو څخه د دښمن د فکري یرغلونو د مقابلې تمه له دې امله هم کیږي چې د ملت خلک په دیني امورو کې د مدرسې پر منسوبینو اعتماد کوي، او په هغو پسې په ورځ کې لږ تر لږه پنځه وخته اقتداء

کوي او خبرې ته یې غوږ نیسي، پداسې حال کې چې د عصري تعلیماتو درلودونکو ته یوازې د اړتیا په وخت کې ورځي.

پورتني تفاوت ته په پام سره که د مدرسې منسوبین د دغې زمانې د فکري او تمدني جګړې په اړه فکري ادبیات، عصري معلومات، د مقابلې طرحې او پلانونه ولري، د دښمن د فکري جګړې د خطرناکتوب په اړه د ولس پوهاوی وکړای شي، او د ایمان ساتنې په دې خطرناکه معرکه کې خلکو ته د عصر په ژبه د دین اصلي مفاهیم ورسولی شي، نو عام ولس د مدرسې د منسوبینو لپاره د دین په حکم داسې تیار عسکر دي چې په هر حالت کې به یې پرته له کومې معاوضې خبره مني او قربانۍ ته به ورسره حاضرېږي.

په افغاني ټولنه کې ولس له ملا، مسجد او مدرسې سره داسې قوي پیوند لري چې څوک یې په اسانه نشي ماتولی. په افغانستان کې چې څومره پردیپال نظامونه او احزاب راغلي او له ټولنې څخه یې د ملا د تجریدلو کوښښونه کړي دي، بیا هم پر دې نه دي توانېدلي چې ولس او ملا یو له بله سره بېل کړي.

دا چې ملا او مدرسه د دومره لوی اهمیت خاوندان دي، نو د محراب او منبر په خاوند کې باید د دغې پېچلې، هر اړخیزې او خطرناکې جګړې د قیادت او پرمخ بیولو وړتیا پیدا کړای شي.

د تاریخ په اوږدو کې لیدل شوي چې د هرې زمانې خپلې فتنې او د کفر او ګمراهۍ یې خپل شکلونه وي، چې د هغو په خلاف مبارزه او له هغو سره علمي مباحثه جلا معلوماتو او د استدلال جلا طریقو ته ضرورت لري چې د همدې مقصد لپاره به د منطقو په نامه عقلي علوم لوستل کېدل. خو نن چې د دې زمانې کفري مفاهیم، د کفر او اسلام تر منځ د ټکر میدانونه، د مقابلې وسائل او طریقې نورې دي، د دښمن د تأثیر ګذارۍ وسائل پرمختللي شوي،

فضا يې تسخير کړې، او د کمپيوټر د تنې په يوه کېښکولو سلگونو مليونو مسلمانانو ته خپل پيغام رسولی شي، او د خپلو نظامونو، کمپنيو، فلم جوړوونکو ادارو، سياسي، علمي او فکري مراکزو او سنجوول شوو پروگرامونو له لارې د مسلمانانو نوی نسلونه تر تأثير لاندې راولي، نو پکار ده چې ديني مدارس هم خپلو طالبانو ته داسې روزنه ورکړي چې له پورتني ياد شوي وضعيت سره با کفايته مقابله وکړای شي.

که منطق د دې لپاره وي چې له دښمن سره پرې استدلال وشي، نو د اوس وخت فکري او عقائدي گمراه ډلې په معاصره فکري جگړه کې په پخوانيو منطقو استدلال نه کوي، نو ځکه خو پکار ده چې په مدرسو کې د پخوانيو منطقو اندازه کمه کړو، او پرځای ځای يې د خپلو مدرسو طالبانو ته د مبارزې داسې نوی منطق ورزده کړو چې په نن زمانه کې په هغو له اسلامه دفاع او د کفر او گمراهيو د معاصرو اشکالو لکه د کمونيزم، ليبراليزم، نشنليزم، ريشنليزم يا عقل پرستی هيومنيزم او د معاصر الحاد د نورو اشکالو په خلاف مبارزه کېږي.

نن دښمن د مسلمانانو د متأثره کولو لپاره خپل مفاهيم، د جنگ ميدانونه او وسائل او په مسلمانانو کې تر ضربې لاندې د نيولو لپاره خپل اهداف په ډېر دقت او مهارت ټاکلي دي.

نن دښمنانو هم د مسلمانانو افراد او هم په مجموعي ډول ټول ولس د هدف په توگه نيولی دی چې په سيستماتيک ډول په ټولو کې په خپله گټه تغيير راولي. خو موږ په مدرسه کې داسې د استدلال منطق نه تدريسوو چې د معاصرې فکري، عقيدوي، اخلاقي، تمدني او فرهنگي جگړې په مجال کې عالم او طالب ته د استدلال وسله په لاس ورکړي.

نن په مدارسو کې زموږ د رائج نصاب د تأثیراتو له امله زموږ طالب په جسدي ډول په یویشتمه میلادي پېړۍ کې اوسېږي، خو په فکري، رواني او مفاهیمي لحاظ په نهمه، لسمه، یوولسمه او دولسمه میلادي پېړۍ کې اوسي. البته دا خبره د شریعت د نصوصو او د هغو د فقهي فهم په اړه نه کووم، ځکه چې د شریعت نصوص او د هغو فقهي فهم پرون هم تازه و، هم نن هم تازه دی، او تر هغه به تازه وي چې ترڅو دا دنیا ودانه وي. خو دغه تفاوت له دې لحاظه یادووم چې د هرې زمانې د تمدنونو د ټکر او مقابلې بېل فرهنګ، بېل اصطلاحات، بېلې د استدلال طریقې او بېل فکري ادبیات وي، چې په هماغه وخت کې پرې له اسلام او د اسلامي امت له ارزښتونو دفاع کیږي، چې متأسفانه دغه څه نن زموږ په مدارسو کې نه تدریسېږي.

د دې لپاره چې زه دا خبره ثابته کړم چې په مدارسو کې مو پخوانیو منطقو ته هومره ضرورت نشته لکه څومره د فکري مقابلې نویو علومو ته ضرورت دی نو یو فرضي مثال لیکم:

راځئ داسې فرض کړو چې زموږ د هر یوه په کلي کې پنځه سوه کورونه دي او د دې هر کور یو هلک او یوه نجلۍ د بلوغ په عمر کې دي چې زده کړه کوي او له یو چا تأثر اخلي، او د دغې اوسنۍ فکري، اخلاقي، تمدني، دیني، تاریخي او ارزښتي جګړې په اور کې سوځي. که د خپلې ټولنې واقعیت ته په پام سره یوه فرضي احصایه په ذهن کې و نیسو چې له دغو زرو کسانو به په ډېر ښه حالت کې ښایي شل، دېرش یا پنځوس تنه دیني مدرسې ته ځي، خو پاتې نهه نیم سوه خلک مکتبونو یا پوهنتونونو ته مخه کوي. اوس که دا پوښتنه وکړو چې له دې زرو کسانو څو تنه له دیني عالم څخه د ارسطو، افلاطون او فارابي منطق غواړي؟ ځواب واضح دی چې یوازې هماغه پنځوس تنه او بس. خو هغه خلک چې باید د الحاد، سیکولریزم، نشنلزم،

مدرسه او مبارزه

هیومنزم، ریشنلزم(عقلپرستۍ) او له غربه د نورو راصادرو شوو فتنو له شره وساتل شي، او د غرب د افکارو بطلان وروښودلی شي، او ټولې کورنۍ یې د معاصرو فتنو له شره په امان کې شي، هغوئ پنځوس نه، بلکې له کورنیو سره یې په زرگونو دي. خو د افسوس ځای دا دی چې موږ په مدرسه کې په پخوانیو منقطو د یوه کلي د پنځوسو کسانو د پوهولو په مقصد د منطقو شپاړس کتابه تدریسوو؛ خو د نن زمانې له فتنو د زرگونو مسلمانانو د خبرولو لپاره د اوسنۍ زمانې د باطل پېژندنې په مقصد یو کتاب هم نه تدرېسوو!

**په اسلامي نړۍ کې د فکري جگړې د مقابلې دوه ستر مبارز عالمان:**

په اوسنۍ اسلامي نړۍ کې ډېرو معاصرو علماوو، دعوتگراتو او مفکرینو د فکري جگړې په ډگر کې فعالیت او تألیفات وړاندې کړي چې د اسلام د دښمنانو د فکري تأثیراتو مخه یې نیولې، او په دې مجال کې یې مسلمانان ورپېښو خطرونو ته متوجه کړي دي. د دغو علماوو په سر کې دوه ستر مبارزین ځای لري چې فکر او علمي خدماتو یې په ټوله اسلامي نړۍ کې مسلمانان د کفارو د فکري جگړې په مقابل کې راویښ کړي، د معاصرې مبارزې منطق او فکري ادبیات یې ورښوولي، او د مقابلې لپاره یې د فکر په وسله مسلح کړي دي. دغه دوه ستر شخصیتونه یو علامه سید ابوالحسن علي ندوي او بل استاد محمد قطب رحمهما الله تعالی دي.

علامه سید ابوالحسن علي الحسني الندوي په ۱۹۱۴ میلادي کال د هندوستان د اترپردیش د ولایت د(رائې بریلي) د سیمې د (تکیه کلان) د کلي د ستر عالم (علامه سید عبدالحی الحسني) په کور کې دنیا ته سترگې وغړولې. پلار یې د هندوستان د اتو پېړیو د علماوو د تذکرو او سوانحو په هکله په اتو

مدرسه او مبارزه

جلدونو کې د (الإعلام بمن في تاریخ الهند من الأعلام) په نوم یو لوی کتاب ولیکه چې د نړۍ د کتابخانو له مهمو کتابونو ګڼل کیږي.

علامه ندوي رحمة الله علیه ترڅوارلس کلنۍ پورې مروج علوم ولوستل. فارسي، عربي او انګلیسي ژبې یې زده کړې، او په پنځه لس کلنۍ کې یې په ۱۹۲۹ میلادي کال کې د ندوة العلماء له دارالعلوم څخه د حدیثو دوره وکړه. وروسته یې له علامه (احمد علي لاهوري) رحمة الله علیه څخه په لاهور کې د تفسیر علم حاصل کړ، او هم یې د (دیوبند) په دارالعلوم کې له علامه (حسین احمد مدني) رحمة الله علیه څخه د حدیثو او تفسیر زده کړه وکړه.

علامه ندوي له (۱۹۶۱م) څخه تر (۱۹۹۹م) یعنې د ده تر وفاته پورې د ندوة العلماء د دارالعلوم رئیس ؤ. د اسلامي فکر او د اسلامي نړۍ د مهمو موضوعاتو په اړه یې تر دریو سوو کتابونه او رسالې او په سلګونو مقالې چاپ شوي دي.

علامه ندوي د عربي او اسلامي نړۍ ډیرو مجلو ته لیکنې کړي، او د نړۍ د لویو علمي مراکزو او ټولنو رئیس او یا غړی پاتې شوی چې ځینې یې په لاندې ډول یادوو:

۱ــ د (هند) د ندوة العلماء د نړیوال دارالعلوم رئیس.

۲ــ په (ریاض) کې د اسلامي ادبیاتو د نړیوالې رابطې رئیس.

۳ــ په (انګلستان) کې د اکسفورډ د اسلامي څیړنو د مرکز رئیس.

۴ــ د ټول هند د مسلمانانو د شخصي احوالو د قانون د هیئت رئیس.

۵ــ د(هند) د اتراپردیش د ولایت د اسلامي تعلیماتو د هیئت رئیس.

۶ــ په (مكة المكرمة)کې د رابطة العالم الإسلامي د تأسیسي مجلس غړی.

۷ــ په (قاهره) کې د اسلامي دعوت د نړیوال مجلس د تأسیسي هیئت غړی.

۸ــ په (دمشق) کې د عربي ژبې او قوامیسو د ټولنې غړی.

۹ــ په (قاهره) کې د عربي ژبې او قواميسو د ټولنې غړی.
۱۰ــ په (اردن) کې د عربي ژبې او قواميسو د ټولنې غړی.
۱۱ــ په (اردن) کې د اسلامي تمدن د څېړنو د شاهي ټولنې غړی.
۱۲ــ په (مراکش) کې د نړۍ د اسلامي پوهنتونونو د نړيوالې رابطې غړی.
۱۳ــ د (مدينې منورې) د نړيوال اسلامي پوهنتون د مشورتي بورډ غړی.
۱۴ــ د (اسلام آباد) د نړيوال اسلامي پوهنتون د مشورتي بورډ غړی.
۱۵ــ د (ديوبند) د دارالعلوم د مشورتي مجلس غړی.

علامه ندوي تر بل هر چا په دې ښه پوهېده چې د غرب معاصره فکري او اخلاقي فلسفه پر الحاد ولاړه ده او د هغې په مقابل کې بايد اوسني مسلمانان په قوي فکري موقف کې وي.

علامه ندوي رحمه الله تعالی په دې زمانه کې د اسلامي فکر په مجال کې يو داسې ستر کار کړی چې نورو خلکو لږ کړی دی، او هغه دا دی چې په خپلو ليکنو کې يې د اسلام دين په ټوليزه بڼه خلکو ته ورپېژندلی دی. نورو علماوو د ديني علومو بېلابېلې برخې په اختصاصي شکل وړاندې کړې دي، خو ده د دې تر څنګ چې په اختصاصي ډول يې د دين په مختلفو مجالاتو کې ژورې ليکنې او تأليفات کړي دي په مجموعي ډول يې د اسلام د معرفې په اړه ژورې او ډېرې مؤثرې ليکنې هم کړې دي.

علامه ندوي د اسلام دين او اسلامي امت ښه درک کړی دي. هغه د اوسنيو مسلمانانو له مشکلاتو او هغوئ ته له ورپېښو حالاتو او ننګونو باخبره عالم و. هغه د اوسني عصر مسلمانانو ته د اسلام په اړه د سلف صالحينو د زمانې د مسلمانانو د فهم او فکري قناعتونو يو روڼ تصوير وړاندې کړی، او په هغه وخت کې يې پر کفارو د مسلمانانو د فکري او عسکري غلبې اسباب او

عوامل شرحه کړي او هم یې په وروستیو زمانو کې له اسلامي فکر او تګلارې د مسلمانانو د انحراف اسباب او عوامل روښانه کړي دي.

علامه ندوي رحمه الله تعالی د مسلمانانو د انحراف هغه اسباب او عوامل بیان کړي د کومو په نتیجه کې چې اسلامي امت د کفارو په مقابل کې په ډېرو مجالونو کې ماتې خوړلې ده. هغه پر دې ټولو عواملو ژورې، پخې، هراړخیزې، پر دلائلو ولاړې، معقولې او واقعي تبصرې کړې دي او تر درېو سوو پورې کتابونه یې لیکي دي.

د علامه ندوي رحمه الله تعالی یوه برخه کتابونه د زاهدان د اهل السنة د لویې مدرسې (دارالعلوم مکي) بزرګوار عالم او د مولانا محمد شفیع رحمه الله شاګرد شیخ الحدیث مولانا قاسم بني کمال قاسمي حفظه الله تعالی چې د اسلامي نړۍ په ډېرو لویو فقهي مجامعو کې غړیتوب لري فارسي ژبې ته ترجمه کړي دي او افغانستان ته هم راغلي چې الحمدلله په ځوانه طبقه کې یې ډېر لوستونکي هم پیدا کړي دي.

خو د تأسف ځای دا دی چې د دغه امام، روحاني شخصیت، داعي، فقیه، ادیب، مؤرخ او امت پېژندونکي شخصیت کتابونه زموږ په مدارسو کې ځای نلري او طالبان مو ورسره نا اشنا دي. موږ باید د دغه ستر شخصیت کتابونه ولولو، او یو یو لفظ یې باید زموږ په روح او روان کې ځای ونیسي او د متلونو په څېر زموږ پر ژبو جاري شي.

د علامه ندوی رحمه الله یو کتاب (ما ذا خسر العالم بانحطاط المسلمین) یعنې (نړۍ د مسلمانانو په پرځېدلو څه له لاسه ورکړل) دی. په دې کتاب کې یې د اسلام هغه دور ښودلی چې کله اسلامي امت پرمخ روان وو، او هره ورځ اسلامي نړۍ پراخېدله او پیاوړې کېدله. هغه په دې کتاب کې د مسلمانانو پر خصوصیاتو او د هغوئ پر فکري، تمدني، اخلاقي جوانبو خبره

مدرسه او مبارزه

کړې ده چې څنګه يې پر نورو ولسونو برتري درلوده، او څه ډول يې د نورو ولسونو له علومو او تمدنونو استفاده کولای شوه پرته له دې چې خپل دې څه له لاسه ورکړي.

علامه ندوي رحمه الله تعالی په (ما ذا خسر العالم بانحطاط المسلمين) کتاب کې پر دې هم دقيقه تبصره کړې ده چې مسلمانان ولې او څنګه کمزوري شول، او د کمزورۍ کېدلو له امله نه يوازې دا چې دوئ څه له لاسه ورکړل، بلکې د دوئ د کمزورۍ کېدلو له امله ټولې نړۍ څه له لاسه ورکړل؟

د علامه ندوي د (ما ذا خسر العالم بانحطاط المسلمين) کتاب د هغه د موضوع د اهميت له امله د نړۍ تر پنځوسو زياتو ژبو ته ژباړل شوی دی. دغه کتاب پښتو ژبې ته هم د ننګرهار د کامې د ولسوالۍ وتلي او قدرمن ليکوال سيد فضل مولا (لټون) ترجمه کړی او څو ځله چاپ شوی دی. دغه مهم کتاب چې په اسلامي نړۍ کې يې د وېښتابه يوه پراخه څپه خپره کړې ده، خو د تأسف ځای دی چې تر اوسه زموږ په مدارسو کې نه په تعليمي نصابونو کې شامل کړای شوی دی، او نه هم طالبانو ته د مطالعې کتاب ګرځېدلی دی. زموږ اوسني سياسي، فکري او مبارزاتي بهير او ضرورت ته په پام سره بايد دغه کتاب زموږ د مدارسو د اومې درجې (وړې دورې) په نصاب کې د يوه مهم نصابي کتاب په توګه ځای ونيسي، ترڅو نويو فارغېدونکو علماوو ته د مسلمانانو د فکري عروج او انحطاط د اسبابو او عواملو په اړه يو روڼ تصوير ور وښيي.

د دې لپاره چې د علامه ندوي رحمه الله له فکر سره مې د خپلو قدرمنو علماوو او طالبانو د آشنايۍ لاره ورجوړه کړې وي د هغه د ځينې نورو مهمو کتابونو نومونه د هغو له پښتو ترجمې سره په لاندې ډول وړاندې کووم:

1. العقيدة والعبادة والسلوک (عقيده، عبادت او سلوک)

2. السيرة النبوية(نبوي سيرت)
3. إذا هبت ريح الإيمان(كله چې د ايمان هوا راوالوځي)
4. في مسيرة الحياة( د ژوند پر لاره)
5. المسلمون في الهند(مسلمانان په هند کې)
6. الطريق إلى السعادة والقيادة للدول والمجتمعات الإسلامية الحرة(سعادت او قيادت ته د آزادو اسلامي دولتونو او ټولنو لاره)
7. العقيدة والعبادة والسلوك في ضوءالكتاب والسنة والسيرة النبوية(عقيده، عبادت او سلوک د قرآن کريم، احاديثو او نبوي سيرت په رڼا کې)
8. الطريق إلى المدينة ( د مديني لار)
9. الصراع بين الإيمان والمادية( د ايمان او ماديت تر منځ جګړه)
10. إلى قمة القيادة العالمية ( د نړيوالې رهبرۍ تر لوړو)
11. الإسلام أثره في الحضارة و فضله على الإنسانية (پر تمدن او انسانيت د اسلام تأثير او احسان)
12. نظرات في الأدب( ادبياتو ته کتنې)
13. أمريكا و إسرائيل كشف حقيقة صارخة و تنبيه على خطر داهم ( د امريکا او اسرائيلو په اړه د حقيقت بربنډول او د خطر زنګ)
14. المدخل إلى دراسة الحديث النبوي الشريف (د حديث پوهنې لار)
15. قصص النبيين للأطفال (د ماشومانو لپاره د پيغمبرانو کيسې)
16. قصص من التاريخ الإسلامي (د اسلامي تاريخ ځينې کيسې)
17. مختارات من الأدب العربي ( د عربي ادب غورچاڼ)
18. رجال الفكر والدعوة في الإسلام (په اسلام کې د فکر او دعوت شخصيتونه)
19. سيرة خاتم النبيين(د وروستي پيغمبر سيرت)

مدرسه او مبارزه

20. تأملات في القرآن الكريم (په قرآن كريم كې ژور تأملات)
21. المدخل إلى الدراسات القرآن الكريم (د قرآن پوهنې لار)
22. روائع إقبال(د اقبال ادبي شهكارۍ)
23. التفسير السياسي للإسلام (د اسلام سياسي تفسير)
24. الاجتهاد و نشأة المذاهب الفقهية (اجتهاد او د فقهي مذاهبو نشأت)
25. النبوة والأنبياء (پيغمبري او پيغمبران)
26. الأركان الأربعة (الصلاة، الزكاة، الصوم، الحج) في ضوء الكتاب والسنة مقارنة مع الديانات الأخرى ( د قرآن كريم او سنت په رڼا كې له نورو دينونو سره د اسلام د څلورو اركانو پرتليزه څېړنه)
27. النبوة والأنبياء في ضوء القرآن كريم (پيغمبري او پيغمبران د قرآن په رڼا كې)
28. سياسية التربية و التعليم السليمة (د ښوونې او روزنې سالمه پاليسي)
29. الداعية الكبير الشيخ محمد إلياس الكاندهلوي (ستر دعوتگر شيخ محمد الياس كاندهلوي)
30. إلى الإسلام من جديد (اسلام ته له سره بيا راگرځېدل)
31. المرتضى
32. الإسلام والغرب (اسلام او غرب)
33. ردة ولا أبابكر لها(بيا ارتداد دی، خو ابوبكر ورته نشته!)
34. الحضارة الغربية الوافدة و أثرها في الجيل(پر مسلمان نسل له غربه د راغلي تمدن تأثير)
35. من أعلام المسلمين و مشاهيرهم (د مسلمانانو نوميالي)
36. مذكرات سائح في الشرق العربي(د عربي ختيځ په اړه د يوه مسافر يادښتونه)
37. ربانية لا رهبانية (ربانيت، نه رهبانيت)

مدرسه او مبارزه

38. المسلمون تجاه الحضارة الغربية (مسلمانان د غربي تمد پر وړاندې)
39. النبي الخاتم (وروستی پیغمبر)
40. المد والجزر في تاريخ الإسلام (د اسلام په تاریخ کې مد او جذر)
41. العرب والإسلام (عرب او اسلام)
42. مع الإسلام (له اسلام سره)
43. نحو التربية الإسلامية الحرة في الحكومات والبلاد الإسلامية (په اسلامي حکومتونو او هېوادونو کې د آزادې اسلامي تربيې پر لور)
44. القادياني والقاديانية دراسة وتحليل (د قادياني او قاديانيت څېړنه)
45. مقالات حول السيرة النبوية (د نبوي سيرت په اړه څو مقالې)
46. إزالة أسباب الخذلان أهم و أقدم من إزالة آثار العدوان (د اشغال د تأثيراتو تر له منځه وړلو د ناتوانۍ او ماتې د اسبابو له منځه وړل ډېر مهم دي)
47. صورتان متضادتان لنتائج جهود النبي الأعظم الدعوية والتربوية وسيرة الجيل المثالي الأول عند السنة والشيعة الإمامية (د پیغمر صلی الله علیه وسلم د اصحابو په اړه د اهل السنتو او امامي شيعه وو دوه متضاد نظرونه)
48. أضواء على الحركات والدعوات الدينية في الهند (د هندوستان ديني تحريكونو او دعوتو ته کتنه)
49. الإسلام والحكم (اسلام او حاكميت)
50. من نهر كابل إلى نهر اليرموك جولة في غرب آسيا (له کابله تر يرموكه)
51. واقع العالم الإسلامي (د اسلامي نړۍ اوسنۍ وضعيت)
52. الدعوة والدعاة مسؤولية و تاريخ (دعوت، دعوتگران او تاريخي مسؤوليت)

مدرسه او مبارزه

53. مسؤولية العلماء في الأوضاع المتغيرة (په بدلېدونکو حالاتو کې د علماوو مسؤولیت)
54. موقف العالم الإسلامي تجاه الحضارة الغربية (د غربي تمدن پر وړاندې د اسلامي نړۍ دریځ)
55. المسلمون و قضية فلسطين (مسلمانان او د فلسطین قضیه)
56. أحاديث صريحة في أمريكا (په امریکا کې سپینې خبرې)
57. الإسلام في عالم متغيرّ (اسلام په بدلېدونکې نړۍ کې)
58. بين الدين والمدنية (د دین او تمدن تر منځ)
59. الأمة الإسلامية وحدتها و وسطيتها و آفاق المستقبل (د اسلامي نړۍ وحدت، وسطیت او د راتلونکې لرلید)
60. اسمعوها صريحة مني أيها العرب (عربو! سپینه یې درته وایم)
61. تساؤلات و تحديّات على طريق الدعوة (د دعوت د لارې پوښتنې او ننګونې)
62. حاجة البشرية إلى معرفة صحيحة للمجتمع الإسلامي (د اسلامي نړۍ سمې پېژندنې ته د بشریت ضرورت)
63. من الجاهلية إلى الإسلام (له جاهلیته تر اسلامه)
64. ترشيد الصحوة الإسلامية (د اسلامي ویښتابه لارښود)
65. ترجمة السيد الإمام احمد بن عرفان الشهيد مجدد القرن الثالث عشر (امام سید احمد شهید د دیارلسمې پېړۍ مجدد)
66. الإسلام فوق القوميات والعصبيات (اسلام تر قومیتونو او عصبیتونو پورته دی)

د علامه ابوالحسن علي ندوي تر څنګ دویم شخص د اسلامي نړۍ لوی مفکر استاد محمد قطب دی چې په ۱۹۱۹ میلادي کال کې په مصر کې

زېږدلی او په۲۰۱۴ دی کال کې وفات شوی دی. استاد محمد قطب د دې تر څنګ چې لوی اسلامي مفکر او د تعلیم او تربیې استاد و د انګلیسي ادبیاتو له فاکولتې هم فارغ شوي و چې دې کار په ده کې دا وړتیا پیدا کړې چې غربي تمدن ښه وپېژني او په اړه یې د اسلام او عقل له نظره حکم وکړای شي.

استاد محمد قطب اسلام او اسلامي امت ته د ورپېښو حالاتو او د مسلمانانو د عروج او زوال د اسبابو او عواملو په اړه ژور لید لري، او د همدغه ژور او واقعي لید په رڼا کې یې د اسلامي فکر، او له کفارو سره د فکري، عقائدي، فرهنګي، تمدني او عسکري جګړو په ډګرونو کې خورا ډېرې او مؤثرې لیکنې کړې دي، او د ملیونونو مسلمانانو د فکري تنویر لپاره یې مهم او پاخه فکري ادبیات رامنځته کړي چې ځینې مهم کتابونه یې په لاندې ډول دي:

د استاد محمد قطب ځینې کتابونه چې ما یې له موضوعاتو څخه د پښتنو لوستونکو د خبرولو په مقصد د نومونو پښتو ترجمه هم ورسره لیکلې ده په لاندې ډول دي:

1. واقعنا المعاصر (زموږ اوسنی وضعیت)
2. دراسات في النفس الإنسانية (د انساني نفس په اړه څېړنې)
3. مفاهيم يجب أن تُصَحَّح (هغه مفاهیم چې باید تصحیح شي)
4. دروس من محنة البوسنة والهرسك (د بوسنیا هرزګوینیا له ابتلاء حاصل شوي عبرتونه)
5. قضية تحرير المرأة (د ښځو د آزادۍ قضیه)
6. المسلمون والعولمة (مسلمانان او نړیوالتوب)
7. قضية التنوير في العالم الإسلامي (په اسلامي نړۍ کې د تنویر قضیه)
8. منهج التربية الاسلامية (د اسلامي روزنې تګلاره)

مدرسه او مبارزه

9. هل نحن مسلمون (آيا موږ واقعي مسلمانان يو؟)
10. مكانة التربية في العمل الإسلامي (په اسلامي مبارزه کې د تربيې ارزښت)
11. قبسات من الرسول (پيغمبري رڼاوې)
12. دروس تربوية من القرآن كريم (د قرآن كريم روزنيز درسونه)
13. دراسات في القرآن الكريم (قرآني څېړنې)
14. منهج الدعوة في المرحلة المكية (په مكي مرحله کې د دعوت تګلاره)
15. كيف نكتب التاريخ الإسلامي (اسلامي تاريخ بايد څنګه وليكو؟)
16. التطور والثبات في الحياة البشرية (په بشري ژوند کې بدلون او ثبات)
17. رؤية إسلامية لأحوال العالم المعاصر (د اوسنۍ نړۍ وضعيت ته يوه اسلامي کتنه)
18. مذاهب فكرية معاصرة (اوسني فكري مذاهب)
19. العلمانيون والإسلام (سيكولران او اسلام)
20. الإنسان بين المادية والإسلام (انسان د ماديت او اسلام تر منځ)
21. جاهلية القرن العشرين (د شلمې پېړۍ جاهليت)
22. هذا هو الإسلام (دغه ريښتينى اسلام دى)
23. حول تطبيق الشريعة (د شريعت د تطبيق په اړه)
24. ماذا يعطي الإسلام للبشرية (اسلام بشريت ته څه وركوي؟)
25. ركائز الإيمان (د ايمان ستنې)
26. شبهات حول الإسلام (د اسلام په اړه شبهې)
27. المستشرقون والإسلام (ختيزپوهان او اسلام)
28. الجهاد الأفغاني و دلالاته (افغاني جهاد او د هغه دلالتونه)
29. حول التفسير الإسلامي للتاريخ (د تاريخ د اسلامي تفسير په اړه)
30. نظام الإسلام السياسي (د اسلام سياسي نظام)

مدرسه او مبارزه

31. كيف ندعو الناس (خلک اسلام ته څنګه راوبلو؟)
32. الصحوة الإسلامية (اسلامي ويښتوب)
33. هلم نخرج من ظلمات التيه (راځئ چې د سرګردانۍ له تيارو راووځو!)
34. الصراع بين الفكر الغربي والفكر الإسلامي (د غربي او اسلامي فکر ترمنځ کشمکش)
35. صدأ القلوب (د زړونو زنګ)
36. لاإله إلا الله عقيدة وشريعة و منهج حياة (لاإله إلا الله عقيده، شريعت او د ژوند تګلاره ده)
37. في النفس والمجتمع (په نفس او ټولنه کې)
38. حول التأصيل الإسلامي للعلوم الإجتماعية (د اجتماعي علومو د اسلامي اصالت په اړه)
39. المخططات الصهيونية (صهيوني پلانونه)
40. الرحمن عروس القرآن (سورة الرحمن د قرآن کريم ناوې)
41. لايأتون بمثله (قرآن کريم يو بې مثاله کتاب)
42. بيعة النساء للنبي صلى الله عليه وسلم (له پيغمبر صلي الله عيه وسلم سره د ښځو بيعت)
43. مغالطات (تېر ايستنې)
44. معركة التقاليد (د ارزښتونو جګړه)
45. العلمانية (سيکولريزم)

او نور ډېر فکري او ادبي کتابونه. د يادولو ده چې پورته ټول ياد شوي کتابونه په انټرنټ کې پيدا کېږي او هر عالم او طالب يې په آسانۍ ډاونلوډولی شي.

د استاد محمد قطب (واقعنا المعاصر) کتاب د مسلملنانو د اوسنيو ستونزو او ناتواني د اسبابو او عواملو د پېژندلو په باب کې ډېر مهم کتاب دی. هغه په

دې کتاب کې د اسلامي امت پر اوسني وضيعت تفصيلي او ژور بحث کړی، او دا يې واضحه کړې چې کله چې مسلمانانو فتوحات لرل، پراخېدل، لوی نظامونه يې قائمول او نړۍ ته يې د دين او تمدن رڼا خپروله، نو په هغه وخت کې يې د اسلام په اړه کوم فهم درلود، او د قرآن کريم او احاديثو له نصوصو سره يې څه ډول تعامل و؟ آيا تعامل يې اعتقادي او عملي تعامل و؟ او که يې تعامل د دې زمانې د اکثريت مسلمانانو د تعامل په څېر يو رواجي او انتسابي تعامل و؟

استاد محمد قطب د دغه تعامل وضاحت کوي او وايي چې د هغوئ تعامل له قرآن کريم، احاديثو او د صحابه وو له اعمالو، افکارو او د هغوئ له ژوندبڼې سره د اعتقاد او عمل تعامل و، نه د قومي او رواجي تړاو تعامل. اسلام د هغوئ په روح او روان کې ځای نيولی و. هغوئ په دين پوهېدل، د هغه پر حقانيت او افاديت يې باور و، له هغه يې دفاع کوله، او د هغه په لاره کې يې خپل نفسونه او مالونه قربانول. هغوئ خپل اعتقاداتو ته ملتزم ول، او د خپل دين احکام يې له زړه عملي کول.

دا چې مسلمانانو ولې وروسته ماتې وخوړله؟ استاد محمد قطب يې سبب دا بولي چې امت له خپل دين سره د تعامل کيفيت بدل کړ. د دې امت خلکو له خپل دين، قرآن کريم، پيغمبر، د پيغمبر له احاديثو او په مجموع کې له دې ټول شريعت سره له اعتقادي، عملي، تديّني شکله انتسابي رواجي شکل ته واړاوه. يعنې مسلمان اسلام ته يوازې په خپل نسبت اکتفا وکړه، (لاإله إلا الله) يې يوازې د مسلمانۍ شعار وګاڼه، نه د ژوند تګلاره.

يوې لويې برخې مسلمانانو د تصور او عمل په ډګرونو کې ځانونه ديموکرات، کمونست، عقلپرست، نشنلست، په فکري او اجتماعي مجالونو کې پر ګلوبلازېشن(نړيوالتوب) عقيده لرونکي، د تحاکم په ساحه کې د

شریعت پر ځای وضعي قوانینو او د ملل متحد احکامو ته تحاکم کوونکي، د ژوند تېرولو په ساحه کې د غربي معیارونو منونکي او په عسکري او امنیتي ډګر کې د نوي نړیوال نظام پلویان وګڼل، او لاإله إلاالله یې په دې معنی ونه منله چې د(لا إله) معنی دې دا وي چې نه بل (إله) منم، نه د بل (إله) قانون منم، نه د بل (إله) له لوري ټاکل شوي اخلاق او معیارونه منم، نه د بل (إله) پر تعلیماتو ولاړ تمدن منم. او هر هغه څه چې زما د (إله) له را نازل کړي حکم سره مخالف وي ترې بېزاره یم. او دا چې د (إلا الله) معنی دې دا وي چې په عقیده، عبادت، سیاست، عسکریت، اقتصاد، اخلاقو او د ژوند په هره برخه کې به یوازې د الله تعالی منم، او د حق (إله) او باطلو (آلهه وو) د غوښتنو تر منځ به اختلاط نه راولم.

استاد محمد قطب وایي کله چې له دین سره د خلکو تعامل بدل شو، نو ځکه یې له غرب سره د جګړې په ټولو ډګرونو کې ماتې وخوړه.

مدرسه او مبارزه

# څلورم فصل

## د ارزښتونو په جګړه کې د ایماني قوت او کمزورتیا تأثیر

مدرسه او مبارزه

## د عقیدوي او ارزښتي جګړې اهمیت:

د عقیدې، فکر او ارزښتنو په جګړه کې چې څوک بریالي شي نورې جګړې یې نشي حذفولی، خو کوم خلک چې د عقیدې او فکر په جګړه کې د دښمن په وړاندې ماتې وخوري هغوئ که په مالي او تسلیحاتي لحاظ هر څومره غښتلي هم وي د اوږدې مودې لپاره خپل استقلال نشي ساتلی، بلکې یو وخت به داسې ورباندې راځي چې د خپل دښمن د صف برخه به ګرځي او خپله خاوره، اقتصاد، پوځ، ولس او هر څه به د دښمن په واک کې ورکوي.

د مسلمانانو او د هغوئ د دښمنانو ترمنځ جلاوالی د فکري او عقیدوي بېلوالي له امله دی، او د دې لپاره چې کفار دغه بېلوالی له منځه یوسي کوښښ کوي مسلمانان په فکري لحاظ د ځان په څېر کړي، او دغه دواړه جلا ملتونه سره یوکړي، الله تعالی فرمايي:

﴿وَدُّوا لَوْ تَكْفُرُونَ كَمَا كَفَرُوا فَتَكُونُونَ سَوَاءً﴾ [النساء: ٨٩]

دوئ (کفار) دا خوښوي چې تاسې هم کافر شئ لکه دوئ چې کافر شوي دي، نو بیا به سره برابر شئ.

که له تېرې یوې پېړۍ را هیسې د کفارو او مسلمانانو تر منځ د بېلوالي ټکو ته پام وکړو نو ګورو چې کافران کوښښ کوي چې د مسلمانانو او نامسلمانو تر منځ د بېلتون فکري، سیاسي، اقتصادي او عسکري ساحې کمې کړي، او په کراره کراره یې له منځه یوسي. او دا کوښښ یې هم روان کړی دی چې په میډیا او مطبوعاتو کې د نړۍ په کچې د تماس د نقطو په مجال کې د (کافر) او (کفارو) ټکی قطعاً یاد نشي، بلکې د کفارو د لفظ پر ځای دې د (نورو) ټکی یاد شي، لکه (د مسلمانانو او نورو تر منځ/ د مسلمانانو او بل تمدن تر منځ). او دا ځکه چې د (کفر) او (کفارو) لفظ په ټولو ادیانو او مذاهبو کې

یوه منفي انتباه او معنی لري او د نفرت وړ ټکي دي. او بله دا چې د مسلمانانو او کافرانو تر منځ چې دا دومره اوږده موده بېلتون ساتل شوی او پالل شوی دی د دې مرکزي ټکی دا و چې څوک به مسلمان نه و، هغه به د مسلمانانو په نزد کافر و، او نفرت به ورڅخه کېده، او له کفارو څخه پر حذره اوسېدل د مسلمانانو یو مطلوب سیاست و، او د هغوی په مقابل کې به د اسلامي صف د قوي کولو لپاره مسلسل کار کېده.

خو له کوم وخته چې د سیاسي، اقتصادي او عسکري مناسباتو په مجال کې د کفر او اسلام خبره له منځه ووتله او د مشترکو مصالحو خبرې را منځ ته شوې، نو حاصل یې دا شو چې نن تقریبا دوه میلیاره مسلمانان په نړۍ کې اوسېږي، خو د کافرانو په نزد په نړیواله سطحه د دین پر بنسټ کوم جلا وجود نه لري چې له دوئ دې د نړیوالو پېښو او تصامیمو په اړه پوښتنه وشي. نن ورځ مسلمانان نه د امنیت د شورې په دائمي غړو کې دي، نه د نړۍ لپاره د مشترکو تصامیمو په وضعه کې څوک د دوئ دین ته اعتبار ورکوي، نه یې د مقدساتو او روا او ناروا احترام کېږي، ځکه چې کفار په دې توانېدلي چې مسلمان هېوادونه او د مسلمانانو حکومتونه د خپلو سیاسي، عسکري، اقتصادي او فرهنګي ارزښتونو په ډګرونو کې ځان ته تابع کړي. نړیوال مقتدر کفري جهتونو اوس د دې ضرورت نهویني چې د قوانینو په وضعه کې له مسلمانو هېوادونو د دوئ د حلال او حرام پوښتنه وکړي، او یا یې دیني ارزښتونو ته اهمیت ورکړي.

تر کومه وخته چې په سیاسي، اجتماعي، عسکري، اقتصادي، فرهنګي او تمدني مجالونو کې د (اسلام) او (کفر) اصطلاحات کارېدل، نو دغو دوو نومونو په همدې مجالونو کې خپل مدلولات او تأثیرات هم درلودل. مسلمانان به یو امت ګڼل کېدل، او کافران به بل امت ګڼل کېدل. خو نن ټول

د گلوبلایزېشن په فرهنګ کې سره یو ډول ګڼل کېږي، او ټول باید یو ډول اصول او معیارونوومني، او دا ځکه چې مسلمانو هېوادونو د معنوي او اجتماعي ارزښتونو له لحاظه د کافرانو په مقابل کې له خپل ځان، خپل تمدن، خپلو معیارونو، خپلو عقائدو، او خپلو باورونو دفاع و نه کړای شوه، او په کفارو یې دا و نه منلی شوه چې دوئ په دې ټولو لحاظونو یو جلا امت دي چې په هر څه کې له نورو جلا احکام او لیدلوری لري.

نن مسلمان هېوادونه د خپل اسلامي، سیاسي، فرهنګي او عسکري هویت بایلودنې له امله د کفارو د نړیوالې منظومې یو داسې جزء ګرځېدلي چې نه بېله اراده لري، او نه څوک د دوئ لپاره جلا محاسبه په پام کې نیسي، بلکې کفري زبرځواکونه چې څه اراده لري دوئ هم د هغوئ د ارادې مطابق چلېږي.

د پورته یاد شوي وضعیت په اړه استاد محمد قطب رحمه الله تعالی خپل کتاب (واقعنا المعاصر) کې دا واضحه کړې چې په کوم وخت کې چې مسلمانانو خپل دین ته د اهمیت په نظر کتل، او دین دوئ ته د ژوند په هر مجال کې معیاورنه وضعه کول، تګلارې یې ورښوولې او د ژوند پر لاره یې د لارې نښې ورته ایښودلې چې څنګه مزل وکړي، په هغه وخت کې به چې مسلمانان له هر څومره لویو فتنو او لړزوونکو طوفانونو سره مخ کېدل، نو دغو لویو طوفانونو به هغوئ تر یوه حده ځپل او په منفي ډول به یې متأثره کول، خو د دښمن د صف برخه به نه ګرځېدل، لکه نن چې مسلمانان په ملیونونو پوځونه لري، خو ټول یې د کفاو لپاره د خپلو اولسونو په خلاف په جنګ اخته دي. نن په ټوله اسلامي نړۍ کې داسې یو رسمي پوځ نشته چې د اسلام په ننګه د کافرانو په مقابل کې ولاړ وي، بلکې ټول یې یا د خپلو ولسونو په خلاف او یا هم د بل مسلمان ګاونډي هېواد په خلاف په جګړو مصرف دي.

د اسلام په تاریخ کې پر مسلمانانو یو په بل پسې خطرناک طوفانونه راغلل، لکه د رسول الله ﷺ له وفات وروسته د ارتداد لویه فتنه چې جزیرة العرب یې و نیو، په لسګونو زره نوي مسلمان عرب مرتد شول، او د اسلامي دولت په خلاف یې بېلابېلې جبهې ونیوې او نېږدې و چې له منځه یې یوسې، خو ریښتیني مسلمانان چې په خپل ایمان ټینګ پاتې شول او د دولت مشر یې ابوبکر الصدیق رضي الله عنه د همدغه ایماني ثبات په نتیجه کې د مرتدینو د ځپلو لپاره یوولس لښکرې د جزیرة العرب بېلابېلو اطرافو ته ولېږلې، او تر یوه کال په کمه موده کې یې د ارتداد فتنه له منځه یووړه او خلک بېرته اسلام ته راوګرځېدل استاد محمد قطب یې په اړه په خپل همدې یاد شوي کتاب کې لیکي چې: په دې وخت کې د مسلمانانو په خپلو عقائدو، اصولو، تعلیماتو او احکامو باندې ایمان دومره قوي و چې د ارتداد غوندې دې لویې فتنې چې نېږدې و ټوله عربي جزیره لاندې کړي ونه لړزولی شول، او نه یې منحل کړای شول.

د ارتداد تر فتنې وروسته د عثمان رضي الله عنه د شهادت فتنه راغله، مسلمانان دوه ټوټې شول، تر دې چې صحابه کرام په خپل منځ کې جګړې ته سره اړ شول، ډېرې وینې توی شوې او فتوحات ودرېدل، خو سره له دې چې دې فتنې خپل لوی منفي تأثیرات درلودل، خو بیا هم چا مسلمانان منحل نه کړای شول، بلکې له دې فتنې بېرته راووتل او تر یوه قیادت لاندې سره راټول شول او بېرته قوي شول.

استاد محمد قطب د عثمان رضي الله عنه له شهادته وروسته د صحابه کرامو تر منځ د پېښو شویو جګړو په اړه وایي چې دغه جګړې د اسلام جګړې نه وې، بلکې د اسلام لپاره جګړې وې، ځکه چې هر جهت ویل چې که زه د قیادت په رأس کې راشم نو اسلام به نوره هم ښه ترقي وکړي. دغه جګړې د

اسلام په مفاهیمو کې د اختلاف پر سر نه وې، بلکې هر جهت ځان داسې ګاڼه چې که سیاسي، اجتماعي او عسکري وضیعت هغسې عیار شي چې دوئ یې غواړي نو مسلمانان به ترقي وکړي، او نظام او دولت به نور هم قوي شي.

د لویو فتنو او لړزوونکو طوفانونو په سلسله کې وروسته صلیبي جګړې راغلې، او د اروپا پادشاهانو د مسلمانو په خلاف د وچې او سمندر له لارې پر فلسطین، شام او مصر لوی یرغلونه پیل کړل، لویې سیمې یې ونیولې، او تقریبا نوي کاله یې په فلسطین او شاوخوا سیمو کې یو دولت او څلور امارته جوړ کړل، خو مسلمانان یې منحل نه کړای شول. دا چې په هغه وخت کې بیا هم مسلمانان د کفارو په مقابل کې پر خپلو ایماني ارزښتونو او دیني معیارونو ټینګ ولاړ ول، نو د عمادالدین زنګي، د هغه د زوی نور الدین زنګي او بیا د صلاح الدین ایوبي رحمهم الله تر قیادت لاندې راپورته شول او تر تاریخي جګړو وروسته یې ټولې سیمې آزادې کړې او اسلامي امت یې د صلیبیانو له شره وژغوره.

تر صلیبیانو وروسته د تاتاریانو او چنګېز لوی طوفان راولوت او له مغولستانه نیولې تر شام پورې زمکې یې لاندې کړې، د مسلمانانو لوی دولتونه یې ونړول، په میلیونونو انسانان یې ووژل، عباسي خلافت یې ړنګ کړ، او پر مسلمانانو یې داسې رعب پریوت چې په هغه وخت کې به ویل کېدل چې که چا درته وویل چې تاتاریانو ماتې وخوړه نو مه یې منه! ځکه چې هغوئ له مغولستانه د فلسطین تر عین جالوت پورې ورسېدل او چا یې مخه ونه نیولی شوه.

چنګیزي فتنې خلافت ونړاوه، د مسلمانانو کتابونه یې د دجلې سیند ته ورواچول چې تر یوې میاشتې یې د کتابونو د تور رنګ له امله اوبه تورې

بهېدې، خو دغې فتنې هم مسلمانان له خپل دين او خپلو معيارونو او د قوت له عواملو پردي نه کړای شول، ځکه چې په هغه وخت د دين داسې علماء پيدا شول چې مسلمانان او د هغوئ حُکّام يې د جهاد ډګر ته راووېستل او د خلکو ايمانونه يې تازه کړل. په هغه وخت کې ايماني معيارونو په مسلمانانو کې داسې قيادتونه وزېږول، او هغوئ يې په داسې عزم سمبال کړل چې د دې لوی طوفان په مقابل کې يې په دوئ کې د درېدو قوت پيدا کړ، او د هغوئ د جهاد او دعوت په نتيجه کې د تاتاريانو د لويې فتنې او طوفان نه يوازې دا چې مخه ونيول شوه، بلکې هماغه وحشي تاتاريان مسلمانان شول، او د اسلامي امت برخه وګرځېدل، او نړۍ وليدل چې څنګه تاتاري طوفان، تاتاري معيارونه، چنګېزي وحشت او عسکريت او لويه تاتاري امپراطورۍ د مسلمانانو د ايماني قوت او د اسلامي معيارونو په مقابل کې ويلې شوه.

د تاتاريانو تر فتنې وروسته د اندلس سقوط راغی او په اورپا کې اسلامي خلافت له منځه لاړ، مسمانان د اندلس پرېښودلو او يا په زور له اسلامه د ارتداد منلو ته مجبور کړای شول. د اندلس اسلامي تمدن او د اسلامي علومو هغه مراکز چې اروپا ورڅخه رڼا واخيسته د مسلمانانو له لاسه ووتل، او مسلمانان بېرته شمالي افريقا (مراکش، تونس، ليبيا، مصر) او حتی بېرته آسيا او د حجاز سيمې ته راغلل، خو اسلام او مسلمانان له منځه نه ولاړل، بلکې د خپل ايماني قوت او اسلامي معيارونو د لرلو له امله د اندلس له سقوطه وروسته بېرته د عثماني دولت په شکل کې دومره قوي شول چې آن د روسيې تر (پترس ګراد) او شرقي اورپا پورې ورسېدل، او د اسلامي نړۍ ټولې سره بېلې شوې سيمې يې له جزيرة العرب څخه تر شمالي افريقا بېرته تر يوه حاکميت لاندې راوستې، او د مديترانې سمندر بېرته يو اسلامي سمندر

وګنلی شو، او په دې ډول عثماني خلافت بیا د اسلام او مسلمانانو د قوت یو مظهر وګرځېد.

## د امت خطرناکه کمزوري له کومه ځایه پیل شوه؟

استاد محمد قطب په خپل کتاب (واقعنا المعاصر) کې په امت کې د فکري کمزورۍ د رامنځته کېدلو او د هغې پر اسبابو او عواملو هم بحث کړی او دا یې واضحه کړې چې ستونزه له کوم ځایه را پیښه شوه؟ د غرب پر وړاندې د ماتې شروع له څه وخته پیل شوه؟

استاد وایي چې مشکل له دې ځایه را پیښ شو چې د مسلمانانو نظامونو او هغو جهتونو چې مسلمانان رهبري کول او په دوئ کې د قوت او آزادۍ احساس ایجادوي، او یا بالعکس په هغوئ کې د شکست او ناتوانۍ روحیه رامنځته کوي، دغو نظامونو پر خپلو باورونو او معیارونو شک وکړ، او له کفارو سره چې څه دي هغه یې غوره و بلل، او هغه ته یې د غاړې ور اوږدولو کوښښ وکړ چې ګومره ښه نظام او تمدن لري! څنګه ښه اخلاق، پالیسۍ، حکومتونه او فرهنګ لري! نو هماغه و چې په هغو کې یې کمال وګاڼه، او په خپلو هغو کې نقصان وګاڼه، ځکه یې نو د غرب تمدن او د هغه فکري، فرهنګي او عقیدوي ارزښتونو ته تمایل پیدا شو، او خپل ارزښتونه او د معنوي قوت عوامل یې له لاسه ورکړل.

استاد محمد قطب وایي تر دې وخته په مسلمانانو کې داسې نه و پیښ شوي چې مسلمانان دې خپلو ارزښتونو، عقایدو، خپل کتاب، پیغمبر، احادیثو، تاریخ او خپلو معنوي او فرهنګي معیارونو ته په کمه سترګه وګوري. نورې کمزورۍ لکه سیاسي استبداد، غلا، ظلمونه، جهالت او جرمونه به وو، سیاسي بې نظمۍ لکه د ابن سبأ یهودي د سیاسي تحریک فتنه، د عراق په ځینې

ښارونو کې د زنجیانو د تسلط فتنه، د جزیرة العرب په ځینې سیمو کې د قرمطیانو فتنه او په شام او فلسطین کې د صلیبیانو په مقابل کې عسکري شکستونه رامنځته شوي وو، خو په هغو وختونو کې امت له روحي او معنوي شکست سره نه و مخ شوی. که به مسلمانان د یو څه وخت لپاره کمزوري هم شول بیا بېرته قوي شول. خو کله چې مسلمانان له روحي او معنوي شکست سره مخ شول، نو بیا یې کمال په هغو معیارونو کې وګاڼه چې له دښمن سره دي، او زوال یې په هغو معیارونو کې وګاڼه چې اسلام معرفي کړي دي. او کله چې د زوال او کمال معیارونه بدل شول، نو سرنوشت هم بدل شو او د وخت په تېرېدو دا امت د بل چا د فرهنګ، تمدن او د بل چا د کاروان برخه وګرځېد، او اوس د امت د ولسونو قافله سالاري داسې څوک کوي چې تقریبا دوه ملیارده مسلمانان یې په سیاست، فکر، اقتصاد، تمدن، اخلاقو او له نړۍ سره په دیپلوماسي او تماس کې په داسې کاروان کې روان کړي چې قیادت یې کفري نړۍ کوي.

نن د مسلمانانو هېوادونه او مسلمان ولسونه د غرب د سیاسي او فکري منظومې برخه ګرځېدلي، او له دې منظومې چې څوک د بېلتون کوښښ کوي پر هغو د بېرته پاتو، مرتجعو، تنګ نظرو، افراطیانو او تروریستانو نومونه اېښودلی کېږي، خو د دوئ بالعکس چې څوک د دوئ په کاروان کې ځغلي هغو ته متمدن، مترقي، روښانفکره او د نړیوالتوب د لارې لارویان ویل کېږي.

نن په پردي کاروان کې ځغاسته په ښو نومونو یادېږي، خو پر خپلو معیارونو ټینګار او خپل اسلامي اصالت ته بېرته ګرځېدلو ته ارتجاع ویل کېږي. کاشکې موږ مرتجع شو چې خپل اصل ته رجوع وکړو، زموږ د ارتجاع په وخت کې زموږ بیرغ پر اندلس (ننی هسپانیې) رپېده.

مدرسه او مبارزه

هغه زمانه چې دوئ موږ ورته مرتجع بولي او موږ ورته په فکري لحاظ رجوع کوو په هغې کې خو د مسلمانانو لښکرو ته روسيې هم جزيه ورکوله. په هغه وخت کې خو به د مسلمانانو لارې په امنيتي لحاظ داسې خوندي وې چې که ښځه به هم له يوه ښاره بل ښار ته تلله نو يوازې به له الله تعالی او بيا د لارې له ځناورو ويرېده، نور داسې څوک نه و چې مخ ته دې يې ودرېږي او د دې پر عزت او يا مال دې تېرى وکړي.

پخوانۍ زمانې ته که موږ ور وګرځو دا خو به زموږ عزت وي. هغه خو داسې زمانه وه چې کله به ورېځې د بغداد پر سر تېرې شوې او باران به يې ونه اورېده، نو د مسلمانانو خليفه هارون الرشيد به ورېځې ته په خندا وکتل او ورته وبه يې ويل: اى ورېځې هره خوا چې ځې لاړه شه، او پر هر ځاى چې اورېږې و اورېږه! خراج دې بېرته ما ته راځي. په دې معنی چې د هغه دولت دومره پراخ و چې که به باران په مصر، ليبيا، الجزاير، مراکش، سوډان او يا هم په ايران، خراسان، بخارا او هند کې هم اورېده نو حاصل يې بېرته بغداد ته ورګرځېده.

ستونزه له دې ځايه هم راپيدا شوه چې له يوې خوا په مسلمانانو کې پرديو معيارونو ته تمايل پيدا شو، او له بلې خوا له د (لا إله إلا الله) له مفهوم سره د مسلمانانو تعامل بدل شو. په دې معنی بدل شو چې مخکې به د (لا إله إلا الله) کليمه د مسلمانانو د دين، سياست، اخلاقو، تمدن، عسکريت او فرهنګ عنوان وه، د (لا إله إلا الله) د جملې دوو رکنونو چې يو يې نفي او بل يې اثبات افاده کوي دا مفهوم درلود چې په نفي سره به د مسلمان دا عقيده او عمل وو چې له حق (إله) پرته د بل هيڅ (إله) له لوري وړاندې شوى دين، حلال او حرام، اخلاق، سياست، تمدن او عسکريت، اقتصاد او هيڅ نه منم، او د کفر او جاهليت په نظر ورته ګورم. او د(إلا الله) د اقرار او اثبات به د

مسلمان په ذهن کې دا معنی وه چې هر هغه څه چې د حق (إله) له لوري راته د عبادت، سلوک، اخلاقو، سیاست، عسکریت اقتصاد او د ژوند تېرولو په هر مجال کې ویل شوي هماغه به منم او کووم.

وروسته بیا د مسلمانانو تعامل له د (لا إله إلاالله) له کلیمې سره داسې شو چې هغې ته یې محض د یو عبارت او یوې جملې په سترګه وکتل، او هغه ورته د یوې عقیدې او دین پر ځای یوه جمله وګرځېده چې یوازې د ثواب او ذکر په حیث په ژبه اداء کېږي، او نور په قانون، سلوک، اخلاقو، اقتصاد، تمدن، عسکریت، اقتصاد، ټولنیزو روابطو او بل هېڅ شي کې تأثیر نه لري.

د دغه غلط فهم او تصور په نتیجه کې د اوسنۍ زمانې د مسلمان حال دا شو چې وایي زه په په عقیده کې مسلمان یم، خو په اقتصاد کې کپیټالست یا سوسیالست یم، (لا إله إلا الله) وایم او مسلمان یم، خو په اخلاقو کې لیبرال یم، یا دا چې(لا إله إلا الله) وایم خو په سیاست کې دیموکرات یم، او یا هم دا چې کلیمه وایم او مسلمان یم، خو په تشریع او تحاکم کې سیکولر یم، الله تعالی ته تحاکم نه کووم او د شرعي دلیل پر ځای د اکثریت رأیې او وضعي قوانینو ته ترجیح ورکووم او رجوع ورته کووم.

د (لا إله إلا الله) کلیمې ته چې د مسلمان د ژوند په بېلابېلو ډګرونو کې خپل احکام او مدلولات لري التزام او تسلیمي ورکه شوه، او یوازې یوه ثوابي جمله وګرځېده، او کله چې له (لا إله إلا الله) سره د مسلمانانو تعامل بدل شو، مسلمانانو خپل معیارونه له لاسه ورکړل، او دین ته یې یوازې یو ډول رواجي او قومي انتساب پاتې شو، چې له عبادت ورهاخوا د کلیمې په مدلول، اوامرو، احکامو او نواهیو عمل پاتې نشو، او حکومتونو مسلمان ولسونه د ژوند په بېلابېلو ډګرونو کې د پردیو معیارونه خپلولو ته تشویق، پر منلو یې مجبور او د هغو په تقدیس یې قانع کړل، او که چا ورسره پردي معیارونه ونه منل هغوئ

یې په مرګونو، بمبارونو، زندانونو او ډول ډول تهدیدونو وګواښل، او د استبداد دغه وضیعت مسلمانو ولسونو ته په پردیو پسې تلل ترقي، خو د مسلمانانو په خپلو معیارونو پاتې کېدل یې هغوئ ته د افراط، تنګ نظرۍ، بنسټ پالنې او عقب ګرایۍ په نومونو ورتلقین کړل.

د دغه ډول حالاتو په نتیجه کې د امت نویو نسلونو له شرعي او عقیدوي ارزښتونو فاصله ونیوه، پردي ارزښتونه یې خپل وګڼل، او د هغو د منلو له امله د مسلمانو هېوادونو پوځونو، ملیشو، پولیسو، سیاستوالو، مکتب، میډیا، پوهنتون، نصابونو، احزابو، تنظیمونو، ټولنو او اخلاقو پردی رنګ واخیست.

استاد محمد قطب د ایماني کمزورۍ په مجال کې یوه بله ستونزه هم یادوي او هغه دا چې په ځینې اسلامي هېوادونو کې له شرعي علومو ناخبره روحانیت ته منسوبو خلکو د قضا او تقدیر په اړه په ناپوهو مسلمانانو کې یو غلط فهم خپور کړ، او هغه داسې چې خلکو ته به یې ویل چې په دنیا کې چې هر څه کېږي د الله د تقدیر مطابق کېږي، او اوس چې غربي مستعمرین پر موږ حاکم شوي دي دا هم د الله تعالی له لوري د تقدیر برخه دي او مقابله یې د تقدیر مقابله ګڼل کېږي.

د تقدیر په اړه دغه ډول جاهلانه افکارو او برداشتونو په ځینې مسلمانو افریقایي هېوادونو کې د غربي مستعمرینو په خلاف د مقاومت احساس کمزوری کړ. همدغو خلکو به له جسماني مرضونو چې هغه هم د الله تعالی له لوري مقدّر وو د علاج په کولو ځان خلاصاوه، او دا کار به یې د تقدیر مقابله نه ګڼله، خو د مستعمرینو مقابله به یې د تقدیر مقابله ګڼله.

د قضا او قدر په اړه دغه ډول منفي تصوراتو ته ځینې خلکو د روحانیت نوم ورکړ، او په دې بهانه یې ځان د جهاد او مبارزې له شرعي مسؤولیته خلاص ګاڼه.

استاد محمد قطب په خپل کتاب (واقعنا المعاصر) کې د ایماني کمزورۍ یو بل اساسي عامل هم یادوي او هغه دا چې د مسلمان ژوند یو ډول موروثي رواجي بڼه غوره کړه او هر څه یې رواجي شول. عبادت د دې لپاره کوي چې پلار، نیکه او ولس یې لمونځ کوي، هغه هم پداسې شکل چې د عبادت په حقیقي معنی نه پوهیږي. یو سړی به اتیا کاله لمونځ کوي خو د لمانځه فرائض او مفسدات به ورته معلوم نه وي، د لمانځه د الفاظو ترجمه به ورته نه وي معلومه. دا خو یو رواجي لمونځ دی، الله تعالی خو له مسلمانانو شعوري مسلماني غواړي. عبادت رواجي شو، سلوک او اخلاق رواجي شول. د ښځې حجاب رواجي شو. د ټولنې له افرادو سره تعامل رواجي شو، لباس رواجي شو، مناسبات رواجي شول، هغه معنوي قوت او اخلاص چې الله ﷻ له خپل بنده ګانو پرې عبادت غواړي کمزوری شو لکه چې فرمايي:

﴿وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ﴾ [البينة: ٥]

ترجمه: (او نه وو ګومارل شوي له دې پرته په بل څه چې عبادت دې وکړي د الله پداسې حال کې چې خالصوونکي دې وي ورته د دین).

په عبادت، سلوک، اخلاقو، سیاست، تمدن او د ژوند په نورو اړخونو او اجتماعي تعاملاتو کې هم د اخلاص او للّٰهیت ځای رواجیت ونیوه. د للّٰهیت معنی خو دا ده چې:

﴿ قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾ [الأنعام:١٦٢]

ترجمه: (ووایه: بې شکه لمونځ مې، قرباني مې، ژوند او مرګ مې د عالمیانو رب ته دي).

خو اوس تقریبا هر څه رواجي شول. کله چې هر څه رواجي شول، نو دین ته هم خلکو د رواج په سترګه وکتل، نه د یوه مکلفیت په سترګه. هر چا د دین

مدرسه او مبارزه

په اړه يو جلا برداشت واخيست، تر دې چې ځينې خلکو د رواجي دين په نامه مضامين هم خپاره کړل.

د پورتني ټول تفصيل خلاصه دا ده چې مسلمانان که د خپل تاريخ په اوږدو کې هر څومره هم له جګړو، مشکلاتو او مادي کمزورۍ سره مخ شوي، خو چې په ايماني لحاظ قوي او پر خپلو معيارونو ټينګ پاتې او خپل معنوي ارزښتونه يې له لاسه نه دي ورکړي، نو له هرې کمزورۍ وروسته بيا راپورته شوي او له ستونزو کامياب راوتلي دي. خو کله چې يې په خپلو معيارونو باورمنه دي کمزورې شوه، نو په سياسي، عسکري، تمدني، اخلاقي او فرهنګي لحاظ د پرديو برخه وګرځېدل، که څه هم چې يوه برخه مسلمانان ټينګ پاتې شول او د مستعميرينو په مقابل کې مبارزې او قتالونه وکړل، خو د هغوئ فعاليتونو ډېر ځای ونه نيولی شو، او لا تر اوسه کفار د اسلامي نړۍ په مقابل کې برلاسي دي.

له پورتني ياد شوي وضعيت څخه د مسلمانانو د راوېستلو د اميد سترګې تر ډېره حده بيا هم د مدرسې او د اسلام د حاکمولو لپاره د فعاليت کوونکو جهتونو پر لور دي؛ او دا ځکه چې د مسلمانانو حکومتونه تر ډېره حده د کفارو تر تأثير لاندې دي، او په مطلوبه سويه د دين د حاکمولو او د غرب د سياسي او فکري تسلط د له منځه وړلو تمه ورڅخه نشي کېدی. او د دې لپاره چې مدرسه بايد دغه لوی کار ترسره کړای شي، نو پکاره ده چې د جمود، بېرته پاتې والي او سطحيت له محيطه راووځي او په ريښتينې معنی د مسلمانانو د ديني او دنياوي قيادت د سمبالولو وړتيا په ځان کې پيدا کړي.

مدرسه او مبارزه

# پنځم فصل

## په دیني مدارسو کې د انقلابي تربیې ضرورت

مدرسه او مبارزه

**علماء مو باید د کومې روحیې او کومو وړتیاوو خاوندان وي؟**

دیني عالم په ټولنه کې د دیني رهبرۍ د منصب له لحاظه لوړه مرتبه او لوی مسؤولیتونه لري، ځکه چې همدی باید خلکو ته د الله تعالی د دین احکام وروښیي، ولس ته د اسلام محاسن بیان کړي، د باطلو افکارو او نظریاتو په خلاف په علمي او فکري ډول مقابله وکړي، د ټولنې افراد باید د باطل له ضرر او خطر څخه باخبره وساتي، د خپلې ټولنې د دیني تنویر او اخلاقي لوړتیا لپاره کار او دعوت خپله اساسي وظیفه وبولي، د علم او فرهنګ د خپرولو له روحیې سرشاره وي، د ټولنې سیاسي، اجتماعي، اخلاقي او رواني نبض احساس کړي، او له سیاسي، نظامي او اجتماعي پېښو سره د حکیمانه شرعي تعامل وړتیا په ځان کې پیدا کړي.

که دیني علماء مو په مطلوب ډول پورتني مسؤولیتونه درک او د هغو د غوښتنو د ځوابولو او د تقاضاوو د پوره کولو عملي وړتیاوې په ځان کې پیدا کړي، نو دیني عالم به په ریښتیني او واقعي ډول د پیغمر وارث او یو قیادي شخص وي. او که په یادو شویو او نورو ډګرونو کې مطلوبه وړتیا ونه لري، نو په همدې ټولو مجالاتو کې به د ډېرو نیمګړتیاوو او تاوانو د پېښېدلو مسؤولیت هم همده ته راجع کېږي.

دیني عالم ته به د پورته یادو شویو مسؤولیتونو ادا کول هغه وخت ممکن وي چې دی په داسې تعلیمي نصاب او نظام د انقلابي شخصیت په توګه وروزل شي چې د دین په اړه پراخ، هراړخیز او متوازن مضامین ولري، د زمانې د دیني، فکري، سیاسي، نظامي او اجتماعي ستونزو د مقابلې پر روحیه عیار شوی وي، او دغه نصاب باید د داسې چا لخوا تدریس شي چې هم د تدریس او تأثیر اهلیت ولري، او هم د اسلام او امت له علیا مصالحو خبر وي.

له تقریباً تېرې نیمې پېړۍ راهیسې چې په افغانستان کې دیني علماوو او د اسلامي فکر خاوندانو جهادي او سیاسي فعالیت ته مخه کړې او تر ډېره حده یې په همدې دواړو ډګرونو کې یې قیادي حیثیت هم تر لاسه کړی دی، دې کار کمونستان، لیبرالان او نشنلستان ډېر پرېشانه کړي او د ولسونو د قیادت له صحنې یې څنګ ته کړي دي. له همدې امله دغو پردیپالو د علماوو او د اسلامي فکر د خاوندانو په خلاف دې تبلیغاتو ته زور ورکړی چې دیني علماوو او په مجموع کې د مدرسې او اسلامي فکر اهل ته پکار نده چې په سیاست کې لتاړ شي، او پکار ده چې دوئ دې په دیني علم، تعلیم، روحانیت او ټولنیزې اصلاح مصروف شي، او د سیاست، عسکریت او حاکمیت ډګرونه دې د همدې کارونو متخصصینوته پرېږدي.

حقیقت دا دی چې پورتنۍ خبره د سیکولرزم پر فکر یوه ولاړه مغالطه ده چې خلک ورباندې غلطول غواړي، او له دې لارې کوښښ کوي چې دین د سیاست، حاکمیت او عسکریت له ډګرونو وباسي او دا هر څه د سیکولرزم په فکر روان کړي.

د غربي فکر پیروانو ته باید وویل شي چې که په افغانستان کې تر جهادي دورې مخکې اسلام حاکم وای، ټولنې مو د امن او استقرار په فضا کې ژوند تېرولی، او د سیاست، نظام او عسکریت چارې مو د مؤمنو او صالحو خلکو لخوا پر مخ وړل کېدای، نو دیني علماوو ته به مو یوازې د ټولنې د دیني قیادت او تنویر وظیفه ور له غاړې وای، خو دا چې دلته نور ټول سیاسي او عسکري جهتونه د ټولنې په سالم قیادت او د صالح نظام په رامنځته کولو کې د خپلو منحرفو افکارو او د دې ملت له ارزښتونو څخه د پردیوالي له امله نه یوازې په مکرر ډول پاتې راغلل، بلکې دلته یې داسې غمیزې او ناورینونه هم وزېږول چې ولس یې ډېره لویه بیه پرېکړه، نو ځکه خو علماوو د خپل شرعي

او اجتماعي مسؤولیت پر بنا د سیاست، او عسکریت ډګر ته راووتل، او له دین، فرهنګ او اجتماعي ارزښتونو څخه د دفاع تر څنګ یې د سیاست، عسکریت، نظام او ملت جوړونې په ډګرونو کې نه یوازې دا چې تبارز وکړ، بلکې په خارق العاده ډول یې د داسې یوه نړیوال پوځي یرغل په خلاف د شریعت د حاکمولو جهاد او د آزادۍ د ګټلو اسلامي ولسي مقاومت هم رهبري کړ چې پر ټولې نړۍ یې د پوځي او اقتصادي برلاسۍ دعوه درلوده.

دا چې علماوو او د مدرسې طالبانو نن د لویو کارونو ترسره کولو ته ملاتړلې، او د نړۍ له لویو قوتونو سره د دین او دنیا په جګړه کې اخته دی، نو پکار ده چې د مدرسې نصاب یې هم هغه افکار او مضامین ولري چې په خپلو لوستونکو کې د انقلابیت روحیه او د قیادت وړتیاوې پیدا کوي.

## انقلابیت په کومه معنی؟

له انقلابیت څخه مقصد هغه سطحي سیاسي او نظامي اقدامات نه دي چې خلک یې د ګوندونو د جوړولو، د کودتاګانو د کولو، د مظاهرو د راوېستلو او یا د (مرده باد) او (زنده باد) د نارو د پورته کولو او یا هم د پردیو د عقائدو او نظریاتو پر بنسټ د فاشستي او پولیسي نظامونو د رامنځته کولو په فرهنګ کې ویني، بلکې انقلابیت په دې معنی چې دیني علماء دې په ځان کې هغه علمي، فکري، سیاسي، اجتماعي، رواني او نظامي وړتیاوې او صلاحیتونه ایجاد کړي د کومو په وسیله چې ټولنه له فکري، عقائدي، اخلاقي، سیاسي، تقنیني او اجتماعي فساد څخه راوباسي او د تدین، آزادۍ، عدل، رفاه او د هر خیر طرف ته یې رهنمایي کړي.

دیني علماء باید د دغه مثبت انقلابیت د فرهنګ او نظام په توسط خپله ټولنه له زاړه او نوي جاهلیت، ظلم، تاریکیو، فقر، خپلمنځي اختلافاتو،

محکومیت، د دین په اړه له بې احساسۍ او د استعمارګرو او د هغوئ د ملګرو له تسلط څخه راوباسي، او د دې ټولو مشکلاتو پر وړاندې د مبارزې فرهنګ او ځواک ولري، او پرېنږدي چې ټولنه او نظام یې د پردیو له لوري اداره شي، اودوئ دی د سیاسي، اجتماعي او فکري تجرید په حالت کې واقع شي.

## دیني علماء څه وخت انقلابي کېدی شي؟

په دیني علماوو کې پورتنی یاد شوی انقلابیت هغه وخت راتلی شي چې د هغه لپاره لاندې دوه کارونه تر سره شي:

۱- دیني علماء باید پر یوه داسې قوي علمي او انقلابي نصاب او تګلاره وروزل شي او پر خپلو عقائدو، مبادیو او ارزښتونو داسې باورمن کړای شي چې نه ورڅخه په هېڅ صورت د تطمیع، منصبونو او خوندونو په بدل کې تنازل وکړي، او نه هم د هغو د پاللو او تطبیق په لاره کې د چا له تهدیده وډار شي، او یا یې په دفاع کې د ستومانۍ او تزلزل احساس وکړي.

۲- دیني علماء باید په انقلابي عمل کې دخیل او مصروف وي، ترڅو خپل عقائد، پلانونه او ارزښتونه د عمل په میدان کې تطبیق کړي چې عملي نتائج پرې مرتب شي، او یوازې د نظریې او خیالي فلسفې په شکل کې پاتې نشي.

دا چې د انقلابي تعلیمي نصاب د مؤثریت لپاره په انقلابي محیط او عمل کې د نصاب د لوستونکو پر دخیل ساتلو څومره عملي نتیجه او مثبت آثار مرتب کېږي د لاندې واقعي مثال په ترڅ کې یې وینو:

په اوس وخت کې ډېر مدارس، لوی لوی علماء او اسلامي تحریکونه او فکري جهتونه د اسلام لپاره فعالیت کوي او خلک روزي، خو د دوئ ټولو پر تربیه او فعالیت دومره آثار نه دي مرتب شوي لکه څومره چې د مرحوم ملا

محمد عمر مجاهد پر نهج او فعالیت مرتب شول. د ده رحمه الله پر نهج او فعالیت یو نظام جوړ شو، د شر او فساد مخه پرې ونیول شوه، د نړۍ د ستر طاغوت مقابله پرې وشوه، علماء پرې راویښ او انقلابي شول، او دین پرې په شرعي معنی تجدید شو.

دا هر څه ځکه وشول چې د ده خبره محض خبره نه وه، بلکي تر شا يې يوه عملي نهج فعالیت کاوه. هغه مرحوم د علماوو لپاره داسې انقلابي محیط برابر کړ چې علماء وکړای شي په هغه کې د اسلام شریعت، فکر او فرهنګ د عمل په میدان کې تطبیق کړي.

د ملا محمد عمر مجاهد عملي نهج یوه ناسنجول شوې تګلاره نه وه چې له مزاج او شخصي ذوق څخه به يې سرچینه اخیستې وه، بلکي هغه به په هره خبره کې د شریعت علماوو ته رجوع کوله، او د رجوع تر څنګ به يې دا هم ورته ویل چې که مې غلط اقدام وکړ او تاسې منع نه کړم، نو د قیامت پر ورځ به زما لاس وي او ستاسو ګریوان.

له پورتني یاد شوي مثال څخه ښکاري چې د فکري نهج او تعلیمي فعالیت تر څنګ چې د عمل میدان موجود وي، نو بیا په واقعي معنی په علماوو کې انقلابیت راځي.

### ولې باید دیني علماء انقلابي شي؟

دا چې ولې باید دیني علماء انقلابي شي؟ او ولې باید په ټولنه کې مثبت بدلون راولي؟ د دې ځواب دا دی چې دا کار د دیني علماوو له اساسي مسؤولیتونو څخه دی. د دیني علماوو مسؤولیت یوازې د مسجد تر امامت او د فتوی تر بیان پورې منحصر نه دی، بلکي هغوئ مسؤولیت لري چې په

مدرسه او مبارزه

ټولنه کې مثبت بدلون راولي، او د دې دلیل د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا حدیث دی چې فرمايي:

«إِنَّ الْعُلَمَاءَ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ، وإِنَّ الْأَنْبِيَاءَ لَمْ يُوَرِّثُوا دِينَارًا وَلَا دِرْهَمًا، إِنَّمَا وَرَّثُوا الْعِلْمَ، فَمَنْ أَخَذَهُ أَخَذَ بِحَظٍّ وَافِرٍ». (رواه أبو داود، والترمذي)

ژباړه: (بې له شکه علماء د انبیاوو وارثان دي، او انبیاوو دینار او درهم په میراث نه دي پرې ایښي، بلکې علم یې پرې ایښی دی، نو چا چې واخیست لویه برخه یې واخیسته).

اوس راځو دې خبرې ته چې آیا د انبیاؤ علیهم السلام علم داسې یو علم وو چې زموږ په څېر به یې یوازې د مسجد امامت پرې کاوه؟ او که داسې علم وو چې د باطل نظامونه به یې پرې ړنګول او یو صالح نظام به یې پرې منځته راووړ. طاغوتان به یې پرې نسکورول او مظلومان به یې راپورته کول. فساد به یې له منځه ووړ او اصلاح به یې خپروله او لوی لوی نظامونه به د دوئ د علم پر بنیاد جوړېدل؟

د انبیاء کرامو علم ژوندی علم وو او پر ټولنه یې خپل اثر پرېښود، د دوئ د علم په نتیجه کې به له یوې جاهلي ټولنې مسلمانه ټولنه جوړه شوه، شرکي تصورات به یې په اسلامي تصوراتو او عقیدې بدل شول، فاسد اخلاق به یې په نیکو اسلامي اخلاقو واوښتل، د عدل او اسلامي نظام قیام، د ظلم او فساد له منځه تلل او د سرتاسري امن راوستل د دوئ د علم نتیجه وه.

نن چې په اسلامي نړۍ کې د دیني علماوو په علم شرعي نظام او عدل نه قائمېږي، د باطل حکومتونه پرې نه نسکورېږي، اسلام خپل اصلي شکل ته نه ورګرځي، کفري نظریات، د کفارو پر نظریاتو او افکارو جوړ شوي احزاب او ګوندونه نه پرې ورکېږي، ولس له فقر، تنګدستۍ او ظلم څخه نه پرې خلاصېږي، ازادي نه پرې حاکمېږي او د مستعمرینو لخوا پر مسلمانانو

تحمیل شوي پوځونه ماتې نه پرې خوري، نو دا په دې معنی ده چې دیني علماء لا اوس هم انقلابي شوی نه دی، علم یې لا هم د مسجد په احاطه کې په غیر فعال شکل بند پاتې دی، د تحول او بدلون هغه علم ورکې په هماغه روحیه نشته کوم چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په میراث پرې ایښی و، او اصحابو کرامو او د دې امت سلفو ورڅخه اخیستی و.

د رسول الله صلّی الله علیه وسلم اصحاب کرام او د هغوئ تابعین به له خپل ژوندي علم سره له مدینې منورې او د عربو له خاورې پلي روانېدل او تر ارمنستان او هند پورې به یې حاکمیت چلېده او د چین امپراطور به ورته جزیه ورکوله. د فتحه شویو سیمو خلکو نه یوازې دا چې د اسلام دین مانه، بلکې د هغه پر اساس به یې خپل نظام او تمدن جوړاوه. دا ټول ځکه تر سره کېدل چې هغوئ ژوندی، انقلابي او نافع علم درلود.

خو نن چې په اسلامي هېوادونو کې د دیني علماوو په علم نظام نه جوړېږي، ټولنه پرې نه اداره کېږي، اقتصاد، سیاست او عدلي نظام نه پرې روانېږي، علت یې دا دی چې یو خو په مدارسو کې علم په ناقص او نامتوازن ډول تدریسېږي، او بل دا چې په مدارسو کې طالبان د عمل، قیادت او انقلابیت په روحیه نه روزل کېږي، بلکې یوازې په دې روحیه روزل کېږي چې یوازې د مسجد امامت دې وکولی شي او یا دې هم همدغه لوستل شوي کتابونه بېرته نورو ته تدریس کړای شي.

که چېرې لا هم د دیني علماوو رابطه له علم سره داسې وي چې معلومات له کتابه ذهن ته نقل کړي، او له ذهنه یې بېرته کتاب ته نقل کړي او کتاب بیا په الماری کې کښېږدي او د باندې په ټولنه کې د خلکو پر ژوند د بل چا حاکمیت وي، د بل چا افکار، فرهنګ او قوانین مسلط وي، نو په دې ډول علم نه تحول راتلای شي، او نه هم مثبت بدلون ممکن دی.

د نن ديني علماوو د خپلو مدارسو نصاب ډېر ساده او د ډېرو وړو او ساده اهدافو د تحقق لپاره وضع کړی دی، پداسې حال کې چې د افغانستان او په هغه کې د اسلام او مسلمانانو وضعيت په تعليمي نصاب کې د ژور او ستراتېژيک بدلون او د پراخو اسلامي مفاهيمو د ورداخلولو تقاضا کوي.

## ديني علماء يوازې د مساجدو امامان، که د ديني او سياسي دواړو قيادتونو اصلي وارثان؟

په اسلام کې سياسي او ديني قيادت دواړه د داسې چا مسؤوليت دی چې په دين پوه وي. د دې خبرې دليل دا دی چې د اسلام ستر پيغمبر محمد صلی الله عليه وسلم هم د الله تعالی رسول و، هم د مسلمانانو ديني قائد وو، او هم يې د دولت مشر وو. هغه هم د مدينې منورې د مسجد امام و، او هم يې د مدينې منورې له مسجد څخه د اسلام د خپراوي او د باطل د له منځه وړلو لپاره لښکرې لېږلې. هم يې دنيا سمبالوله او هم يې دين. هم يې مسلمانانو ته حلال او حرام او د دين احکام ورښودل او فتوا يې ورکوله، او هم يې عدلي او جزايي احکام تطبيقول. له دې ټولو معلومېږي چې لکه څنګه چې د دين او دنيا د دواړو د چارو سمبالول د پيغمبر صلّی الله عليه وسلّم وظيفه وه همدغه وظيفه له هغه مبارک څخه د هغه د علم حاملينو او د هغه وارثينو ته چې علماء دي هم ورپاتې ده.

د رسول الله صلی الله عليه وسلم په وخت کې داسې نه وو چې ديني قيادت دې په مسجد او دارالإفتاء کې وي، او دنيوي قيادت دې په ماڼۍ کې له کوم پادشاه سره وي، بلکې دا دواړه قيادتونه د رسول الله صلی الله عليه وسلم په لاس کې ول.

تر رسول الله صلی الله علیه وسلم وروسته د امت تر ټولو عظیم شخص ابوبکر صدیق رضی الله عنه هم د مسجد امام و او هم د مسلمانانو پوځي سرلښکر و چې په یوه وخت کې یې یوولس لښکري د مدینې منورې له مسجد څخه د ارتداد د فتنې د محوه کولو په مقصد ولیږلې.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم دویم ملګری عمر فاروق رضی الله هم همدا ډول هم د مسجد امام و، او هم د مسلمانانو امیر و. هغه رضي الله عنه د مدینې له مسجده د کسری او قیصر د امپراتوریو د راپرځولو چارې تر سره کولې او لښکرې یې تر شرق او غرب پورې فاتحانه روانې وې. هغه یو داسې حاکمیت قائم کړی وو چې کافران ترې په ټوله نړۍ کې له ویرې لړزېدل. هغه د احتساب سیاست هم له مسجده پلی کاوه او د خپلو والیانو او ماتحت مامورینو سره یې د (مِنْ أَيْنَ لَكَ هَذَا؟) (دا دې له کومه کړل؟) سیاست هم له مسجده عملي کېده، چې همدې جملې یې د خلافت له ټول قلمرو څخه د هر فساد بېخ وېستلی وو.

له مسجد او امامت سره د لومړي خلیفه ابوبکر صدیق او امیر المؤمنین عمر رضي الله عنهما تړاو دومره ټینګ و چې سیاست د مسجد له امامته مصروف نکړای شول، ان تر دې چې عمر رضي الله عنه خو د مسجد په محراب کې په شهادت هم ورسېد.

درېیم خلیفه عثمان رضي الله عنه هم د مسلمانانو دیني پېشوا او د مدینې منورې د مسجد امام و، هم د داسې اسلامي دولت سیاسي زعیم او امیرالمؤمنین و چې له شمالي افریقا نیولې تر خراسان، ارمنستان او د هند تر پولو یې فاتحې لښکرې خپرې وې.

څلورم خلیفه علي رضي الله عنه هم خپل ټول نظام له مسجده اداره کاوه، او په دې ډول یې عملا مسلمانانو ته ورتلقینوله چې د مسلمانانو د سیاسي

قیادت مرکز هم مسجد دی، او د عبادت مرکز یې هم مسجد دی. لنډه دا چې د راشده خلافت په ټوله زمانه کې د مسلمانانو سیاسي او دیني قیادت له مسجده تر سره کېده او د مسجد امام به ستر اسلامي دولت اداره کاوه.

د اسلام په تاریخ کې چې هر کله چې د مسلمانانو دیني او سیاسي قیادت یو ځای شوی دی اسلام تر شرق او غربه پراخ شوی دی، خو کله چې سیاست له مسجد څخه بیل شوی او مانۍ ته ننوتی نو بیا مسلمانان کمزوري شوي، د شریعت په تطبیق کې سستي شوې، سیاسي حکام پخپلو کې په اختلافاتو کې اخته شوي، فتوحات ټکني شوي، په ډېرو حالاتو کې سیاست له سمې لارې د انحراف لوري ته مخه کړې، اسلامي دولت کمزوری شوی، او مسلمانانو د اندلس، شرقي او غربي ترکستان او اسلامي هندوستان په څېر لویې سیمې له لاسه ورکړې دي، په ملیونونو مسلمانان له دیني خسارې سره مخ شوي، د صلیبیانو، کمونستانو او هندوانو تر تسلط لاندې راغلي دي، او د مستعمرینو تر حاکمیت لاندې په مسلمانو ټولنو کې د کمونیزم، ډیمکراسۍ، لیبرالیزم، نشنلزم، هیومنیزم او د معاصر جاهلیت ډول ډول نظریات خپاره شوي دي. او دا هر څه ځکه پېښ شوي چې سیاسي قیادت د هغو خلکو له لاسه وتلی چې د سیاست، نظام او عسکریت چارې یې د دین مطابق ترسره کولې.

## انقلابي دیني علماوو څه وکولی شول؟

کله چې دیني او سیاسي قیادت تر اوږدې مودې وروسته یو ځل بیا د دیني علماوو لاس ته ولوېد نو په اسلامي نړۍ کې سیاسي او نظامي وضعیت داسې تغییر وکړ چې د ټولې دنیا کفار د مجاهدو علماوو په مقابل کې سره یو شول، او د هغوئ په خلاف یې داسې خونړۍ جګړه پیل کړه چې تر نړیوالو جګړو وروسته تر ټولو لویه جګړه وه.

د شوروي اتحاد او کمونستانو تر ماتې وروسته به خلکو ويل چې دنيا د غرب په ګټه يو قطبي شوه، خو د غرب په مقابل کې په ديني او نظامي لحاظ په متانت د ديني علماوو د درېدلو په نتيجه کې دا دی نړيوالو وليدله چې دنيا د سياسي او ديني تفکر او نظام له لحاظه بېرته دوه قطبي شوه چې په يوه خوا کې يې علماء دی، او په بله خوا کې يې هغه ځواک دی چې ځان ورته د نړۍ يو ازينی قطب ښکارېده.

د سياسي او ديني تفکر د حاکميت د نوعيت له مخې د نړۍ دوه قطبي کېدل هغه وخت ممکن شول چې علماء د انطوائيت (په ځان کې د پېچل کېدو) له تفکر او محيط څخه راووتل، او د فکر او مبارزې په ډګر کې يې په هند کې د شيخ الهند محمود الحسن ديوبندي، په ليبيا کې د محمد بن علي السنوسي او عمر المختار، په المغرب کې د محمد بن عبدالکريم الخطابي، په الجزائر کې د عبدالحميد بن باديس، په مصر کې د حسن البنا، په افغانستان کې د جلال الدين حقاني او د هغه د نورو مجاهدو علماوو ملګرو او بالآخره د ملا محمد عمر مجاهد او په اسلامي نړۍ کې د نورو انقلابي علماوو په شکل خپل له لاسه وتلی ځای بېرته اشغال کړ. او چې کله يې بېرته د انقلابيت، سياست، او جهاد په ډګر کې استقامت وښود، نو هماغه وو چې د دنيا لويو قوتونو يې په مقابل کې نظامي ماتې وخوړه.

## افغان ديني علماء بايد ولې تر نورو ډېر انقلابي وي؟

دا چې افغان ديني علماء ولې بايد د نورو اسلامي هېوادونو تر علماوو ډېر انقلابي وي دلائل يې په لاندې ډول دي:

۱- د نورو اسلامي هېوادونو عالمانو چا يوازې د مسجد سنبالول خپل مسؤوليت ګڼلی او له بل څه سره کار نه شته. چا يوازې خانقاه سنبال کړې او

د دین د روحاني اړخ پالل او د خلکو اصلاح یې خپل کار ګڼلی. ځینو یوازې تدریس او تعلیمي خدمات په غاړه اخیستي او د علماوو پر روزلو یې اکتفا کړې ده. یوې بلې برخې یوازې تألیف، تحقیق او ترجمې ته کار ویلی او په کوم آرام ځای کې د اسلامي مبارزې له نورو چارو ورته ګوښی ناست دي او همدا یې خپله مشغله ګرځولې ده. خو افغانو دیني علماوو ډېر لوی کارونه لکه د ولس د خلکو فکري تنویر، د باطلو افکارو او احزابو په خلاف جګړه، سیاسي مبارزه، حکومتداري، د ټول هېواد لپاره قانون جوړونه او د شریعت تطبیق، عصري اداره او د فساد له منځه وړل، له نړیوالو سره اسلامي تعامل او ډپلوماسي، د هېواد اقتصادي بیا جوړونه او صنعتي کول، د هېواد او ولس د دیني، تاریخي او اجتماعي ارزښتونو ساتل او پالل، د زبرځواکو مهاجمو او اشغالګرو دولتونو په خلاف په لسګونو کلونه مسلحانه جهاد او دې جهاد ته په مادي او معنوي لحاظ د ملیونونو خلکو تیارول، د خپل څلوېښت ملیوني ولس قیادت او هغه ته د امنیت فضا برابرول، د اسلامي نړۍ مسلمانانو ته د اسلامي نظام یو ښه او کامیاب مثال ورښودل او دېته ورته نور لوی کارونه خپل مسؤولیت ګڼلي دي، او په دې ټولو ډګرونو کې د فعالیت زمینه هم ورته برابره ده، او په ملیونونو مسلمان ولس یې ترشا ولاړ دی، پداسې حال کې چې په نوره اسلامي نړۍ کې نړۍ کې دیني علماء له دغو فرصتونو بې برخې دي، او د ژوند په ټولو ډګرونو کې له تأثیر ګزارۍ محروم کړای شوي او هر څه ترې سیکولرو جهتونو تر خپل کنټرول لاندې نیولي دي، نو ځکه خو باید افغان ملا تر نورو زیات د سیاسې او انقلابي وړتیاو خاوند وي.

۲- په ټوله اسلامي نړۍ کې د دیني علماوو په خلاف دومره دښمنان نه دي راټول شوي لکه څومره چې د افغان دیني علماوو په خلاف راټول شوي دي.

د افغان ديني علماوو سياسي، عسکري، فکري، او اجتماعي تاثير او د افغانستان ستراتېژيک موقعيت ته په پام سره دلته د ديني علماوو په خلاف داسې نړيوال پوځي تړون جوړ شوی وو او د کفري نړۍ دولتونو له آسيا، اروپا، استراليا او امريکا او کاناډا ورکې په لکونو پوځونه، پرمختللې سپکې او درنې وسلې، زمکني، هوايي، سمندري عصري جنګي وسائل، استخباراتي ادارې، زوروره تبليغاتي ميډيا، څېړنيز مرکزونه او په بېلابېلو مجالاتو کې په لسکونو زره روزل شوي متخصص کدرونه راجمع کړي وو، او په زرګونو مليارده ډالر يي د ديني علماوو او د هغوئ د سياسي او عسکري فکر د پېژندلو او حذفولو په مقصد مصرف کړل. دا هر څه په دې دلالت کوي چې د نړۍ کفار او د هغوئ مسلمان ډوله ملګري په دې سيمه کې د ديني علماوو له تأثيره په وېره کې دي.

۳- د دين دښمنانو دلته له سياسي صحنې د ديني علماوو د حذفولو او يا کمزوري کولو په هدف د هغوئ په خلاف د هغوئ د خپل ولس د را پاڅولو لپاره ډېرې هڅې او ډېر مصرفونه وکړل، او د اردو، استخباراتو، پوليسو اربکيانو او بېلابېلو نورو ارګانونو په چوکاټ کې په لکونو خلک د ديني علماوو او د هغوئ د سياسي فکر په خلاف وجنګول.

کله چې موږ د افغان د ديني علماوو د مقابل صف عسکري، مادي، تبليغاتي او سياسي قوت او د دښمنۍ خطرناکتوب او هر اړخيزوالي ته ګورو، نو دا هر څه له افغان ديني علماوو د دې غوښتنه کوي چې هغوئ دې د سياست او انقلابيت په ټولو ډګرونو کې غښتلي وي، ځکه چې دښمن د دوئ نظام او حکومت ور ړنګ کړی و، مدرسه يې نړولې وه، محراب يې اشغال کړی و، د ولس د اجتماعي جوړښت د بدلولو هڅې يې کړي وې، د دوئ د ولس فرهنګ يې ورتبديل کړی و، د دوئ د فکر او عقيدې پر خپراوي يې بنديز

لګولی او له ولس څخه د دوئ د تجرید په مقصد یې ټول وسائل کارولي و، نو چې اوس هم دیني علماء نه انقلابي کېږي، او په راتلونکي کې ټولنې ته د علماوو د یوه انقلابي او قیادي نسل د روزلو په مقصد مدرسې ته یو انقلابي او اړخیز تعلیمي نصاب نه وړاندې کوي، نو لویه تېروتنه به یې کړې وي.

پورتني وضعیت ته په پام سره به یا د نظام د جوړولو، د شریعت د تطبیقولو، د ولس د استقلال او د خاورې د آزادۍ ساتلو، د اقتصادي انکشاف، د اسلامي ولسپالنې، دیني او اخلاقي ارزښتونو د خوندي کولو او نورو لوړو مقصدونو د تحقق لپاره په ځان کي وړتیاوې پیدا کوو، او یا به هم د خپلو مسؤولیتو د ښه نه ترسره کولو له امله د اسلام د بدنامۍ ذریعه ګرځو. ځکه چې موږ په هر څه کې اسلامي اسلامي چیغې وهو، خو کارونه به مو په اسلام برابر نه وي.

موږ چې له د دې لویو کارونو لپاره له مدرسې راوتلي یو او دومره لوی ډګرونه مو اشغال کړي دي، او د ټولې دنیا د نظامونو او قوانینو په خلاف مو د جګړې، سیاست، اقتصاد، عسکریت، امنیت، نظام، تعلیم، اخلاقو او د ولس د اجتماعي او سیاسي قیادت په ساحو کې بېله لاره نیولې ده، او د دې ټولو مجالونو خپلول مو هدف دي، پداسې حال کې چې د مدارسو تعلیمي نصاب کې مو د دې اهدافو او موضوعاتو په اړه یو نصابي کتاب چې له طالبه ورکې امتحان واخیستل شي هم نشته، نو دغو اهدافو ته به د علماوو رسېدونکي نسلونه څنګه تیاروو؟

د ایراني شیعه انقلابي علماوو سره د عقائدي او مذهبي اختلافاتو له لرلو سره که هغوئ او د هغوئ انقلاب ته د یوه مثال په ډول وګورو، نو وینو چې هغوئ هم له دیني مدرسو راپورته شول او د خپلې سیاسي او مذهبي عقیدې مطابق یې انقلابي فعالیت وکړ او حکومت یې جوړ کړ. خو دا چې هغوئ په ځان کې د نظام چلولو او معاصر انقلابیت وړتیاوي پیدا کړې، نو تر ننه یې نظام

قائم دی، پر خپلې خاورې، فضا، بحر خپل تسلط لري، د قوي عسکري او عصري صنعت خاوندان دي او د هېچا پروا نلري. خو موږ افغانانو که څه هم چې په عسکري جګړو کې تر هغوئ ډېرې قرباني ورکړې، او د اسلامي نظام د اقامې لپاره مو په تېرو څه باندې څلوېښتو کلونو کې ډېره لویه بیه پرې کړه، خو جهادي تنظیمونه مو په پای کې بېرته د دښمن په صف کې ودرېدل. نو د دې لپاره چې ناکامې تجربې بیا تکرار نشي افغان دیني علماء باید دا ځل په ځان کې پوره او ریښتینې انقلابي وړتیاوې پیدا کړي.

مدرسه او مبارزه

# شپږم فصل

# افغانستان د غربي فرهنګ او سیاسي تسلط په لوی سمندر کې یوه ناتسخیر شوې جزیره

مدرسه او مبارزه

**د افغانستان ساتنه د ديني مدارسو او علماوو وظيفه:**

له تېرې يوې نيمې پېړۍ راهيسې غربيانو د شرقي او جنوب شرقي آسيا هېوادونه، مسلمانه افريقا، عربي نړۍ، لوی هندوستان او د منځنۍ آسيا هېوادونه تر خپل فرهنگي او فکري تاثير لاندې وروستلي دي. د دغو هېوادونو خلک تقريبا په هر لحاظ د غربيانو په رنگ کې رنگ شوي دي، خو د دې هر څه په خلاف افغانستان او افغانان تر ډېره حده د غرب له فکري او فرهنگي تأثيره ليرې پاتې دي، چې دغه ليرېوالي هر وخت د غربيانو په خلاف په افغانانو کې د مقاومت او له هغو سره د پيوند نه اخيستلو روحيه پياوړې کړې ده.

غربيان د خپلو ديني، سياسي، اقتصادي، پوځي او فکري فرهنگي عزائمو له مخې د افغانستان په څېر په جيوپولوټيک او ستراتېژيک لحاظ يو مهم هېواد پداسې حالت کې نشي زغملی چې دلته دې د غربي قوانينو په عوض اسلامي شريعت د ټولنې ژوند تنظيموي، په سياسي لحاظ دې اسلام حاکم وي، او له نړيوالو سره دې د غرب د معيارونو پر اساس نه، بلکې د اسلام د معيارونو پر اساس تعامل کوي، په شعوري او عملي لحاظ دې دلته خلک د اسلامي جهاد لپاره وړتيا ولري، او جهاد، استشهاد، د بشري ژوند لپاره اسلامي لېدلوری، اسلامي اخلاق، له کفارو سره دښمني او له هغوئ کرکه، د اسلامي نړۍ د وحدت تصور، او د غرب له سياسي او فکري منظومې څخه د آزاد اوسېدلو تصور دې د دې هېواد د خلکو د فکر او فرهنگ منځپانگه تشکيلوي او د غربيانو سياسي او پوځي تسلط ته دې نه تسليمېږي.

د پورته يادو شويو عواملو له امله غربيان افغانستان د خپل فرهنگ او سياسي تسلط په خپل لوی سمندر کې د يوې نا تسخير شوې جزيرې په حيث نشي منلی، نو ځکه خو يې د دې جزيري د تسخيرولو لپاره تر دوه زره مليارده ډېر

ډالر مصرف کړل، او لا یې اوس هم له بېلابېلو لارو مصرفوي. او تر هغه به دلته خپلو هر اړخیزو تخریبي فعالیتونو ته دوام ورکوي چې پر دې خاوره د ریښتینې اسلام د حاکمیت د تداوم مخه ونیسي.

له پورتني هدفه به غربیان هغه وخت لاس پر سر کېږي چې دلته یو داسې قوي فکري، اقتصادي او عسکري ځواک تبارز وکړي چې غرب پر هغه له غالب کېدلو نا امېده شي او پر دې ساحه د تسلط فکر له ذهنه وباسي چې الحمد لله د اسلامي امارت په بیا حاکمېدلو په افغانستان کې د همدغه ډول یوه قوت د تبارز لپاره لار هواره شوې ده.

غربیانو د خپل اشغال په وخت کې په افغانستان کې هم په خپله ګټه د ژورو تغییراتو د راوستلو او د دغې نا تسخیر شوې جزیرې د تر خپل پوځي، سیاسي، فکري او سایکالوژیکې تسلط لاندې د نیولو په مقصد له اشغال سره سم مهم او خطرناک اقدامات تر سره کړل، او د خپل پراخ سیاسي، تعلیمي، فکري او فرهنګي فعالیت او پراخو مصاریفو له لارې لاندې مهم او خطرناک نتائج لاسته وروړل:

۱- په افغانستان کې یې یو سیکولر او په غرب پورې تړلی نظام قائم کړ چې د هغه له لارې یې د افغاني ټولنې هر څه تر خپل تأثیر لاندې ور وستلي وو.

۲- د افغانستان پر زمکه او فضا یې خپل تسلط ټینګ کړی و. د افغانستان فضا یې د خپلو مخابراتي وسائلو او ټاورونو په توسط اشغال کړې وه، او د تأثیر او پیغام رسونې ټول وسائل او ادارې یې په خپله ګټه عیارې کړې وې.

۲- په سیاست، نظام او قوانینو کې یې د دین د حاکمیت مخه نیولې وه، او پرته له دې چې د سېکولرېزم نوم ورباندې کېږدي سیاست، نظام، قوانین او د ټولنې فکري او اجتماعي تشکیلول یې د سیکولرېزم په روحیه عیار کړي وو.

۳- داسې خلک يې پر هېواد مسلط کړي وو او د هېواد چارې يې ور وسپارلې وې چې د ډالرو او منصب په بدل کې له ديني ارزښتونو، آزادۍ، او خپلواکۍ تېر شوي وو او غدر، خيانت، غلاوې، اخلاقي او مالي فساد، د اشغالگرو ملگرتيا، د خپل ولس په خلاف جنگېدل، د آزادي غوښتونکو مجاهدينو په خلاف جگړه، د اشغالگرو په گټه د قوانينو تصويبول او د هغوئ په هر ډول جناياتو يې سترگې پټې کړې وې.

۴- هغه جهادي رهبران چې يو وخت کې يوازې افغانانو نه بلکې ټولې اسلامي نړۍ ورڅخه دا توقع لرله چې د جهاد په نتيجه کې به نه يوازې دا چې په افغانستان کې اسلامي نظام جوړ کړي، بلکې په ټوله دنيا کې به محکومو او مظلومو مسلمانانو ته د آزادۍ او جهاد الهام ورکړي، غربيانو او امريکا هغوئ په خپلو استخباراتي، سياسي، رواني، عسکري او مالي نيرنگونو دومره وړوکي، ذليل، له خپل فکري ماهيت او سياسي هويته بېزاره، او د خپلو ارمانونو له بامه داسې راکښته کړل چې يوازې په دې يې قناعت ورسره وکړ چې په يوه غلام، اجير او سيکولر پارلمان کې د وکيل کېدلو لپاره په کمپاين کولو او له سيکولرو احزابو او اشخاصو سره پر ائتلاف کولو يې اکتفا وکړه، او د دې لړ څه په مقابل کې د هغه نظام تر څنگ او يا ترسيوري لاندې ودرېدل چې اشغالگرو غربي کفارو جوړ کړی و، او همهغوئ د خپلو مقاصدو لپاره چلاوه. په دې کار سره امريکا تقريبا ټول پخواني جهادي تنظيمونه په سيکولرو او ډېموکراسۍ پلوو تنظيمونو تبديل کړل او د مجاهدينو په خلاف يې په خپل صف کې ودرول.

۵- د افغانستان ټول تعليمي نصابونه يې په تدريج د غرب د اهدافو او ارمانونو د تر ترسره کولو لپاره عيار کړي وو، او يو داسې نسل يې تربيه کړ چې ډېرو افرادو او ټولنو ته يې تر اسلامي ارزښتونو غربي ارزښتونو اهميت درلود، او

هغو ته يې خپل التزام او وفاداري ښودله. په دې کار سره غربيانو د افغاني ټولنې د يوې لويې برخې فرهنګ او اجتماعي ارزښتونه ور تبديل کړل، چې د دې پديدې منفي تأثيرات به لاتر ډېره وخته دلته په يوه او بل شکل دوام لري.

٦- په ټولنه کې يې اعتقادي، اخلاقي او اداري فساد ته رواج او علنيت ورکړی و.

٧- افغانه ټولنه يې په قومي، ژبنيو او سياسي بنسټونو ووېشلې وه، او پرګنې يې د دې پرځای چې د دښمن په مقابل کې ودرېږي يو د بل په مقابل کې ودرولې وې.

٨- پخواني کمونستان او د الحادي افکارو پلويان يې دا ځل د دېموکراسۍ تر چتر لاندې بيا راټول کړي او په بېلابېلو دولتي او مؤسساتي ارګانونو کې يې په کار ګومارلي وو، او په هېواد کې يې د سياسي فعاليت زمينه ورته برابره کړې وه.

٩- د روښنګرۍ، هيومانيزم (الحاد)، ريشنلزم (د وحيي پرځای يوازې عقل ته تحاکم) او د (آزاد تفکر) تر نامه لاندې يې د غرب د لېبرالو او الحادي نظرياتو، دين دښمنه فلسفو او فکری مذاهبو د خپرلوو لپاره فکري او ادبي ټولنې رامنځته کړې وې، او له دين او ملي ارزښتونو ناخبره نوي ځوانان يې ورکې ښکار کړي او د دين په مقابل کې درولي وو.

١٠- د افغانستان په تاريخ کې يې د اول ځل لپاره (مسيحي اقليت) را منځته کړ، او ډېر مرتد شوي افغانان يې ورکې د افغانستان په داخل او خارج کې بسيج کړل او مسيحيت ته يې په دعوت وګومارل، چې دې کار ته تر بل چا زيات د اشرف غني نصرانۍ ښځې رولا غني او د هغې نصراني ټيم په ارګ کې پوخ سنګر نيولی و.

**اوس څه کول پکار دي؟**

د دې لپاره چې په افغاني ټولنه کې د غرب له فکري تسلط څخه د افغانانو د خلاصلولو په مقصد د واقعي قوت عوامل پيدا شي، او لکه څنګه مو چې خپل هېواد د کفارو له پوځي اشغاله آزاده کړ، همدارنګه مو ټولنه هم د هغوئ له فکري اشغاله آزاده کړو، زموږ حکومت بايد په تعليمي، فکري، سياسي او اجتماعي مجالاتو کې د سطحيت له ليدلوري د وتلو، او د مبارزې د دوام لپاره د ستراتېژيک تفکير او د فکر، فرهنګ او تعليمي نصابونو په ډګرونو کې دقيقو، سنجول شويو اقداماتو ته ضرورت لري، چې کېدی شي د دغه ستراتېژيک تفکير ځيني اساسي خطوط په لاندې ډول وي:

۱- د ديني تعليم يو داسې نصاب بايد تيار او تطبيق شي چې د دې زماني د ديني او فکري ضرورتونو د ځواب ويلو وړتيا ولري. مفردات او مضامين يې بايد د داسې باتجربه، انقلابي، د زمانې له سياسي، عسکري، فکري او ديني نبضه باخبرو او د مبارزې په استراتېژۍ د پوهو علماوو لخوا تعيين شي چې هم په ديني علومو پوهېږي او هم په عصري علومو، او هم دا ورمعلومه وي چې په اوس وخت کې د مدرسې په طالبانو کې د قيادي صلاحيتونو د پيدا کولو او د دې زمانې د کفارو د مقابلې لپاره په نصاب کې کومو علومو ته په کومه اندازه ضرورت دی؟ ترڅو د همدغه ډول نصاب له لارې په مدرسه او د هغې په فارغانو کې د جهاد، نظام جوړولو، حکومت کولو، ولس پالنې او اصل اسلام ته د بېرته ورګرځېدنې روح ور پو کړي.

او که چېرې دغه ډول پوخ او ستراتېژيک ديني تعليمي نصاب رامنځته نشي، نو کېدی شي چې پردي له موږ څخه زموږ د ولس يوه لويه برخه خلک په فکري لحاظ اغوا او په پرديو افکارو، نظرياتو او عقائدو يې قانع کړي. او

علت به یې هم دا وي چې نه به موږ په مطلوب شکل او د عصر په ژبه خلک مخاطب کړي وي، او نه به په نصاب کې هغه علوم او مفاهیم لرو چې د دې زمانې د طالب العلم علمي تنده پرې ماتېږي.
تعلیمي نصابونه جوړول د یو څو علماوو او یا مدارسو د مدرسینو کار نه وي، بلکې هغه د تعلیم او تربیې د هغو متخصصینو کار وي چې د همدې کار لپاره یې لوړې زده کړې وي، او په دې پوهېږي چې څنګه په موجوده زمانه کې د خپل ولس او نظام دیني، سیاسي، فکري، فرهنګي، اجتماعي او تمدني ضرورتونه د یو هراړخیز او سنجول شوي نصاب له لارې پوره کړي، نه دا چې د څو سوه کلونو مخکې زمانې خلکو ته لیکل شوي کتابونه پرته له کوم تسهیل، تبسیط، تفصیل، تهذیب، اختصار، ترجمې او پرته له دې چې د اوسنۍ زمانې د خلکو فکري او علمي استعدادونه دې په پام کې ونیول شي راواخلي او د تعلیمي نصاب په نامه یې طالب العلمان په لوستلو مکلف کړي.
د عقل، انصاف او واقعیت منلو تقاضا دا ده چې پخواني ټول مطلوب علوم دې په نوي شکل، نویو مقدارونو، نویو تدریسي طریقو، نویو مثالونو او معاییرو تدریس شي، ترڅو له یوې خوا خلکو ته اسلام د هرې زمانې دین ښکاره شي، او داسې فکر ونشي چې هغه د پخوانۍ زمانې دین دی چې موږ ته په میراث راپاتې دی، او له بلې خوا طالب العلمانو ته د تعلیمي نصاب د علومو زده کول اسانه او ممکن شي.
۲- د هغه نظام او هغو سیاسي او فکري جهتونو د مقابلې لپاره باید جدي، هر اړخیز او مسلسل کوښښونه او مبارزه وشي چې په بېلابېلو ډولونو د کفارو د سیاسي، اجتماعي او فلسفي افکارو د خپرولو تر شا ولاړ دي. او دا ځکه چې که دوئ په اسلامي ټولنه کې د پردیو د افکارو د خپرولو لپاره په پراخ ډول د کار تر شا ولاړ نه وي، نو دښمن مو په مخامخ ډول هر فرد نشي مخاطبولی،

او نه مو د ټولنې ډېر خلک تر خپل تاثیر لاندې راوستلی شي. د دغې مقابلې لپاره په حکومت او علماوو کې د فکري مقابلې د وړتیاوو پیدا کول تر ټولو ضروري کار دی.

۳- د دیني او دنیاوي تعلیم له دواړو نصابونو څخه باید په پوره زیرکتیا او جدیت ټول هغه مفردات او مضامین ووېستل شي چې د کفارو له فکر، فرهنګ، سیاست او د هغوئ له اجتماعي او فلسفي ارزښتونو سرچینه اخلي، او زموږ نوي نسل ته له هغو سره پیوند ورکوي.

۴ – د دیني او دنیاوي تعلیمي مؤسسو او مدارسو په نصابونو کې باید د کفر او ګمراهۍ د معاصرو ډولونو، اشکالو او نظریاتو لکه کمونیزم، سیکولرزم، ډیموکراسۍ، لیبرالیزم، هیومنیزم، نشنلزم، ګلوبلایزیشن، وضعي قوانینو او د غرب له لوري د جوړ شوي (معتدل اسلام) د ردولو په اړه مضامین داخل کړای شي، او په معقول، مدلل او مؤثر ډول تدریس شي.

موږ باید په خپلو نصابونو کې د خپلو لوستونکو لپاره د کفارو د عقیدوي، سیاسي او اخلاقي انحطاط معاصر او ښکاره مثالونه وړاندې کړو، ترڅو کفار زموږ نوي نسل ته د تقلید وړ مثال او مقتدا په حیث نه، بلکې د داسې خلکو په حیث ورښکاره شي چې باید هدایت ورته ورورسول شي، او له کفر څخه یې نفرت وشي. او دا کار ځکه ضروري دی چې نن غرب کوښښ کوي چې د مسلمانانو نوي نسل ته خپل ځان د مادي او صنعتي پرمختګ په مجال کې د مثال تر څنګ په اخلاقي او فرهنګي مجال کې هم د یوې غوره نمونې په ډول وړاندې کړي، او په دې ډول هغوئ په ځان پورې وتړي.

۵ – د مېډیا، ټولنیز ارتباط د وسائلو، او د ژورنالیزم مؤثر استعمال په دې لاره کې تر ټولو مهم کار دی. او دا ځکه چې دغه ذرائع په دې زمانه کې د پیغام رسولو او د اجتماعي ذهنیت د تشکیل مهم وسائل دي، او په یوه ځل په

مليونونو انسان مخاطبوي او په هغوئ کې مثبت او يا منفي تحول راولي. غرب د همدغو وسائلو له لارې ټوله نړۍ مسحوره کړې ده، او په پراخه پيمانه يې د نړۍ ولسونه تر خپل تأثير لاندې راوستلي دي.

د امريکا په مقابل کې چې جهادي صف تر يوه حده د پيغام رسولو معاصر وسائل وکارول که څه هم چې په ډېر مسلکي شکل او په پراخه پيمانه نه ول، خو بيا يې هم په نړۍ کې د غرب مېډيايي او مطبوعاتي جادو ورماته کړه، او د همدغو وسائلو له لارې يې نړۍ ته د خپلې بريا او د دښمن د ماتې شواهد وړاندې کړل.

د دې لپاره چې د مدرسې اهل د دعوت، مطبوعاتي مبارزې او ټولنيزې مخاطبې په ډګرونو کې لا نور هم پياوړي شي، مدرسه مو بايد خپلو طالب العلمانو ته د معاصرې ليکوالۍ او ژورناليزم د علومو په ورښودلو په هغوئ کې د اعلامي فعاليت پوره وړتياوې پيدا کړي.

٦ – د اسلام حقيقي تشريح او له هغه څخه د خرافاتو او انحرافاتو څنډل او له نورو نظرياتو سره د هغه د پيوند کارۍ مخه نيول بل هغه مهم کار دی چې ديني مدرسه او د اسلامي فکر خاوندان بايد ورته د خپل کار په اولوياتو کې ځای ورکړي. دغه کار ځکه ضروري دی چې کفار له همدغو عواملو څخه د اسلام په بدنامه کولو او په هغه باندې د نويو نسلونو د باور د کمزورې کولو لپاره کار اخلي.

نن ورځ په اسلامي نړۍ کې او هم په افغانستان کې ډېر داسې څه د اسلام په نامه خپاره شوي چې هغه له ريښتينې اسلام څخه ډېر لرې دي. او هم له داسې ډېرو مهمو اسلامي اعمالو او عقائدو خلک غافل شوي او يا يې ورته په اهميت نه دي کتلي چې هغه په دين کې د لوړې مرتبې اعمال او عقائد دي. نو پکار ده چې مسلمانان او بيا په خاص ډول ديني مدرسه او د اسلامي

مدرسه او مبارزه

فکر خاوندان یوازې د کفارو جنګیالي په دښمنۍ ونه نیسي، بلکې اصلي دښمني یې باید د دښمن له نظریاتو سره وي. او هر هغه څوک چې د دښمن د افکارو ممثل او خپروونکی وي هغه دښمن وګڼل شي، او له هغه سره د مناسب تعامل لارې وپېژندل شي. په دې کار کې باید تر ټولو ستر او مهم نقش د دیني علماوو وي.

د دې لپاره چې خلکو ته د اسلام حقیقي شکل د ښو با استعداده علماوو له لوري ور وښوول شي پکار ده چې د علماوو د نوي نسل د روزنې په مقصد تعلیمي نصاب او د هغه ښه تطبیق ته پوره توجه وشي. او د دغې توجه د عملي کولو لپاره د یوه داسې عملي میکانیزم رامنځته کولو ته ضرورت دی چې د زمانې اړتیاوې او د اهدافو اهمیت ورکې رعایت شوې وي.

د دښمن د افکارو، نظریاتو، فرهنګ او د هغه د ملګرو او پیروانو خطر څکه د هغه د پوځونو او جنګیالیو تر خطره ډېر دی چې هغه خو ماتې وخوړه او وتښتېد، خو افکار او ملګرې به یې په هر حالت کې دلته پاتې وي، او په سلګونو کلونه به دلته د اسلام او مسلمانانو په خلاف په یوه او بل ډول فعالیتونه کوي، او په هر نسل کې به یوه برخه خلک د اسلام او اسلامي نظام په خلاف دروي.

د اسلامي حکومت چارواکو، د دیني مدارسو مسؤولینو او د اسلامي مبارزې ټولو لارویانو ته څکه په پورته یادو شویو کارونو ټینګار کووم چې که د ولس لازم دیني تنویر او د اسلامي مبارزې دیني، فکري، تمدني او اجتماعي ابعادو ته پوره توجه او کار ونشي، نو بیا به هم د افغانانو د جهاد او پوځي مبارزې لاسته راوړنې هماغسې د دښمنانو د توطیو په نتیجه کې له لاسه ځي، لکه څنګه چې د انګرېزانو او روسانو په مقابل کې د دې ولس جهادي او پوځي لاسته راوړنې له لاسه لاړې، او ولس مو تر پوځي کامیابۍ وروسته بیا د

دښمنانو د توطيو ښکار شو، او په هغه وخت کې د يوه ريښتيني اسلامي نظام ارمان پوره نشو.

مدرسه او مبارزه

# اووم فصل

# د ديني تعليم او تعلم اصلي اهداف

مدرسه او مبارزه

**ديني تعليم د څه لپاره؟**

ترڅو چې مدرسې عالم او طالب ته د ديني علم د زده کړې اصلي اهداف ور ونه ښودل شي کېدی د دغه ستر دين مبارک علم چې د الله تعال د پيغمبرانو عليهم السلام ميراث دی د ډېرو وړو اهدافو د تحقق لپاره وکارول شي او درلودونکي يې په ډېرو سطحي کارونو مصروف او په ډېرو وړو اهدافو او لاسته وروړنو قانع شي.

د دې لپاره چې د مدرسې اهل مو د ديني تعليم او تعلم لوړو مقاصدو او د هغه سمې کارونې ته نور هم متوجه کړي وي په دې اړه په دې هېله څو مهمې او ستراتيژيکې خبرې عرض کووم ترڅو د مدرسې اهل ټول په دې فکر کې شو چې څنګه وکولی شو ديني تعليم داسې عيار او فعال کړو چې حاصل يې په ريښتينې معنی په اسلام د پوهو علماوو د روزلو، په ټولنه کې د الله تعالی د دين په خپرولو، د يوې ريښتينې پر ځان بسيا اسلامي ټولنې د رامنځته کېدلو، د واقعي اسلامي نظام د اقامې او دوام، او د شريعت د معاصر تطبيق په شکل کې راووځي.

د علم او تعليم په اړه خبرې په دوه ډوله وي:

١- تخنيکي وسيلوي خبرې

٢- استراتېژيکې هدفي خبرې

تخنيکي خبرې دا وي چې د تعليم کيفيت به څنګه وي؟ نصاب او تدريس نظام او لارې چارې به يې کومې وي؟ امتحانات او ارزونې به څنګه تر سره کېږي؟ د شاګرد د پوهولو لپاره به له کومو وسائلو او مېتودونو کار اخيستل کېږي؟ د تعليم د ټولې عملېې مشکلات به څنګه حل کېږي؟ او داسې نور.

له استراتيژيکو خبرو څخه دلته مقصد دا دی چې موږ څنګه له تعليم څخه داسې څه جوړ کړای شو چې په هغه نظام جوړ کړو،

د خپلو مادي او معنوي سرحدونو امنيت پرې تأمين کړو،
پر دښمن غلبه پرې حاصله کړو،
له لارې يې په ټولنه کې مثبت بدلون راولو،
د دښمن د هغو منفي تأثيراتو مخه پرې ونيسو چې د ټولنې پر افرادو او په مجموعي ډول پر ټولنه يې کوي،
د اسلامي نظام اقامه پرې وکړو، آزادي پرې حاصله کړو او پرې ويې ساتو، ديني او ملي هويت ورباندې وساتو، او بالآخره له برکته يې په پرديو تمدنونو او فرهنگونو کې له منحل کېدو وژغورل شو.
موږ ټول بايد په دې اړه فکرمن واوسو چې له تعليم سره څه ډول تعامل وکړو چې موږ له کمزوري کېدلو وژغوري، او د دې وړ مو وگرځوي چې هم ټولنه د ژوند په هر مجال کې اسلامي کړو، هم يې د امت او خپل ملت د قوي کېدلو ذريعه وگرځوو، او هم هغه کمزوري پرې لرې کړو د کومې له امله مو چې ډېر ځله د منبر، محراب، قيادت او سيادت سړي په زندانو، غارونو، ځنگلونو، غرونو او يا تبعيد کې په ژوند تېرولو مجبوره وي.
الله تعالی په خپل کتاب کې د سورت الجمعة په دويم آيت کې د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د رسالت او بعث مقاصد ښيي چې هغه يې يو داسې امي او نالوستي قوم ته چې د نورې نړۍ د خلکوپه څير متمدن نه ول ورولېږه، د دې لپاره چې هغوی ته د الله تعالی پيغام واوروي، دين او احکام ور وښيي، او نفسونه يې تزکيه کړي. الله تعالی فرمايي:
﴿هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولًا مِنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِنْ كَانُوا مِنْ قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ﴾ [الجمعة: ٢]
ترجمه:(هغه (الله تعالی) هغه ذات دی چې په نالوستو کې يې د دوئ له ډلې يو رسول ولېږه چې د ده آيتونه پرې ولولي، تزکيه يې کړي او کتاب او

حکمت وروښيي، پداسې حال کې چې تر دې وړاندې په څرګندې ګمراهۍ کې ول).

پورتنيو مقاصدو ته په کتلو دا له ورايه ښکاري چې د انبياوو عليهم السلام د بعثت هدف په ټولنو کې د خير پر لوري د بدلون راوستل دي. څومره انبياء عليهم السلام چې الله تعالی رالېږلي دي، هغوئ يې يوازې د صالحينو په حيث نه، بلکې د صالحېنو او مصلحينو په حېث رالېږلي دي.

د باطل د پلويانو دښمني له صالحينو سره ډېره سخته نه وي، ځکه چې هغوئ په دې پوهېږي چې د صالحينو د خپل ځان له اصلاح سره کار وي او په دوئ پورې ډېر نه لګېږي. خو کله چې له صالحينو مصلحين جوړ شي، نو د باطل پلويان يې مقابلې ته راپورته کېږي. د مثال په ډول: د الله تعالی رسول محمد صلی الله عليه وسلّم چې له بعثته وړاندې صالح شخصيت و، نو د مکې مشرکينو د هغه پر صلاح ګواهي ورکوله، د صادق او امين په اوصافو يې ياداوه، او د نيکو اخلاقو خاوند يې باله، خو کله چې هغه صلی الله عليه وسلّم له صالحيت وروسته د الله تعالی په امر د مُصلحيت پر لاره روان شو او د ټولنې اصلاح کول او د هر ډول عقائدي او اخلاقي فساد مخنيوی يې پيل کړ، نو هماغه خلک يې دښمنۍ او مقابلې ته راپورته شول چې تېر ټول عمر يې د ده د صالحيت ګواهي ورکوله.

د باطل پلويان له مصلح سړي څخه ځکه په ډار او له هغه سره په دښمنۍ کې وي چې د هغه له فکر، دعوت، عمل او اجتماعي حرکت څخه د دوئ جابرانه حاکميت متضرره کېږي، باطل دين او فرهنګ يې چې دوئ ورباندې خلک مصروف ساتلي له منځه ځي، او هغه ولسونه چې دوئ ترې د ځان لپاره لښکر او رعيت جوړ کړی وي نور د دوئ اوامر نه مني، بلکې نور به د حق پيروي کوي او د دوئ په خلاف به جبهه نيسي، چې په دې کار بيا د

مصلح فعالیت د باطل پر پلویانو دروند تمامیږي او هر اړخیزي مقابلې ته یې راوځي.

د پیغمبرانوعلیهم السلام او د علماوو او دعوتگرانو کار یوازې دا نه دی چې صالحین به وي، بلکې هغوئ به صالحین او مُصلحین وي او په ټولنه کې به اصلاح راولي، او نه یوازې دا چې انسانان به له باطل او د شیطان له پیروۍ څخه منع کوي، بلکې له هغوئ څخه به د حق په ملاتړ داسې دعوتگر امت او داسې لښکر جوړوي چې هم د اسلام دعوت خپور کړي، او هم د جگړې په ډگر کې د باطل په خلاف وجنگیږي.

**د علماوو د مسؤولیت لویه ساحه:**

له هغه وخته چې د رسول الله صلّى الله علیه وسلّم پر وفات د انبیاء کرامو علیهم السلام د بعثت سلسله قطعه شوه، نو د خلکو د اصلاح، د باطل د مخنیوي، د امت د اجتماعي، فکري، سیاسي، عقیدوي، اخلاقي لارښوونې، او د مسلمانانو د دیني هویت د ساتلو وظیفه علماء کرامو ته پاتې شوه.

دا چې رسول الله صلى الله علیه وسلم فرمایي چې:

«...إِنّ الْعُلَمَاءَ هُم وَرَثَةُ الأَنبِيَاءِ وَ إِنَّ الأنبياءَ لم يُورِّثوا دِينارًا ولا دِرهمًا، إنَّما ورَّثوا العِلْمَ، فمَن أخَذَه أخَذَ بحظٍّ وافرٍ».[1]

ترجمه: (علماء د انبیاوو علیهم السلام وارثان دي، او علماوو دینار او درهم په میراث نه و پرې ایښي، بلکې علم یې پرې ایښی وو، نو چا چې هغه واخیست لویه برخه یې واخیسته).

د علماوو له لوري د انبیاوو علیهم السلام وراثت یوازې د لمانځه په امامت او دین ښوونه کې نه دی، بلکې د نبوت له مرتبې پرته د امت په ټولو قیادي چارو کې د انبیاوو د مسؤولیتونو وارثان دي. او لکه څنگه چې انبیاء علیهم

[1]- حدیث صحیح أخرجه أبو داود(٣٦٤١) والترمذي (٢٦٨٢) وابن ماجة (٢٢٣) وللفظ له و أحمد (٢١٧١٥).

السلام اشرف المخلوقات دي، د همدې وراثت له امله به علماء هم په خپلو ځانونو کې داسې عالي استعدادونه او بهترین صفات پیدا کوي ترڅو د هغو په لرلو په خپلو ټولنو کې داسې تأثیر ولري چې همدوئ ورکې د خپلې ټولنې تر ټولو غوره خلک وګڼل شي.

د انبیاوو علیهم السلام په ژوند، تګلارو او وظیفې کې له غور کولو وروسته سړي ته دا ورښکاري چې هغوئ علیهم السلام د الهي پیغام د بلاغ او بیان تر څنګ داسې عملي اقدامات هم کول چې له اسمانه رانازل شوي احکام او مفاهیم یوازې د مفاهیمو په حیث پاتې نه شي، بلکې له هغو عمل جوړ شي او په نظام کې راڅرګند شي. یعني هغوئ له علمه عمل جوړاوه، په عمل به یې نظام جوړاوه، او نظام به د خلکو ژوند تنظیماوه، دین به یې تطبیقاوه، د دعوت لپاره به یې زمینه برابروله، او د فساد مخه به یې نیوله.

په مدارسو او مساجدو کې د علمي بهیر خلک که د انبیاوو علیهم السلام په دې کړنه او عمل پوه شي چې انبیاوو علیهم السلام به په خپل علم څه کول، نو دغه پوهېدنه به په دوئ کې دا احساس او درک پیدا کړي چې یوازې کتاب لوستل او تدریس د علماوو مسؤولیت نه دی، بلکې دعوت، مبارزه، جهاد، شرعي سیاسي فعالیت، د ټولنې اصلاح، د خپلې زمانې د مشکلاتو درک کول او بیا ورته د شریعت له خپلو او اصلي مفاهیمو حل وړاندې کول هم د علماوو له مسؤولیتونو څخه دي.

دا چې د زمانې له بدلېدلو سره د انسانانو مشکلات هم په نویو شکلونو کې رامنځته کېږي نو د هغو لپاره د دیني لارښوونو په رڼا کې نوي حل لارې پیدا کول هم ضروري دي.

### د دیني تعلیم اساسي اهداف:

دیني تعلیم خپل اساسي اهداف لري چې باید له تعلیم څخه متحقق شي. او دغه اهداف به هغه وخت متحقق کېږي چې طالب پر هغو ښه وپوهولی شي، ترڅو دیني علم د هماغو اهدافو د تحقق لپاره زده کړي چې مهم یې په لاندې ډول دي:

**اول هدف- په ټولنه کې د الله تعالی له لوري راغلی هدایت خپرولول:**

د دیني مدارسو او علماوو تر ټولو اساسي او مهم کار په ټولنه کې د الله له لوري د راغلي هدایت خپرول او په مؤثر ډول د الله لوري ته د خلکو دعوتول دي چې همدغه کار د انبیاوو علیهم السلام تر ټولو مهم کار هم و، او همدې کار ته یې تر بل هر کاره ډېر وخت او اهمیت هم ورکاوه.

د ټولنې افراد اسلام ته دعوتول او په ټولنه کې د الله تعالی هدایت خپرول هغه وخت تر سره کېږي چې لاندې اقدامات ترسره شي:

۱ــ تر هر څه مخکې باید د طالبانو او عالمانو په زړونو کې د دې کار پر اهمیت او ضرورت قناعت پیدا کړ شي، پر دې یې ذهنسازي وشي چې شرعي علم د نورو علومو په څېر محض یوه علمي متاع او یا وسیله نده چې هغه دې د ژوند جوړولو لپاره وکارول شي، او یا دې په ټولنه او یا هم نظام کې د وظیفې او منصب د حاصلولو وسیله وګرځولی شي، بلکې دا خبره دې د هغو په ذهن او روح کې راوستلی شي چې دین د الله تعالی له لوري راغلی تر هرڅه با ارزښته امانت دی چې علماء یې خلکو ته په رسولو مکلف دي، او په دې لار کې عزم، د خلکو پر پوهولو صبر، تعقل، د سختیو زغملو، د باطل په خلاف هراړخیزې مبارزې او قربانیو ته ضرورت دی، او همدغه د هدایت خپرولو او اسلام ته د خلکو رابللو ته الله تعالی تر ټولو غوره خبره ویلې ده.

۲ـ طالبان او عالمان باید پر داسې یوه دیني نصاب وروزل شي د لاندې ځانګړتیاوو درلودونکی وي:

**الف ـ** په نصاب کې باید د خالصو شرعي علومو (د دین د اصولو) تله تر لغوي، ادبي او نورو حاشیوي معارفو درنه وي.

**ب ـ** نصاب باید د زمانې د فکري، تمدني عقیدوي مشکلاتو واقعي حل په ځان کې ولري.

**ج ـ** نصاب باید طالب او عالم د خپلې زمانې له معاصرو جاهلیتونو او د پردیو له لوري له راصادرو شویو نظریاتو او افکارو باخبره وساتي، او د هغو سیاسي او فکري جریانونو پر خطرونو او تأثیراتو یې آګاه کړي چې په نړیواله سطحه یې ولسونه او په خاص ډول مسلمانان زیانمن کړي دي.

**د ـ** نصاب باید خپل لوستونکي د دعوت په اسالیبو پوه او د دین خپرولو د معاصرو وسائلو پر استعمال یې قادر کړي، او هم باید د کفر او ګمراهۍ د معاصرو شکلونو، تصوراتو او تشکلاتو په خلاف د فکري او علمي مقابلې وړتیا ورکې پیدا کړي.

۳ ـ د مدرسې طالب ته باید په مدرسه کې له پیله دا فکر او ذهنیت ورکړ شي چې دین الله تعالی د دې لپاره رالیږلی چې د توحید د عقیدې پر بنا د انسانانو فردي او اجتماعي ژوند هغه ډول منظم شي چې الله تعالی یې غواړي.

د طالب په ذهن کې باید په تأکید سره دا خبره راوستی شي چې د ده د تأثیر مجال ټولنه ده، او کار یې د ټولنې دیني، سیاسي او اجتماعي قیادت دی، چې باید ځان ورته په رواني، علمي او عملي ډول تیار کړي.

اوس خو عملاً لیدل کیږي چې د مدارسو په تعلیمي نصاب کې هغو علومو ته ځای نشته چې له دیني لیدلوري طالب ته هغه سیاسي، اجتماعي، تمدني او فکري مفاهیم ورتلقین کړي چې په هغه کې د دیني، اجتماعي او سیاسي

قيادت وړتياوې پيدا کړي، بلکې ډېر وخت يې د داسې ګرامري، لغوي او ادبي علومو د کتابونو په لوستلو تېرېږي چې نه پرې په سم ډول دين زده کولی شي، او نه پرې د نن زماني له فکري او سياسي وضعيت سره مؤثره مقابله کولی شي.

په نصاب کې د علمي جمود تر څنګ متأسفانه په ديني مدارسو کې په رواني لحاظ هم يو داسې انزوايي حالت حاکم دی چې استاذ او طالب دواړه هڅه کوي چې تر ډېره حده له ټولنې ګوښي او يوازې د کتابونو له تدريس او زده کړې سره مشغول وي، او له هغو فکري، سياسي، اجتماعي او اخلاقي حالاتو او مشکلاتو چې ټولنه ترې کړېږي تر ډېره په دې دليل په څنډه کې پاتې شي او کتاب ته ځان نه فارغ کړي.

د پورتني انزوايي وضعيت په نتيجه کې خبره دې ځای ته ورسېږي چې د ټولنې رهنمايي او قيادت ته نور خلک رامخته شي، او پر وضعيت داسې مسلط شي چې ديني علماء د محکوميت او محروميت په حالت کې واقع شي، د سيکولرو، کمونيستو، نشنلستو، ليبرالو، پوځي مستبدينو، کودتايي حکامو او د نورو نا اسلامي افکارو او نظرياتو د خاوندانو لخوا تذليل او د زور او ظلم له لارې هم له ټولنې تجريد شي، او هم يې د کتاب، فکر او تأثير مخنيوی کيږي.

کله چې ديني جهت د پورتنيو عواملو او د نا اسلامي جهتونو د منظم فکري، سياسي او عسکري فعاليت له امله د قيادت له صلاحيته محروم شي، نو نااسلامي جهتونه بيا ټولنه په ځان پسې روانه کړي، او داسې مفاهيم، شعارونه او فرهنګ ورته ايجاد کړي او داسې قناعتونه ورکړي چې د يو څه مودې له تېرېدلو وروسته بيا ډېر خلک پخپله په دوئ پسې روان وي او د دوئ چيغې

او شعارونه ور بدرگه کوي، او ديني علماوو ته بيا يوازې هغه وخت رجوع کوي چې د طلاق، لعان، رضاع او يا ميراث کومه مسئله ورته پيداشي.
په دغه ډول وضعيت کې بيا ډېر ديني علماء هم هغه قيادي نقش او مسؤوليت چې له پيغمبره ورپاتي دی نشي تر سره کولی، نو هماغه وي چې يا خو په يو ډول له سيکولرو او نورو بې دينه حکامو سره غاړه وړلو ته زړه ښه کړي، او يا هم پداسې حاشيوي وضعيت کې ځانونه غلي کړي چې له حاکم جهت سره يې ټکر رانشي چې متأسفانه همدغه وضعيت په تکراري ډول څو څو ځله په افغانستان او د اسلامي نړۍ په نورو هېوادونوکې وليدل شو.

**دويم هدف- په ټولنه کې هر اړخيزه اصلاح راوستل:**

په ټولنه کې هر اړخيزه اصلاح راوستل هم د ديني علم له اهدافو او د ديني علماوو له مسؤوليتونو څخه ده. د دې خبرې معنی دا ده چې د عالم تأثير به يوازې په روحي او معنوي چارو کې منحصر نه وي، بلکې دا به په سياست، قيادت، اقتصاد، د حلال او حرام په بيان، له افرادو څخه د ټولنې په جوړولو او پر سمه لاره د ټولنې په رهبري کولو او په اخلاقي، فکري، عسکري او ټولنيزو مجالاتو کې په اصلاح راوستلو کې هم فعال وي.
دا به د دين يو ناقص فهم وي چې وګڼل شي چې د ټولنې اصلاح يوازې په روحي او معنوي چارو سره راځي، او علماء دې د ژوند په نورو امورو کې هېڅ تشبث ونه لري.
اسلام يو داسې مکمل دين دی چې د ژوند ټول اړخونه يې احتوا کړي، او د ټولو اړخونو لپاره لارښوونې لري، چې دغو لارښوونو ته خلک رابلل د ديني علماوو مهمه وجيبه ده. او که چېرې ديني علماء داسې ونه کړي نو له رسول الله صلی الله عليه وسلم را پاتې علم به يې ډېر محدود کړی وي، هغه به يې

يوازې له الله تعالی سره د بنده د ارتباط ذريعه بللی وي، او د بشر اصلاح، قيادت او له شيطان او هر ډول بدۍ څخه د بشر ژغورل به يې د انبياو عليهم السلام له وظائفو څخه نه وي ګڼلي.

## درېيم هدف- د هر ډول فکري، عقيدوي، اخلاقي، سياسي او اجتماعي باطل مقابله:

په ټولنه کې د هر ډول فکري، عقيدوي، اخلاقي، سياسي او اجتماعي باطل مقابله هم د شرعي علم هدف او د ديني علماوو کار دی. د دې خبرې معنی دا ده چې که باطل د اخلاقو په مجال کې ظهور کوي نو علماء يې بايد مقابلې ته ودرېږي. همدارنګه که باطل په عقيدوي شکل کې تبارز کوي او د ټولنې او افرادو معتقدات او تصورات بدلوي، بايد علماء يې مخنيوی او په سمو ديني مفاهيمو يې مقابله وکړي. که عسکري وضعيت داسې بدل شي چې د مسلمانانو عسکري ځواک او وسائل د کفارو د مرستې او ملاتړ لپاره استعمالېږي نو بيا دې هم علماء ځان په دې نه تېرباسي چې موږ خو د تدريس، کتاب او وعظ خلک يو، عسکري وضعيت په موږ پورې اړه نه لري، او په عسکري مجال کې دې د انحراف مخنيوی او مقابله بل څوک وکړي، بلکې علماء بايد د دې ډګر خلک او سرلاري وي؛ ځکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم په يوه وخت کې هم د مدينې منورې د مسجد امام و، هم د الله تعالی پيغمبر و، هم د امت سياسي زعيم و چې د امت په اړه يې پرېکړې او فيصلې کولې، او هم عسکري رهبر او سرلښکر و چې د باطل د مقابلې لپاره به يې عسکر لېږل او له حالاتو سره به يې هغسې چلند کاوه چې د هغې زمانې به تقاضا وه. نو ځکه خو به د ديني علم او ديني قيادت نتيجه د اسلام د غلبې په شکل کې راوتله، مسلمانان به د کفارو له شر څخه ساتل

مدرسه او مبارزه

کېدل او د استقلال او غلبې په حالت کې به يې ژوند تېراوه . نو ځکه خو ويلی شو چې د هرې زمانې د مشکلاتو او د باطل د تأثيراتو درک کول او په مناسب شکل د هغه مقابله کول د شرعي علم او ديني عالم له وظائفو څخه دي.

## څلورم هدف- پر ديني بنسټونو د ولاړ سياسي او عسکري نظام رامنځته کول:

د ديني علم له مهمو اهدافو څخه يو ستر هدف د داسې يوه سياسي او عسکري نظام قائمول هم دي چې پر ديني بنسټونو ولاړ وي او پر ديني احکامو چلېږي. د دې خبرې معنی دا ده چې عالم دې په دې اکتفاء نه کوي چې زه خپل دعوت او تدريس کووم او د فتوا چارې پر مخ وړم، او د نظام، سياست، حکومت او د ټولنې د تنظيمولو چارې په ما پورې اړه نه لري، بلکې دا په سياسيونو پورې تړاو درلودونکي امور دي چې هغوئ يې ترسره کوي. د ديني علماوو له لوري د سياست او حکومت په اړه دغه ډول فکر درلودل د اسلام يو ناقص فهم دی، ځکه چې که علماء پخپله دې کار ته را وړاندې نشي، او يا کوم بل د شريعت تطبيقوونکی شخص ورته رامخته نه کړي، او دوئ يې تر شا ونه درېږي او د ملاتړ لپاره يې ملت بسيج نه کړي، نو دوئ به يوازې د معنويت په محدوده ساحه کې پاتې وي، او بل څوک به پر ټولنه داسې نظام حاکم کړي چې تر ټولو سخته دښمني به يې له علماوو او د شريعت له حاکموونکو سره وي، او شرعي علم به په کتابونو کې محدود کړي، د قاضي مخته به د شرعي علم پر ځای د پرېکړې لپاره د انګرېز يا بل کافر قانون پروت وي، او د بين المللي روابطو عياروله او له نورو سره تعامل به پر پرديو معيارونو وي چې په نتيجه کې به يې منفي تأثيرات بېرته پر دين او

اهل دین مرتب کېږي. نو علماء باید په دې پوه وي او عهد وکړي چې د نظام قائمول هم د دوئ وظیفه ده، ځکه چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په زمانه کې داسې نه و چې هغه مبارک دې یوازې پیغمبر وي، او سلطان یا حاکم دې بل څوک وي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم چې د الله تعالی له لوري مسلمان امت ته د قیادت د وروستۍ کاملې او واجب الاتباع نمونې په حیث رالېږل شوی وو، نو هغه مبارک هم د دین بیانوونکی پیغمبر او هم د امت سیاسي او عسکري قائد و. همدارنګه تر رسول الله صلی الله علیه وسلم وروسته ابوبکرصدیق رضي الله تعالی عنه هم د مدینې منورې د مسجد امام او دیني لارښوونکی او هم د مسلمانانو سیاسي زعیم او پوځي امیر و چې د امت ټولې عسکري چارې یې سمبالولې او د ارتداد د فتنې د ټکولو لپاره یې په یوه وخت د جزیرةالعرب بېلابېلو سیمو ته یوولس لښکرې ولېږلې.

عمر بن الخطاب رضي الله تعالی عنه هم په خپل وخت کې هم دیني پېشوا او د مدینې د مسجد امام و، او هم د مسلمانانو سیاسي او عسکري زعیم او د لښکرو مشر و. همدغه تسلسل د راشده خلافت په ټوله موده کې چې د اسلام د حاکمیت او د شریعت د تطبیق مثالي دور و روان و. د اسلام د سیاسي فقهې له مخې همدغه میراث په مجموع کې د امت علماوو د قیادت د وړتیاوو درلودونکو صالحینو تهورپاتې دی. دا چې په ځینې وختونو ځینې زورورو دغه حق له علماوو په زور او تزویر اخیستی، او یا علماوو دا ګڼلې دي چې حالات موزون دي او د سیاسي قیادت په رأس کې صالح خلک شته، او دوئ ته په دې مجال کې ضرورت نشته، او دوئ باید په خپل استدلال، استنباط او علمي خدماتو کې مصروف پاتې شي، نو په هغه صورت کې به عالم د قیادت لپاره نه وي راوتلی او د نظام د سمبالولو چارې به یې په

خپل لاس کې نه وي اخیستي، او په خپلو علمي خدماتو کې به مصروف پاتې شوی وي. خو که چېري وضعیت داسې نه وي او د قیادت امور د صالحینو په واک کې نه وي، نو علماوو ته لازمه ده چې د داسې یوه نظام د تأسیسولو لپاره لاس په کار شي چې دین، اهل دین، ولس، نظام، عقائد او اخلاق پکې خوندي شي، ځکه چې که نظام د بل چا لاس ته ورځي، نو هغه به د خپلې هوا او هوس مطابق قوانین جوړوي او تنفیذوي یې، او که یې څوک ورسره ونه مني نو د مجرم په حیث یې محاکمه کوي، په داسې حال کې چې دی به پخپله مفسد او مقابل لوری به یې مصلح وي، خو په نظام کې له راتللو څخه په استفادې سره به دا کار ځکه ترسره کوي چې د ده قوانینو او نظام ته غاړه نه ږدي، نو باید یا وتړل شي، یا ووهل شي، او یا ووژل شي. بناء د شرعي علماوو دا مسؤولیت دی چې د نظام جوړول خپله وظیفه وګڼي. او که یې ونه ګڼي نو دا مجال به یې مفسدینو ته پرې ایښی وي، او هغوئ به د دین د حاکمیت په خلاف استعمالوي.

اسلامي نړۍ په تېرو دوو پېړیو کې ولیدل چې د سیاسي او عسکري قیادت چارې چې نا اسلامي جهتونو لاس ته ورغلې او د اسلامي امت پر ولسونو مسلط شول، نو دومره لوی جنایات یې ترسره کړل چې بشریت یې مخکې مثال نه و لیدلی. او سبب یې هم همدا و چې دغه مجال له دیني حاکمیته خالي شو او پردیو ډک کړ. خو کله چې بېرته یو ملا (ملا محمد عمر مرحوم) میدان ته راووت او دا کار یې خپل مسؤولیت وباله، نو په محدود وخت کې یو داسې بدلون راغی چې د ولس او نظام په اړه امر او نهي د ملا د امر او امضاء خبره شوه.

په اوس وخت کې که موږ د اسلامي نړۍ هېوادونو ته وګورو چې آیا د دین لور ته د خلکو د ورماتېدلو او میلان کولو څپه زوروره ده، او که له دین څخه

د تېښتې او انحراف څپه غالبه ده؟ او یا دا چې د مسلمانانو د ژوند په تقنیني، سیاسي، اقتصادي، عسکري، اجتماعي او اخلاقي مجالونو کې خلک په دیني احکامو عمل کوونکي دي، او که په دې ټولو مجالونو کې له دیني احکامو څخه د فاصلې نیولو خوا ته مائل دي؟ نو په څرګنده وینو چې متأسفانه په نړۍ کې له دین څخه د انحراف او لرې والې څپه زورروره ده. د دې څپې مخنیوي او د دې حالت د بدلولو لپاره د علماوو د یوه داسې نسل روزل پکار دي چې دې مسلمانان بېرته د دین لور ته راوګرځوي.

نن ورځ افغانستان او اسلامي نړۍ داسې علماوو ته ضرورت لري چې خلکو د دین په اړه ور اچول شوي معاصر شبهات په مؤثر ډول ځواب کړي، خلک له فکري انحرافونو راوباسي، د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د اصلي وراثت تمثیل وکړي، او په هر مجال کې خلک بېرته د دین لور ته راستانه کړي، په ځان پسې د خلکو د روانولو استعداد ولري، او په هغو خلکو کې بېرته د اسلام لوري ته د راګرځېدلو شعور او احساس پیدا کړي چې د کمونیزم، سیکولرزم، لیبرالیزم، ډیموکراسی، هیومنیزم، نیشنلزم او نورو باطلو نظریاتو له لورې د راپیدا کړل شوو شکوکو او شبهاتو له امله پر اسلام کم اعتماده شوي او یا بې باوره شوي وي. د داسې نسل جوړولو لپاره د یوه داسې نصاب ضرورت دی چې په ځان کې داسې وړتیا، مفاهیم، ستراتیژیک افکار او بېلابېلو ننګوونو ته ځوابونه او مشکلاتو ته حللارې ولري ترڅو یې لوستونکي دې حالت ته تغیر ورکړای شي.

اوس پوښتنه دا ده چې آیا موږ د دیني مدارسو په اوسنیو نصابونو کې هغه ټول ضروري دیني او اجتماعي علوم او د معاصرې مبارزې فکري ادبیات لرو چې د هغو په تدریسولو په مدارسو کې د علماوو داسې قیادي نسلونه وروزو چې د پوره وړتیاوو په درلودلو د موجودو مشکلاتو د حل لپاره د عمل

میدانونو ته راووځي؟ واقعیت دا دی چې یا خو د مبارزې دغه ډول فکري ادبیات نه لرو، او یا یې ډېر کم او په غیر مؤثر شکل کې لرو.

موږ په کتابونو کې شرعي نصوص، عقائد، فکر او معلومات لرو، خو تر ډېره حده دا هرڅه فقط د یو ثقافت او علمي پانگې په شکل کې دي. د عمل، نظام او د بدلون د یوې څپې د راوستلو لپاره په معاصر شکل عیار شوي نه دي، ځکه خو یې د ژوند پر چارو ډېر تأثیر نشته.

د دې لپاره چې دیني علوم مو له کتابه د عمل ډگر ته راووځي او د هغو پر بنسټ یو قوي، او متمدن اسلامي نظام قائم شي، او د مدرسې علماء مو په مطلوب او باکفایته ډول په ټولنه کې د دیني او سیاسي قیادت چارې سمبال کړي، او له غرب څخه د راواردو شویو فکري او فلسفي فتنو مقابله وکړای شي، پکار ده چې زموږ د مدارسو په نصابونو کې هغه مضامین ورشامل کړای شي چې په راتلونکي فصل کې یې په تفصیل یادونه کیږي.

# اتم فصل

## هغه مضامين چې لوستل يې د مدرسې په طالب کې انقلابي فکر او سياسي شعور پيداکوي خو زموږ په نصابونو کې نشته

مدرسه او مبارزه

مدرسه او مبارزه

**د مبارزو علماوو د روزلو لپاره دوه اساسي کارونه:**

د علماوو د انقلابي کولو لپاره دوه لویو کارونو ته ضرورت دی چې یو یې د یوه نوي تعلیمي نصاب رامنځته کول دي، او بل یې د داسې یوه محیط ایجادول دي چې د علماوو علم ورکې په منظم شکل په عمل واوړي. د دغو دوو کارونو یو څه تفصیل په لاندې ډول دی:

**۱ـ نوی نصاب:**

د علماوو د نوي نسل د روزنې لپاره دې یو داسې تعلیمي نصاب رامنځته شي چې لاندې مواصفات ولري:

**اول ـ** د اسلام اصلي علوم او مفاهیم ورکې تر ټولو نورور مضامینو ډېر ځای ولري.

**دویم ـ** په نصاب کې باید په اوسنی زمانه کې د مسلمانانو په وضعیت او د هغوئ فکري، عقائدي، سیاسي، اجتماعي، عسکري، او مدني ستونزو ته پام شوی وي، او له هغو څخه د وتلو لار ورښوول شوې وي.

**درېیم ـ** په نصاب کې باید تدرج، د لوستونکو د عمر د تقاضاوو او نفسیاتو (رواني وضعیت)، په مفاهیمو کې یې دینې اعتدال (له افراط او تفریط څخه لیرې والي)، د عبارت سهولت او د صیاغت معیاریت ته پام شوی وي.

**څلورم ـ** نصاب باید د داسې یوه علمي جهت له لوري جوړ شي چې د اسلام او مسلمانانو له ماضي ښه خبر وي، اوسنی وضعیت یې په هراړخیز ډول درک کولی شي، او د مستقبل په اړه د ښه صائب تفکیر وړتیا ولري. نه دا چې هر د مدرسې مسؤول دې د خپل ذوق، مشرب او محدودو مصالحو په نظر کې نیولو سره څو نا همآنگه کتابونه په نامتوازن ډول سره ملگري کړي او پر هغو دې د تعلیمي نصاب نوم کېږدي او طالبان دې ورباندې مصروف ساتي، پرته

له دې چې دېته پام وکړي چې د دغو کتابونو د لوستونکو به په مستقبل کې په ټولنه کې کوم مقام او پر خلکو به یې څه تأثیر وي.
۲- د دې لپاره چې نوي علماء په عملي ډول د انقلابیت او قیادت روزنه وویني باید په یوه داسې انقلابي ماحول او اجتماعي کاري جریان کې دخیل شي چې له حالاتو او وضعیتونو سره د مثبت تعامل تمرین او تجارب ووینې، ځکه چې که علماء په انفرادي محیط کې پاتې شي او په سیاسي انقلابي جریان کې حرکت ونه کړي، نو هغو اهدافو ته په اسانه نشي رسېدلی چې باید ورورسېږي. دا امت د اجتماعیت امت دی، او د دې امت قافله باید هر وخت په یوه داسې سالار پسې روانه وي چې د لارې پر خطرونو او د مزله پر پړاونو خبر وي، او دا وړتیا ولري چې د خپلې قافلې افراد پر سمو لارو په سالم ډول تر هدفه ورسوي.
کله چې انسان په یوه متحرک، شخصیت جوړوونکي او فعال ماحول کې وي، نو دغه ماحول د هغه پر فکر، منهج، اخلاقو او عمل مثبت تأثیرات پرېږدي، دی ورکې چارج اخلي، او د فعالیت روحیه ورکې ځپانده کېږي او یوازې په فلسفي بحثونو کې مشغول نه پاتې کېږي، بلکې افکار، نظریات او پلانونه د عمل په ساحه کې عملي کولی شي.
او د دې برعکس کله چې انسان د یوه منظم انقلابي محیط پر ځای په یو غافل، انطوایي او یوه بې مسؤولیته ماحول کې اوسېږي، نو دغه ډول غیر فعال ماحول د ده په فکر، عقیدې، عمل او شخصیت باندې منفي تأثیرات پرېږدي، او له هغه څخه منفي ګرا انسان جوړوي.
کله چې د انقلابي روزنې لپاره پورتنې دوه کارونه ترسره شي نو بیا د مدرسې او جومات طالب، د خانقاه مرشد او مرید په داسې یوه قیادي جریان کې حرکت کوي چې هم به د علم، روحانیت او معنوت په میدان کې د رهبرۍ نقش لرې، او هم د ولس او نظام په سیاسي قیادت کې.

**د قيادي او انقلابي شخصيتونو د روزلو لپاره د مدرسې په نصاب کې دوه ډوله علوم:**

۱ـ خالص شرعي علوم:

شرعي علوم هغه علوم دي چې طالب د دين په اعتقادي او عملي احکامو پوهوي. دغه علوم عبارت دي له قرآن کريم، علوم القرآن کريم، علم التفسير، احاديث، د احاديثو شرحې، اصول الحديث، علم الفقه، أصول الفقه، علم المواريث، علم العقائد، د تزکيې او احسان علم، علم الأخلاق او دې ورته نور شرعي علوم چې لوستونکي د شريعت په احکامو او د هغه په مقاصدو پوهوي.

۲ـ دويم ډول علوم هغه علوم دي چې حاصلول يې په لوستونکي کې احساس، د مسؤوليت پېژندنه، تدبير، سياسي شعور، د مناسب اقدام وړتيا او د زمانې د موجودو واقعيتونو په اړه درک او د معاصرو فتنو او له شرق او غربه د راصادرو شوو جاهليتونو د مقابلې استعداد پيدا کوي.

دغه علوم د حلالو او حرامو علوم نه دي، خو داسې علوم دي چې د شرعي علومو د تطبيق لپاره زمينه برابروي، او خپل لوستونکي دېته آماده کوي چې ديني احکام، عقائد او اخلاق له کتابه راوباسي او د ژوند په بېلابېلو مجالونو کې يې تطبيق کړي. او که د مدرسې طالب دغه ډول علوم حاصل نه کړي، نو د احکامو، عقائدو او اخلاقو حاصل کړی علم به يې غير فعال وي او د تطبيق مجال به نه لري، ځکه چې د ژوند په تقريبا ټولو ډګرونو کې به د بل چا احکام، افکار او اخلاق عملي کېږي، قضاء او عدليه به په وضعي قوانينو چلېږي، د سياست او حکومتدارۍ په مجال کې غربي نظريات مطرح وي، د ټولنې د افرادو ژوند به له غربه او يا له شرقه په راصادرو شويو نظرياتو او قوانينو تنظيمېږي، او زموږ د احکامو، عقائدو او اخلاقو علوم به په کتابونو

کې بند وي، او د تطبیق مجالونه به ورڅخه کمونیزم، لیبرالیزم، نشنلزم، ریشنلزم، هیومنزم او نورو ایزمونو نیولي وي. دا چې دغه ضروري علوم کوم دي په راتلونکو صفحو کې یو په بل پسې په تفصیل معرفي کیږي:

## اول ضروري مضمون ـ معاصره باطل پېژندنه

د کفر د انواعو او د هغه د نظریاتو پېژندل په هماغه اندازه ضروري دي لکه څومره چې د ایمان پېژندل ضروري دي.

په قرآن کریم کې الله تعالی له مسلمان سره د شیطان د دښمنۍ اعلان او پر دې دښمنۍ د هغه تأکیدونه بیان کړي دي.

شیطان کافر دی، او د شیطان مکرونه، دسیسې، طریقې، انسان ته د وسوسو او شبهاتو ور اچول، شیطاني افکار او نظریات او همدارنګه د شیطان د پیروانو عقائد او نظریات او د هغوئ ډلې، احزاب، سیاستونه، نظامونه او فلسفې ټول د کفر هغه انوع او اشکال دي چې په قرآن کریم کې الله تعالی په دې مقصد په تفصیل بیان کړي دي چې مؤمنان له هغو څخه ځانونه خبر کړي، د هغو په دامونو کې له ښکېل کېدلو ځان وساتي، او د هغو د له منځه وړلو لپاره تدابیر او لارې چارې وسنجوي او مناسب وسائل په کار واچوي.

نو له همدې امله لکه څنګه چې د ایمان پېژندل ضروري دي ترڅو مسلمان د ایمان د غوښتنو مطابق عمل وکړي، په همدومره اهمیت د کفر پېژندل هم ورته ضروري دي ترڅو په هغه کې له واقع کېدلو کې ځان وساتي او دښمني ورسره وکړي.

له عمر رضي الله عنه څخه نقل دي چې:

(ینقض عرى الإسلام عروة عروة إذا وُلِدَ في الإسلام من لم یعرف الجاهلیة).

د اسلام کړی به یوه یوه ماتېږي کله چې په اسلام کې داسې څو وزېږي چې جاهلیت نه پیژني.

عمر رضی الله عنه د جاهلیت او کفر نه پېژندل د اسلام د کړیو د ماتېدلو سبب بولي، او دا ځکه چې کېدی شي چې د جاهلیت د نه پېژندلو له امله به څوک په هغه کې واقع شي او بیا به له اسلام سره دښمنۍ کوي، لکه په دې زمانه کې چې په اسلامي نړۍ کې د معاصر جاهلیت د افکارو منونکي د اسلام د دعوی له لرلو سره سره د اسلام او جهاد په خلاف په یوې بې رحمه جګړې کې اخته دي او د کفارو خوا یې نیولې ده.

د تاریخ په اوږدو کې د اسلام په خلاف د کفر دښمنۍ په بېلابېلو وختونو کې خپل شکل او کیفیت ته تغییر ورکړی او په دې دښمنۍ کې یې هر ډول مادي او معنوي وسائل په کار اچولي دي.

دا چې د الله تعالی د دین په خلاف د کفر دښمني په بېلابېلو شکلونو کې دوام لرلی، نو الله تعالی هم په هره زمانه کې د هماغې زمانې د حالاتو او شرائطو مطابق د کفر او گمراهیو په خلاف د مقابلې لپاره انبیاء علیهم السلام او شریعتونه رالیږلي دي. او دا ځکه چې لکه څنګه چې د کفر په انواعو نظریاتو او فلسفو کې بدلون راځي، نو د هغو د له منځه وړلو لپاره نوي دعوت، نوي تعامل او د بشریت د نوي نسل د لارښوونې لپاره د نویو پیغمبرانو رالیږلو ته هم ضرورت پیښ شوی چې دا سلسله په محمد صلی الله علیه وسلم تمامه شوې ده.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر وفات وروسته د کفر د ټولو انواعو او اشکالو په خلاف مقابله او د هغو له شر څخه د انسانانو د ساتلو مسؤولیت د دې دین علماوو ته ورپاتې شو. او د اسلام په تاریخ کې چې تر کومه وخته د دین علماوو د اسلام د بیان تر څنګ کفر او د هغه ډولونه او نظریات هم

خلکو ته ور معرفي کول، نو خلکو به هم کفر پېژاند، هم به یې خپل ځان او خپله ټولنه ورڅخه ساتله، او هم به یې د هغه د له منځه وړلو لپاره هلې ځلې کولې.

خو له کله راهیسې چې د اسلامښوونې په تعلیمي نصابونو کې د کفر د معاصرو انواعو، اشکالو او نظریاتو پېژندګلوي او د هغو په خلاف په معاصر شکل مبارزه له پامه غورځول شوې، او د مسجد امام، د مدرسې استاد، د منبر خطیب، د کتاب مؤلف او شارح او د خانقاه مرشد د دې زمانې خلکو ته د کفر د معاصرو ډولونو لکه د سیکولریزم، ډیموکراسۍ، کمونیزم، هیومنیزم، لیبرالیزم، د اسلام خلاف وضعي قوانینو، تنصیر، استعمار، استشراق او د معاصر کفر د نورو ډولونو د نظریاتو او عقائدو په خلاف څه ونه ویل او و یې نه لیکل، او همدارنګه یې په خپلو فعالیتونو کې د کفر لوري ته د بلونکو اشخاصو او احزابو په خلاف علمي او فرهنګي مبارزې ته ځای ور نه کړ، نو هماغه وو چې د کفر دغه معاصر ډولونه او د هغو نظریات په خطرناک ډول د اسلامي نړۍ په ولسونو کې خپاره شول، او د نویو نسلونو په ملیونو ځوانان یا ورڅخه متأثره شول، او یا یې هم په صف کې ودرېدل او ېبرته یې د اسلام په خلاف دښمني شروع کړه.

## د کفر د معاصرو ډولونو د پېژندنې پېچلتیا:

د معاصر کفر خطر په دې کې دی چې اسلامي ټولنو ته د صریح کفر په نامه نه راصادرېږي، بلکې هغه پداسې نومونو او شعارونو په اسلامي ټولنو کې خپرېږي چې په ظاهره یې له نومونو د کفر نښې نه ښکاري، او د آزادۍ، دیموکراسۍ، سیاسي او دیني پلورالیزم، پرمختګ، مساوات، ټولنیز بدلون، د بیان او عقیدې د آزادۍ، د بشر د حقوقو، د ښځو د حقوقو، عقلانیت، قانون

مندۍ، نړیوالو قوانینو، نړیوالو اصولو، مدني ټولنې او دېته په ورته نورو نومونو د مسلمانو ټولنو پر ژوند ځان حاکموي. او دا ټول هغه اصطلاحات دي چې هر یو یې په غرب کې خپل فلسفي مفهوم او مدلول لري چې له یوې مخې د اسلام په مخالف قطب کې قرار لري.

په تېرې یوې پېړۍ کې کفارو او په خاص ډول د کمونیزم، سیکولریزم او لیبرالیزم د مکتب پیروانو خپلې فلسفې، نظریات، سیاسي او اجتماعي اصول او خپل فکري او معنوي ارزښتونه له بېلابېلو لارو او د بېلابېلو وسائلو په وسیله په مسلمانانو ومنل.

د دغو پردیو ارزښتونو او سیاسي او اجتماعي نظریاتو د تأثیر په نتیجه کې په اسلامي نړۍ کې داسې پردیپال نسلونه رالوی شول چې د سیاست، قوانینو، تعلیم، فرهنګ، اخلاقو، معنوي ارزښتونو، عسکریت او اقتصاد په ډګرونو کې د غربیانو پر لاره روان شول. سیکولر غرب او کمونست شوروي اتحاد په دې وتوانېد چې اسلامي نړۍ خپله داسې مستعمره وګرځوي چې حکام او نظامونه یې پخپله خوښه په دوئ پسې روان شي.

د معاصر کفر د نه پېژندنې او د هغه په اړه د غفلت نتیجه په دې شکل کې هم راووته چې هغه عالم، طالب، مرشد او تبلیغي دعوتګر چې باید مسلمانان یې د معاصر کفر له خطرونو څخه خبر کړي وای د هغوئ لویه برخه نن پخپله لیبرالیزم، دیموکراسي، سیکولریزم، هیومنیزم، تنصیر، استشراق، وضعي قوانین، نړیوال کفري پوځي او سیاسي تړونونه او د کفر نور اوسني انواع او اشکال په علمي شکل نه پیژني، نو څکه خو یې نه په خلاف مؤثره مبارزه کولی شي، او نه یې دغې مبارزې ته په خپلو اهدافو کې ځای ورکړی دی.

که په دې مجال کې په افغانستان کې د طالبانو فکري، سیاسي او نظامي پدیدې په نسبي ډول یو عملي مثبت مثال نه وای قائم کړای، نو په حاضر

وخت کې به موږ د ديني عالم له آدرسه د معاصر کفر په خلاف د مبارزې مثال نه درلود. خو د طالبانو فکري جهادي پديدې هم دې کار ته له علمي او فکري نظره چندان په جديت او ژورتيا نه دي کتلي، دوئ نه خپلو پيروانو، عامو طالبانو، محصلينو او عام ولس ته د کفر د معاصرو انواعو او اشکالو په خلاف د مبارزې د فکرى ادبياتو کتابونه او مراجع په لاس ورکړي، او نه يې په نصاب کې ورته ټاکلي چې د مناقشې او معاصر علمي استدلال په ډګر کې په هغوئ کې د مطلوبې مبارزې وړتيا پيداکړي.

دا سمه ده چې طالبانو د سرښندنې او مسلحانه مقاومت په ډګر کې د نړۍ د لويو پوځي ځواکونو په مقابل کې پوره مېړانه او وړتيا ښودلې، خو آيا د افغانستان د اوسني عصر د سيکولريزم او معاصر الحاد له طوفاني څپو سره مخامخ نوي نسل ته يې سل دوه سوه عنوانه داسې ديني او فکري کتابونه هم وړاندې کړي دي چې د هغو په لوستلو ځان له پرديو فکري، عقائدي او سياسي فتنو وساتي، او يا يې په مقابل کې په علمي لحاظ مبارزه وکړي؟!

زموږ يوه لويه برخه ديني عالمان او مرشدان که د يهودو او نصاراوو په هکله څه معلومات لري هم، نو هغه هم هماغه د يونيم زر کلونو مخکني معلومات دي چې اوس په هغه شکل کې وجود نه لري. او دا څکه چې د نن ورځې يهوديت، صهيونيزم او په هغو پورې اړوندو نړيوالو او محلي تنظيمونو تقريباً ټوله نړۍ په يوه او يا بل شکل يرغمل کړي ده، او په نړۍ کې يې د ډېرو مهمو چارو واگې په خپل لاس کې نيولي دي.

همدارنگه نصرانيت هم اوس هغه پخوانی د صومعې او رهبانيت دين نه دی چې عقيده يې په يوه خاصه محدوده کې تأثير ولري او بس. بلکې نصرانيت اوس په صليبيت، تنصير، استعمار او نړيوال نظام بدل شوی چې د نړيوالو کاتوليکو، ارتوډکسو، پروټسټنټ کليساگانو او نورو نړيوالو مؤسسو له لارې

يې په بېلابېلو شکلونو ټولې نړۍ ته ځان رسولی دی او د ملیاردونو انسانانو پر ژوند یې خپل تأثیر پری ایښی دی. خو زموږ د دیني عالم، د مدرسې، او د خانقاه د مرشد په نصاب کې د دغو لويو خطرونو په هکله هېڅ هم نشته.

دا چې په مکتب، پوهنتون، مسجد، مدرسه، خانقاه او تبليغ کې زده کوونکو ته د کفر د معاصرو ډولونو او د هغو د نظرياتو په اړه څه نه تدريسېږي، نو له دغو ديني او علمي مراکزو څخه يوه برخه فارغېدونکي هم عامو خلکو ته په دې اړه د ويلو څه نه لري. هماغه وي چې يوه لويه برخه عام خلک د دغو کفري نظرياتو په دامونو کې په يوه او بل ډول او نامه ښکار شي.

د افغانانو د جهادي مقاومتونو په بهير کې د ډېرو لويو افتخاراتو ترڅنګ يوه لويه منفي نقطه هم شته چې تل يې جهادي مبارزې له هغې متأثره شوې دي، او هغه دا ده چې دوئ د دښمن په مقابل کې مقاومت کوي، خو د هغه له فکر او نظرياتو سره د مقابلې په ډګر کې جديت او پوره وړتيا نه لري.

که د پورتنۍ مدعا د اثبات لپاره د مثالونو په لټه کې شو، نو ښه ډېر مثالونه به وينو چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

١ – افغانانو د چنګېزيانو په مقابل کې مقاومت کړی، خو د چنګېز د فکر او قانون په مقابل چې (ياسا) نومېده او حق او باطل يې ورکې سره ګډ کړی وو کومه مؤثره فکري مقابله نه ده کړې، بلکې افغانانو پخپله هم په خپل عدلي او حقوقي ژوند کې په داسې عرفونو او قوانينو ګذاره کړې چې شريعت، قومي نرخونه، رواجونه، عرفونه او خپلې انګېرنې او نظريات يې ورکې ګډ کړي دي. دين يې د عبادت په ساحه کې منلی، خو د دين کتاب يې يوازې د ملا ګڼلی. او چې په خپلو کې سره په منازعاتو کې اخته شوي نو بيا يې ډېر ځله د دې پر ځای چې قضيه يې د فيصلې لپاره يوازې شريعت ته وروړې وي، مقابل لورې ته يې ويلي دي چې (په شريعت راسره فيصله کوې او که په

پښتو؟ دواړو ته دې تيار يم) يعنې که شريعت وي او که غير شريعت دواړه منم.

۲- افغانانو د انګريزانو په خلاف ډېرې جګړې کړي دي او ډېرې قربانۍ يې ورکړي، خو د انګريز د عقيدې په خلاف چې (نصرانيت) دی، او د هغه د اخلاقو، سياسي تفکر او فرهنګ په خلاف يې چې ليبراليزم، استعماري توسعه غوښتنه، سيکولريزم او ډېموکراسي ده هېڅ کومه جدي، علمي، فکري او فرهنګي مبارزه نه يوازې دا چې کړې نه ده، بلکې ښه ډېر پوهان، مفکرين، سياستمداران او د نظام او د قلم خاوندان يې د انګريزانو پر لاره روان شوي، او ولس ته يې په بېلابېلو ډګرونو کې اروپايي فکر ورتلقين کړي دی، او د هماغه فکر پر اساس يې نظامونه هم جوړ کړي دي، او ان تر دې چې کله کله خو يې ځينې (پيران) (ملايان) او (نهضتيان) هم د بې دينه ډېموکراسۍ په صف کې درېدلي او د الله تعالی جلّ جلاله په عوض يې انګرېزان او امريکايان له ځانه خوشحاله کړي دي.

۳- افغانانو د هندوانو او سکانو په خلاف جګړې کړي دي، د هندوستان ډېرې سيمې يې لاندې کړي، ډيلي يې فتحه کړې، خو د هندوييزم د کفر په خلاف يې چې د شرک تر ټولو بد ډول دی نه کومه علمي او فکري مبارزه کړې، نه يې د هندوييزم د عقائدو، اخلاقو، مشرکانه تمدن په خلاف څه ويلي، نه يې د مسلمانانو په خلاف د هندوانو له بدو عزائمو پرده پورته کړې، او نه يې هم په پراخه پيمانه د تأليف او فکري مبارزې په ډګر کې راتلونکو نسلونو ته څه پرې ايښي دي. او د دې کار نتيجه يې دا راوتلې چې د دې پر ځای چې په افغانه ټولنه کې هندو او سک ته د مشرک، کافر، اهل ذمه او د اسلام د دښمن په سترګه وکتل شي، هندو ته (لالا) او سک ته (سردار) ويل شوي دي چې دواړه د عزت او درناوي الفاظ دي.

نه یوازې دا چې افغانانو ته د هندوانو فکر او فرهنگ د یو کفري او شرکي فرهنگ په حیث نه دی معرفي شوی، بلکې د نظام او با نفوذه سیاسي جهتونو له لوري په سیستماتیک ډول کوښښ شوی چې (مسلمان) افغانستان ته له (کافر) هندوستان سره د یو دوست هېواد په حیث پیوند ورکړل شي، او دلته د هنه دي فرهنگ د خپرېدو لپاره لاره هواره شي.

۴- افغانانو د روسانو په خلاف هم لوی جهاد او اوږده جگړه وکړه او د لویو قربانیو په ورکولو یې د الله تعالی په نصرت له هغوئ خپله خاوره آزاده کړه، خو د کمونیزم د فکر او عقیدې په خلاف یوه علمي، فکري او فرهنگي مبارزه ونه شوه. زموږ عالم او مدرس ونشوای کولی چې د ولس لوستي نسل ته کمونیزم د (کفر) په حیث ورمعرفي کړي. همدغه علت دی چې په افغانستان کې کمونستان او د کمونیزم د فکر پلویان هم ځانونه (مسلمانان) گڼي، او ټولنې هم هغوئ د کمونیزم د منلو له امله کافر نه دي گڼلي، پداسې حال کې کمونیزم بې له شکه د اسلام له نظره (کفر) او کمونستان (کافران) دي. د دې کار نتیجه دا راووته چې نه یوازې دا چې پرون موږ کمونستان له خپلې ټولنې څخه گوښه نه کړای شول، بلکې هماغه کمونستان د غرب تر چتر لاندې په بل شکل بیا پر همدې مسلمانې ټولنې حاکمان شول، او دې ولس ته یې د کمونیزم په خلاف د درېدلو سزا ورکړه.

نو پورتني وضعیت او په اسلام کې د کفر پېژندنې اهمیت ته په پام سره باید د اسلامي مدارسو په نصابونو کې د (ارجائي) او (خوارجي) فکرونو له تأثیراتو لیرې د اهل السنّة والجماعة د لیدلوري مطابق د کفر او گمراهیو د معاصرو شکلونو په اړه په وضاحت سره خبره وشي، ترڅو هم د اسلام او کفر پولې روښانه شي، او هم مو د مسجد، مدرسې او مکتب له لوري د کفر په خلاف شعوري او هر اړخیز ډول مؤثره مبارزه وشي، او په هغه وخت کې به بیا کفار

او د هغوئ غلامان نشي کولی چې زموږ د ولسونو ځوانان اغوا او بې دینه کړي.

**د باطل پېژندنې اهمیت:**

لکه څنګه چې په دین کې حق پېژندنه یو اساسي او مهم هدف دی همدغه ډول باطل پېژندنه هم یو ډېر مهم او اساسي کار او هدف دی، او دا ځکه چې ترڅو مسلمانانو خپل دښمنان او د هغوئ باطل عقائد او نظریات نه وي پېژندلي، نه د هغوئ په اړه مناسب موقف نیولی شي، او نه ورسره مناسب تعامل کولی شي.

د مدارسو طالبانو ته د باطلو ادیانو، باطلو مذاهبو، افکارو او نظریاتو پېژندل ځکه ضروري دي چې د حق او د باطل ترمنځ تفکیک کول یو شرعي ضرورت دی.

**اسلامي مفاهیم د هدف له نظره:**

که اسلامي مفاهیمو ته په عمومي ډول د هدف له لحاظه وګورو نو لاندې دوه محوري نقطې په نظر راځي:

۱ـ په عقیده، تصور، خُلُق، سلوک، عمل، معاملاتو او د ژوند په نورو سیاسي او اجتماعي چارو کې د خیر پېژندل او پر هغه عمل کول.

۲ـ په پورتنیو ټولو مجالاتو کې د شر پېژندل، له شر څخه د ځان او خلکو لرې ساتل او د هغه په خلاف مبارزه او جهاد کول.

اسلام که له یوې خوا خلکو ته د خیر د منلو حکم کړی، نو له بلې خوا یې له شر څخه د لیرې پاتې کېدلو لپاره وقایوي او علاجي تدابیر هم ورښودلي او د همدې مقصد لپاره یې اسلامي نظام مکلف کړی چې په اسلامي ټولنه کې د

(ولاء) او (براء) عقیده چې له اسلام او مسلمانانو سره د دوستي او له کفر او کفارو بېزاري پرې رامنځته کېږي او د مسلمانانو ديني هويت پرې ساتل کېږي، او همدا رنګه جهاد چې د کفر او ظلم شر پرې دفع کېږي، د شرعي حدودو تطبيق چې د جرم مخه پرې نيول کېږي، د تعزيراتو حکم چې د هر ډول لوی او واړه باطل او فساد لاره پرې بندېږي، امر بالمعروف او نهی عن المنکر چې خلک پرې ښو ته تشويقېږي او له بدو پرې ليرې ساتل کېږي رعايت او تطبيق کړي.

د الله تعالی په نزد د شر له منځه وړل او د خير عملي کول دومره ستر ارزښت لري چې د همدې دوو هدفونو لپاره يې ټول انبياء عليهم السلام رالېږلي او پر هغوئ يې آسماني کتابونه او شرائع را نازل کړي، او انبياوو عليهم السلام هم خپل امتونه پر همدې فکر او عمل روزلي دي.

د دې لپاره چې مسلمانانو ته د اسلام او د کفر لارې او عقائد په راڼه ډول ورمعلوم وي الله تعالی هم په قرآن کريم او رسول الله صلّى الله عليه وسلّم په خپلو مبارکو احاديثو کې که له يوې خوا ايمان او د هغه مباحث، تقاضاوې، ضروريات او پر هغو مرتب کېدونکي نتائج بيان کړي دي، نو له بلې خوا يې د کفر او باطل ډولونه، د هغو د بطلان دلائل، د هغو ضررونه، له مسلمانانو سره د کفارو د دښمنۍ طريقې او اساليب هم بيان کړی دي.

الله تعالی هر نبي او هر امت ته د هغوئ د زمانې باطل ورپېژندلی دی. رسول الله صلّى الله عليه وسلم ته هم په قرآن کريم کې د عربو د مشرکينو، يهودو، نصاراوو، مجوسو، صابئينو او نورو کفري ملتونو کفر او د هغوئ باطل استدلالات ورپېژندل شوي دي، او د حق په هکله يې د هغوئ د شبهاتو ځواب ورښوولی دی.

الله تعالی په قرآن کریم کې خپل رسول صلّی الله علیه وسلّم او مسلمانانو ته د پخوانیو هغو قومونو د کفر او د هغه د بد انجام په اړه آیات رانازل کړي چې د باطل لاره یې نیولې وه او د انبیاوو علیهم السلام په مخالفت کې ولاړ وو. په دې لړ کې الله تعالی د نوح، ابراهیم، موسی، لوط او نورو انبیاوو علیهم السلام د قومونو کفر په تفصیل سره بیان کړی دی. په قرآن کریم کې الله تعالی په هر ځای لکه څنګه چې ایمان او د هغه غوښتنې بیان کړې دي، همدارنګه یې کفر او د کفارو باطل دلایل، شبهې، د هغوئ ذهني قناعتونه او هغه کوششونه هم بیان کړي دي چې له اسلام څخه یې د مسلمانانو د وېستلو په مقصد په کار اچوي.

رسول الله صلی الله علیه وسلّم چې خپل اصحابان د باطل په اړه پوهولي او د باطل له دنیاوي او اخروي خطرونو او تاوانونو یې خبر کړي وو، نو ځکه خو د هغه صلی الله علیه وسلّم په اصحابو کې د ارتداد پېښې د نشت په حساب وې.

د اوسنی زماني په څېر حالت کله هم پر مسلمانانو نه و راغلی چې په ډله ییز ډول دې کله مسلمانان کمونیزم مني، کله دې بیا په ملیونونو مسلمانان د دیموکراسی غېږې ته ځان ورغورځوي، کله د لیبرالیزم، هیومنیزم او معاصر الحاد کفر مني، کله دې د نصرانیت ملګرتیا کوي، کله دې له یهودیته د راټوکېدلي ماسونیت په جال کې راګیر کېږي او خپل هر څه دې په نړی کې د یهودیت د برلاسی او تقویې او د هغه د اهدافو د تحقق لپاره په کار اچوي.

د رسول الله صلی الله علیه وسلّم په وخت کې خو به چې هغه صلی الله علیه وسلّم خپلو اصحابو ته د باطل ماهیت وروپېژاند، نو بیا به یې هېڅکله د باطل پلویانو ته تمایل نه درلود. او که کله به د هغوئ کوم یوه ته د کوم کافر حاکم له لوري کوم دعوت ورغی نو د کافر له دعوت سره به یې هغه څه کول چې

د کعب بن مالک رضي الله عنه کیسه یې مثال ده چې د احادیثو په کتابونو کې یې تفصیلات په لاندې معنی روایت شوي دي:

د رسول الله صلی الله علیه وسلّم هغه ملګري چې د تبوک له غزا پاتې شوي ول (کعب بن مالک)، (مرارة بن ربیع) او (هلال بن أمیة) نومېدل. رسول الله صلی الله علیه وسلّم له هغوئ سره تأدیبي مقاطعه وکړه او پنځوس ورځې چا له هغوئ سره خبرې ونه کړې. د شام د عربو د غسان د قبیلې د کفارو مشر په دې خبر شو چې رسول الله صلی الله علیه وسلّم له کعب بن مالک څخه خفه شوی دی، او دا داسې یو فرصت دی چې باید دی ترې د اسلام په خلاف استفاده وکړي، نو هماغه و چې خط یې ورولېږه، د اوسنی زمانې په اصطلاح کعب رضي الله عنه ته یې د قبلېدلو ویزه ورلېږله چې ورکې لیکلي یې و(فإنّه قَد بَلَغَنَا أَنَّ صَاحِبَک قَد جَفَاکَ وَ لَم یَجعَلکَ اللّهُ بِدَارِ هَوَانٍ، وَلاَ مَضِیعَةٍ، فَالحَق بِنَا نُوَاسِکَ) ترجمه:(خبر شوم چې ملګري دې درڅخه مخ اړولی دی، ته اللّه تعالی د ذلت په کور کې نه یې ګرځولی، موږ ته راشه همدردي به درسره وکړو). لیک یې د خپل یوه تبعه په لاس مدینې منورې ته ورولېږه. کله چې استازی د مدینې منورې بازار ته ورسېد هلته یې په لوړ غږ نارې وهلې (مَن یَدُلُّ عَلَی کَعب بنِ مَالِک؟) ترجمه: (کعب بن مالک به څوک راوښيي؟) یو چا کعب رضي الله عنه وروښود، دی ورغی او خط یې ورکړ. کعب رضي الله عنه چې خط ولوست نو ویې ویل: دا یې لا بله فتنه! هماغه وو چې خط یې واخیست او د تناره لمبو ته یې ور واچاوه او ویې سوځاوه.

نن خو که چا ته د کوم کفري هېواد ویزه راشي، نو په ډېر افتخار به یې ومني، که څه هم چې هلته به د کفارو د قانون مطابق ژوند تېروي، د خوندونو د حاصلولو لپاره به د کفارو مزدوري کوي، هلته به له اسلامي محیط، مسجد،

اسلامي ژوند، عفت او اسلامي اخلاقو فاصله نیسي، او خپلو اسلامي مسؤلیتونو ته به شا ورگرځوي.

د دې زمانې یوه لویه برخه مسلمانان په حقیقي معنی کفر او باطل نه پېژني، نو ځکه خو کرکه او نفرت هم ورځخه نه لري، بلکې روحي او فکري پیوند یې ورسره اخیستی، او په ډېرو چارو کې د هغوئ پر لاره په تللو کې خپله کامیابي ویني، او د درواغو په کېسونو، دوسیو او بهانو په ډېرو مشکلاتو او د میاشتو میاشتو په مزلونو د غرونو، بحرونو، دشتو او ځنگلونو له لارو خپل ځانونه، ښځې او ماشومان د دې لپاره ور رسوي چې د کفر په خاوره کې قبول شي، او د هغوئ د ټولنې او نظام افراد وگرځي.

زموږ په تعلیمي نصابونو او اوسني فرهنگ او ادب کې د اسلام د نیمگړي تصور د ستونزې تر څنگ د کفارو د نظریاتو د بطلان د نه معرفي کولو اثر نه یوازې په دې کې راښکاره شوی چې د نوي نسل ځوانان مو هلته ور روان دي، بلکې دلته هم په ډېر اخلاص د کفارو ملگرتیا کوي، د هغوئ لپاره د خپلو مسلمانو ورونو په خلاف جنگیږي، په خپله خاوره کې د اسلامي نظام د قائمېدلو مخنیوی کوي، او له اسلام او مسلمانانو سره یې داسې تعامل وي لکه دوئ چې تش په نامه مسلمانان وي. دوئ دا هرڅه ځکه کوي چې دوئ ته زموږ د تعلیم او فرهنگ مسؤلینو نه باطل سم ورپېژندلی، نه یې د هغه له ضرورنو خبر کړي دي، او نه یې هم د کفر او باطل په اخروي انجام سم پوه کړي دي.

د کفر د معاصرو انواعو او د هغه د فلسفو او نظریاتو په اړه د مسلمانانو د اوسنیو نسلونو معلومات دومره سطحي او یا د نشت برابر دي چې نه یوازې دا چې د هغو د فکري مقابلې لپاره په دوئ کې همت نه پیدا کوي، بلکې د نني کفر د تېر اېستونکو نظریاتو او اصطلاحاتو په جادو کې داسې راگیر شي چې

په پوره قناعت له کفارو سره کلکه ملگرتیا کوي، او د هغوئ په وینا له خپل کتاب، منبر، محراب، ملا، مسجد، خانقاه، جهاد او جبهې سره داسې دښمني کوي لکه ثواب چې ورکې ویني. او د دې لپاره چې د پردیو په عسکری کې قبول او په صف کې یې ومنل شي هغوئ ته عریضې وړاندې کوي، تصدیقونه او واسطې ورته لټوي ترڅو د یرغلگرو عسکر شي او بیا د هغوي په قومانده او ټوپک خپل هغه مجاهد ورور ووژني چې له دین او خاورې څخه د دفاع پخاطر د همدې یرغلگرو کفارو مقابلې ته راوتلی وي.

د کفر د انواعو پېژندل له دې امله هم ضروري دي چې باطل د هر وخت لپاره کوشش کړی چې په اسلام کې رخنه وکړي او خپل کفري عقاید او نظریات اسلام ته په پوښلي شکل راداخل کړي، ترڅو ناپوه او یا کم علمه خلک ورباندې پوه نشي، لکه همدا اوس چې له غرب څخه متأثره سیکولر عناصر کوښښ کوي چې د منځلاري اسلام تر نامه لاندې غربي افکار اسلام ته ورداخل کړي.

ځومره باطلې فرقې چې په اسلام کې را پیدا شوي او د هغو له امله دا امت پر دري اویا ډلو وېشل شوی او یا به وېشل کېږي، او له اهل السنة والجماعة پرته نورې ټولې باطلې گڼل کېږي. د دې ټولو فرقو سرچینې، ریښې او تاریخي پسمنظر په یوه یا بل ډول په تاریخي لحاظ له کفري عقائدو، او ادیانو او نظریاتو سره وصل کېږي.

د باطلو ادیانو او د کفر د معاصرو شکلونو او نظریاتو پېژندل له موږ سره په دې کې مرسته کوي چې موږ په اسلام کې د باطلو فرقو له لوري د رخنه کولو مخه ونیسو، او د هغو له لوري د اسلام د تحریفولو له هڅو هم خپل ځان او هم خلک خبر کړو، او هغه پېچلي فلسفي او کفري مفاهیم چې دوئ یې

مسلمانانو ته د اسلامي اصطلاحاتو تر پوښښ لاندې د ورتېرولو کوښښ کوي او پر هغو نوي نسلونه روزي وپېژنو.

کله چې زموږ علماوو او طالبانو ته دا ور معلوم شي چې کوم نظریات پردي او کفري دي؟ او له کومې کفري سرچینې راغلي شوي دي؟ د کفر وجه او د تکفیر دلائل یې کوم دي؟ او په اړه یې شرعي حکم څه دی، او زموږ تعامل باید ورسره څه وي؟ نو بیا په ټولنه کې د باطل نه پېژندنې هغه وضعیت نه تکرارېږي چې زما د ابتدایی طالبۍ په وخت کې زما یوه استاذ خپله کیسه راته کوله چې ویل یې: زه د ظاهر شاه په وخت کې د یوه مسجد امام وم، او د کلي ځوانان چې ځینې په پوهنتون او ځینې په لیلیه لیسو کې وو کله به چې کورونو ته راتلل نو بیا به یې مسجد ته یو دوه جریدې هم ځانه سره راوړلې چې د یوې پر تنه دي به (خلق) او د بلې پر تنه دي به (پرچم) لیکل شوي و او په مسجد کې به یې د کلي هلکان ورباندې راټول کړي وو او د هغو د مضامینو په اړه به یې ورته تشریحات ورکول.

ملا صاحب راته ویل: په دې جریدو کې به د ځینې سیاسي څېرو عکسونه چاپ شوي وو، ما یوه ورځ له دوئ پوښتنه وکړه چې دا عکسونه د چا دي؟ دوئ وویل: دوئ د دې وطن اتلان دي. کلیوال اطرافي ملا صاحب راته وویل چې زه په دې نه پوهېدم چې کمونیزم څه شی دی؟ او دلته یې څوک د خپراوي هڅې کوي؟ که زه پوهېدی نو هېڅکله به مې له خپل مسجده دوئ ته د کفر د خپراوي او د ځوانانو د بې لارې کولو اجازه نه وای ورکړې. هغه راته ویل: کله چې په ښارونو کې ځینې علماوو او اسلامپالو ځوانانو د کمونستانو په خلاف فعالیتونه پیل کړل او د هغوئ په مقابل کې یې عکس العمل وښود، نو په اطرافو کې هم د مساجدو امامان او عام خلک د کمونیزم په خطر پوه شول.

په افغانستان کې کمونیزم ځکه په اسانه او پراخ ډول خپور شو چې زموږ د مساجدو د امامانو او د یوې برخې دیني مدرسینو علمي پانگه کمزورې او سیاسي او فکري معلومات یې ډېر سطحي وو، او خپل علمي او دیني مصروفیت ته یې د یوه وظیفوي شغل په حیث کتل چې باید یوازې امامت وکړي او یا هم تر ډېره حده د لغوي او منطقي کتابونو تدریس ته توجه وکړي، نو ځکه خو یې یوې برخې نه د معاصر کفر انواع، اشکال، فلسفې او د هغو فکري ادبیات پېژندل، او نه یې د هغو په خلاف علمي او فکري مبارزه خپله وظیفه گڼله. هماغه و چې د سلگونو زره مساجدو او امامانو په شتون کې هم په ملت کې د کمونیزم او دېموکراسۍ افکارو خپلې ریښې وغزولې او اول دا ولس د کمونېزم په اور کې وسوځېد، او بیا وروسته د ډېموکراسۍ پلولویانو شل کاله د امریکایي اشغال تر تسلط لاندې د خپل دین او ولس په خلاف بې رحمه جگړه وکړه، او د خپل تسلط په وخت کې پراخ کوښښونه وکړل چې د ډېموکراسۍ، سیکولریزم، هیومنیزم، نشنلیزم، لیبرالیزم، د ښځو د غربي ډوله آزادي او نور واردو شوي غربي افکار زموږ د ولس نوي ځوان نسل ته ور تلقین کړي.

دا چې نن زموږ د ولس یوه نسبتا لویه برخه خلک له کفارو سره حساسیت نه لري، او د هغوئ لپاره یې عسکري، ملېشه توب او جگړه وکړه، علت یې دا دی چې دوئ د دې زمانې کفر نه پېژني، او له پېژندلو یې تر ډېره حده ځکه عاجز دي چې ننني کفر پداسې پوښلي شکل چې په ظاهره ځانته د اسلام شکل ورکوي خو دننه کفر دی د خلکو ذهن ته لاره پیداکوي.

د کفر اوسنیو شکلونو له ځینې مسلمانانو داسې خلک جوړ کړي چې وایي مسلمان یم خو د الله د دین حاکمیت نه منم، بلکې د کفارو لخوا پرجوړو شوو قوانینو فیصله کووم. مسلمان یم خو له کفارو سره دوستي بده نه گڼم.

مسلمان یم خو د مجاهد وژل خپله وظیفه ګڼم. مسلمان یم خو د کافر ترځنګ د درېدو لپاره له هغه سره تعهد کووم، فورمه ډکووم، او په خپله خوښه له هغه څخه د دفاع لپاره ورسره قرارداد امضا کووم. مسلمان عسکر یم، خو د جنګ قومانده مې دې د کافر په لاس کې وي طاعت یې کووم، او هدف هم راته هماغه ټاکي، خو زه بیا هم ورسره وفادار یم. مسلمان یم خو د ماین کش حیوان په څېر د کافر په مخ کې ځم چې که په لاره کې کوم ماین وي چې په کافر انفجار ونه کړي، بلکې په ما والوزي!!

د کفر له اوسنیو افکارو د افغانستان لپاره داسې اساسي قانون جوړ شوی وو چې په شروع کې ورته بسم الله لیکلې وه او بیا یې ورپسې د همدې قانون په مقدمه کې د نورو مفاهیمو ترڅنګ لیکلي و چې:( ...د ملګرو ملتو د منشور په رعایت او د بشر د حقوقو نړیوالې اعلامیې ته په درناوي ... د خلکو پر اراده او دېموکراسۍ ولاړ نظام د تأسیس لپاره ... دغه اساسي قانون... تصویب کړ. او همدارنګه هماغه قانون په شپږمه ماده کې د نورو مفاهیمو ترڅنګ وایي:(دولت... د دېموکراسۍ په تحقق مکلف دی. او په اومه ماده کې هم تصریح کوي چې:(دولت د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې رعایت کوي).

هماغه اساسي قانون په صراحت سره وایي چې د خلکو پر اراده او رایه به فیصله کوي، نه د الله تعالی پر شریعت. نظام به یې د دیموکراسۍ د تحقق لپاره وي، نه د اسلام د شریعت د تطبیق لپاره. او رعایت به هم د بشر د حقوقو د هغې نړیوالې اعلامیې کوي چې د هغې په اتلسمه ماده کې هر انسان ته د دین د انتخاب او بدلولو اجازه وکوي.

زموږ د دیني مدارسو په نصاب کې صرف، نحوه، منطق او زاړه ادبیات ښه ډېر دي، خو د اوسنۍ زمانې د باطل معرفي چې د اسلام له اصلي مفاهیمو

څخه ده په اړه يې هېڅ نشته، او همدا وجه ده چې په لکونو خلک وخت په وخت د کفر او باطل په صفونو کې ودرېږي او د دين، عالم، مدرسې، محراب او خانقاه په خلاف جنګېږي. او دا ځکه چې په نصاب کې د کفر د معاصرو انواعو او اشکالو په خلاف حکم او دليل نشته.

د اوسني کفر په اړه چې قانون، نظام، ميډيا، عصري نصاب، ټولنه او اخلاق ورڅخه په يوه او بل شکل متأثره شوي دي هېڅ نه تدريسېږي. نو چې وضعيت داسې وي خلک به د سيکولرو حکومتونو د حاکميت په خلاف کوم حساسيت وښيي، او په کومه عقيده او انګېزه به د هغه مقابله وکړي؟!

## د باطل پېژندل ولې ضروري دي؟

د باطل پېژندل ځکه ضروري دي چې د اسلام د راتګ مقصد د الله تعالى بندګۍ ته د خکلو رابلل او د هغوئ په عقيده، اخلاقو، معاملاتو، فکر او تصور کې د اصلاح تحقق او د فساد له منځه وړل دي، او يا په بل عبارت په معروف امر او له منکر څخه منع ده، او (امر بالمعروف) به هغه وخت راځي چې معروف وپېژندل شي، او له منکر څخه به نهي هغه وخت راځي چې (مُنکَر)، د منکر ضررونه، خطرونه او د انکار وجهه يې وپېژندل شي. په معروف باندې امر کول يا د اصلاح تحقق د دين د ايمانياتو جانب دی، او د منکر او فساد په خلاف مبارزه کول په دين کې د باطل پېژندني او د هغه د له منځه وړلو جانب دی.

نو د دې لپاره چې حق خلکو ته ورسولی شي او له هغه دفاع وشي د حق پېژندل پکار دي. او د دې لپاره چې له منکر څخه خلک و وېرول شي، له خطر څخه يې وساتل شي، مقابله يې وشي، او له منځه يوړل شي، د منکر

پېژندل پکار دي. د الله تعالی انبیاوو علیهم السلام هم هر یوه په خپله زمانه همدا کار کړی دی.

که د قرآن کریم مفاهیمو ته وګورو نو وینو چې تقریبا نیمایې برخه یې ایمانیات دي، او نوره نیمایې برخه یې د کفر او ګمراهیو د انواعو معرفي، د کفارو د باطلو دلایلو بیان او د هغو ردول، او د هغو په خلاف د مقابلې د اسالیبو او طریقو اجمالي او تفصیلي بیانول دي.

لکه څنګه چې قرآن کریم رسول الله صلّی الله علیه وسلّم او د هغه مبارکو اصحابانو ته د پخوانیو امتونو او د دوئ د خپلې زمانې د کفر انواع او اشکال ورمعرفي کړل، او همدارنګه تر هغوئ وروسته د هرې زمانې علماوو هم د خپلې زمانې خلکو ته د کفر او باطل انواع او د هغو حکمونه ور پېژندلي دي، همدغه ډول زموږ د زمانې د کفر او باطلو عقائدو او نظریاتو پېژندل او په دیني نصاب کې د هغو په خلاف معلومات ورځایول همداسې ضروري دي لکه څنګه چې د رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم د زمانې او له هغه د مخکې زمانو د کفر او باطل پېژندل ضروري وو.

د کفر او باطل د پېژندلو په اړه رب العالمین په سورة الأنعام کې آیت نازل کړی چې فرمايي:

﴿وَكَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ الْآيَاتِ وَلِتَسْتَبِينَ سَبِيلُ الْمُجْرِمِينَ﴾ [الأنعام:٥٥]

ژباړه: (او همداسې آیتونه په تفصیل سره بیانوو، او دا د دې لپاره چې ته د مجرمانو لار وپېژنې. ـ او یا په بل قرائت ـ د دې لپاره چې د مجرمینو لار څرګنده شي.

په پورتني آیت کې په (کذلك) سره په مخکنیو آیتونو کې پر پیغمبر صلّی الله علیه وسلّم د کفارو بې ځایه اعتراضونو، هغوئ ته د دلایلو بیانولو، د کفارو ګمراهۍ او په تیارو کې اوسېدلو، پر کفارو د عذابونو نازلولو، د هغوئ

دزړونو سختوالي، د کفارو له لوري د مسلمانانو سپک ګڼلو، د کفارو مکرونو او له مسلمانانو سره د هغوئ دښمنۍ ته اشاره شوې ده، او بیا وروسته مسلمانانو ته دا ویل شوي چې دا هر څه د دې لپاره بیان شوي چې د مجرمانو لاره وپېژني، ځان ترې وساتي، او له هغوئ سره د مقابلې مناسب تعامل چې کله دعوت او انذار او کله هم قتال دی وپېژني.

دا آیت په لاندې دوو قراءتونو سره را نقل شوی دی:

**اول:** د (سبیل) په رفع (پېښ) سره (سبیلُ المجرمین) چې پدي قراءت کې په (تَسْتَبِیْنَ) کې (ت) د تأنیث لپاره ده، ځکه د (سبیل) لفظ سماعي مؤنث دی، نو د آیت معنی به داسې شي (د دی لپاره چې معلومه شي لاره د مجرمینو).

**دویم:** په دویم قراءت کې (ت) د مفرد مخاطب لپاره د خطاب ضمیر دی چې مخاطب یې رسوال الله صلّی الله علیه وسلم دی، نو د آیت معنی به داسې شي(او د دې لپاره چې ته د مجرمانو لاره و پېژنې).

په پورتني آیت کې که څه هم چې مخامخ خطاب رسول الله صلّی الله علیه وسلّم ته دی، خو د تفسیر او اصولو علماء وایي چې کوم خطاب چې نبي علیه السلام ته شوی وي هغه په حقیقت کې ټول امت ته خطاب وي که د سول الله صلّی الله علیه وسلم لپاره ورکې کوم تخصیص موجود نه وي. نو دا آیت ټول امت ته خطاب کوي چې دا آیتونه ځکه په تفصیل سره درته بیانوو چې تاسې د مجرمینو لاره وپېژنئ او له هغې ځان وساتئ.

د دې دواړو ترجمو حاصل دا دی چې د کفارو او د هغوئ د مکر، کفر، دسایسو او مقاصدو پېژندل د دې لپاره ضروري دي چې له هغو ځان وساتل شي، خلکو ته یې په اړه پوهاوی ورکړل شي، او مخنیوی او مقابله یې وشي.

د باطل پېژندل په اسلام کې یو اساسي مقصود دی، لکه څرنګه چې د حق پېژندل لازم او ضروري دي، همداسې د باطل پېژندنه هم لوی مقصود او

ضروري کار دی، او د همدې کار لپاره الله تعالی انبیاء علیهم السلام رالیږلي دي. دغه هدف یوازې په رسولانو علیهم السلام او د هغوئ په زمانو پورې خاص نه وو، بلکې موږ ته هم را پاتې او تر هغوئ راته ډېر ضروري دی، ځکه چې د کفر او باطل انواع، اشکال او دسیسې اوس تر هغه وخته هم ډېرې شوې، او هم قوي شوې دي.

د کفر د انواعو پېژندل له دې امله هم ضروري دي چې باطل د هر وخت لپاره کوشش کړی چې په اسلام کې رخنه وکړي، خپل کفري عقاید او نظریات اسلام ته په پوښلي شکل راداخل کړي او ناپوه او یا کم علمه خلک وربانديې پوه نشي، لکه همدا اوس چې له غرب څخه متأثره سیکولر عناصر کوښښ کوي چې د منځلاري اسلام تر نامه لاندې غربي افکار اسلام ته ورداخل کړي.

ځومره باطلې فرقې چې په اسلام کې را پیدا شوې او د هغو له امله دا امت پر دري اویا ډلو وېشل شوی او یا به وېشل کیږي، او له اهل السنة والجماعة پرته نورې ټولې باطلې کڼل کیږي، د دې ټولو فرقو سرچینې، ریښې او تاریخي پسمنظر په یوه یا بل ډول په تاریخي لحاظ له کفري عقائدو او ادیانو او نظریاتو سره وصل کیږي.

د باطل ادیانو او مذاهبو تل هڅه کړې چې په اسلام کې رخنه وکړي، تحریف یې کړي، او د خپلو نظریاتو د تأیید لپاره دلائل هم له اسلام څخه وتراشي چې همدغه کار په افغانستان کې کمونستانو د اجتماعي عدالت، نشنلستانو یې د حب الوطنۍ، غرب پلوو لیبرالانو د اسلامي ډېموکراسۍ او منځلاري اسلام تر عنوانونو لاندې کړی دی.

د باطلو ادیانو او د کفر د معاصرو شکلونو او نظریاتو پېژندل له موږ سره په دې کې مرسته کوي چې موږ په اسلام کې د باطلو فرقو له لوري د رخنه کولو

مخه ونیسو، او د هغو له لوري د اسلام د تحریفولو له هڅو هم ځان او هم خلک خبر کړو، او هغه پېچلي فلسفي او کفري مفاهیم چې دوئ یې مسلمانانو ته د اسلامي اصطلاحاتو تر پوښښ لاندې د ورتېرولو کوښښ کوي او پر هغو نوي نسلونه بې لارې کوي وپېژنو.

کله چې زموږ علماوو او طالبانو ته رامعلوم شي چې کوم نظریات پردي او کفري دي؟ او له کومې کفري سرچینې راګډ شوي دي؟ د کفر وجه او د تکفیر دلائل یې کوم دي؟ او په اړه شرعي حکم، او زموږ موقف او تعامل باید څه ډول وي؟ نو بیا په ټولنه کې باطل په پراخ ډول د خپرېدو فرصت نه پیدا کوي.

په افغانستان کې کمونیزم څکه په اسانه او پراخ ډول خپور شو چې زموږ د مساجدو د امامانو او د یوې لویې برخې دیني مدرسینو تعامل هم له دیني علم سره ډېر سطحي و، او خپل علمي او دیني مصروفیت ته یې د یوه وظیفوي شغل په سترګه کتل چې باید یوازې امامت وکړي او یا هم تر ډېره حده د لغوي او منطقي کتابونو تدریس ته توجه وکړي، نو څکه خو یې نه د معاصر کفر انواع، اشکال، فلسفې او د هغو فکري ادبیات پېژندل، او نه یې د هغو په خلاف علمي او فکري مبارزه خپله وظیفه ګڼله. هماغه و چې د سلګونو زره مساجدو او امامانو په شتون کې هم په ملت کې د کمونیزم او دېموکراسۍ افکارو خپلې ریښې وغزولې، او اول دې ولس د کمونیزم او بیا وروسته د ډېموکراسۍ د نظامونو له لاسه بدې ورځې ولیدې، او د نوي الحاد یا هیومیزم، نشنلیزم، لیبرالیزم او د ښځو د غربي ډوله آزادۍ افکارو زموږ د ولس د ډېرو خلکو په ذهنونو کې ځای ونیو.

**په اوسني عصر کې د باطل پېژندنې پېچلتیا:**

د کفر د معاصرو انواعو او د هغه د فلسفو او نظریاتو په اړه د افغانانو د اوسنیو نسلونو معلومات دومره سطحي او یا د نشت برابر دي چي نه یوازې دا چې د هغو د مقابلې لپاره په دوئ کې همت نه پیدا کوي، بلکې د ننني کفر د تېر اېستونکو نظریاتو او اصطلاحاتو په جادو کې داسې راګیر شوي چې په پوره قناعت له کفارو سره کلکه ملګرتیا کوي، او د هغوئ په وینا له خپل کتاب، منبر، محراب، عالم، مسجد، جهاد او جبهې سره داسې دښمني کوي لکه ثواب چې ورکې ویني. او د دې لپاره چې د پردیو په عسکرۍ کې قبول او په صف کې یې ومنل شي هغوئ ته عریضې وړاندې کوي، تصدیقونه او واسطې ورته لټوي ترڅو د یرغلګرو عسکر شي او بیا د هغوي په قومانده او ټوپک خپل هغه مجاهد وررور ووژني چې له دین او خاورې څخه د دفاع پخاطر د همدې یرغلګرو کفارو مقابلې ته راوتلی وي.

د کفر او ګمراهیو پخوانیو ډولونو ساده شکل درلوده چې هم یې تأثیر او خطر لږ وو او هم مسلمانانو په آسانۍ سره پېژاند او مقابله یې هم ورته اسانه وه. د مثال په ډول پخوا د نصرانیت کفر یو ساده شکل درلود، یوازې یو څه رهبانیت وو چې په ښار یا کومه ګوښې سیمه کې به د نصرانیت راهبان په کومه کلیسا او یا کومه صومعه کې د ګوښیتوب په حالت کې ناست ول او په خپله طریقه به یې خپل عبادت کاوه، خو د نن نصرانیت په هغه پخوانۍ ساده شکل کې نه دی پاتې، بلکې نن یې په منظم تنصیري فعالیت او د ملیاردونو ډالرو په مصرف دنیا تسخیر کړې ده، او د دنیا ګوټ ګوټ ته یې ځان رسولی دی. نن په نړۍ کې داسې ښار نه دی پاتې چې هلته نصراني فعالیتونه په پټه یا په ښکاره رسېدلي نه وي.

نن د نصرانیت فعالیت او تأثیر دومره هراړخیز شوی چې نه یوازې دا چې نور ملتونه یې متأثر کړي دي، بلکې په اسلامي نړۍ کې یې هم هره خوا خپلې

ریښې غزولې دي، ځکه چې دوئ له ټولو موجوده وسایلو لکه انټرنټ، کتاب، میډیا، مرستندویه موسسو، او د سیاسیونو په خپلولو کې له سیاسي رشوتونو او فشارونو او نورو ټولو ممکنه لارو کار اخلي او د خپل فعالیت د توسعې لپاره زمینه سازي کوي.

دامریکا له لوري د اشغال په وخت کې یوازې د افغانستان په څېر هېواد کې د څلورو زرو په شاوخوا کې نادولتي موسسو کار کاوه چې یوې لویې برخې یې له نړیوالو کلیساگانو او تنصیري جهتونو بودیجې ترلاسه کولې.

کله چې د امریکایي اشغال په وخت کې رمضان بشردوست په ۱۳۸۲هـ ش کال کې د حامد کرزي په کابینه کې د پلان وزیر و او په افغانستان کې یې د نادولتي مؤسساتو خپلسري او خطرناک فعالیتونه ولیدل، نو داسې یې فکر کاوه چې دی ریښتیا هم د پلان وزیر دی، نو په یوه ورځ یې د ۱۹۳۵مؤسسو د لغوه کولو اعلان وکړ، خو یوه هفته لا پوره نه وه چې پر حکومت د همدې غربي مؤسسو د فشارونو له امله پخپله له وزارته استعفا ته اړ کړل شو، او دا ځکه چې د ده حکومت د همدې غربیانو او د هغوئ د مؤسسو لخوا جوړ شوی و.

په هغه وخت کې په افغانستان کې د موجودو نادولتي موسسو له جملې څخه تر دوو سوو یې مستقیما په غرب کې له کلیسایي ټولونو بودیجه اخیستله، او دلته یې د کلیسا او د غربي دولتونو د مشترکو اهدافو د تحقق لپاره کار کاوه.

یهودیت هم پخوا ساده شکل درلود او په عربي جزیره کې به په مدینه منوره کې بنونضیر، بنوقینقاع او بنو قریظه یو څو کلی آباد وو چې اوسېدونکي به یې اکثره په یثرب کې چې وروسته (مدینه منوره) شوه په تجارت او یا هم په خیبر کې په بزگرۍ مصروف وو، او یا به یې د شام او عراق په ځینې سیمو

کې دېته ورته مصروفیتونه درلودل، هغوئ په هغه وخت کې نه یو نړیوال اقتصادي قوت وو، او نه یې هم د نن په څېر په ټوله نړۍ کې سیاسي، اقتصادي، اعلامي او علمي تفوق درلود. خو نن یهودیت په هغه پخواني ساده شکل کې نه دی پاتې، بلکې نن یې د دنیا اعلام، اقتصاد، سیاست او د نړیې ټول پوځي صنعت په خپل لاس کې نیولی دی، او د نړۍ پر حکومتونو یې خپل شرایط په اجباري شکل منلي دي.

لکه څرنګه چې د رسول الله صلّی الله علیه وسلم په زمانه کې د یهودیت او هر باطل پېژندل ضروري وو، او الله تعالی په هغه زمانه کې مسلمانانو ته د کفر ټول انواع، اشکال او د کفارو مکرونه او دسیسې بیانول، چې د دې کار په نتیجه کې مسلمانان په دې پوه شول چې لکه څنګه چې ایمان او د ایمانیاتو پېژندل ضروري دي، همداسې د باطل پېژندل هم ضروري دي چې مسلمانان یې باید وپېژني او په هغه کې واقع نه شي، ځکه چې که باطل ونه پېژندل شي، نو د هغه مقابله به څنګه وشي؟ او له هغه به کرکه او نفرت څنګه وشي؟ او همدارنګه به د هغه له خطر او ضرر څخه خلک څنګه وویرول شي؟

که د باطل کېدونه، مکرونه، پلانونه او مقاصد معلوم نه شي، نو له هغو به خپل ځان، خپل ولس، خپل حکومت، اخلاق او د ژوند ټول ابعاد څنګه وساتو؟ نو د دې ټولو هدفو د تحقق لپاره د باطل پېژندل ضروري دي، او د همدې مقاصدو لپاره الله تعالی په خپلو کتابونو او د هغه انبیاوو علیهم السلام په خپلو رسالتونو کې د هرې زمانې کفر بیان کړی دی.

الله تعالی په قرآن کریم کې د انبیاوو او د مؤمنانو د دښمنانو د دښمنیو ډولونه، طریقې، د انبیاوو علیهم السلام په خلاف د هغوئ د دښمنیو حکایات او تاریخ او د کفارو د بېلابېلو طائفو لکه د یهودو، نصاراوو، مجوسو، صابئینو او نورو کفري ملتونو د طریقو او عقائدو بطلان د دې لپاره بیان کړی چې په

هر وخت کې په مسلمانانو کې د هر ډول کفر او باطل په اړه پوهاوی موجود وي. او که داسې نه وي نو بیا د کوم ضرورت لپاره په قرآن کریم کې د بني اسرائیلو او نورو کفارو اوږدې کیسې بار بار په تفصیل سره بیان شوې دي؟ او د قرآن کریم دا دومره لویه برخه ولې د دې کفري ملتونو په معرفي کولو او د دوئ د عقائدو په ردولو او باطلولو نیول شوې ده؟

**په قرآن کریم کې د باطل معرفي کولو ولې لویه برخه نیولې ده؟**

دا چې قرآن کریم د الله تعالی آخري کتاب، او د رسول الله صلّی الله علیه وسلّم امت آخري امت دی، او دې امت ته د نبوت د میراث په حیث دعوت، جهاد او له باطل سره د هر ډول مقابلې مسؤولیت ورپه غاړه دی، پکار وه چې دې امت ته دې د باطل انواع، د هغه فلسفې او دلائل، د حق په خلاف د باطل د جګړې ټول کیفیتونه، د کفر او کفارو په خلاف د مسلمانانو د تعامل ټول اسالیب او د حق او د باطل ترمنځ د جګړو د بېلابېلو پړاوونو انجام ورمعلوم وي، نو ځکه خو الله تعالی په قرآن کریم کې د باطل بیانولو ته ډېر ځای ورکړی، ترڅو مسلمانان د بشریت په تاریخ کې د حق او د باطل د کشمکشونو د تجربو په نظر کې نیولو سره په علمي، رواني او مادي لحاظ د هر وخت لپاره د باطل مقابلې ته تیاروي.

د باطل پېژندنې ته د شدید ضرورت وجه دا هم ده چې د حق او د باطل تر منځ د دې جګړې د مقابل لوري رهبر (ابلیس) دی چې ډېر کینه ګر او مکار دښمن دی. هغه خپلو اتباعو ته هر وخت د انسانانو د بېلارې کولو لارې چارې ورښيي، او په ټینګار سره یې الله تعالی ته ویلي چې زه به ستا نېکان بنده ګان له سمې لارې بېلارې کووم، او د هغوئ د بېلارې کولو لپاره به

هغوئ ته له هرې لارې ورځم. الله تعالی په خپل کتاب کې د شیطان وینا داسې بیانوي:

﴿قَالَ فَبِمَا أَغْوَيْتَنِي لَأَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَاطَكَ الْمُسْتَقِيمَ (16) ثُمَّ لَآتِيَنَّهُمْ مِنْ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ أَيْمَانِهِمْ وَعَنْ شَمَائِلِهِمْ وَلَا تَجِدُ أَكْثَرَهُمْ شَاكِرِينَ﴾[الأعراف: ١٧]

ترجمه: (وویل (شیطان): نو چې بې لارې دې کړم هرو مرو به ستا په مستقیمې لارې کې دوئ ته (په کمین کې) کښېنم، بیا د دوئ له مخې، له شا یې، له ښي اړخ یې او له کیڼ اړخ یې ورته راځم او ډېری به یې شکر کوونکي نه مومې).

په پورتني آیت د آدم علیه السلام له اولاد سره پر دښمنۍ د شیطان له ټینګاره ښکاري چې شیطان او په هر عصر کې د هغه پیروان چې پر هر باطل دین او طریقه وي هرو مرو به د مؤمنانو په خلاف خپلې دښمنۍ ته دوام ورکوي، او په دغې دښمنۍ کې به د مؤمنانو د مغلوبولو لپاره له هرې مادي او معنوي وسیلې کار اخلي. نو د دې لپاره چې مؤمنانو ته د هرې زمانې د کفارو عقائد، نظریات، طریقې، شبهې او د مسلمانانو په خلاف په دښمنۍ کې د هغوئ لارې چارې، وسائل او د هغوئ په خلاف د کامیابۍ مقابلې طریقې ور معلومې وي، ضروري ده چې مؤمنان دې د باطل پرستو په اړه کافي معلومات ولري. او د دی لپاره چې انسانان د باطل له شره په امن پاتې شي، او د هغه مکر او دجل ښکار نه شي، رب العلمین د خپل احسان له مخې مؤمنانو ته دا هر څه په تفصیل سره بیان کړي دي، او په قرآن کریم کې یې دومره ډېر ځای ورکړی دی.

**د جاهلیت د پېژندلو اهمیت د پیغمبر صلّی الله علیه وسلم د اصحابو له نظره:**

حذیفه بن الیمان رضي الله تعالی د رسول الله صلی الله علیه وسلم له ډېرو نیږدې اصحابو رضي الله عنهم څخه و. هغه رضي الله تعالی عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلّم د راز په ملګري شهرت درلود. حذیفه بن الیمان رضي الله تعالی عنه په هغه حدیث شریف کې چې امام بخاري او امام مسلم رحمة الله علیهما دواړو روایت کړی دی فرمایي چې:

«كَانَ أَصْحَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْأَلُونَهُ عَنْ الْخَيْرِ، وَكُنْتُ أَسْأَلُهُ عَنْ الشَّرِّ مخافةَ أن يُدركَني...» (متفق علیه)

ترجمه: (د پیغمبر صلّی الله علیه وسلّم اصحابو به له هغه صلی الله علیه وسلّم څخه د خیر په اړه پوښتنې کولې او ما به ورڅخه د شر په اړه پوښتنې کولې، له دې وېرې چې شر مې راو نه نیسي).

عمر ابن الخطاب رضي الله عنه هم چې د اسلام په روح او مقصد ډېر ښه پوهېده د جاهلیت پېژندل یې د اسلام د روغ پاتې کېدلو لپاره ضروري ګڼل.

امام ابن تیمیة (رحمه الله تعالی) په خپل کتاب منهاج السنة النبویة کې عمر (رضي الله تعالی عنه) ته یو منسوب قول رانقل کړی چې فرمایي:

(تنقض عری الإسلام عروة عروة إذا نشأ في الإسلام من لایعرف الجاهیلة).

ترجمه: (اسلام به یوه یوه کړۍ ماتېږي کله چې په اسلام کې داسې نسل را لوی شي چې جاهلیت نه پېژني).

امام ابن تیمیه رحمه الله تعالی د دې قول په شرحه کې لیکي:

(فإنّ كمال الإسلام هو الأمر بالمعروف والنهي عن المنكر، و مَن نشأ في المعروف لم يعرف غيره فقد لايكون عنده علم بالمنكر و ضرره ما يكون عند من يعرف المنكر، ولايكون عنده من الجهاد لأهله ما يكون عند الخبير به).[1]

ژباړه: (د اسلام کمال په امر بالمعروف او نهي عن المنكر کې دی، او څوک چې په معروف کې را لوی شي او له هغه پرته بل څه نه پېژني، نو له هغه سره د منکر او د هغه د ضررونو په هکله هغه علم نه وي کوم چې له هغه چا سره وي چې منکر پېژني، او دغه شخص به د باطل په خلاف هغه ډول جهاد هم نشي کولی کوم چې يې له منکر څخه باخبره خلک کولی شي).

همدارنگه امام ابن قيّم الجوزيه (رحمه الله) په دې اړه چې ولې د کفر او باطل پېژندل ضروري دي ليکي:

(و هذا لأنه إذا لم يعرف الشرك والجاهلية و ما عابه القرآن الكريم و ذمّه وقع فيه و أقره و دعا إليه و صوّبه و حسّنه و هو لا يعرف أنه هوالذي كان عليه أهل الجاهلية أو نظيره أو شرّ منه أو دونه، فينقض بذلك عُرَى الإسلام عن قلبه ويعود المعروف منكرا، والمنكر معروفا، والبدعة سنّة، والسنّة بدعة، و يُكفّر الرجل بمحض الإيمان و تجريد التوحيد، و يُبدّع بتجريد متابعة الرسول صلّى الله عليه وسلّم و مفارقة الأهواء والبدع. ومن له بصيرة و قلب حيّ يرى ذلك عيانا والله المستعان).[2]

ژباړه: (او دا ځکه چې که څوک شرک، جاهليت او هغه چې قرآن کريم يې بدي بيان کړې ده ونه پېژني، نو په هغه کې به واقع کېږي، مني به يې، سم به يې گڼي، او خلکو ته به يې ښايسته معرفي کوي، خو په دې به نه پوهېږي چې همدا هماغه څه دي چې د جاهليت خلک پر هغه روان وو، او يا هغه ته

---

[1] - منهاج السنة النبوية ج ٢ ص ٣٩٨

[2] - مدارج السالكين ص ٣٥٢ ج ١.

ورته دي، یا تر هغه هم بد دي، او یا خو تر هغه یو څه کم دي. کله چې دا کار وکړي نو په دې سره به یې له زړه څخه د ایمان کړۍ ماتې شي، معروف به بیا ورته منکر ښکاري، او منکر به ورته معروف، بدعت به ورته سنت ښکاري، او سنت به ورته بدعت، د خالص ایمان خاوند او د یوازې توحید منونکی به کافر ګڼي، او د پیغمبر متابعت کوونکی او د خواهشاتو او بدعتونو پرېښودونکی به بدعتي ګڼي. څوک چې د بصیرت او ژوندي زړه خاوند وي دا هر څه په سترګوویني).

الله تعالی په قرآن کریم کې مسلمانان له دې منع کړي دي چې په ګمراه فرقو پسې دې لاړ شي لکه چې فرمايي:

﴿وَأَنَّ هَذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيلِهِ ذَلِكُمْ وَصَّاكُمْ بِهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾ [الأنعام: ١٥٣]

ژباړه: (او همدا زما سیده لار ده، نو متابعت یې وکړئ، او په نورو لارو مه سر کېږئ، که نه نو د ده له لارې به مو سره بېل کړي، دا هغه څه دي چې تاسو ته یې سپارښتنه کړې د دې لپاره چې تقوی اختیار کړئ). یعنې دا چې له الله تعالی څخه ووېرېږئ او د نورو لارو په غوره کولو ځان هلاک نه کړئ.

امام ابن جریر الطبري په خپل تفسیر کې د پورتني آیت د معنی په اړه لیکي: (د الله د لارې اتباع وکړئ یعنې د ځان لپاره یې منهج وګرځوئ او پر هغه روان شئ، له هغه پرته پر بله لار مه ځئ، او مه له هغه پرته کوم بل دین لکه یهودیت، نصرانیت، مجوسیت، د بتانو عبادت او یا نورې لارې او دینونه غوره کوئ، ځکه چې هغه ټول بدعات او ګمراهۍ دي، که پر هغې لارې او هغه دین روان شئ چې د الله لاره او دین ندی، نو د هغه پیروي به تاسې د الله تعالی له هغې لارې سره بېل کړي چې هغه درته خوښه کړې او شریعت کړې ده، چې هغه د اسلام هغه دین دی چې ټولو انبیاوو او تر تاسې مخکنیو

امتونو ته یې د هغه پر منلو امر کړی دی. تاسو ته یې هم د دې لپاره د هغه د منلو سپارښتنه کړې چې د خپل ځان په اړه له الله تعالی ووېرېږئ او هغه پر خپل ځان په غوسه نه کړئ چې عذاب به یې درباندې نازل شي.[1]

رسول الله صلّی الله علیه وسلّم هم خپل امت ته دا روښانه کړې ده چې د ده او د ده د اصحابو له لارې پرته د نورو لارو پیروان جهنمیان دي لکه چې فرمايي:

(افترقت اليهود على إحدى و سبعين فرقة، وافترقت النصارى على اثنتين وسبعين فرقة، و ستفترق هذه الأمة على ثلاث و سبعين فرقة، كلها في النار إلا واحدة. قيل من هي يارسول الله؟ قال من كان على مثل ما أنا عليه و أصحابي).[2]

ژباړه: (یهود پر یو اویا ډلو وېشل شوي ول، نصارئ پر دوه اویا ډلو وېشل شوي ول، او دا امت به پر دري اویا ډلو ووېشل شي چې له یوې پرته نورې ټولې به په اور کې وي. چا پوښتنه وکړه: ای د الله رسوله هغه کومه یوه ده؟ ویې فرمایل: څوک چې پر هغې لارې وي چې پر کومه زه او زما اصحاب دي).

## د اسلام پخوانیو علماوو تل باطل پېژندنې ته د اهمیت په نظر کتلي دي:

نن که زموږ په تعلیمي نصابونو کې د غفلت، تساهل، د اسلام او کفر تر منځ هراړخیزې معرکې ته د سطحي نظر د کولو له امله باطل پېژندنې ته توجه نشته، نو دا په دې معنی نده چې د اسلام پخوانیو علماوو هم دې کار ته پام نه

[1] - تفسير الطبري، سورة الأنعام، آیت ۱۵۳.

[2] -رواه ابو داود و الترمذی وابن ماجة والحاکم وقال صحيح على شرط مسلم .

وو کړي، بلکې د اسلام په علمي او دعوتي تاريخ کې د دين علماوو هر وخت د خپلې زمانې د کفر، بدعت، انحراف او له ځانه د جوړو شويو عقائدو او افکارو په خلاف آګاهانه مبارزه کړې ده، د هغو په اړه يې کتابونه ليکلي، او امت ته يې د هغو باطلوالی او له سمې لارې انحراف واضح کړی دی، او هم يې د هغو له پيروانو سره علمي مناقشې او مناظرې کړې دي او ملامت کړي يې دي.

په نصابونو کې به د باطل پېژندنې فائده دا وه چې خلکو به باطل پېژاند، له هغه به يې نفرت کاوه، او د هغه ملګرتيا به يې نه کوله. هماغه وو چې په مسلمانو ولسونو کې په ډله ييز او پراخ ډول د باطل خواته داسې وراووښتل نه ليدل کېدل لکه نن چې په مليونونو اسلام ته منسوب خلک کمونيزم، ليبراليزم، ديموکراسۍ، هيومانيزم، د معاصر الحاد بېلابېلو اشکالو او د شرق او غرب نورو کفري او باطلو افکارو او عقائدو څخه متأثره کيږي.

په دې زمانه کې چې د کفر او باطل عقائدو، نظرياتو، قوانينو، اخلاقو، فرهنګ او د ژوند تېرولو معيارونو ډېر پېچلي شکل اختيار کړی دی، د يوې لويې برخې مسلمانانو زړونو، فکرونو او ژوند ته يې لاره پيداکړې ده، او د اسلام پر دين يې د هغوئ باور کمزوری کړی دی. د دغه منفي تأثر په نتيجه کې يوه لويه برخه مسلمانانو د ژوند په فکري، سياسي، عسکري، عدلي، اقتصادي، اخلاقي فرهنګي او اجتماعي ډګرونو کې په بېلابېل ډول د کفارو ملګرتيا غوره کړې ده، او د اسلام دښمنۍ په روحيه د کفارو په څېر د اسلامي عقيدې او اسلامي نظام په خلاف د دښمنۍ ميدان ته راوتلي دي.

پورتنۍ ستونزه له دې راپورته شوې چې له يوې خوا د مسلمانانو د ديني مدارسو په تعليمي نصابونو کې د نن زمانې د کفر او باطل اشکال او انواع نه دي معرفي شوي، او د هغو په خلاف د نويو نسلونو ذهن جوړونه نده تر سره

شوې، او له بلې خوا کفارو هم خپل عقائد، افکار او فرهنګ پداسې عنوانو اسلامي نړۍ ته راصادر کړي چې کرکه پاروونکي او صریح نه دي، بلکې د ترقۍ، انسانیت، مساوات، عدالت، عقلانیت، قانونمندی، نړیوالتوب، مدنیت، مذهبي زغم، د عدم تشدد د مبارزې، او د ښځو او اقلیتونو د حقوقو د غوښتنې په څېر رنګنین عنوانونه لري چې ډېر خلک یې له فلسفي او عقائدي حقیقته خبر نه دي خو په جال کې یې راګیر دي.

په دې زمانه کې کفارو په ډېر ماهرانه ډول د مسلمانانو ذهنونه داسې اشغال کړل چې حکامو یې پخپله خپل نظامونه، پوځونه او اقتصادونه په کفري هېوادونو پورې وتړل، او کفري هېوادونو هم دلته دومره تأثیر ګذاري وکړه چې د مسلمانانو پر هر څه مسلط شول.

کفارو په اسلامي نړۍ کې د خپلو مصالحو د تحقق لپاره د خپلې خوښې نظامونه، نصابونه، سیاسي احزاب او قوانین پر مسلمانو ولسونو مسلط کړل، او د اسلامي هېوادونو اقتصادونه یې داسې تنظیم کړل چې تکلیف او زحمت یې مسلمانان وګالي، خو د ګټې اوبه یې د دوئ پر ژرندې ورسمې شي.

کفري هېوادونو دلته په مسلسل ډول داسې خلک په حاکمیت کې وساتل چې نه یوازې دا چې له دین څخه ناخبره دي، بلکې خپل نظامونه او قوانین یې هم داسې عیار کړي دي چې پر ټولنه د دین د حاکمیت مخنیوی کوي، او د ولس افراد د دین پر افادیت بې باوره کولو ته هڅوي.

په تعلیمي نصابونو کې د کفر پېژندنې د مضامینو نشتون د داسې نسلونو د رامنځته کېدو سبب شو چې د دې پر ځای چې کفارو ته د اسلام دعوت ورکړي او یا یې پوځي مقابله وکړي، دلته په خپل کور کې له کفارو څخه مرعوب دي، او یا د هغوئ له شیطاني دسیسو څخه داسې غافل او په داخلي

فکري او تنظيمي اختلافاتو کې لتاړ دي چې د کفارو په خلاف فعالیت ورڅخه هېر دی.

## موږ د تعلیمي نصاب له لارې د معاصرې باطل پېژندنې په اړه څه کړي دي؟

تېر یونیم سل کلونه د اسلامي امت په ژوند کې په سیاسي، اجتماعي، ديني او فکري لحاظ تر ټولو ځوروونکي او لړزوونکي کلونه وو، ځکه چې په همدې کلونو کې د اسلامي نړۍ بېلابېلې سیمې د کفري استعماري هېوادونو لکه برتانيې، ایټالیې، فرانسې، هسپانیې، روسیې او چین تر تسلط او تأثیر لاندې راغلې، او اشغالګرو په همدې موده کې د خپلو استعماري حکومتونو، تحمیلي قوانینو، په دقت سره سنجول شویو او رامنځته شویو تعلیمي نصابونو، را صادرو شویو غربي او الحادي ادبیاتو، سیاسي افکارو او نظریاتو، او همدارنګه د کلیسا د تنصیري فعالیتو له لارې د مسلمانو ټولنو د نویو نسلونو په ذهنونو کې د الحاد، اسلام دښمنۍ، اباحیت، غرب پالنې، عیش پرستۍ او دون همتۍ تخمونه وکرل چې ډېر بد حاصل یې رامنځته شو.

په پورتنۍ موده کې که له یوې خوا مسلمانان له خپل سیاسي خپلواکۍ، آزادۍ، د شریعت له حاکمیت او د عزتمن ژوند له نعمته محروم شول، له بلې خوا پر اسلامي نړۍ د سیکولرزم، ډیموکراسۍ، وېسټرنایزېشن (غربي کولو)، کمونیزم، داروینزم، رېشنلزم (عقل پرستۍ) نشنلزم، تنصیر (نصراني ګرځولو)، وضعي قوانینو، موډرنیزم، د ښځو د غربي ډوله آزادۍ او سلګونو نورو نظریاتو او عقائدو څپې راوالوتلې چې دې ټولو په شریکه او په خپل ټول قوت سره هڅې وکړې چې د مسلمانانو په زړونو کې د ایمان ستنې ولړزوي، پر اسلام یې بې باوره کړي، د شریعت له منلو یې منصرف کړي، او یا داسې

څوک ورڅخه جوړ کړي چې تش په نامه مسلمانان وي، خو نور يې د ژوند ټولې چارې د پرديو د معيارونو مطابق روانې وي.

که څه هم چې د پورته ياد شوي وضعيت تر ټولو بد تأثيرات په ماوراءالنهر، قوقاز، د شرقي اروپا(بالکان) په مسلمانو ولسونو او عربي نړۍ کې ښکاره شول، خو افغانستان هم د همدې معاصر جاهليت له ويجاړوونکو څپو خوندي پاتې نشو، او دلته هم يو په بل پسې داسې حکومتونه او نظامونه رامنځته شول چې د کمونيزم او سيکولرزم د خپراوي لپاره يې پراخه زمينه برابره کړه چې وروسته يې د ټولنې پر ژوند خطرناک او ويجاړوونکي نتائج مرتب شول.

د غرب، شوروي او چين له لوري د را الوتو کفر خپروونکو فکري څپو په مقابل کې پکار وو چې په ديني تعليمي نصابونو کې هم داسې مضامينو ته ځای ورکړ شوی وای چې په خپلو لوستونکو کې يې د عصر په ژبه او منهج د معاصرو کفري فلسفو، نظرياتو او عقائدو د ځواب او رد توانايي پيدا کړې وای، او علماء مو په دې توانېدلي وای چې د خپلو پرګنو ځوانو نسلونو ته يې د اسلام پر تفوّق او د نا اسلامي نظرياتو پر بطلان ژور او پراخ قناعت ورکړی وای، خو د تأسف ځای دا وو چې په همدې موده کې په ديني مدارسو کې د خالصو شرعي او فکري علومو پر ځای په ډېر زاړه طرز لغوي، ادبي او عقلي علومو ته ډېره توجه کېده، چې په نتيجه کې يې علماء له همدغو علومو سره چې عام ولس تر ډېره ورته ضرورت نه درلود مصروف پاتې شول، او د ولس د ځوانانو او لوستو خلکو ذهنونه غربي او کمونيستي افکارو اشغال کړل او بېرته يې همدغه خلک د ديني طبقې په مقابل کې ودرول.

د معاصرې باطل پېژندنې په اړه له ديني علماوو څخه د تقصير خبره مطلقه او په دې معنی نده چې په دې مجال کې هېڅ نه دي شوي، بلکې په انفرادي او

شخصي ډول زموږ په ولس کې ډېرو علماوو د کفري نظرياتو د مخنيوي لپاره ښه ډېر فعاليتونه کړي دي، او هم يې په عملي ډول د کفر د مقابلې لپاره ټولنې، تنظيمونه او قوي جبهات رامنځته کړي دي، خو هغه څه چې تر اوسه نه دي شوي هغه په تعليمي نصاب کې د معاصر کفر د ډولونو د معرفۍ، مناقشې او د هغه د فکري او اخلاقي تأثير مقابلې ته په دې مقصد ځای ورکول او د دې کار لپاره د استاذانو روزل دي چې په ولس کې مو په عمومي سطحه د کفر، کفارو او د هغوئ د کفري فرهنگ په اړه پوهاوی رامنځته شي.

زموږ ولس او علماوو په نيږدې ماضي کې د کمونستانو عملي مقابله وکړه، خو علماوو او ديني مدارسو مو هېڅکله د اسلام له ليدلوري د کمونيزم په هکله نه کوم تدريسي کتاب وليکه، او نه يې په نصاب کې شامل کړ چې کمونيزم څه شی دی؟ د بطلان شرعي او عقلي دلائل يې کوم دي؟ او د هغه په مقابل کې زموږ شرعي موقف بايد څه وي؟

آيا دا به ډېر د تعجب ځای نه دي چې د کمونيزم عقيدې او پيروانو دې موږ ته تر ټولو ډېر ديني، اجتماعي، اقتصادي او عسکري ضرورونه رارسولي وي، وطن دې يې را وران کړی وي، خلک دې يې بې دينه کړي وي، خو موږ تر اوسه په رسمي ډول د کمونيزم په هکله نه کوم کتاب او نه هم کوم مضمون په خپل ديني نصاب کې داخل کړ چې خپلو نسلونو ته دا وښيوو چې دغه کمونيزم دی، دغه يې د کفر دلائل دي، دا يې ظلم او وحشت دی، او دا يې په اړه شرعي حکم دی.

زموږ ولس ته د ديني تعليمي نصاب له لارې د کمونيزم د نه معرفي کولو نتيجه دا شوه چې يوې لويې برخې خلکو ته د خپل دومره لوی دښمن په مقابل کې د دښمنۍ او کرکې حس پيدا نه شو. او کله چې د کمونستانو نظام ړنگ شو په يوه ورځ د دې ولس مسلمانان له کمونستانو سره داسې يو ځای

شول لکه اصلا چې د دوئ او کمونستانو تر منځ کومه عقیدوي دښمني نه وه.

دا هر څه په داسې حال کې وشول چې یوه کمونست هم له خپل کفره په علني ډول توبه ونه وېسته. ما تر اوسه نه لیدلی او نه مې له بل چا اوریدلي چې په ښکاره دې کوم کمونست اعلان کړی وي چې زه مخکې د کمونیزم د منلو له امله کافر وم، خو اوس مې توبه ووېسته او بېرته مسلمان شوم.

کمونستان نه مسلمانان وو، او نه مسلمانان شول، خو کله چې د دوئ نظام رنګ شو نو په هماغه ورځ د دوئ خپلوان او عزیزان بېرته ورسره غاړه غړۍ شول، او د عقیدې پر بنسټ یې له هغوئ سره د کوم عقیدوي بېلتون او دښمنۍ احساس ونه کړ. د دې کار نتیجه دا شوه زموږ پخوانیو جهادي تنظیمونو نه اسلام نافذ کړ، او نه یې نظام اقامه کړای شو، او دا پداسې حال کې چې همدې ولس د اسلامي نظام د اقامې لپاره اوږده کړاوونه ګاللي وو، او تقریبا دوه لسیزې یې مبارزه کړې وه.

تر کمونستانو وروسته د غربي دېموکراسۍ د کفر فکر، فرهنګ او لښکرو زموږ پر خاورې، عقیدې او ولس یرغل وکړ، او د لبرالیزم، سیکولرزم، نصرانیت او د وضعي قوانیو کفر یې د بېلابېلو اصطلاحاتو او شعارونو تر نامه لاندې په پوښلي شکل زموږ ولس ته را صادر کړ.

د غربي ډېموکراسۍ پیروانو په ډېر ژور او سیستماتیک شکل زموږ د دین، مذهب، عالم، طالب، محراب، منبر او دیني، اخلاقي او اجتماعي ارزښتونو په خلاف دښمني پیل کړې وه چې ملا یې راوواژه، مدرسه او مسجد رابمبار کړل، مجاهدین یې شهیدان او بندیان کړل، د جهادي فکر او ارزښتونو په خلاف یې تبلیغات وکړل، د ملا او طالب وژل یې خپل کار او د دیموکراسۍ تحقق یې د خپل اساسي قانون وظیفه وګڼل، د بشر د حقوقو د نړیوال میثاق

په ځېر کفري میثاق چې د کفارو د ارزښتونو د خوندي کولو او د هغوئ د مصالحو د تحقق په مقصد جوړ شوی و، او همدارنگه هغه ته ورته نور په سلگونو قوانین او تړونونه یې پر ولس راتحمیل کړل، زموږ شتمنی یې غلا کړې، او پر کلیو او کورونو یې بمونه او اورونه را اورول، نظام، اخلاق، معیارونه او اجتماعي اصول یې را بدل کړل، زموږ د ولس ځوانانو ته یې ټوپک په لاس ورکړ چې د خپل امام، طالب او مجاهد په خلاف وجنگېږي، تعلیمي نصابونه یې رابدل کړل او زموږ د ارزښتونو او فکر پرځای یې خپل فکر او ارزښتونه ورکې ځای کړل، د ولس قومونه یې په بېلابېلو پلمو یو د بل په خلاف دښمنی ته ولمسول، او سلگونه ډوله فسادونه یې خپاره کړل. نو آیا اوس هم پکار نده چې د دغه ډول مکار دښمن او د هغه د کفري افکارو او نظریاتو په اړه دې په خپل دیني تعلیمي نصاب کې مضامین ولرو؟ او د هغه له لارې دې د علماوو داسې نسل وروزو چې په علمي ډول د خپل عصر د فکري او عقائدي فتنو او ننگونو مقابله وکړای شي؟ آیا دغې تشې زموږ د ولس ډېر خلک د کفارو ملگري او غلامان نه کړل؟ آیا همدا اوس همدغه د کفارو فکري او عقیدوي ملگري موجود نه دي؟ آیا همدا اوس همدوئ ته معروف منکر او منکر ورته معروف نه ښکاری؟ آیا همدوئ د دې ولس له دین او ایمان څخه په دفاع کوونکي مجاهد، ملا او طالب پسې غرونه، غارونه کلي او ښارونه ونه لټول؟ او د باغي، مفسد او ورانکاري په نومونو یې په قساوت او ظلم ونه وژل؟ او یا یې وحشي زندانونو ته ورونه غورځول؟

دغه هر څه باېد زموږ د مدارسو د دیني نصاب جوړوونکي او تدریسوونکي دېته وهڅوي چې د معاصر کفر د هغو افکارو، نظریاتو، فلسفو او عقائدو په اړه په تعلیمي نصاب کې مضامین او کتابونه شامل کړي چې دغه ډول انسان ډوله وحشي ځناور پرې روزل شوي دي.

کفر پېژندنه کوم نوی کار نه دی، بلکې د اسلام علماو په هر وخت کې د باطل پېژندنې په هکله کار کړی، هم یې د صریحو کفارو او هم یې د هغو فکري ډلو په اړه چې د اسلام د اصیل تصور په خلاف په نورو افکارو را پورته شوې وې کتابونه لیکلي دي.

موږ هم باید د خپلې زمانې د کفر چې په مختلفو انواعو او اشکالو، نومونو او شعارونو زموږ ټولنه کې تأثیرگذاري کوي، فرهنگ، معتقدات، اخلاق او اولویتونه مو رابدلوي، او نوي نسلونه مو له اسلامه بغاوت ته وربولي په خپل دیني نصاب کې معرفي کړو، ترڅو زمو د علماوو نوي نسلونه مو هم د هغو په خلاف مبارزه وکړي، او هم خلک د هغو له شر څخه و وېروي.

**د معاصر کفر ځینې ډولونه چې باید دیني نصابونه یې په اړه معلومات تدریس کړي:**

د کفر او شرک ځینې اشکال ډېر ساده او انفرادي دي چې ضرر یې یوازې افرادو ته رسېږي او اسلامي امت ورڅخه په ټولیز ډول ضرر نهویني. خو د معاصر کفر او د اسلام په خلاف د هغه د سازشونو او پلانونو خطر دومره زیات او د تأثیر ساحه یې دومره پراخه ده چې په تېرو دوو پېړیو او موجوده زمانه کې یې ضرر ټولې اسلامي نړۍ او ټول اسلامي امت ته رسېدلی، او خطرناک نتائج یې د ټول امت پر دیني، سیاسي، اجتماعي، اقتصادي، فرهنگي او عسکري ژوند مرتب شوي دي.

د معاصر کفر تر ټولو مهم او خطرناک ډولونه چې د دیني مدارسو په تعلیمي نصابونو کې باید زموږ پام ورواوړي د معاصر الحاد ډولونه لکه کمونیزم، هیومانیزم، اېگزستنشلزم (وجودیت)، رېشنلزم (عقل پرستي)، او همدارنگه د غربي کفر ډولونه لکه دیموکراسي، لیبرالیزم، ماسونیت، صهیونیزم او په هغه پورې تړلي کلبونه لکه (روټاري) او (لاینز)، همدارنگه تنصیر، استعمار، استشراق، گلوبلایزېشن، د ادیانو تقارب، نړیوال کفري سیاسي، پوځي، اقتصادي او فرهنگي تړونونه، د بشر د حقوقو نړیواله اعلامیه، د ملل متحد چارټر، وضعي قوانین، نشنلېزم، بهائیت، قادیانیت، له احادیثو انکار او د معاصر کفر په لسگونو ډوله نور انواع او اشکال دي.

که زموږ نصابونه د معاصر کفر د پورته یادو شویو ډولونو په اړه چې همدا اوس په افغانستان او نورې اسلامي نړۍ کې ښه ډېر منونکي او فعالان لري واضح تصور او شرعي حکم وړاندې نه کړي، نو د نوي جاهلیت په دې عصر کې به نور ډېر خلک هم د هغو په دامونو کې ښکېل شي، او بېرته به د اسلام

په خلاف دښمني پیل کړي، لکه همدا اوس چې همدغه وضعیت جریان لري.

**د مدارسو په تعلیمي نصاب او د یني تفکر کې څه شي ته اولوویت ورکړو؟**

په تېرې شلمې او روانې یویشتمې پېړۍ کې اسلامي نړۍ او په خاص ډول افغانستان د نړۍ د لویو کفري ځواکونو له لوري تر بېلابېلو عسکري، سیاسي، فکري او فرهنګي یرغلونو لاندې راغی او تقریبا د ژوند په ټولو مجالاتو کې مسلمانان له کفارو څخه متأثره شول او په ډېرو امورو کې په هغوئ پسې روان شول.

له پورتني وضعیت څخه د مسلمانانو او په ځانګړي ډول د افغانانو د راوېستلو لپاره تر هرڅه مخکې دا ضروري وو او دي چې مسلمانان دې په فکري، عقیدوي او اخلاقي لحاظ د خپل دین په احکامو او پر نورو دینونو او نظریاتو د اسلام پر غوره والي او تفوق باورمن کړای شي، او په روحي لحاظ دې د دې زمانې په مړژواندو مسلمانانو کې د یرغلګرو ځواکونو او فکرونو په خلاف د مقاومت روحیه ایجاد کړای شي، ترڅو مسلمانان د پردیو له تقلید او د روحي شکست له وضعیت څخه خلاص او پر خپل معنوي ځواک او ارزښتونو باورمن شي.

د پورتني هدف د تحقق لپاره اساسي قدم دا دی چې د دیني مدارسو په نصابونو کې چې ملت ته علماء وروباندې روزل کېږي هغه مفاهیم او مضامین ځای کړای شي چې په علماوو کې انقلابیت، د دعوت احساس، د دښمن پېژندنه، د ولسونو د دیني او سیاسي قیادت استعداد او د اسلامي نظام د قائمولو وړتیاوې پیدا کړي.

خو د دې هرڅه په خلاف آزادی، انقلابیت او د عصري فتنو مقابلې ته زموږ د ضرورتمن ولس د دیني مدارسو په نصاب کې ډېر ترکیز یا په عقیم، غیر مؤثر او له عربي ژبې څخه په جلاکړل شوي ډول د صرف نحوې پر زده کړې شوی چې له لویې او خوږې عربي ژبې څخه یوازې د (ضَرَبَ زَیدٌ عَمْراً) سولېدلې او بې خونده جمله ورکې زموږ پر ژبه ښه روانېږي، او یا هم د اوسنۍ زماني د فکري او دیني فتنو د مقابلې پر ځای د یونان هغو منطقو او فلسفې ته ډېر وخت او ځای ورکړ شوی چې په ډېرو مواردو کې نه زموږ له دیني معتقداتو سره موافق دي، نه هم له منل شویو ساینسي تحقیقاتو او مشاهداتو سره مطابقت لري، او نه هم زموږ د دې مظلوم، ځپل شوي، تر فکري یرغل لاندې راغلي او د نوي جاهلیت له فتنې سره د لاس او ګرېوان ولس له علمي اولویاتو څخه ګنل کېږي.

د یوې لویې برخې علماوو او د مدارسو د طالبانو د دیني تفکر او مناظراتو محوري نقطې مو هم د اسلامي مذاهبو ترمنځ هغه اختلافي مسائل دي چې په دین کې د هغو لپاره دلائل او مسوغات شته، او د اختلاف عوامل یې هم تر ډېره حده د دلیل قوت او ضعف دی، نه حقانیت او بطلان.

زموږ ځینې علماء په ډېر حماس او افتخار دېته تیار دي چې د اسلامي مذاهبو او مشاربو ترمنځ د اختلافاتو د پاللو لپاره مناظرې وکړي، د مناظرو لپاره د شاګردانو د روزلو په مقصد دورې او ځانګړي کورسونه ایجاد کړي، د اهل السنة والجماعة د بېلابېلو ډلو د تبدیع، تفسیق او حتی تکفیر لپاره کشرانو او کم علمه طالبانو ته د فتوی د صادرولو جرأت ورکړي، خو د دې وړتیا ورکې نشته چې د کفارو او د هغوئ د زهرجنو افکارو او خطرناکو پلانونو په اړه د مدارسو د طالبانو او یا هم نورو باسواده ځوانانو ذهن سازي وکړي، او یا

د هغو مجاهدینو فکري او اخلاقي روزنه وکړي چې د کفارو د مقابلې لپاره راوتلي او له اسلام څخه د دفاع لپاره یې خپلې سینې سپر کړې دي.

د دغه ډول اختلاف پالونکي تفکر درلودونکي په دې نه دردېږي چې د ولس په لکونو ځوانان یې کله د کمونېزم په صف کې درېږي او د اسلام پر ځای له الحاد څخه دفاع کوي، او یا هم په لکونو نور د ډېموکراسۍ په صف کې ودرېږي، او د اسلامي شریعت پر ځای د سیکولریزم د کفري نظام او فکر خپراوی او تطبیق غواړي، خو دېته به ډېر هوسېږي چې له یو بل جهت سره پر دې خبره چې مړي اوري او که نه اوري، او یا هم پر کومه فقهي مسأله له شور، شغب او کینه پالنې ډکې مناظرې وکړي، او د خپلې رأیې د تقویې لپاره د عامو خلکو احساسات راوپاروي.

د مدارسو یوه برخه نور خلک که څه هم چې د اختلافاتو پالل ورته اولویت نه ښکاري خو له علم او کتاب سره یې بیا تعامل داسې دی چې خپل علم ټولنې ته نشي راوېستلی، بلکې اکثره په دې مصروف وي چې له کتابونو مسائل ذهنونو ته راواخلي او بیا یې بېرته پر کوم کتاب د شرحې او یا حاشیې په شکل په عربي ژبه ولیکي او کتاب هم بېرته الماریو ته وروسپارل شي.

په دې انقلابي زمانه کې خو پکار دا دي چې علم له کتابه راواخیستل شي او په فعال ډول ټولنې ته ورسول شي، خلک پرې پوه کړای شي، په ټولنه کې د پردیو افکارو او نظریاتو مقابله پرې وشي، او امت بېرته پرې د پیغمبر (صلی الله علیه و سلم) او د دې امت د لویانو او صالحینو سمې او سپېځلې لارې ته وروګرځولی شي، او یو ځل بیا د عزت او مجد پر لاره روان کړای شي.

که د دیني مدارسو په نصاب کې داسې مضامین داخل کړای شي چې نصاب پرې ژوندی او د دې زمانې فتنو او ننګوونو ته پرې ځواب ویونکي علماء وروزل شي نو د فکر، فرهنګ، سیاست او اجتماع په مجال کې به هم قیادت

د علماوو لاس ته ورځي، لکه په جهاد کې چې ورغلی دی. خو که چېرې بیا هم د زده کړې په جریان کې زموږ د طالبانو ډېر وخت په زړه طریقه د صرف، نحوې او منطق تدریس ورڅخه ونیسي، او پاتې وخت یې د فېسبوک کتل ورڅخه مصروف کړي، نو نتیجه به یې بیا هم ـ الله تعالی دې نکړي ـ په دې شکل کې راوځي چې عالم به بیا په خپل ښار او کلي کې په مسجد کې خپلو خلکو ته د خپل رب خبره نشي کولی، ځکه چې ښار او کلی به بیا د داسې چا لخوا اشغال شوی وي چې د پردیو په فکر به روزل شوی وي، د پردیو لپاره به له طالب او عالم سره دښمني کوي، او د پردیو د حاکمیت او قوانینو پر منلو به خپل ولس مجبوروي، خو پردي به له شرق او غرب څخه راځي او خپل افکار او عقائد به د تعلیمي نصاب، مېډیا، انټرنټ او نورو وسائلو له لارې ټول ملت ته رسوي.

نو د دې لپاره چې په راتلونکي کې د دغه وضعیت درامنځته کېدلو مخه ونیول شي موجود تعلیمي نصاب باید د جمود له حالته راووېستل شي، او د متفرقو او ناهمغږو نصابونو پر ځای دې یو داسې واحد شرعي، متوازن او مؤثر نصاب رامنځته شي چې د شرعي خالصوالي، علمي رسوخ، هراړخیزوالي، انقلابیت، تدرّج، آسانوالي او په شرعي معنی د اعتدال د صفاتو د درلودلو ترڅنګ د موجودو او راروانو فکري او عقائدي فتنو او ننګونو د مقابلې له قوته هم برخمن وي، چې ولس مو د پردیو له پیروۍ خلاص او د اسلامي ویښتابه پر لاره یې روان کړي.

## په افغانستان او نورې اسلامي نړۍ کې د خونړیو جریانونو اصلي سبب د غربي افکارو راصادرېدل دي:

لکه مخکې چې تېر شول چې غربي افکار که هغه کمونیزم او یا هغه ته ورته افکار وو، او که د غرب لیبرال او سیکولر افکار وو په ډېر مهارت د غربیانو له لوري د اسلامي نړۍ هېوادونو ته راصادر شول، دلته وربانديې خلک وروزل شول، د خپرولو او تطبیق لپاره یې تعلیمي نصابونه او سیاسي نظامونه رامنځته کړای شول، او هم د همدغو غربي افکارو پر بنسټ په اسلامي نړۍ کې سیاسي احزاب او ټولنې جوړې شوې، چې دې ټولو پخپل ټول قوت سره په دې مقصد فکري، سیاسي، اجتماعي او عسکري فعالیتونه ترسره کړل چې مسلمان ولسونه د فکر، فرهنګ، سیاست او اجتماع په ډګرونو کې په غرب پورې وتړي، او پر هغو معیارونو یې عیار کړي چې د استعماري غرب سیاستوال او پوځي ستراتېژستان یې غواړي.

دا چې اسلامي نړۍ ته له غرب څخه راصادر شوي افکار، نظریات، عقائد، فرهنګ، د ژوند معیارونه، سیاسي فعالیتونه او قوانین د مسلمانو ولسونو لپاره پردي او د دوئ د دین، عقیدې او اخلاقي ارزښتونو مخالف و، نو مسلمانان یې منلو ته تیار نشول، بلکې د هغو په خلاف یې مقاومت پیل کړ.

د غربیانو او یا روسانو په مرسته جوړو شوو حاکمو نظامونو او سیاسي جهتونو په هر صورت غوښتل اسلامي هېوادونه د غرب تابع وګرځوي، او مسلمان ولسونه د غرب پر لاره روان کړي، نو پر مسلمانو ولسونو یې د خپلو نظامونو، قوانینو او غربي ارزښتونو د منلو لپاره د زور او خشونت لاره ونیوه. دې کار په اسلامي نړۍ کې د حکومتونو او ولسونو ترمنځ د سیاسي او مسلح ټکر زمینه برابره کړه چې په دغه ډول ټکرونو کې په افغانستان او ټولې اسلامي نړۍ کې په ملیونونو هغه مسلمانان ووژل شول، زنداني او تعذیب شول، او یا هم تبعید شول چې د کمونستو او یا غرب پلوو حکومتونو قوانینو او غوښتنو ته یې غاړه نه ایښوده.

که د پورتني وضعيت عملي مثالونه په خپل هېواد افغانستان کې وګورو نو وينو چې په تېره يوه نيمه پېړۍ کې افغانستان او افغانانو ته د سر، مال، فکر او عقيدې په مجالونو کې تر ټولو لوی تاوانونه د باطلو غربي افکارو، فلسفو او نظرياتو له راصادرېدلو ور اووښتي دي چې ځينې مثالونه يې په لاندې ډول دي:

**اول-** د پادشاه امان الله خان د غربپالنې او د دين او ديني علماوو په اړه د دښمنۍ د دريځ او د غرب پر لاره د افغانستان د روانولو د اقداماتو په نتيجه کې په هېواد کې د ديني ارزښتونو او اجتماعي استقرار په خلاف داسې منفي وضعيت رامنځته شو چې ډېرې وينې توی شوې، ولس له داخلي جګړې سره مخ شو، او د هغه د افکارو او سياستونو له امله د اوږدې مودې لپاره د دين د حاکميت مخه ونيول شوه، او د خپلو پيروانو داسې يو فکري نسل يې تر شا پرېښود چې تر ننه يې له دين او د دين له حاکميت سره دښمني ده.

**دويم-** ظاهرشاه چې په فرانسه کې يې زده کړې وې په خپل حاکميت کې يې د غربي افکارو او قوانينو د راواردولو، سيکولره (بې دينه) سياسي احزابو د رامنځته کولو او د ډېموکراسۍ د عملي کولو لپاره لاره هواره کړه. د هغه د دغو غربي ډوله اقداماتو او سياستونو په نتيجه کې کمونست او غرب پلوي احزاب د دين او د دې مسلمان ولس د معنوي ارزښتونو په خلاف قوي او فعال شول، او د دين او د ديني علماوو او مدارسو په خلاف ښکاره دښمني اعلان شوه چې بد نتائج يې لا تر اوسه په داخل او خارج کې د افغانانو په فکري، اخلاقي او عقائدي ژوند کې ليدل کېږي.

**درېيم-** د داود خان د غربي ډوله جمهوريت (ډېموکراسۍ) اعلانولو او د اسلامپالو په خلاف د هغه فکر او دريځ، او په مقابل کې يې کمونستانو ته

نیږې کېدلو واک ته د کمونستانو د رسېدلو او د کمونیزم د سره سېلاب د راتللو لپاره لاره هواره کړه، چې خونړي بدلونونه یې رامنځته کړل.

**څلورم-** افغانستان ته د کمونیزم د الحادي فکر راواردېدل، د کمونستانو حاکمېدل او د شورویانو له لوري د افغانستان اشغالېدل هم هغه لوی مصیبت او منفي بدلون و چې د یوه کفري فکر د راتللو له امله رامنځته شو. کمونیزم د یوه پردي فکر په حیث او کمونستانو د پردیپال سیاسي او پوځي ځواک په حیث د کمونیزم باطل فکر دلته د یوې برخې ځوانانو په منځ کې خپور کړ، د هغوئ ذهنونه یې وربدل کړل، دلته یې یو نوی نسل وروزه او سیاسي احزاب یې ور جوړ کړل، چې همدغو کمونستانو بیا د کودتا په نتیجه کې حاکم نظام ړنګ کړ، او وروسته یې روسان هم را وغوښتل او افغانستان یې وربانديې اشغال کړ.

کمونستانو دلته د کمونیزم عملي کول غوښتل، خو دې مسلمان ملت ورسره نه مانه، هماغه وو چې کمونستانو د خپل نظام د حاکمولو او خپلو افکارو د عملي کولو په لاره کې تر دوو ملیونو زیات انسانان ووژل، په ملیونونو یې معیوب کړل، کلي یې په کنډوالو بدل کړل، په ملیونونو هکتاره زراعتي ځمکې یې وچې او شاړې کړې، تر شپږو ملیونو زیات خلک یې د وطن پرېښودلو ته اړ کړل، څوارلس کاله یې په افغانستان کې د اور او وینو لوبه توده وساتله، او تر هغه وخته یې د دې مسلمان ولس په خلاف خپلې جګړې ته دوام ورکړ چې ترڅو یې د زور له لارې حکومت وپرځول شو، او دوئ لاړل د غرب غېږې ته یې پناه ورووړه او هلته یې د خپلې سیاسي عقیدې خلاف د غربیانو خدمت پیل کړ.

**پنځم-** تر کمونستانو وروسته د غربي دیموکراسۍ فکر او لښکر پر افغانستان لښکرکشي وکړه. غربي یرغلګرو چې د لیبرالیزم، دیموکراسۍ، یهودي

سیاستونو، نصرانیت او د وضعي قوانینو د کفر یوه ګډوله وه بیا هم غوښتل چې افغانستان لاندې کړي، او افغانان د خپلو مقاصدو د ترسره کولو په مقصد د ځان لپاره تسخیر کړي.

د سپتمبر د یوولسمې له پېښې وروسته شل کاله د امریکایانو له لوري د افغانستان اشغال، د غرب پلوو لیبرالانو او دېموکراتانو حاکمیت، د دین، جهاد او د اسلامي نظام د حاکمیت په خلاف د هغوئ دښمني، او د اسلامي نظام د بیا راګرځېدلو د مخنیوي په مقصد د یوه لوی کفري حربي او فکري ائتلاف رامنځته کول هغه لوی او خونړی مصیبت و چې د غربي افکارو د پلویانو له لوري رامنځته شو چې په نتیجه کې یې د نړۍ یوازینی خالص اسلامي نظام ړنګ شو، په لکونو افغانان ووژل شول، په زرګونو غربي موسسو د افغانانو د ژوند د غربي کولو لپاره پراخ فعالیتونه وکړل، او کې په داخل او خارج په زرګونو فکري، نشراتي او تحقیقاتي مراکزو د افغانانانو د فکرونو د بدلولو لپاره کار وکړ چې ویجاړوونکي نتائج یې موږ ټولو په خپلو سترګو ولیدل.

د پورته یادو شوو حاکمیتونو او منفي بدلونونو په نتیجه کې افغانستان ته ډېر کفري او ګمراه افکار او فلسفې راواردې شوې چې ځینې ډېرې مشهورې او خطرناکې یې په لاندې ډول دي:

١- کمونیزم (الحاد).

٢- لیبرالیزم (له دین او هر اخلاقي او معنوي قیدوبند څخه آزادي).

٣- سیکولرزم (پر دین نه ولاړ ژوند).

۴- دېموکراسي (د الله د حاکمیت پرځای د ولس حاکمیت).

۵- هیومنیزم (د الله پرستۍ پر ځای انسان پرستي او انسان تر هرڅه مقدس ګڼل).

٦- نشنلزم (د اسلامي وحدت پرځای قومپرستي).

مدرسه او مبارزه

۷- رشنلزم (د الهي وحیې او نبوي ارشاداتو پر ځای انساني عقل ته تحاکم).
۸- ګلوبلایزېشن (د دینونو او عقائدو توپیر ته له کتلو پرته د ټولې نړۍ د خلکو پر یوه لار روانېدل).
۹- د ښځو غربي ډوله حقوق او آزادۍ.
۱۰- د فکر او بیان غربي ډوله آزادۍ.
۱۱- نړیواله ټولنه (د نړۍ د ټولو ولسونو او نظامونو له لوري د نړۍ د څو زورورو ځواکونو د قیادت منل). او نور ډېر پردي افکار او عقائد.
پورته یاد شوي افکار او عقائد په کور دننه او هم په بهر میشتو افغانانو کې په ملیونونو منونکي او پیروان لري چې یا خو یې د دغو افکارو اصلي حقیقت ندی پېژندلی او په اړه یې تېروتلي دي، او یا یې هم د ګمراهۍ له امله له زړه منلي دي او په دې مسلمان ولس کې یې د خپراوي لپاره له بېلابېلو لارو فعالیتونه کوي.
**په افغانستان کې د معاصر غربي فکر د پلویانو جنایات:**
د غرب فکري او پوځي ټلوالې دلته د دې مسلمان ولس د آزادي پالونکو مجاهدینو او د دې ولس د دین، مذهب، عالم، طالب، محراب او منبر په خلاف ډېره خونړۍ جګړه روانه کړې وه، او په دې مقصد یې علماء او طالبان وژل، مدرسه او مسجد یې بمباراوه چې دلته غربي فکر د خپراوي او د دیموکراسۍ او نورو اهدافو د تحقق لپاره زمینه سازي وکړي، او ټول هغه علمي او فکري جهتونه له منځه یوسي چې د غربي افکارو د خپرېدو مخه نیسي.
د غربي فکر پېروانو دلته نه یوازې دا چې په لکونو انسانان ووژل، معیوب یې کړل، کورونه یې ورړنګ کړل، او د وطن پرېښودلو ته یې اړ کړ ل، بلکې تر ټولو مفسد، غله، وحشي او پردیپال خلک یې د حکامو په حیث ورباندې

مسلط کړي وو. دغه وضعیت یوازې په افغانستان پورې خاص ندی، بلکې د اسلامي نړۍ په ډېرو هېوادونو کې لیدل کېږي.

که له یوې خوا په ملیونونه خلک په اسلامي نړۍ کې د غربي افکارو د منونکو نظامونو له لوري وځپل شول، له بل لوري په سلکونه ملیونه مسلمانان د همدغو نظامونو تر ظالمانه او استبدادي تسلط لاندې راغلل او د نا اسلامي قوانینو او نظامونو منلو ته اړ کړای شول، او نوي نسلونه یې په پردیو افکارو، عقائدو او فرهنګ وروزل شول چې د وخت په تېرېدلو یې له ریښتیني اسلام او د هغه له ښوونو څخه فاصله ونیوه، او نه یوازې دا چې په اسلامي نړۍ کې د غرب پلوو نظامونو او حکومتونو د تداوم سبب شول، بلکې په اسلامي هېوادونو کې یې د بېلابېلو کفري افکارو، نظریانو او فرهنګونو د خپرېدو لپاره هم لاره هواره کړه او د هغو له له لارې یې د مسلمانو نوي نسلونه له اسلامي احکامو او ارزښتونو پردي کړل.

اسلامي نړۍ ته چې تر کوم وخته غربي لښکرې نه وې راغلې او غربي افکارنه وو را صادر شوي او دلته د هغو پر بنسټ نظامونه او حکومتونه نه وو جوړ شوي تر هغه وخته مسلمانان په امن او استقرار کې اوسېدل، خو له هغه وخت راهیسې چې غربیانو او کمونستانو د اسلامي نړۍ په خلاف خپلې استعماري جګړې پیل کړې او په اسلامي افریقا کې د مسلمانانو هېوادونه هسپانویانو، فرانسویانو، ایټالیایانو او انګرېزانو لاندې کړل، او همدارنګه په آسیا کې هم ډېر هېوادونه انګرېزانو او فرانسویانو ونیول، او د منځنۍ آسیا سیمې روسانو لاندې کړې، نو په اسلامي نړۍ کې په پراخ ډول د مسلمانانو وژل، زنداني کول، د ملیونونو انسانو بې کوره کول، د زور او تهدید له لارې پر هغوئ د استعماري قوانینو منل، او د مستعمرینو په مقابل کې د راپورته شویو ملي او اسلامي مقاومتونو له منځه وړل پیل شول.

که له يوې خوا عثماني خلافت چې د مسلمانانو د سياسي وحدت وروروستۍ نښه و د غرب په فکر د روزل شويو اشخاصو لخوا رنګ شو او پر ځای يې په ترکيه کې د کمال اتاتورک په مشرۍ سيکولر او دين دښمن نظام قائم شو، نو له بلې خوا په عربي سيمو کې هم داسې خلک واک ته ورسول شول چې استبدادي نظامونه يې جوړ کړل او د شريعت د حاکميت مخه يې ونيوله چې تر ننه همدا سلسله له افغانستان پرته چې د جهاد په نتيجه له امريکانو آزاد شو په ټوله اسلامي نړۍ کې روانه ده.

مستعمرينو د پوځي اشغال تر څنګ خپل افکار هم که هغه کمونيزم او يا هغه ته ورته نور افکار وو، او يا د غرب ليبرال او سيکولر افکار وو په ډېر مهارت د اسلامي نړۍ هېوادونو ته راصادر کړل، او دلته يې ورباندې خلک وروزل، د هغو د خپرولو او تطبيق لپاره يې تعليمي نصابونه او سياسي نظامونه رامنځته کړل، او هم يې د همدغو غربي افکارو پر بنسټ په اسلامي نړۍ کې سياسي احزاب او ټولنې جوړې کړې چې دې ټولو پخپل ټول قوت سره په دې مقصد فکري، سياسي، اجتماعي او عسکري فعاليتونه ترسره کړل چې د مسلمانو ولسونو ژوند د فکر، سياست او اجتماع په ډګرونو کې په مستعمرينو پورې وتړي، او پر هغو معيارونو يې عيار کړي چې د استعماري غرب او روسيې سياستوالو او پوځي ستراتېژستانو غوښتل.

دا چې اسلامي نړۍ ته له غرب څخه راصادر شوي افکار، نظريات، عقائد، فرهنګ، د ژوند تېرولو معيارونه، سياسي فعاليتونه او قوانين د مسلمانو ولسونو لپاره پردي او د دوئ د دين، عقيدې او اخلاقي ارزښتونه مخالف وو نو مسلمانان يې منلو ته تيار نشول، بلکې د هغو په خلاف يې مقاومت پيل کړ.

د غربيانو او روسانو په مرسته جوړو شويو حاکمو نظامونو او سياسي جهتونو چې په هر صورت غوښتل اسلامي هېوادونه د غرب او يا روسيې تابع

وګرځوي او مسلمان ولسونه د غرب او یا روسیې پر لاره روان کړي، نو پر مسلمانو ولسونو یې د خپلو نظامونو، قوانینو او ارزښتونو د منلو لپاره د زور او خشونت لاره ونیوه. دې کار په اسلامي نړۍ کې د حکومتونو او ولسونو ترمنځ د سیاسي او مسلح ټکر زمینه برابره کړه چې په دغه ډول ټکرونو کې په افغانستان او ټولې اسلامي نړۍ کې په ملیونونو هغه مسلمانان ووژل شول، زنداني او تعذیب شول او یا هم تبعید شول چې د کمونستو او یا غرب پلوو حکومتونو قوانینو او غوښتنو ته یې غاړه نه ایښوده.

د افغانانو په تاریخ کې داسې کله هم نه و پېښ شوي چې ولس دې د خپل نظام، حکومت او پادشاه په خلاف راپورته شي، اوږده جګړه دې وکړي او ډېر انسانان دې ووژل شي، بې کوره دې شي، او زندانونه دې ورباندې ډک شي، ولس دې د حاکم په خلاف سنګر ونیسي، او حاکم دې د ولس په خلاف خپلې لښکرې راوباسي. دغه ډول وضعیت د اول ځل لپاره هغه وخت د امان الله خان په پادشاهۍ کې رامنځته شو چې کله هغه د اروپا له اوه میاشتنې سفره بېرته راغی او دلته یې د غربي افکارو، نظریاتو، قوانینو او غربي ژوندبڼې د خپرولو او په خلکو د تحمیلولو عملي هڅې وکړې، او د اصلاحاتو تر نامه لاندې یې یوه سلسله افسادات شروع کړل.

امان الله خان چې د شریعت پر ځای یې غربي وضعي قوانین رائجول غوښتل، او په ټولنه کې یې دیني ارزښتونو ته په درناوي نه کتل، هماغه و چې علماوو او د ټولنې متدینو خلکو د ده له افکارو سره حساسیت وښود، خو دی دغه حساسیت ته تسلیم نه شو، بلکې د اروپایي افکارو او قوانینو عملي کولو ته یې نور هم زور ورکړ، او د دې پر ځای چې دین ته رجوع وکړي او د هوښیارانو نصیحت ومني هغه د مصلحینو او علماوو په خلاف په تاوتریخوالي لاس پورې کړ، نتیجه یې دا شوه چې د ولس خلک ورپسې

راپوته شول او داسې ګډوډۍ جوړ شو چې وطن ورکې وران شو، او په دې ګډوډۍ کې ده هم خپله پادشاهي له لاسه ورکړه، له هېواده ایټالیا ته وتښتید، او وروسته یې هلته لیرې په ۱۹۶۰م کال کې د سویس د زوریخ د ښار په یوه روغتون کې ساه وخته. دا ټول له دې امله وشول چې هغه دلته د اسلام پر ځای اروپایي افکار عملي کول غوښتل.

که چېرته دغه ناعاقبت اندیشه او غرب پلوي حاکم پردي افکار دلته نه راوړلای او پر خلکو یې نه تحمیلولی، نو خلک به ولې د ده په خلاف راپورته کېدل؟ خلکو خو د ده د پلار حبیب الله خان او نیکه عبدالرحمن خان په پادشاهیو کې پر ظلم او وحشتونو صبر کړی و، او د ده په خلاف هم نه وو راپورته شوي، او دا ځکه چې که پلار او نیکه یې استبداد هم کاوه، خو د دین په خلاف یې د مخالفت داسې صریح موقف نه و نیولی لکه ده چې درلود.

په دوهم ځل بیا دغه ډول وضیعت هغه وخت د ظاهر شاه په زمانه کې رامنځ ته شو چې په افغانستان کې یې چپي افکارو، نظریاتو او سیاسي احزابو ته د تبارز زمینه برابره کړه، او په مقابل کې یې د اسلامي افکارو درلودونکي تر فشارونو لاندې ونیول.

د ظاهرشاه په مقابل کې هم علماء او اسلامپال د احتجاج او اصلاح غوښتنې په مقصد راپورته شول، خو د دې پر ځای چې دی د فساد مخه ونیسي، ده د علماوو په مقابل کې تاوتریخوالي ته لاس واچاوه، هماغه و چې خلکو د هغه د نظام په خلاف د قیام روحیه واخیسته چې بیا د کمونستانو په خلاف د جهاد او مقابلې لپاره پیلامه وګرځېده.

په درېیم ځل دغه بده تجربه هغه وخت تکرار شوه چې په افغانستان کې کمونیزم د یو پردي فکر په حیث او کمونستان د پردیپال سیاسي او پوځي

ځواک په حیث راغلل او د کمونیزم باطل فکر یې دلته د یوې برخې ځوانانو په منځ کې خپور کړ، د هغوئ فکرونه یې وربدل کړل، او دلته یې یو نوی نسل وروزه، او سیاسي حزب یې هم جوړ کړ چې وروسته بیا همدغو کمونستانو د کودتا په نتیجه کې حاکم نظام ړنګ کړ او وروسته یې روسان هم را وغوښتل او افغانستان یې وربانديې اشغال او بیا ړنګ کړ.

کمونستانو دلته د کمونیزم عملي کول غوښتل، خو دې مسلمان ملت ورسره نه مانه، هماغه وو چې د هغوئ او روسانو تر راتګ وروسته دلته تر دوو ملیونو زیات انسانان ووژل شول، په ملیونونو معیوب شول، کلي یې په کنډوالو بدل کړل، په ملیونونو هکتاره زراعتي ځمکې یې وچې کړې، تر پنځو ملیونو زیات خلک یې د وطن پرېښودلو ته اړ کړل، څوارلس کاله یې په افغانستان کې د اور او وینو لوبه توده وساتله، او تر هغه وخته یې د دې مسلمان ولس په خلاف خپلې جګړې ته دوام ورکړ چې ترڅو یې د زور له لارې حکومت وپرځول شو، او دوئ لاړل په غرب کې آواره شول، او هلته یې د خپلې سیاسي عقیدې په خلاف د غربیانو خدمت پیل کړ، خو د دوئ له لوري رامنځته شوی ناورین تر ننه روان دی. د دې ټولو سبب بیا هم د کمونیزم پردی فکر و چې په اصل کې یو اروپایي فکر دی.

که چېري موږ په ابتدا کې په دې توانیدلي وای چې د کمونیزم د افکارو د واردېدو او په هغو باندې د خلکو د معتقد کېدو مخه مو نیولې وای، او د علم، دعوت او عامه پوهاوي له لارې مو د کمونیزم د کفر په ضرر او تاوان خلک پوه کړي وای، نو زموږ د ولس په لکونو انسانان به د دوئ په صف کې نه درېدل، او د مرګونو مېچنې به یې د دې ولس په ککریو نه ګرځولې.

تر کمونستانو وروسته د امریکا په مشرۍ د دېموکراسۍ فکر او لښکر په ۲۰۰۱م کال کې پر افغانستان لښکرکشي وکړه، او تر شلو کلونو یې خپل

پوځي او فکري اشغال ته په دې مقصد دوام ورکړ چې دلته د اسلام د حاکم کېدلو مخه ونیسي.

امریکایان او اروپایي ملګري یې چې د لیبرالیزم، دیموکراسۍ، یهودي سیاستونو، نصرانیت، وضعي قوانینو او نورو غربي افکارو د کفر یوه ګډوله وه غوښتل یې افغانستان لاندې کړي، او افغانان د خپلو مقاصدو د ترسره کولو په هدف په فکري لحاظ د ځان لپاره تسخیر کړي.

امریکا او ملګرو یې دلته د خپل تاریخ تر ټولو اوږده جګړه د افغانانو په خلاف توده وساتله، او د دې ولس د تسخیرولو په مقصد یې پر خپلې عسکري او فکري جګړې تر دوه زره ملیارده ډېر ډالر ولګول، او د افغانانو په نامه یې خپل داسې وفادار خلک پر دې ولس مسلط کړي وو چې په بې دینۍ، ظلم، وحشت، اخلاقي او مالي فساد کې ساری نه درلود.

غربیانو غوښتل د افغانانو فکر او ټولنیز ارزښتونه وربدل کړي، د همدې مقصد لپاره یې هم د خپل اشغال په وخت کې خپلو افغاني ملګرو ته تعلیمي نصابونه، راډیوګانې، ټلویزونونه، جریدې، مجلې، او ویبسایټونه ورجوړ کړي وو، او په زرګونو خلک یې ورکې په لوړو تنخواوو په دې مقصد توظیف کړي وو چې زموږ ولس په فکري لحاظ د غربیانو پر لاره روان کړي، د آزادۍ احساس او روحیه یې له ذهن او روحه وباسي، له دین او تدین څخه یې لرې کړي، اخلاق، لباس او فرهنګ یې وربدل کړي، ولسي جوړښت یې مات کړي، د تحاکم مرجع یې د شریعت پر ځای د بشر او ښځو د حقوقو غربي ادارې وګرځي، ښځې بد اخلاقۍ ته تشویق کړي او بیا یې د حمایت لپاره د غربیانو تر مستقیم نظارت لاندې د (امن کورونو) ته چې په حقیقت کې (د اخلاقي فساد کورونه) وو رهنمایي کړي.

غربیانو دلته د خپلو افغاني ملګرو په لاس عدلي، جزایي، حقوقي، مطبوعاتي، امنیتي تجارتي، او له نړۍ سره د تعامل قوانین هم په خپله خوښه جوړ کړي وو. د جهاد فریضه چې رب العالمین پر مسلمانانو د دین د اعزاز لپاره فرض کړې ده دوئ پر هغې د تروریزم نوم کېښود، او د همدې جهاد په ګناه یې په لسګونه زره ځوانان د هېواد په مختلفو زندانونو کې اچولي وو او په دې یې محکوم کړي وو چې ولې دلته جهاد، د اسلام حاکمیت، اسلامي اخلاق او آزادي غواړي؟! او ولې په غلامۍ نه راضي کېږي؟!

اشغالګرو غربیانو د اشغال د وخت د افغانستان په اساسي قانون کې هم ډېر کفري مفاهیم ځای کړي وو چې دېموکراسي، د خلکو پر اراده د نظام دربدل، او د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې په نامه د هغې وثیقې منل یې له جملې څخه وو چې د کفارو له لوري د هغوئ د ارزښتونو د خوندي کولو په مقصد رامنځته شوي او بیا وروسته پر اسلامي هېوادونو هم تحمیل شوي ده.

امریکایانو له خپل یرغل وروسته د افغانستان له تعلیمي نصابه د شوروي او کمونیزم په خلاف د دې هېواد د خلکو تاریخ په دې بهانه حذف کړ چې هغه له اختلافاتو ډکه زمانه وه، او د هغې زمانې خلک اوس هم ژوندي دي چې په نصاب کې د هغه جهاد د تاریخ یادول یې تر منځ د اختلافاتو دوام ته لاره هواروي.

د امریکایانو تر نظارت لاندې جوړ شوي نصاب کې د کمونیزم په خلاف د ستر جهاد زمانې ته د (ناورین) نوم ورکړ شو، پداسې حال کې چې دوئ چې د افغانستان د اشغال په مقصد د المان په (بن) ښار کې کومه غونډه جوړه کړې وه او یا یې وروسته په کابل کې کومه لویه جرګه رامنځته کړې وه هغه یې دواړه په تعلیمي نصاب کې شاملې کړې وې، خو د دې ولس د افتخاراتو، جهادونو او عظمتونو تاریخ چې د شوري اتحاد ماتې ورکې بیان شوې وه په

دې مقصد له نصابه حذف کړ چې نوی نسل ورڅخه دا درس وانخلي چې کوم ملت چې روسي يرغلگر مات کړي وو هغه امريکايي يرغلگر هم ماتولی شي.

دې کې شک نشته چې زموږ ټولنه له باطلو افکارو متأثره ده، او د دې لپاره چې نوره هم متأثره نشي او راتلونکي نسلونه مو په پرديو پسې روان نشي بايد باطل وپېژنو او د هغه په اړه په خپل نصاب کې پوره معلومات تدريس کړو.

د باطلو پېژندل موږ ته تر بل هر چا څکه ډېر ضروري دي چې زموږ اسلامي ټولنه يې متأثره کړې ده، او په مختلفو نومونو يې زموږ بچيان د کمونزم او ليبراليزم په صف کې درولي دي. موږ وليدل چې د دې هېواد په سلگونو زره ځوانان د امريکايي يرغلگرو په صف کې ودرېدل، او زموږ د مکتب په نصابونو کې د يرغلگرو نظريات تدريس شول.

که له يوې خوا زموږ په ديني تعليمي نصاب کې صرف، نحو، منطق او زاړه ادبيات ښه ډېر دي، نو له بلې خوا د تأسف ځای دی چې د اوسنی زمانې د باطلو نظرياتو د معرفي کولو، نقد کولو او د هغو په خلاف د خلکو د ذهن جوړولو په اړه چې د اسلام له اصلي مقاصدو څخه دي هېڅ نشته، او همدا وجه ده چې په سلگونو زره خلک مو وخت په وخت د کفارو تر څنگ درېږي، او د دين، عالم، مدرسې او محراب په خلاف جگړه کوي. او دا هر څه څکه کوي چې په ديني او دنياوي دواړو تعليمي نصابونو کې مو د معاصر کفر په اړه معلومات او حکم نشته.

دا چې د معاصر کفر بېلابېل افکار او مفاهيم دې ولس ته د قانون، نظام، ميډيا، تعليمي نصاب او نورو وسائلو له لارې ور تلقينېږي خو په مقابل کې يې د اسلام له ليدلوري څه نه تدريسېږي، نو نوی نسل به څنگه د کفارو په

خلاف حساسیت وښيي؟! او د مقابلې لپاره به يې له کومه ځایه عقیده او انگیزه واخلي؟!

پورتني یاد شوي وضعیت ته په پام سره که اوس هم د دیني مدارسو په نصاب کې د کفر او باطل د معاصرو اشکالو په هکله مضامین نه ورداخلیږي نو دا به د دې هیواد او ولس د راتلونکي په اړه لوی غفلت او د جرم ارتکاب وي چې نتائج به يې د راتلونکو نسلونو لپاره ډېر ویجاړوونکي وي.

مدرسه او مبارزه

## دويم ضروري مضمون ـ اسلامي تاريخ

د ديني مدرسې د طالب لپاره د بشري تاريخ او اسلامي تاريخ لوستل هم ډېر ضروري دي، ځکه چې د تاريخ د زده کړې له لارې طالب بشري او اسلامي ټولنو ته له ورپېښو حوادثو او د هغو له اسبابو او علتونو خبرېږي، د هغو له تجاربو د عبرت اخيستلو استعداد ورکې پيدا کيږي، او په دې پوهېږي چې افراد، ټولنې او نظامونه څنګه د ترقي او تعالي پر لاره ځي، او ولې له کمزورۍ او نابودۍ سره مخ کيږي. او همدارنګه د تاريخ پوهه د مدرسې طالب ته د اسلامي امت د عروج او انحطاط او په نړۍ کې د اسلامي حاکميتونو د مد او جذر، کاميابيو او ناکاميو اسباب او عوامل ور په ګوته کوي او له دې يې خبروي چې دا هر څه ولې او څنګه پېښ شوي دي؟ خو د افسوس ځای دی چې زموږ د مدارسو په نصاب کې دغه مهم اجتماعي علم ته چې په ديني علومو پورې ټينګ تړاو لري هېڅ ځای ندی ورکړ شوی.

د تاريخ د علم اهميت له دې هم ښکاري چې قرآن کريم چې د الله تعالی له لوري د بشر د هدايت لپاره تر ټولو وروستی نازل شوی کتاب دی په هغه کې د کميت په لحاظ تر ټولو ډېر ځای قصصو او د پخوانيو انبياوو او د هغوئ د امتونو احوالو، اعمالو او انجامونو نيولی دی.

په قرآن کريم کې قصصو ته رب العالمين ځکه ډېر اهميت ورکړی دی چې دا امت آخري امت دی او د دې امت له پيغمبره وروسته بل پيغمبر نه راځي او همدا امت به د پيغمبر وظيفه چې د الله لوري ته د بشريت رابلل، د کفر او ګمراهيو مقابله، د اسلامي نظام اقامه او له هغه څخه دفاع ده پر مخ بيايي. نو ځکه خو دوئ ته پکار ده چې دوئ دې د مخکنيو امتونو له سرنوشتونو، تاريخونو، پېښو، تجاربو، انجامونو او له انبياوو عليهم السلام سره د هغوئ له

مثبتو او منفي تعاملونو خبر وي، او له هغو مثبتو او منفي مهمو پېښو هم باید خبر وي چې د آدم علیه السلام له زمانې د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر زمانې بشریت ته ورپېښې شوې دي، ځکه چې د انسانانو فهمونه، شعورونه او کړه وړه یو بل ته سره ورته دي، او د کومو په نتیجه چې پخوانیو نجات موندلی مسلمان به هغه خپلوي، او د کومو په نتیجه کې چې پخواني انسانان هلاک شوي دي، له هغو به ځان ساتي.

په قرآن کریم کې د پخوانیو انبیاوو علیهم السلام او د هغوئ د قومونو قصص د دې لپاره هم بیان شوي دي چې امت له دغو قصصو، تاریخ او پیغمبري تجاربو د دعوت، صبر، جهاد، نظام، تدبیر، مسؤولیت پېژندنې او د بشر له بېلابېلو پرګنو او طبقو سره د تعامل طریقه زده کړي.

رب العالمین موږ ته د آدم علیه السلام او ابلیس علیه اللعنة بیان کیسه کړې چې د شیطان له دښمنۍ خبر شو. د نوح، هود، صالح، ابراهیم، اسماعیل، لوط، اسحاق، یعقوب، یوسف، ایوب، شعیب، ادریس، ذوالکفل، یونس، موسی، داود، سلیمان، زکریا، یحیی، عزیر، یسع او عیسی علیهم السلام او د دوئ د حالاتو تفصیلات، له خپلو قومونو سره یې د تعامل او په هغه باندې یې مرتب نتائج بیان کړي دي ترڅو موږ له امت سره د بهترین تعامل او د حق لوري د رابللو سمه طریقه زده کړو.

په قرآن کریم کې په ډېرو ځایونو کې د موسی علیه السلام او بني اسراییلو کیسې ډېرې په تفصیل بیان شوې دي، ځکه چې بني اسرائیل له موږ سره متصل امت و او زموږ او دوئ تر منځ ډېره فاصله نشته، بلکې لا تر اوسه موجود دي او د دوئ حالات د دې امت له وضیعتونو او حالاتو سره مشابهتونه او مناسبتونه لري، نو دا ټولې کیسې الله موږ ته د بشریت د تاریخ

په سیاق کې په دې هدف بیان کړې دي چې په موږ کې د بدلون راوستلو وړتیا پیدا شي.

الله تعالی موږ ته یوازې د انبیاوو علیهم السلام قصص نه دي بیان کړي، بلکې موږ ته یې د خپلو دښمنانو کیسې هم بیان کړي دي، الله تعالی موږ ته د شیطان، فرعون، هامان، قارون، د عاد د قوم، د تبع د قوم، د ثمود د قوم، د اصحاب الرس، اصحاب السبت، بني اسرائیلو، اصحاب الجنة، اصحاب الأیکة، اصحاب الأخدود او نورو قصص هم بیان کړي دي چې د خپل کفر او گمراهیو له امله له کومو نتائجو سره مخ شوي دي.

الله موږ ته د اصحاب الکهف کیسه هم بیان کړې ده چې څنگه له یوه کفري محیطه په دې خاطر یوه پاک محیط ته لاړل چې د جاهلیت له ټولنې متأثره نشي، او په سم ډول د الله عبادت وکړي.

الله موږ ته د امتونو د مصلحینو کیسې هم بیان کړي دي، د ذوالقرنین، لقمان، د فرعون د ښځې آسیة بنت مزاحم، د ابراهیم علیه السلام د ښځو هاجر او سارې، مریم بنت عمران، بلقیس کیسې هم بیان کړې دي ترڅو دا هم راوښیي چې د دعوت، اصلاح او د جاهلیت د مقابلې په ډگرونو کې ښځې هم ستر کارونه کولی شي.

د جاهلیت له تاریخه، د رسول الله صلی الله علیه وسلم له مبارک سیرته، پر اسلامي امت تېرو شوو احوالو او حوادثو څان خبرول د انقلابیت د نصاب له مهمو مضامینو گڼل کېږي، او د همدې اهمیت له امله الله تعالی په خپل کتاب کې دومره لوی ځای ورکړی دی.

**د اسلامي تاریخ د لوستلو اهمیت:**

د دیني مدرسې د طالب لپاره د اسلام او اسلامي امت د تاریخ لوستل له ډېرو ضروري مضامینو څخه دي. د مدرسې طالب او استاذ باید په دې پوه وي چې اسلام په نړۍ کې څنګه خپور شوی؟ او پر مسلمانانو څه تېر شوي دي؟ هغه طالب او عالم چې د اسلام له سیاسي، عسکري، تمدني او فقهي تاریخه ناخبره وي هغه په سم ډول نه دین تشریح کولی شي، نه د اسلام د رجالو او د هغوئ د سترو اعمالو په اړه د خپلې زمانې خلکو ته څه ویلی شي، او نه هم د دین د مفاهیمو او افکارو په اړه د باطلو فرقو له لوري راپورته کړل شوې شبهې او شکوک ځوابولی شي.

اسلامي تاریخ یوازې د اسلامي امت سیاسي او عسکري تاریخ ته نه ویل کېږي، بلکې د مدرسې طالب باید د اسلام د سیاسي او عسکري تاریخ تر څنګ د اسلام تمدني، دعوتي او فقهي تاریخ (تاریخ التشریع) هم ولولي، ترڅو په دې پوه شي چې اسلامي فقه او فقهي مذاهب ولې او څنګه منځته راغلل؟ او څنګه یې داسې تکامل وکړ چې د انساني ژوند ټول اړخونه یې احتوا کړل.

د اسلامي امت د فکري او اصلاحي تاریخ په اړه که د امام سید ابوالحسن علي ندوي رحمه الله تعالی کتاب (رجال الفکر والدعوة في الاسلام) او یا په همدې موضوع کې کوم بل معاصر کتاب له ځلورمې درجې تر اومې درجې په تقسیم شوي شکل ولوستل شي ښه نتائج به ولري.

د اسلامي تاریخ په مضمون کې باید لاندې مضامین په حتمي شکل تدریس شي:

۱- د جاهلیت مرحله

۲ - د نبوي سیرت مکي او مدني مرحلې

۳ - راشده خلافت

۴ - اموي مرحله او په اروپا کې د اسلامي اندلس تاريخ
۵- عباسي مرحله
٦- د بېلابېلو اسلامي دولتونو مرحله
۷- صليبي جګړې
۸- د چنګېز صاعقه
۹- عثماني خلافت
۱۰ - د غربي استعمار مرحله
۱۱- ما بعد الاستعمار دولتونه او په مستعمرينو پورې يې بېلابېل تړاوونه
۱۲- د اسلامي نړۍ اوسنی وضعيت

په لاندې کرښو کې په دې مقصد د پورتنيو يادو مرحلو په اړه يو څه معلومات وړاندې کووم چې د ديني مدرسې اوسني اهل ته يې يو څه اهميت او افاديت ورمعلوم شي:

**د جاهليت مرحله:**

د رسول الله صلی الله عليه وسلم د بعثت له زمانې مخکې زمانې ته د جاهليت زمانه ويل کېږي. د جاهليت د زمانې تاريخ لوستل، د هغې زمانې مشخصات پېژندل، په هغې کې د انسان او انسانيت وضعيت پېژندل او بيا تر هغه وروسته د رسول الله صلي الله عليه وسلم د بعثت د زمانې مطالعه کول طالب ته د هغه ستر بدلون اندازه ورښيي چې اسلام رامنځته کړ.

چا چې د شپې تيارې نه وي ليدلې هغه ته د ورځې د رڼا قدر نه ورمعلومېږي، چا چې ظلم، بداخلاقي، وحشت، اکراه او حيوانيت نه وي ليدلي هغه ته د سرېتوب او د عالي اخلاقو قدر او اهميت نه ور معلومېږي، نو د دې لپاره چې دا رامعلومه شي چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم له راتګ او د قرآن

کریم له نزول سره په انسانیت او نړۍ کې کوم بدلون راغی؟ باید تر بدلون د مخکې زمانې حالت وپېژنو. که له بدلون مخکې حال معلوم نه کړو چې انسانانو څه ډول جاهلي عقائد درلودل او څه ډول به یې ځانته معبودان جوړول او بیا به یې هغو ته تنه دي ایښودل؟ همدارنګه که د عربو، هند، فارس، روم، یونان، چین، خراسان او نورو سیمو د جاهلیت عقلي او اخلاقي وضیعت و نه پېژنو، نو بیا به څنګه پوه شو چې اسلام څومره او څه ډول بدلون راوستلی دی؟

د جاهلیت پېژندل په حقیقت کې د اسلام د کمال د پېژندلو لپاره لاره برابروي. کله چې د اسلام کمال، عظمت او د ژوند په هر مجال کې د هغه لوړ معیارونه او هغه سعادت چې بشریت ته یې ور په برخه کړی معلومول غواړو، نو اول به د جاهلیت د دورې د ظلم، وحشت او تاریکیو وضیعت پېژنو، بیا به هغه تګلاره خپلوو په کومې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم تیارې ختمې کړې، اسلامي ټولنه یې رامنځته کړه، د مشرکانو، یهودو، نصاراوو، منافقینو او د اسلام د نورو مخالفو جبهو مقابله یې وکړه. نو ویلی شو چې تاریخ موږ ته د انقلابیت روحیه رابښي، او د بدلون راوستلو تګلارې او مثالونه راته مخې ته ږدي. کوم بدلون چې اسلام د بشریت په ژوند کې راووست هغه موږ ته د فقهې، اصولو، صرف او نحوې، بلاغت او معاني په کتابونو کې نه رامعلومېږي، هغه به موږ د تاریخ په کتابونو کې لولو.

**د جاهلیت تعریف:**

په لغوي لحاظ د جاهلیت اشتقاق له جَهْل څخه شوی او جهل په دوو معناوو راغلی: یوه معنا یې (ضدالعلم) د علم ضد حالت یعنې ناپوهي ده چې دا یو عقلي حالت دی او په دې معنی ده چې د یو چا په عقل کې دې معلومات

موجود نه وي. بله معنى يې ضد الحلم(ضد او عناد) دی. په دې معنى چې له يو چا سره دې معلومات وي خو مني يې نه. دا بيا يو ډول نفسياتي او رواني حالت دی. د معلوماتو نه شتون عقلي حالت دی، او د معلوماتو نه منل (ضد يا عناد) نفسياتي يا رواني حالت دی. زموږ په محلي ژبو کې هم دغه حالت ته جهل ويل کيږي، که څوک ضدي يا عنادګر انسان وي، نو هغه ته جاهل ويل کيږي، په دې معنى نه چې معلومات نه لري، بلکې په دې معنى چې له حق څخه مخ اړوي. نو د جاهليت اصطلاحي معنى له حق څخه مخ اړول دي.

استاد محمد قطب هم په خپل کتاب «جاهلية القرن العشرين» کې دا موضوع په ښه ډول روښانه کړې چې جاهليت ناپوهۍ او بې سوادۍ ته نه وايي، ډېر خلک به وي چې علم به ورسره نه وي خو پر هدايت به روان وي، کارونه او تصورات به يې سم وي، نو جاهل د عالم ضد ندی. هغه ليکي:

«إنما الجاهلية ـ كما عناها القرآن ـ هي حالة نفسية ترفض الاهتداء بهدي الله، و وضع تنظيمي يرفض الحكم بما أنزل الله». [1]

ژباړه: د قرآن کريم له ليدلوري جاهليت يو رواني حالت دی چې انسان په هغه کې د الله تعالى له لوري د راغلي هدايت له منلو انکار کوي، او هغه حکومتي وضعيت دی چې د الله تعالى نازل کړي کتاب ته له تحاکم څخه انکار کوي).

هدايت نه منل جاهليت دی. دا برابره خبره ده چې دغه نه منل پرون و، که نن وي او يا سبا وي، او تر هر نامه لاندې چې وي جاهليت دی. نو په دې معنى جاهليت د يوې ځانګړې زمانې نوم ندی، بلکې جاهليت د يو وضيعت او يو حالت نوم دی چې د الله تعالى حکم ورکې نه منل کيږي چې تر اسلام په

[1] جاهلية القرن العشرين ص ٧.

مخکې زمانه کې هم و، اوس هم شته، او امکان لري چې وروسته هم بیا بیا په نویو شکلونو تکرار شي. نو په دې معنی د فرد یا ټولنې له لوري د ژوند په ټولو ابعادو کې د الله تعالی د دین نه منلو ته جاهلیت ویل کېږي، که څه هم چې دغه فرد یا ټولنه د مادي پرمختګ او تمدن په اوج کې وي، فضا، زمکه او سمندرونه یې تسخیر کړي وي، خو الله تعالی د رب، إله، حاکم، معبود او شارع په حیث نه مني.

## زوړ او معاصر جاهلیت:

جاهلیت په زماني لحاظ په دوه ډوله دی چې یو زوړ جاهلیت او بل یې معاصر جاهلیت دی. زوړ جاهلیت د رسول الله صلی الله علیه وسلم له بعثت څخه د مخکې زمانې نوم دی. په زاړه جاهلیت کې دا لوستل کېږي چې په جزیرة العرب او نورو سیمو کې د خلکو دین څه شی و؟ کوم عقاید او معبودان یې درلودل؟ اخلاقي او اجتماعي ژوند یې څنګه وو؟ حرام او حلال یې څه ته ویل؟ کومو ټکو دوئ یو له بله سره یو ځای کول، او کومو ټکو دوئ یو له بل څخه بېلول؟ له نورو خلکو سره یې تعامل څنګه و؟ او په سیاسي لحاظ یې د چا تر تسلط لاندې څه ډول ژوند کاوه؟

همدارنګه د جزیرت العرب تر څنګ د فارس امپراطوري وه چې په هغه وخت کې یې تقریبا زر کاله د قیام او حاکمیت تېر شوي وو. د فارس او روم امپراطورۍ څه شی وې؟ دین یې څه شی و؟ معبودان یې څه شی و؟ اخلاق یې څنګه وو؟ ټولنه او حاکمیت یې څه ډول و؟ ټولنیز وضعیت ورکې څنګه و؟

او معاصر جاهلیت په اوسنۍ زمانه د الله تعالی د دین د نه منونکو حالت ته ویل کېږي، او دا بیا ورکې برابره خبره چې دغه د الله د دین نه منونکي

کمونستان او ملحدین وي، او یا لیبرالان، دیموکراتان، هیومنستان، نشنلستان او یا له اسلام پرته د بل هر دین، فکر او فلسفې پیروان وي، که څه هم چې هغوئ به ځان ډېر متمدن، پرمختللي او هوښیار بولي، خو چې عقیده او نظام یې د اسلام مخالف وي د معاصر جاهلیت پیروان بلل کېږي. نو پر همدې اساس جاهلیت د عالِمیت ضد ندی، بلکې هغه د هدایت ضد دی.

د اسلام مبارک دین د هرې زمانې د جاهلیت د له منځه وړلو لپاره راغلی دی، او جاهلیت چې ونه پېژندل شي، نو څنګه به له منځه یوړل شي؟ په عربي کې یوه مقوله ده چې وایي: «تُعرف الأشياء بأضدادها». شیان د هغو په ضد سره پېژندل کېږي.

په احادیثو کې هم د جاهلیت لفظ راغلی دی. مثلا یو ځل جلیل القدر صحابي ابوذر رضي الله عنه یوه بل صحابي ته د هغه د مور د تور رنګ پېغور ورکړی و او د تورې زوی یې ورته ویلي و، هغه بل صحابي رسول الله صلي الله علیه وسلم ته له ابوذر رضي الله عنه څخه شکایت وکړ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ابوذر رضي الله ته وفرمایل:

«أَسَابَبْتَ فُلَانًا قُلتُ: نَعَمْ، قالَ: أَفَنِلْتَ مِن أُمِّهِ؟ قُلتُ: نَعَمْ، قالَ: إنَّكَ امْرُؤٌ فِيكَ جَاهِلِيَّةٌ». [1]

ترجمه: (آیا تا فلاني ته ښکنځل کړي؟ ما وویل: هو، ویې ویل: مور دې ورته یاده کړې؟ ـ د تورې زوې یې ورته ویلي و ـ ما وویل: هو، ویې ویل: ته داسې سړی یې چې جاهلیت درکې دی).

ابو ذر رضي الله عنه چې یو زاهد عابد او عالم شخصیت او څلورم مسلمان و، خو دا چې لکه څنګه چې یوه روایت کې راځي چې د زوړوالي د زړه

[1]- رواه البخاري.

تنګی له امله د اسلامي اخلاقو خلاف کار ترې صادر شوی و، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم یې دې کار ته (جاهلیت) وویل.

په قرآن کریم کې هم په ډېرو ځایونو د الله تعالی د دین مخالفت ته جاهلیت او عدم هدایت ویل شوی، د مثال په ډول: کله چې د سلیمان علیه السلام د مرغانو د لښکر هدهد د سبأ مملکت ته ورځي او د هغوئ نظام، تمدن داسې منظمه پادشاهي ګوري چې په مادي لحاظ له هر څه برخمن دي او هر شی ورکړل شوي دي، خو هدهد چې د سلیمان علیه السلام استازی دی د سبأ د مملکت د خلکو او ملکې د حالت په اړه وایي:

﴿وَجَدْتُهَا وَقَوْمَهَا يَسْجُدُونَ لِلشَّمْسِ مِنْ دُونِ اللهِ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ أَعْمَالَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيلِ فَهُمْ لَا يَهْتَدُونَ﴾ [النمل: ۲۴]

ترجمه: (هغه او د هغې قوم مې داسې وموندل چې له الله تعالی پرته یې لمر ته سجده کوله، او شیطان خپل عملونه ورته ښایسته کړي وو او د حق له لارې څخه یې منع کړي وو، او دوئ لار موندونکي نه دي). یعنې دوئ جاهلان دي چې هدایت یې ندی موندلی. دلته هغه جاهلیت مراد ندی چې له هغوئ سره معلومات نه وو، بلکې له دوئ سره دومره علم او معلومات وو چې دوئ به ښایسته ماڼۍ او حیرانوونکي تختونه جوړول، او وزیران یې دومره با ادبه وو چې کله ملکې مشوره وغوښته هغوی ورته وویل چې موږ خو د زور او طاقت خاوندان او جګړې ته تیار یو، خو له دې هر څه سره بیا هم واک او اختیار له تا سره دی. او دا خبرې د دوئ د سیاسي او تمدني ادب پر پوخوالي دلالت کوي، خو له دې هر څه سره سره چې د الله حکم یې نه مانه دوئ له هدایت څخه لیرې او جاهلان ګڼل شوي دي.

نو جاهلیت چې د یو وضیعت او حالت نوم دی، او د دې قابلیت لري چې بیا بیا به تکراریږي. له همدې کبله د دین علماء په نننی عصر کې هم د الله

تعالی له نهج څخه لیرې والي ته چې د هر فکر او فلسفې په شکل کې وي جاهلیت وایي، که هغه سیکولرېزم وي، یا کمونېزم، لیبرالزم، هیومنېزم، نشنلېزم یا بل هر اېزم وي، که څه هم چې په مادي لحاظ ډېر پرمختللي وي، د سمندرونو تل ته کښته شوي وي، فضا یې تسخیر کړې او ذره یې تجزیه کړې وي، خو چې د الله د دین خلاف او له حکم څخه یې پر سرغړوونه ولاړ وي جاهلیت ګڼل کېږي.

الله تعالی چې د جاهلیت نوم ذکر کوي نو فرمایي:

﴿ أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللهِ حُكْمًا لِقَوْمٍ يُوقِنُونَ﴾ [المائدة: ٥٠]

(آیا د جاهلیت حکم او فیصله غواړي؟ او څوک ډېر ښه دی له الله تعالی له جهته د حکم هغه قوم ته چې یقین لري پر الله تعالی، (هېڅوک ندی). په دې آیت کې هم د الله تعالی د حکم مقابل لوري که شخص دی او که حکومت دی خو چې د الله جل جلاله له نهج څخه لیرې دی حکم یې د جاهلیت حکم ګڼل شوی دی.

د قریشو د زماني جاهلیت بل شکل درلود، اوسنی جاهلیت بل شکل لري، او د راتلونکې زماني جاهلیت به بل شکل ولري. د هغې زمانې په جاهلیت کې به ځینې خلکو یوازې د حج د طواف په وخت کې ځانونه لنډغرول، خو په اوسني جاهلیت کې په هر وخت کې ځانونه لنډغروي. په اوس وخت کې چې کله سړی د اروپایانو انځورونه ګوري په یخ ژمي کې به هم ښځو نیمه بربنډې جامې اغوستې وي، تر زنګونو به له لاندې لوڅې وي، او تر سینې به له پاسه لوڅې وي، پداسې حال کې چې نارینه به یې له سر تر پښو ځان پوښلی وي، خو دوئ به همدې غیر فطری کار ته هم موډ او فېشن وایي. نو اوس پوښتنه داده چې د یوې ورځې لنډغرتوب به چې له اسلامه مخکې به عربو د طواف پر وخت کاوه ډېر جاهلیت وي؟ او که د ټول عمر لنډغر

توب؟ معلومه خبره ده چې اوسنی حالت باید تر پخواني حالته ډېر جاهلیت وګڼل شي. نو بیا هم معلومه شوه چې جاهلیت د یو زماني یا تاریخي مقطع نوم ندی، بلکې د یو وضیعت یا حالت نوم دی چې په بشریت کې په تکراري ډول راځي.

که جاهلیت وپېژندل شي هدایت هم پېژندل کېږي، او که جاهلیت ونه پېژندل شي، نو هدایت هم په سم ډول نه پېژندل کېږي. دا چې نن زموږ د زمانې مسلمانانو ته د منبر، محراب، مدرسې، مکتب، پوهنتون او د روحاني تربیي له روزنځایونو د کمونیزم، لیبرالیزم، ډېموکراسۍ، نشنلیزم او نورو معاصرو نا اسلامي نظریاتو او افکارو په اړه یا اصلاً خبره نه کېږي، او یا په مطلوبه سطحه نه کېږي، نو ځکه خو زموږ د زمانې مسلمانان چې په مسلمانه کورنۍ کې هم پیدا شوي او هم رالوی شوي دي د معاصر جاهلیت لوري ته ور روان دي. ځینې یې کمونستان کېږي، ځینې یې لیبرالان کېږي، ځینې یې دموکراتان کېږي، ځینې یې نشنلستان کېږي، او د اسلام د فکري، سیاسي او اخلاقي ارزښتونو پر ځای د معاصرو جاهلیتونو ارزښتونه او فرهنګ مني، او په همدې کې ورته د انسانیت کمال ښکاري، د دې ټولو علت دا دی چې دوئ جاهلیت نه پېژني. خو بالعکس داسې مسلمان نه وینو چې له یهودیت، نصرانیت، کمونیزم او کوم بل کفره دې اسلام ته رااووښتی وي او بیا دې ټینګ مسلمان نه وي، او یا دې یې بېرته اسلام پرې ایښی وي. دا ځکه چې څوک چې اسلام ته په شعوري ډول او د علم او قناعت له مخې راغلی وي هغه جاهلیت ته بېرته ورګرځېدل اور ته ور ګرځېدل ګڼي.

د جاهلیت یادونه په یوه بل حدیث شریف کې هم شوې ده:

«عن جابر رضي الله عنه قال رسول الله صلى الله عليه وسلم في خطبة حجة الوداع أَلَا كُلُّ شَيْءٍ مِنْ أَمْرِ الجَاهِلِيَّةِ تَحْتَ قَدَمِيْ مَوضُوعٌ وَ دِمَاءُ الجَاهِلِيَّةِ

مَوضُوعَةٌ وَ إِنَّ أَوَّلَ دَمٍ أَضَعُ مِنْ دِمَائِنَا دَمُ رَبِيعَةُ بنُ حَارِثٍ وَ ربَا الجَاهِلِيَّةِ مَوضُوعٌ وَ أَوَّلُ رِبًا أَضَعُه مِن رِبَانَا رِبَا عَبَّاسِ ابن عَبْدِالمُطَّلِبِ فَإِنَّه مَوضُوعٌ كُلُّه».[1]

ترجمه او وضاحت: خبر اوسئ چې د جاهلیت هر کار زما تر پښو لاندې دی (ارزښت راته نه لري). او د جاهلیت د زمانې وینې چې په چا پور وې هغه هم څوک له چا نشي اخیستی. او د خپل د تره د زوی (ربیعة ابن حارث) وینه مې چې د جاهلیت په زمانه کې په بني سعد کې د شیدو رودلو لپاره دوئ لیږلی و او بیا د عزیر قبیلې وژلی و، د هغه انتقام دې هم نه اخیستل کیږي؛ ځکه چې په جاهلیت کې تیر شوی و. او د جاهلیت د زمانې سود هم نور ختم دی، او اول سود چې زه یې له خپلې کورنۍ څخه لغو اعلانوم هغه د عباس بن عبدالمطلب سود دی، دا ټول نور پرېښودل شول.

د دې مبارک حدیث مقصد دا دی چې د جاهلیت اخلاق، معاملې، تصورات، حقوق او هرڅه باید له منځه یوړل شي، او د ژوند په ټولو ډګرونو کې باید یوازې اسلام ومنل شي. او کله چې د مسلمان ژوند دغه ډول عیار شي، نو بیا په دغه حالت کې د (ادخلوا في السلم كافة) مصداق متحقق کیږي.

له پورته خبرو معلومیږي چې (جاهلیت) بېسوادۍ ته نه ویل کیږي؛ ځکه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له بعثت څخه مخکې د جاهلیت زمانه کې قریش په لیک لوست پوهېدل، په کعبه کې یې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم او بني هاشمو سره د مقاطعې کوم خط راځوړند کړی و هغه همدغو قریشو لیکلی و. هغوئ په شعر او ادبیاتو کې لوی لاس درلود، خو له دې هر څه سره سره د دوئ ژوندبڼې، فکر او عقائدو ته جاهلیت ویل شوی

[1]- رواه مسلم.

دی، او هغه له دې امله چې هغوئ د الله له هدایته منحرف شوي وو، او په هر څه کې په خپلو هوسونو پسې روان وو.

که څوک د انسان، ژوند او مرگ، إله، ملایکو، نبي او نبوت، وحیې، آخرت، دوزخ او جنت په اړه د پخواني جاهلیت د زمانې د خلکو عقائد، تصورات او مفاهیم ونه پېژني، هغه په دې نه پوهېږي چې ولې قرآن کریم په هغه وخت کې په ځینو کارونو امر کاوه؟ او ولې یې له ځینې کارونو منع کوله؟ او دا چې ولې په قرآن کریم کې ۱۳ کاله هغوئ ته شرعي احکام نه نازلېدل، او یوازې یې د هغوئ عقائد، فکر او نفسیات ورسمول، او ولې له ۱۳ کلونو ورسته لمونځ، روژه، زکات، حجاب، جهاد او نور اعمال فرض شول؟ ولې دغه احکام په مکه مکرمه کې نه وو فرض شوي؟ دا ځکه نه وو فرض شوي چې په هغه وخت کې د پېړیو جاهلیت دغه خلک په فکري او عقائدي لحاظ سخت ځپلي وو، نو الله تعالی غوښتل چې دوئ د جاهلیت له فکر او عقائدو په مکمل ډول خلاص کړي، او چې کله دغه ډول حالت رامنځته شي، نو بیا به نه هغوئ د شریعت په منلو کې څه حرج احساسوي، او نه نه د اسلام او بخوانیو احکامو او تصوراتو تر منځ پیوندکاري کوي.

د پخواني جاهلیت د سیاسي، اجتماعي، اقتصادي او اخلاقي بُعدونو پېژندل موږ ته د هغه بدلون اندازه راښیي چې اسلام رامنځته کړ.

د جاهلیت د پېژندلو لپاره د علامه ندوي رحمه الله (ماذا خسر العالم بانحطاط المسلمین) تر ټولو غوره کتاب دی چې د عربو، روم، فارس، چین، هند او نورو د جاهلیت په اړه یې تبصره کړې او خلکو ته یې دا واضحه کړې چې کله چې مسلمانان په فکري لحاظ پردیو ته ورکاره شول نو بیا کوم ډول جاهلیت منځته راغی؟

انسانان هغه وخت د رڼا او پرمختګ په لوري روانېږي چې په هر لحاظ له جاهلیته راووځي او د الله د منهج مطابق عمل وکړي، که د الله له منهج څخه مخ واړوي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له لارښوونو لیرې شي، نو په حقیقت کې له هغې لارې لیرې کیږي چې انسانان پرې د سعادت منزل ته رسیږي، ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله تعالی له لوري د انسانیت د سعادت لپاره رهبر دی، او یوازې د همده د تعلیماتو په رڼا کې انسانیت له ترګمیو راوتلی شي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم که نن شخصاً موجود ندی، خو منحیث تشریع، قانون او نظام، اخلاق او عقیده موجود دی، او تر قیامته به وي. د رسول صلی الله عیه وسلم منهج او شریعت د نړۍ استاذ او رهبر دی، او کله چې استاذ او رهبر ورکیږي، نړۍ په فساد او ګمراهۍ کې ډوبیږي، لکه لومړی او دوهم نړیوال جنګونه چې له ۵۰ ملیونو څخه زیات انسانان پکې ووژل شول، سبب یې دا و چې نړۍ له خپل رهبر څخه لیرې شوې وه، او نه یوازې دا چې مسلمانانو تاوان کړی و، بلکې ټول انسانیت تاوان وکړ. خو کله چې مسلمانان اندلس ته ورغلل اندلس ودان شو، مسلمانانو هلته صنعت او تمدن جوړ کړ او فایده یې د مسلمانانو تر څنګ کافرانو ته هم ورسېده.

ندوي رحمه الله د خپل کتاب (ماذا خسرالعالم بانحطاط المسلمین) په لومړۍ برخه کې د (الإنسانیة في الاحتضار) یعنې (انسانیت په زنکدن کې) په نامه فصل کې د نړۍ د هغه وخت د نصرانیت، یهودیت، پخواني فارس، د چینایانو او د یونانیانو د دینونو او تمدنونو، عقایدو او تصوراتو په اړه تفصیلي تبصره کړې ده، او د جاهلیت ابعاد او اړخونه یې د مثالونو په ښوولو سره بیان کړي دي چې لوستل یې د هر عالم او متعلم لپاره ضروري دي. زه دلته د هغه

له کتابه په استفادې د پخوانيو جاهليتونو په اړه يو څه معلومات وړاندې کووم.

**نصراني جاهليت:**

د رسول الله صلى الله عليه وسلم له بعثت وړاندې نصرانيت د وروستي دين په توګه منل شوی دين و. نصرانيت له يهوديت څخه جدا دين ندی، د نصرانيت په راتګ تورات منسوخ شوی ندی، بلکې د نصرانيت په راتګ سره د يهوديت د دين احکام د نصرانيت يوه برخه وګرځېدل. د نصرانيت په کتاب انجيل کې دعا ګانې، مواعظ او نصيحتونه ډېر دي، خو د قانون او نوي شريعت په حيث پر عيسی عليه السلام نوي ډېر څه نه وو نازل شوي، ځکه چې نصرانيان هماغه د موسی عليه السلام د شريعت پر منلو مکلف شوي وو.

انجيل هم د دوو برخو په نوم ياديږي: عهد قديم او عهد جديد.

د اوسني انجيل عهد قديم د يهوديت تورات دی. عهد جديد د عيسی عليه السلام له زمانې وروسته عيسی عليه السلام ته هغه منسوب اقوال دي چې متصل سند لا څه چې اصلا سند نه لري.

له عيسی عليه السلام څخه وروسته د نصرانيت د علماوو هر معلوم او نامعلوم کس چې د عيسی عليه السلام په اړه څه ويلي هغه د انجيل برخه ګرځېدلي دي. انجيل د قرآن کريم او احاديثو په څېر هېڅ داسې سند نه لري چې د علم التراجم يا علم الرجال په معيارونو دې برابر وي.

اوسنی تورات هم همداسې يو بې سنده کتاب دی. او دا ځکه چې کله چې د بابل پادشاه بختنصر د اورشليم (فلسطين) مملکت وران کړ، يهود يې بابل (اوسنی موصل) ته اسيران بوتلل او په لسګونو کلونه يې اسيران وساتل، نو له دې سره بختنصر د هغوئ ټول علمي آثار چې تورات هم ورکښې و

وروسوځول. یهودان او د هغوئ علماء چې کله له اسارته وروسته آزاد شول نو هغوئ ته چې څه شی په ذهن کې پاتې وو هغه یې د تورات په نامه را جمع کړل او دوباره یې ولیکل، او پر هغو یې د تورات نوم کېښود.

په اوس وخت کې اصلي انجیل او تورات دواړه نشته، او کوم څه چې د انجیل او تورات په نامه دي دا ټول هغه بې سنده اقوال دي چې د دوئ د علماوو له خوا راټول شوي. خو بیا هم د عیسی علیه السلام له زمانې څخه وروسته د هغه شاګردانو کوشش کاوه چې د توحید عقیده په خپل دین کې وپالي. یهودانو په ځای د دې چې پر عیسی علیه السلام ایمان راوړي، د هغه مخالفت یې شروع کړ، په هغه پورې یې تهمتونه وتړل، ـ نعوذ بالله ـ ولد زنا یې وباله، او د هغه د وژلو اقدام یې وکړ، الله تعالی د هغوئ په اړه فرمایي:

﴿وَقَوْلِهِمْ إِنَّا قَتَلْنَا الْمَسِيحَ عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ رَسُولَ اللهِ وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ وَلَكِنْ شُبِّهَ لَهُمْ وَإِنَّ الَّذِينَ اخْتَلَفُوا فِيهِ لَفِي شَكٍّ مِنْهُ مَا لَهُمْ بِهِ مِنْ عِلْمٍ إِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينًا﴾ [النساء: ١٥٧]

ترجمه: (او د هغوئ دا وینا چې بېشکه موږ د الله رسول عیسی بن مریم وژلی، پداسې حال کې چې نه یې هغه وژلی او نه یې په دار کړی، بلکې په اشتباه کې لوېدلي، او بېشکه هغه خلکو چې د هغه په اړه اختلاف کړی هغوئ په شک کې دي، هغوئ یې په اړه د ګومان له پیروی پرته هیڅ علم نه لري، او یقیني خبره دا ده چې هغه یې ندی وژلی).

یهودانو نه یوازې له عیسی علیه السلام سره دښمني درلوده، بلکې له عیسی علیه السلام څخه وروسته یې د هغه د دین د اتباعو په خلاف هم جنګ شروع کړ. په دغو مخالفت کوونکو خلکو کې چې غوښتل یې نصرانیت له منځه یوسي د شاول په نامه یو یهودی عالم و چې د ډېرې پوهې او رسوخ خاوند و. شاول د نصرانیت خلاف فعالیتونه شروع کړل، خو یو وخت دې

پایلې ته ورسېد چې نصرانیت له د باندې څخه له منځه نشي وړلای، نو په درواغو یې نصرانیت ومانه او د پاول نوم یې پر ځان کېښود. پاول یا پولس یې مسیحي نوم، او شاول یهودي نوم دی. هغه ویل چې زه په انطاکیه کې روان وم چې الله راته حکم وکړ چې نصرانیت بر حقه دین دی او ویې منه، نو کلیسا ته لاړم او نصرانیت مې اعلان کړ. پولس په کرار کرار نصرانیت له دننه تحریف کړ، او په هغه کې یې د نورو تحریفاتو تر څنګ د توحید عقیده د تثلیث په شرکي عقیدې بدله کړه، او بیا یې همدغه تحریف شوی نصرانیت په سیمه کې خپور کړ.

نصرانیان د وخت په تېرېدو په مختلفو دینونو ووېشل شول، په دې کې یې هم اختلاف دی چې نعوذ بالله الله تعالی د یو طبیعت خاوند دی او که طبیعتونه یې هم بېل دي؟

د نصرانیت د پېژندنې لپاره تر ټولو غوره مختصر کتاب د مولانا تقي عثماني صاحب کتاب (ما هي النصرانية) دی چې فارسي او پښتو کې هم شته چې د نصرانیت ټول عقائد او احوال یې ورکې ذکر کړي دي.

نصرانیت د وخت په تېرېدو په مختلفو دینونو بدل شو، ځینو ته یې کاتولیکان، ځینو ته یې ارتودوکس، او ځینو ته یې پروتستانت ویل کېږي، او همدغه درې طایفې د نصرانیانو تر ټولو لویې طایفې دي.

د امریکا مطلق اکثریت پروټسټنټ نصرانیان دي، روسان ارتودوکسان او د اروپا لویه برخه چې بریتانیا، فرانسه، ایټالیا، شرقي اروپا او شاوخوا نور مملکتونه ورکې شامل دي کاتولیکان دي.

په شپږمه میلادي پېړۍ کې د نصرانیت وضیعت داسې و چې نور د دین په حیث پاتې نه و، ځکه چې پولس لا ډېر مخکې د عیسی علیه السلام هغه پاتې اخلاقیات هم له منځه وړي وو.

## يهودي جاهليت:

د يهوديت دين لا له پخوا يو تحريف شوى دين وو چې پېروان يې يثرب، نجران، شام او ځينې نورو سيمو کې اوسېدل او له نصرانيانو سره يې په هر ځاى کې خپله دښمني پالله. ذو نواس پادشاه چې په اصل کې د حِمْيَرَ د قبيلې وو خو يهودي شوى و د نصرانيانو د وژلو لپاره يې د يمن په نجران کې د اور هغه کندې کيندلې وي چې په سورة البروج کې يادونه شوې ده او هغو ته يې نصرانيان وراچول.

يهود د نورو دينونو په خلاف په خپلې دښمنۍ کې داسې افراط ته رسېدلي و چې ويل به يې ﴿لَيْسَ عَلَيْنَا فِي الأُمِيِيْنَ سَبِيْلٌ﴾، (پر موږ د غير يهودو هېڅ لاره نشته). دوئ غير يهودو ته که هغه هر څوک وي(أميين) يا (جويم) وايي. جويم د يهودانو په ژبه پرديو او د ټيټې درجې انسانانو ته ويل کېږي. دوي وايي چې نور انسانان د حيواناتو په مرتبه کې د يهودي قوم د خدمت لپاره پيدا شوي دي.

يهودان دا دعوه لري چې دوئ د الله تعالى غوره مخلوق دي، او پر ځان د (شعب الله المختار) يعني(د الله تر ټولو غوره ولس) نوم ږدي، او په قرآن کريم کې هم د خپل ځان په اړه د دوئ د دعوى يادوونه د ﴿نَحْنُ أَبْنَاءُ اللهِ وَ أَحِبَّاؤُه﴾ يعني (موږ د الله زامن او او دوستان يو) په لفظ شوې ده.

يهودان په دښمنۍ کې کينه گر خلک دي او له يهودو پرته بل هر چا سره کينه لري. غدر، خيانت، نورو خلکو ته کندې کيندل، د الله تعالى د پيغمبرانو وژل، د دين تحريفول، د الله تعالى د آياتونو په تحريف مال اخيستل، تر نورو ځان غوره گڼل، د نورو مال خوړل او په هر ځاى کې د فتنو او جگړو د اورنو بلولو مهارتونه د دوئ ځانگړتياوې دي. نن هم چې په دنيا کې هرچېرې

د جنگونو او کودتا کانو اورونه بل دي په دې ټولو کې یهودي سیاستونه او د یهودانو د وسلو جوړولو تاجران او کمپنۍ دخیلې دي.

د معاصرې نړۍ په لویو بدلونونو، انقلابونو او هر ډول نړیوالو تصامیمو کې د دوئ ډېر لوی اثر دی. د کمونیزم لوی فیلسوف مارکس چې له دینونو څخه د انکار فلسفه یې رامنځته کړه یهودی و.

داروین چې د الله تعالی له لوري یې د آدم او د حوا د پیدا کولو له حقیقته انکار وکړ او انسانان له د بیزو له ذاته وګڼل، یهودی و.

فروید چې الله یې د انسان مخلوق وباله نه خالق، هغه هم یهودی و، د لوی عثماني خلافت نړوونکی کمال اتاتورک هم د یهودي (دونمه) طایفې غړی و.

شهید شیخ عبدالله عزام په خپل کتاب (السرطان الاحمر) کې لیکي چې د لینن د کابینې له ۲۲ وزیرانو څخه ۱۷ یې یهودان وو.[1]

په دې زمانه کې په اروپا او امریکا کې هېڅ داسې نظام نشته چې د یهودو تر تأثیر لاندې دې نه وي.

## د روم جاهلیت:

رومیان بت پرست او ډېر عیش پرسته خلک وو، او له ښځو خوند اخیستل، فحشاء او شراب څښل یې د ژوند برخه ګرځېدلې وه. په خپلو مجالسو کې به یې لنډغرې ښځې له ځان سره ګرځولې. کله کله به یوې فاحشې ښځې دومره واک او اختیار پیدا کړ چې له پادشاه او والي څخه به هم پیاوړې شوه. د لوڅو مجسمو جوړول یې کمال ګرځېدلی وو.

---

1- السرطان الأحمر ص ۳۳ چاپ مکتبة الأقصی عمان ۱۹۸۰.

له لوبو سره هم د رومیانو ډېره مینه وه، د لوبو لپاره به یې داسې ځایونه جوړول چې اتیا زره ننداره چیان به پکې ځایېدل او د لوبو ننداري به یې ورکې کولې.

داسې لوبې به هم تر سره کېدې چې د میدان په یوه خوا کې به یې وږی زمری خوشي کړ، او په بلې خوا کې به یې مریی انسان ور مخته کړ او اتیا زره خلکو به یې ننداره کوله او له دې به یې خوند اخیست چې انسان د وږي زمري لخوا څنګه ټوټه ټوټه کېږي.

د غلامانو تر منځ به هم د تورو لوبې تر سره کېدې، یو بل یې سره ټوټه ټوټه کول او خلکو به چکچکې ورته کولې او د خوښۍ اظهار به یې کاوه.

په عسکري لحاظ رومیان یرغلګر خلک وو، له اروپا څخه په عسکري حملو کې راوتلي وو او په آسیا کې یې قسطنطنیه، ټول شام، او په افریقا کې یې مصر، الجزایر، لیبیا او المغرب تر خپل واک لاندې راوستلي وو. د نیول شویو سیمو له خلکو سره یې تعامل د مال ټولونې او باج اخیستنې و. پادشاه به پیسې او مال ترې ټولاوه او له رعیت سره به یې معامله د مستعمر او اشغالګر وه. همدا وجه وه چې کله اسلام راغی نو د شام او مصر خلکو اسلام په ډېره مینه او محبت ومانه، ځکه دوئ د رومیانو له ظلم او استبدادي حکومتونو ستومانه شوي او متنفر شوي وو.

دغه ډول وضیعت د دې ضرورت درلود چې یو څوک دې راشي او دغه حالات دې اصلاح کړي او خلک دې سم کړي. نو رب العالمین د دغه مخلوق لپاره تر ټولو غوره پیغمبر او غوره کلام راولېږه ترڅو دنیاوال له تیارو د رڼا او نور خوا ته رهبري کړي.

**د فارس جاهلیت:**

په ایران کې هم جاهلي تمدن ډېر بد وضعیت درلود. په ایران کې د مزدک په نامه یو شخص داسې دین جوړ کړ چې هر څه پکې حلال و. خور، مور او لور هر چا ته حلال وو. دوهم یزدگرد خپله لور ځانته نکاح کړې وه، او بهرام چوبین په شپږمه پېړۍ کې خپله خور ځانته نکاح کړه. د مزدک فلسفې ویل چې انسانان چې په خپلو منځو کې وژنې او جنگونه کوي سبب یې دوه شیان دي: دولت او ښځه. که همدا دوه شیان د ټولو شریک شول نو هېڅ اختلاف او جنگ به نه وي. داسې ورځ به راغله چې ډله ډله خلک به یوه کور ته ننوتل او هر څه به یې چې وکول، نو هېڅ به بده نه گڼل کېده، ځکه چې هر څه هر چاته حلال وو.

په ایرانیانو کې فساد دومره خپور شو چې ایرانیان ترې په تنگ شول. ورپسې د ماني په نوم یو کس راغی او ویل یې چې ایران کې یو شر خپور شوی، د حلال او حرام فرق ورک شوی، د شیطان نظام پکې جوړ شوی. د شر او د شیطان د قوت مقابل کې د خیر قوت هم شته. د وخت په تېرېدو په ایرانیانو کې د یزدان او اهریمن شرکي عقیده راپیدا شوه. یزدان د خیر او هدایت، او اهریمن د شر او گمراهۍ خدای وگڼل شو. د فارسي په ادبیاتو کې د (یزدان) نوم ډېر یاد شوی، خو د اسلامي عقیدې علماء دغه نوم د الله تعالی لپاره حرام گڼي، ځکه چې هغ د اهریمن (د شر د خدای) مقابل گڼل کیږي. الله ځانته خپل ښایسته نومونه لري، او له خپلو بنده گانو یې غوښتي چې په هغو یې یاد کړي، لکه چې فرمایي:

﴿وَلِلهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَى فَادْعُوهُ بِهَا﴾ [الأعراف:١٨٠]

ترجمه: (او د الله ښایسته نومونه دي په هماغو یې در وبلئ).

د ماني په وخت کې د (دوه گوني إله توب) نظریه راغله چې د خیر خدای (یزدان) او د شر خدای (اهریمن) وگڼل شو.

په ایران کې هم د توحید عقیده نه وه. پادشاهانو به ځانونه خدایان ګڼل او خلکو ته به یې هم اعلانول چې د هغوئ په رګونو کې إلهي وینه چلیږي. ایرانیان به چې کله له خپلو پادشاهانو سره مخ کېدل نو فورا به هغو ته په سجده پرېوتل. د فارسي په زړو ادبیاتو کې د (قدم بوسی) لفظ ډېر یاد شوی لکه (زمین خدمت ببوسید، قدم ببوسید). دوئ د شاهي کورنۍ خلک له هر انتقاد او شر څخه لوړ ګڼل، او داسې ترانې به یې جوړې کړې وې چې د دوئ الوهیت به پکې یاد شوی و.

دوئ به داسې ګڼل چې د پادشاهانو په هر انسان باندې حق دی، ټول انسانان باید د دوئ تقدیس وکړي، او هېڅ انسان پر دوئ حق نلري، او څه چې شاهان انسانانو ته ورکوي هغه د دوئ له لوري یو تفضل او لورینه ده.

یوازې شاهي کورنۍ حق درلود چې تاج پر سر کړي. او کله به چې په شاهي کورنۍ کې نارینه ختم شول، نو د دوئ ښځې به تاج پر سر کاوه.

حاکمانو به نور انسانان خپل خادمان ګڼل، اشراف پکې د قدرت خاوندان وو او عامو خلکو حتی د ځمکې اخیستلو حق نه درلود. هر څوک چې په کوم کسب اخته وو هغه به د دوئ د راتلونکو نسلونو کسب وو، او هېچا دغه کسب نه شو بدلولی. که به څوک نجار او ګلکار و د هغه ټول نسلونه به نجاران او ګلکاران وو. هېچا ته دا اجازه نه وه چې خپل کسب بدل کړي، که چا ذلیل کسب درلود هغه به حق نه درلود چې د عزت کسب پیدا کړي.

دغه طبقاتي نظام د ایران له ولس څخه داسې څه جوړ کړي وو چې د الله، شریعت او وحې په نامه یې څه نه پېژندل، د فارس قومیت ورکې مقدس ګڼل کېده، پر نورو ټولو قومونو یې ځان لوړ ګاڼه، او دا یې خپله عقیده ګڼله.

دوئ د اور عبادت کاوه، او د اور د عبادت کول ورته د ماني د خیر او شر د خدایانو له تصوره پیدا شوي و. ماني به ویل چې د خیر په مقابل کې شر دی،

او د تیارې په مقابل کې رڼا ده، او د رڼا ماده اور دی، نو د دې لپاره چې تل د رڼا یو سمبول جوړ شي دوئ به اور داسې بلاوه چې همېشه به رڼا ترې پورته کېده چې په نتیجه کې یې آتشکدې مقدسې وګڼل شوې.

خلاصه دا چې په کومه زمانه کې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په عربو کې مبعوث شو، په ایران کې د حق دین هېڅ اثر نه و، پادشاهانو به خپل محرمې ښځې په نکاح کولې، له (إله)، آخرت او دین سره د دوئ هېڅ رابطه نه وه، او یوازې پادشاهانو ته به د (إله) په نظر کتل کېدل.

### د چین او هند جاهلیت:

په چین کې هم حق دین نه و. مروج دینونه یې (کنفوشیوسیت) او (بودایت) وو. دلته هم د توحید عقیده نه وه. چینایانو به دا عقیده درلوده چې آسمان نر دی او ځمکه ښځه ده، او د ددې دواړو له یوځای کېدو ټول کاینات پیدا شوي دي دي، او د دوئ پادشا اول (ختای) د زمکې او د آسمان مشر زوی دی، او د امت د پلار مرتبه ورته حاصله ده، او د دې حق لري چې څه غواړي هغه وکړي.

په هند کې خلکو په ملیونونو بوتان لرل، د هر څه عبادت یې کاوه، په ټولنه کې طبقاتي نظام و. د ۳۳۰ ملیونه بتانو عبادت کېده. پر بتانو علاوه د نورو مختلفو شیانو لکه د انسان، بحر، سپوږمۍ، لمر، مارانو، غواوو، زمري، ښځو، نارینه وو، د ښځې او نارینه د خاصو اعضاوو عبادت یې هم کاوه. د فحشاء، جنس او شهوت خوا ته دومره میلان زیات شوی و چې دا کارونه یې د دین یوه برخه ګرځېدلې وو. د انسان د تناسلي اعضاوو عبادت کول هم د همدې عقیدې یوه نتیجه وه چې لا تر اوسه د هند په ځینې خلکو کې وجود لري. ښځو به بربنډو نارینه وو، او نارینه وو به بربنډو ښځو ته عبادت کاوه. پیران او

مشران يې تر ټولو فاسق او فاجر خلک وو، او زيارت ته به چې ښځې او نجونې ورتلې د دوئ عفتونه به يې ترې غوښتل. د دوئ ډېر د تجمع ځايونه او زيارتونه د فحاشۍ اډې گرځېدلې وې. اوس هم که د دوئ زيارتونه وليدل شي هلته به گډا او سندرې ويل کيږي، شراب به پکې څښل کيږي، او په خاصو ورځو کې به سينگار شوې ښځې ورته ورځي. دا د هندوئيزم زاړه آثار دي چې اوس هم شته. په هند کې د بت پرستۍ تر څنگ د فحشاء بازار هم اوج ته رسيدلی و.

په اجتماعي لحاظ هندوانو خپله ټولنه په څلورو طبقو تقسيم کړې وه، يوه طبقه خلک (برهمن) و چې د دوئ رجال دين او کاهنان وو، هندوانو دا عقيده درلوده چې برهميان - نعوذ بالله تعالی - د خدای له خولې پيدا شوي دي. دوهمه ډله (شتري) وو چې رجال الحرب گڼل کېدل، او هغوئ به يې - نعوذ بالله تعالی - د خدای له مټو پيدا شوي گڼل. او دريیمه ډله (وېش) وو چې دهقانان وو، او د دوئ د عقيدې مطابق - نعوذ بالله تعالی - د خدای له ورنونو څخه پيدا شوي گڼل کېدل. او څلورمه ډله (شودر) وو چې تر ټولو ټيټه طبقه وو، او دوئ به يې - نعوذ بالله تعالی- د خدای له پښو پيدا شوي گڼل. لنډه دا چې په ايران، چين او هند کې هم هېڅ د توحيد دين نه و.

په هغه وخت کې په افغانستان باندې د مجوسيت مرحله تېره شوې وه چې د ايران له خوا راغلې وه، په بلخ کې د نوبهار په نامه د مجوسيت لويه آتشکده وه، او د بودايت مرحله هم تېره شوې وه چې د هند له خوا راغلې وه او د باميانو د بودا مجسمه له دوئ پاتې وه.

### د عربو جاهليت:

عرب هم د عقيدې، اخلاقو او اجتماع په مجالونو کې تر خطرناک حده جاهليت ځپلي وو، چې موږ يې په بېلابېلو مجالاتو کې د جاهليت ځينې مظاهر په لاندې ډول يادوو:

د اسماعيل عليه السلام تر نبوت وروسته د کلونو او پېړيو په تېرېدو په عربو کې د توحيد عقيده او د ابراهيم او اسمعيل عليهما السلام شريعت او لارښوونې له منځه تللې وې، ځکه چې عرب په داسې سيمه کې اوسېدل چې شاوخوا يې کافرو او مشرکو ولسونو او نظامونو لکه روميانو، فارسيانو، هندوانو، يهودو او نصاراوو موقعيت درلود. دا چې عرب پخپله هم له حق دين څخه منحرف شوي او ناپوهه خلک وو، نو حق او باطل ترې ګډوډ شوی و، الهي تعليمات ورکې له منځه تللي وو، او له نورو خلکو څخه يې په تقليد او تأثر بېلابېلې عقيدې او د عبادت نوي شکلونه غوره کړي وو.

د انبياوو عليهم السلام له تعليماتو لرې والی په دوئ کې د جاهليت د دوامداره کېدو سبب شوی و. له الله تعالی پرته يې د بتانو او پېريانو عبادت کاوه. د واحد خالق او مالک الله جل جلاله پر ځای يې له بتانو او پېريانو د خير او شر تمه کوله. ټول عرب په شرک اخته و، خو ځينې خلک چې شمېر يې ډېر کم و د ابراهيم عليه السلام د تعليماتو پر يوې برخې عمل کاوه، خو د هغوئ تأثير پر نورو عربو دومره نه و چې هغوئ دې له دغې شرکي عقيدې څخه واړوي او د هدايت سبب يې شي.

ډېره برخه عرب د الله تعالی پر ربوبيت قائل وو او دا يې منله چې همدغه رب هر څه له نشت څخه هست کوي او بيا يې کمال ته رسوي، پالنه او روزنه يې کوي، روزي ورکوي، اولاد ورکوي، ژوند او مرګ هم د هغه په واک کې دی، خو د دوئ شرک په الوهيت او اسماء او صفاتو کې و.

الله تعالی د هغوئ په اړه فرمايي:

﴿وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَيَقُولُنَّ اللهُ﴾ [العنكبوت: ٦١]

ترجمه: (که ته پوښتنه ترې وکړې چې اسمانونه او زمکه چا پیدا کړي او لمر او سپوږمۍ چا مسخّر کړي حتماً به درته ووایي چې الله). هغوئ الله تعالی د ټولې دنیا او مافیها خالق باله، خو د هغه په صفاتو کې یې نور ورشریکول او د یوازیني معبود په حیث یې نه مانه، او که یې منلو هم، نو د الله په عبادت کې یې نور ذوات ورشریکول.

دوئ به بتان هغه وسیلې او واسطې بلل چې دوئ الله جل جلاله ته ورنږدې کوي، ویل به یې:

﴿مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللهِ زُلْفَى﴾ [الزمر: ٣]

ترجمه: (موږ خو یې یوازې د دې لپاره عبادت کوو چې په ښه نزدیکت مو الله ته ورنیږدې کړي).

د وخت په تېرېدو دوئ دغه معبودات د الله په وړاندې خپل شفعاء وبلل، وروسته یې دغه شفعاء داسې وبلل چې دوئ ذاتي قدرت، تأثیر او تصرف هم لري. دغه عقیده دومره افراطي شوه چې بیا یې دغه شفعاء خپل معبودان وګڼل او د الوهیت تر درجې یې ورسول.

عربو د بوت پرستۍ په عقیده کې تفنن وکړ، ډول ډول معبودان یې اختیار کړل. په عربو کې هم د توحید ځای شرک نیولی و. یو وخت د عمرو بن لحی په نامه یو عرب مشر د شام خوا ته لاړ، هلته یې ولیدل چې د شام خلک د بتانو عبادت کوي، نو ده هم له ځان سره ځیني بتان عربو ته راوړل، او د وخت په تېرېدو په عربو کې هم بت پرستي پیدا شوه، او خبره دې حد ته ورسېده چې دوئ په کعبه کې ۳٦٠ بوتان درولي وو. نور عرب به چې مکې ته راغلل او د کعبې دننه به یې بوتان لیدل نو بیا به یې د کعبې شاوخوا ځینې

کانې له ځان سره د تبرک او تقدیس په خاطر یوړل او په خپلو سیمو کې به یې د دغو کاڼو عبادت شروع کړ. د وخت په تېرېدو دوئ داسې حد ته ورسېدل چې هر چېرته به یې چې لږه ښایسته ډبره ولیده، نو د هغې عبادت به یې کاوه. داسې وخت به هم راغی چې شپنو به په صحراوو کې د ډبرې د نشتوالي په صورت کې خاورې راټولې کړې، او اوبه به چې نه وې نو مېږه به یې پرې ولوشله او په شیدو به یې خټه خیشته کړه، له هغې به یې بوت جوړ کړ او بیا به یې د هغه عبادت کاوه.

عرب به چې کله په سفر وو او چېرې به یې واړول، نو اول کار به یې دا و چې څلور ډبرې به یې پیدا کړې، له دریو به یې نغری جوړ کړ، او یوه ښایسته ډبره به یې د بوت په توگه ونیوه او د هغې عبادت به یې کاوه. او چې کله به بېرته په سفر روان شول، نو هم به یې نغری او هم به یې بوت پرېښود، او په بل ځای کې به یې همدا کار بیا تکراراوه.

په عربو کې د جاهلیت بل اثر دا و چې د عفاف او پاک لمنۍ تصور ورکې تر ډېره حده له منځه تللی و. امام بخاري د عروة بن زبیر په روایت له ام المؤمنین عایشې رضي الله عنها څخه نقل کوي چې نکاح په جاهلیت کې په څلور ډوله وه: یوه اوسنۍ سنت نکاح چې سړي به د یوې نجلۍ کور ته مرکه ورلېږله او له هغې سره به یې نکاح کوله. دوهم ډول نکاح دا وه چې سړي به خپله ښځه له طهر څخه وروسته یوه عزتمن یا نومیالي سړي ته ورلېږله چې د هغه تخم واخلي او هغه به تر هغه وخته له خپلې ښځې سره نه یوځای کېده چې ترڅو به حمل معلوم شوی نه وو، او دا به یې ځکه کول چې اولاد یې د ښو صفاتو خاوند راشي، او دې کار ته به یې استبضاع ویل. بل ډول نکاح دا وه چې تر لسو لږ خلک به یوې ښځې ته ورغلل او ټول به ورسره یو ځای شول، او کله به چې ښځې بچی وزېږاوه نو همدغه خلک به یې راوغوښتل،

او هر چا ته به يې چې خوښه وه هغه به يې د بچي پلار وګاڼه، او چا به سرغړونه هم نه کوله. څلوم ډول دا و چې بدکارو ښځو به پر کورونو بيرغونه ځړولي وو او هر څوک به د زنا لپاره ورتلل، او چې کله به يې بچی پيدا شو همدغه خلک به ورته راټول شول او يوه قيافه پېژندونکي به د خلکو او ماشوم د قيافې ورته والي ته په کتلو هغه د يو چا د بچي په حيث اعلان کړ، او چا به پر دې کار اعتراض هم نشو کولی.

د جاهليت په زمانه کې د ښځو حالت ډېر بد و. ښځې ته به د يوه مستقل او پوره انسان په سترګه نه کتل کېدل، بلکې هغې به د متاع حيثيت درلود، داسې به په ميراث وړل کېده لکه يو څوک چې مال او متاع په ميراث اخلي. که به يو څوک مړ شو، او ځاروي او د کور مال به يې پاتې و، نو لکه څنګه به چې مال او ځاروي پر وارثانو وېشل کېدل همداسې به هغه ښځې هم وېشل کېدې چې له مړي څخه به پاتې وې.

نه يوازې دا چې ښځه به په ميراث وړل کېده، بلکې د مهر له مال څخه به هم محرومېده، لکه نن چې زموږ په ځينې خلکو کې هم همدا حالت شته. کله به چې د يو چا پلار يا بل خپلوان مړ شو، نو د دې کورنۍ خلک به د ښځې واکداران وو، که به يې خوښه وه کوم يوه به په نکاح کړه، او يا به يې بل چاته په نکاح کړه، او يا به يې تر هغو په کور کې بنديوانه ساتله چې له خپل مهره تېره شي، او يا به يې تر مرګه بندي ساتله چې مهر يې دوئ ته پاتې شي.

عطاء بن ابي رباح رحمه الله وايي: د جاهليت يو عادت دا و چې کله به سړی مړ شو او ښځه به يې پاتې شوه نو که به په دې کورنۍ کې ځوان هلک يا سړی نه و نو ماشوم ته به يې کېښېنوله.

اوس هم په ځینو خلکو کې خصوصا په افغانستان کې دا عادت شته چې کونډه ښځه د خپل سرنوشت د ټاکلو واک او اختیار نلري، چې دا د هماغه جاهلیت یو شکل دی.

کله به د ښځې په حق کې داسې هم پېښېدل چې کونډه به شوه، نو د هغې د عدت له پوره کېدو وروسته او یا هم د عدت په دوران کې به د کور یا د خپلوانو کوم شخص د خپل لباس یوه ټوټه پرې واچوله، نو په دې کار به دغه ښځه د همدې شخص وګڼل شوه.

د جاهلیت بل صفت دا و چې نجونې به یې ژوندۍ ښخولې لکه په قرآن کریم کې چې ورته اشاره شوې ده، الله تعالی فرمایي:

﴿وَإِذَا الْمَوْءُودَةُ سُئِلَتْ (8) بِأَيِّ ذَنْبٍ قُتِلَتْ﴾ [التکویر: ۸-۹]

(او کله چې ژوندۍ ښخه شوې وپوښتل شي چې په کومه ګناه ووژل شوه؟).

عربو به د څو انګېزو له امله نجونې وژلې:

یوه انګېزه به یې دا وه چې دوئ به شرم ګاڼه چې د دوئ لوڼې به واده کېږي او بل څوک به له دوئ څخه خپلې غوښتنې پوره کوي، نو دا کار به یې له خپل شرف سره مخالف ګاڼه، او له همدې کبله به یې وژله.

بله انګېزه به یې دا وه چې دوئ به بدرنګې یا تورې نجونې د ځان لپاره بد شګون ګاڼه، نو ځکه به یې وژلې. او که به ښایسته وه، نو نه به یې وژلې.

بله انګېزه به دا وه چې د فقر له امله به یې وژلې، او داسې به هم پېښېدل چې یو فقیر شخص به خپله لور پر مالدار شخص خرڅوله او هغه به بیا د ځان لپاره لویوله. په هماغه وخت کې هم ځینې خلک وو چې دغه ډول نجونې به یې له مرګه ژغورلې، لکه د صعصعة بن ناجیة په نامه یوه سړي چې د فرزدق شاعر نیکه و او د جاهلیت او اسلام دواړه زمانې یې لیدلې وې وایي: د اسلام

تر راتللو مې د ۳۰۰ نجونو هره یوه د دوو اوښو او یوه اوښ په بدل کې له مرګه ژغورلې وې، یعنې فدیه مې یې ورکړې وه.
کله به داسې هم پېښېدل چې هلکان به یې هم وژل، لکه عبدالمطلب چې د خپل یوه زوی حلالول پر ځان نذر ګڼلي و.
په عربو کې یوازې الله ته عبادت کول هم د تعجب کار ګڼل کېده، او ویل به یې:
﴿أَجَعَلَ الْآلِهَةَ إِلَٰهًا وَاحِدًا إِنَّ هَٰذَا لَشَيْءٌ عُجَابٌ﴾ [ص: ۵]
ترجمه: (آیا ټول معبودان یې یو معبود ګرځولی؟! دا خو حیرانوونکې خبره ده).
ځینو به الحاد ته عقیده درلوده چې هیڅ خدای نشته.
په اجتماعي لحاظ حالت داسې و چې زورورو خلکو به پر کمزورو خلکو حمله وکړه، د هغوئ ښځې به یې د وینځو او بچې به یې د غلامانو په حیث ورڅخه بوتلل. د کمزورو خلکو ګناه به دا وه چې له ځانه دفاع نشي کولی.
عربو به د ډېرو عادي سببونو له امله هم اوږدې جګړې کولې. د مثال په ډول د (البسوس) جګړه پوره ۴۰ کاله د دوو قبیلو تر منځ په دې سبب پېښه شوې وه چې د یوې قبیلې یوه شخص د بلې قبیلې د یوې اوښې پر لورې غشی ویشتلی و او هغه غشی د اوښې په غولانځه لګېدلی و، او کله چې د لوشلو پر وخت د اوښې له غولانځې وینه راوتلې همدې کار هم اوږده جګړه رامنځته کړې وه چې په نتیجه کې یې قومونه ووژل شول، اولادونه یتیمان شول، او دومره جسدونه به پراته وو چې د خښولو به یې څوک نه پیدا کېدل.
داسې به هم پېښېدل چې که به د یو کس آس د بل کس له آس څخه مخکې شو نو دې بل به د هغه آس وویشت او په دې سره به جګړه شروع شوه او کلونه کلونه به یې دوام درلود.

په عربو کې به قبیله تر ټولو مقدسه ګڼل کېده، او دا به د قبیلې شعار و چې: «انصر أخاك ظالما أو مظلوما».

یعنې: د خپلې قبیلې د خلکو به د ظالمیت او مظلومیت په دواړو وختونو کې مرسته کوې.

داسې یو عمومي عقیده او دین نه و چې عرب پر یوه معبود راټول کړي. د خزاعه قبیلې یوې برخې به د پیریانو عبادت کاوه، بلې به د لمر عبادت کاوه. بنو کنانه به د سپوږمۍ او بنو تمیم به د ستورو عبادت کاوه.

د بت پرستۍ تر څنګ عربو ته نصرانیت او یهودیت هم ورغلی و. ځینې یهود له شام څخه مدینې منورې ته ورغلي و، هلته یې آبادۍ جوړې کړې وې، او د وخت په تېرېدو واړه او غټ قومونه ترې جوړ شوي وو. دوئ ځانونه اهل کتاب او اهل علم ګڼل، عربو به له دوئ مشورې اخیستې، د حلال او حرام پوښتنې به یې ترې کولې، دوئ به هم عربو ته خپل تحریف شوی دین بیاناوه، تر دې چې ځینې عربو یهودیت او ځینو یې نصرانیت منلی و.

د رسالت او پیغمبر په اړه هم د عربو تصور ګډوډ و، ویل به یې چې پیغمبر باید ملکوتي حیثیت ولري او انسان نه وي، له همدې کبله یې رسول الله صلّی الله علیه وسلم ته تعجب کاوه چې: ﴿مَالِ هَذَا الرَّسُولِ يَأْكُلُ الطَّعَامَ وَيَمْشِي فِي الْأَسْوَاقِ ﴾ [الفرقان: ٧]

ترجمه: (دا څنګه پیغمبر دی چې خواړه خوري او په بازارونو کې ګرځي؟!).

پر آخرت او بیا ژوندي کېدلو یې هم باور ګدوډ و. ځینې به یې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلل او وروست هډوکی به یې په لاسونو کې ورژاوه او ویل به یې:

﴿ مَنْ يُحْيِ الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيمٌ﴾ [یس: ٧٨]

ترجمه: (څوک به دا هډوکي راژوندي کړي پداسې حال کې چې وراسته شوي دي؟!).

په عربو کې شراب څښل دومره زيات وو چې د شعر او شاعرۍ زياته برخه يې شرابو نيولې وه، او دا د فخر او کمال سبب ګڼل کېده. په شرابو به يې دومره پيسې ورکولې چې د تاجر د کلمې اطلاق به په شراب خرڅوونکي کېده، يعنې که به وويل شول چې فلانی تاجر دی، نو معنی به يې دا وه چې هغه د شرابو خرڅوونکی دی. په معاصر جاهليت کې هم شراب نوشي دومره ډېره شوې چې هر ځای يې نيولی.

د شراب نوشۍ تر څنګ بل بد کار په پراخ ډول د سود خوړل و، لکه اوس چې په معاصر جاهليت کې ټوله نړۍ سودي اقتصاد نيولې ده.

په جنسي مقصد د ښځو په استعمالولو پيسې پيدا کول هم د بزنس يو ډول و. ځينو به وينځې درلودې او د فحشاء لپاره به يې مجبورولې. دغه کار په ټولو عربو کې نه و، خو په يوې برخې خلکو کې دومره ډېر شوی و چې چا انکار پرې نه کاوه. په معاصر جاهليت کې هم تر ټولو زيات تمرکز د ښځو په آزادۍ او د هغو پر بې بندوباره استعمال کېږي. نن ورځ له افغانستان پرته په ټوله اسلامي نړۍ کې پر زناکارو شرعي حد نه جاري کېږي. د عربي خليج د يوه غرب پلوي دولت لويه برخه اقتصاد د (جنس پر تجارت) ولاړ دی.

په انسانانو کې په مجموعي ډول اخلاقي بې بندوباري، ظلم، شرک او بې عفتي عامه وه. پر هند، چين، ايران، روم، يونان، يهودو، نصاراوو، عربو او نورو قومونو هم جاهليتونه حاکم وو او د حق دين ډيوې مړې شوې وې.

**په جاهليت کې عربو ځينې ښه صفات:**

عربو د جاهلیت په زمانه کې یو څه ښه صفات هم درلودل چې د هغو له امله الله تعالی دوئ د وروستي رسالت د لومړنیو حاملینو، خپروونکو او آخري پیغمبر د اصحابانو په حیث انتخاب کړل، او دوئ ته یې دا شرف ور وباښه چې د قیامت تر ورځې د ټول انسانیت لپاره د استاذانو په حیث یاد شي.

کله چې الله تعال خپل وروستی کتاب قرآن کریم را نازلاوه په هغه وخت کې فارس یوه لویه امپراطوري وه چې قوي حاکمیت، قانون او نظام، لویې او منظمې لښکرې او قوي تمدن یې درلود، خو الله تعالی دغه باسواده او د لویې امپراطورۍ درلودونکی قوم د اسلام د رسالت لپاره انتخاب نکړ.

روم هم لویه پادشاهي، لښکرې، قانون ادیبان او فیلسوفان درلودل، خو الله دوئ هم د رسالت لپاره انتخاب نکړل.

هند هم همدغه ډول لویه امپراطوري، علم هنر او فلسفه، پراخ بشري ځواک او نور ډېر څه درلودل، د تورو صنعت یې ډېر مشهور و، هنه دي تورو ته به په عربو کې (مُهَنَّد) ویل کېده، خو الله تعالی دوئ هم د رسالت لپاره انتخاب نکړل.

چینایان او مغلان هم ډېر زورور او جنګیالي خلک وو او لویې سیمي یې تر واک لاندې وې، خو الله تعالی هغوئ هم د دې رسالت لپاره انتخاب نکړل.

خو عرب چې نه یې لوی تمدن، نه پراخه علم او سواد، نه امپراتوري، نه منظمې لښکرې او حکومت درلود، او نه یې هم سمسوره سیمه او پیاوړی اقتصاد درلود، خو بیا هم الله تعالی همدغه صحرایي خلک د رسالت د حمل لپاره انتخاب کړل.

د عربو په انتخاب کې حکمت دا و چې دا نور خلک استعمال شوي وو، د ترقۍ له مرحلې څخه د تنزل د مرحلې خوا ته روان وو، خو عرب یو بِکر او نا استعمال شوی قوم و. او دا ډېره مهمه خبره ده چې هغه څوک چې خالي

الذهن وي او ته يې له ځان سره ملګرى کړې ستا ښه اطاعت کوي، خو هغه ځوک چې ذهن يې له نورو افکارو ډک وي او د ځوانۍ او قوت مرحله يې هم د بل چا لپاره استعمال شوې وي، د هغوئ اصلاح او د هغوئ په مټ تغيير راوستل کله ستونزمن او کله هم ناشونى کار وي.

الله تعالى د خپل علم او حکمت له مخې د اسلام خپراوي او له هغه د دفاع لپاره خالي الذهن او نا استعمال شوي خلک انتخاب کړل چې د روم، ايران، هند او يونان له فلسفو خبر نه وو، تربيه او تأثر يې ښه او زر اخيست. هغه خلک چې ذهنونه يې ډک شوي وي هغوئ د خپلې تجربې او تعقل په آينه کې هر څه ته ګوري، که د هغوئ په اند سم وو، نو سم دي، او که د هغوئ په اند ناسم وو، نو ناسم دي. خو خالي الذهنه خلک سم او ناسم له دعوتګر څخه اوري، نو که دعوتګر د حقيقي اسلام د پيغام خپروونکى وي، طبيعي ده چې خلکو ته به سم، سم او ناسم، ناسم معرفي کوې. الله تعالى هم د اسلام د رسالت د خپرولو لپاره په اول وخت کې داسې خلک انتخاب کړل چې نه يې ذهنونه له نورو فلسفو ډک وو، او نه د نورو نظرياتو لپاره استعمال شوي وو.

د اسلام د خپراوي لپاره د عربو په انتخاب کې ښايي بل حکمت دا و چې اسلام په تعليم، پوهې، کتابونو، او فرهنګي فعاليت دومره نه خپرېږي لکه څومره چې په قربانۍ او انقلابي مبارزې خپرېږي. په هغه وخت کې د نورو ولسونو خلک د ادب، فرهنګ او فلسفې خلک وو، خو د قربانۍ او انقلابي مبارزې روحيه او وړتيا يې نه لرله. او کوم ولس چې د خپل فکر او عقيدې لپاره د قربانۍ او انقلابي مبارزې روحيه ونه لري هغوئ خپل مفاهيم نشي خپرولى، بلکې په اسانه د خپلو معنوي ارزښتونو پر سر له پرديو سره جوړه کوي.

موږ په خپل هېواد افغانستان کې هم ولیدل چې څنګه هر ځل فرهنګیانو او فلسفیانو له فرنګیانو او نورو راغلو یرغلګرو سره جوړه وکړه او له هغوئ سره مشترک حکومتونه جوړ کړل. د اسلام دین د علم، فهم، دعوت، تدریس، تبلیغ او فکري مبارزې دین دی او له همدې لارو خپرېږي، خو دا هرڅه په هغه وخت کې خپل پوره تأثیر لري چې تر شا یې پوځي قوت او د قربانۍ پر روحیې داسې روزل شوي خلک ولاړ وي چې عیش پرسته نه وي، او د اعلاء کلمة الله لپاره د صحابه کرامو په څېر له خپلو سرونو تېرېدلو ته داسې ولاړ وي چې هر وخت د «یَا خَیلَ اللهِ ارْکَبِي» یعنې: (ای د الله سپاهیانو سپاره شئ) آواز واوري، نو هېڅ دنیوي کار او مصلحت یې له جهاده را ایسار نه کړي. همدغه صفت د هغه وخت په عربو کې تر بل هر چا ډېر او قوي و.

اسلام په دعوت سره خپرېږي، خو دعوت یې قربانۍ او جهاد ته ضرورت لري. د عربو یوه ځانګړتیا دا وه چې دوئ قربانۍ او سرښندنې ته تیار ولاړ وو، په هر کم شي به یې قرباني ورکوله، که به چا د چا آس یا اوښه ګوډه کړې وه په هغې به یې هم کلونه کلونه جنګونه کول. همدغه روحیه په هغوئ کې اصل ګرځېدلې وه، پداسې حال کې چې نور خلک د فلسفو، کتابونو او هنرونو خلک وو، خو خپله د قربانۍ ډګرونو ته نه راوتل، او که به حکومتونو هم جګړې ته سوق کړل، نو بیا به یې د قربانۍ روحیه نه درلوده.

د عربو بل ښه صفت په دوئ کې د بیان فصاحت و، تر دې چې د ښې او فصیحې وینا لپاره به یې مېلې او مسابقې جوړولې او جائزې به ورته ټاکلې. په بیان او خبرو کې فصاحت د دوئ داسې شهرت ګرځېدلی و چې له عربو پرته نور خلک به یې (عجم) یعنې نا فصیح او نا بلیغ بلل. او دا معلومه خبره ده چې د پیغام په ښه رسولو او د مخاطبینو په ښه قانع کولو کې د وینا قوت او فصاحت تر ټولو مؤثره وسیله ده چې یو دعوتګر ولس یې باید ولري.

د عربو بل ښه صفت آزاد ژوند او له آزادۍ سره مینه وه. په کوم ولس کې چې له آزادۍ سره مینه او د حریت احساس ژوندی وي، او د پردیو تر اشغال لاندې ژوند تېرولو د غلامۍ له ژوند سره عادت کړي نه وي، هغوئ نورو ته سر نه ټیټوي او د ذلت پر ژوند نه راضي کېږي، چې دا صفت د یوه نوي دین د خپروونکو او د ټول انسانیت لپاره د یوه نوي نظام د اقامه کوونکو لپاره ډېر ضروري صفت دی.

د جزیرة العرب عربو تل آزاد ژوند تېر کړی وو، او د فارس او روم او یا کومې بلې اشغالګرې امپراطورۍ تر واکمنۍ لاندې نه وو پاتې شوي. ځکه خو یوازې همدوئ کولی شول چې د لویو امپراطوریو له رعبه خلاص وي، او د مقابلې حوصله یې ولري.

د ازاد او خپلواک نظام د جوړولو لپاره د آزادۍ د احساس درلودل ډېر لوی او مهم عامل وي. په ۲۰۰۱ میلادي کال کې چې امریکایانو او د هغوئ ملګرو افغانستان اشغال کړ، هغوئ ته دا ورمعلومه شوه چې له افغانانو سره د مقاومت تر ټولو لویه وسله په دوئ کې د حریت احساس او د مادیت له ژونده د دوئ لیرې والی دی، نو ځکه یې په خپل ټول توان کوښښ وکړ چې د دوئ په نفسونو کې د حریت احساس ووژني، معنوي ارزښتونه یې په ژوند کې بې تأثیره کړي، او د مطلق مادیت په ژوند یې عادت کړي. د دې کار لپاره یې په سلګونو نشریې، ټولنیزې رسنۍ، سټلایټونه، انټرنټي تلوېزوني چېنلونه، په سلګونو داخلي او خارجي رادیویي او تلویزیوني سټېشنونه، د مدني ټولنو د فعالیت په نامه د WESTERNIZATION (غربي کولو) فعالیتونه، او د فکري جګړې نور وسائل پکار واچول.

د عربو بل ښه صفت د دوئ پیاوړې حافظه وه. که له یوې خوا د عربو اکثریت بې سواده وو، خو له بلې خوا بیا د ډېرې قوي حافظې خاوندان وو.

عربو به په زرگونو شعرونه یادول، د پېړیو پېړیو نسبونه به یې یاد وو چې دوئ به ورته علم الأنساب وایه. اوس هم د عربو علماء ډېر ذهین خلک دي، او داسې علمي تألیفات کوي چې لوستلو ته یې د لوستونکي شوق پیدا کیږي.

د عربو بل ښه صفت وفا وه. هغوئ به غدر او خیانت ډېر بد ګڼل. هغوئ په خپلو کیسو او روایاتو کې غدار او بې وفا خلک ډېر بد ګڼلي دي، تر دې چې د مرگ قبلولو ته به تیار وو، خو بې وفایی ته به نه تیارېدل.

تر دې ځایه د جاهلیت د بېلابېلو اړخونو او حالاتو د پېژندلو په اړه څو ضروري خبرې وې چې د اسلام لپاره د وېښو او هوښیارو مبارزه کوونکو په خدمت کې په دې مقصد عرض شوې چې په رڼا کې یې پخوانی او اوسنی جاهلیت وپېژني، او د پیروانو په اړه یې مناسب دریځونه ولري.

**نبوي مرحله:**

په اسلامي تاریخ کې نبوي مرحله تر ټولو مراحلو مهمه او مبارکه مرحله ده چې د اسلام علماوو د دې مرحلې ټول تفاصیل د سیرت النبي په کتابونو کې راجمع کړي دي.

دا چې سیرت النبي څه ډول علم دی او په اسلامي علومو کې کومه مرتبه او کوم اهمیت لري په لاندې کرښو کې یې په اړه له لوستونکو سره څو خبرې شریکووم:

**د سیرت النبي علم:**

د جاهلیت د دورې پېژندل د سیرت النبي د علم لپاره یو مدخل دی، ځکه چې اسلام په انسانیت کې یو لوی بدلون راوست او ارتقاء یې ورکړه. دغه بدلون او ارتقاء هغه وخت احساسیدی شي چې له اسلامه د مخکې دورې

حالات وپېژندل شي، او انسان په دې پوه شي چې په هغه وخت کې انسانان په ديني، اخلاقي، سياسي، اجتماعي، اقتصادي، عاطفي او سلوکي لحاظ په څه ډول حالاتو کې اوسېدل؟ او د اسلام په راتګ سره په دغو ټولو مجالاتو کې څه ډول بدلونونه راغلل؟ له همدې امله علماء د سيرت په کتابونو کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم له مبارک ژوند څخه مخکې د عربو د جاهليت زمانه يادوي، ترڅو هغه بدلون واضح شي چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم له بعثت وروسته په بشريت کې راغلی دی.

د سيرت النبي علم د پيغمبر صلى الله عليه وسلم مبارک ژوند په لاندې څو زماني مرحلو کې تر بحث لاندې نيسي:

۱- د جاهليت د زمانې مرحله چې يوه برخه تفصيلات يې په تېرو صفحو کې ياد شول.

۲- له بعثت وروسته مکي مرحله، په سيرت النبي کې بايد د اسلام مکي مرحله په تفصيل ولوستل شي، ځکه چې مکي مرحله د مدني مرحلې لپاره بنسټ جوړوي. او دا هغه مرحله وه چې په هغې کې د وحيې نزول او د رسول الله صلى الله عليه وسلم فعاليت پر دې متمرکز و چې خلک په هر لحاظ د جاهليت د زمانې له حالاتو او اعتقاداتو راوباسي، او د اسلام پر حقانيت يې معتقد او د هغه د تعليماتو پر منلو يې قانع کړي.

مکي مرحله امت ته دا ورښيي چې کله مسلمانان د ضعف په حالت کې وي او له هر لوري او په هر مجال کې د کفارو تر فشارونو لاندې وي، نو د مسلمانانو په حيث د خپل ځان د ساتلو لپاره له کفارو سره څه ډول تعامل وکړي؟ او څنګه په تدرج، حکمت او د موجودو وسائلو په کارولو د ضعف له حالته د قوت حالت ته راووځي؟

۳- مدني مرحله هغه مرحله وه چې په هغې کې مسلمانان د ذهن جوړونې له مرحلې د عمل او نظام جوړونې مرحلې ته راووتل، او الهي وحیه او نبوي تعلیمات هم پر دې متمرکز وو چې مسلمانان دې د یو قوي، منظم او متحرک امت او ځواک په حیث راڅرګند شي، د ژوند په ټولو مجالاتو کې دې د الله تعالی احکام عملي کړي، د کفر په خلاف دې عملي جهاد وکړي، او د الله تعالی دین دې د نړۍ نورو انسانانو ته ورسوي.

په مدني مرحله کې شریعت تکمیل شو، احکام نازل شول، دولت جوړ شو، لښکرې تجهیز شوې، فتوحات راغلل، د عربي جزیرې او د هغې د شا او خوا سیمو له ولسونو او نظامونو سره د جګړې او ډپلوماسۍ د تعامل اصول رامنځته او سفیران ولیږل شول، او مسلمانان د یوه منظم، فاتح او دعوتګر حکومت خاوندان شول.

مدني مرحله طالب ته دا ورښیي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم څنګه نظام او حکومت رامنځته کړ؟ څنګه یې له جاهلیت ځپلي انسانیته یو دعوتګر او متمدن امت جوړ کړ؟ څنګه یې مسلمانان تر مظلومیت او محکومیت وروسته د نظامي علم او لښکرو خاوندان کړل؟ څنګه هغه مبارک صلی الله علیه وسلم او د هغه خلفاوو او اصحابانو رضي الله تعالی عنهم لوی غزوات ترسره کړل، او څنګه یې جزیرة العرب او د هغې شاوخوا سیمې فتحه کړې؟ څنګه یې په خپلو ملګرو کې دا وړتیا پیدا کړه چې الهي احکامات او لارښوونې په مثالي ډول عملي کړي؟!

د نبوي سیرت پورته یادې شوې درې واړه مرحلې باید په تفصیل سره د دیني مدارسو په نصاب کې شاملې او په ښه ډول تدریس شي، ځکه چې همدغه مرحلې طالب ته د دین د پوره کېدو او د هغه د مثالي عملي تطبیق مکمل

تصویر وړاندې کوي، او له بشریت سره یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له مثالي تعامله خبروي.

**سیرت النبي یو شرعي، مستند او معتبر علم:**

سره له دې چې سیرت النبي یو مهم دیني علم دی خو د تأسف ځای دی چې په افغاني ټولنه او همدارنګه په افغاني دیني مدارسو، مساجدو او مکاتبو کې د سیرت مبارک علم ته نه ډېره توجه کېږي، او نه ورته په تعلیمي نصابونو او د جمعې د ورځې په مواعظو کې ځای ورکول کېږي.

دا چې د سیرت مبارک علم په شرعي علومو کې څه حیثیت او مرتبه لري، او ولې یې باید د مدرسې طالبان په لازمي ډول په تفصیل سره ولولي په دې اړه لوستونکو ته د سیرت د علم د اهمیت په اړه څو کرښې عرض کووم:

د سیرت النبي علم چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبارک ژوند ټول مراحل بیانوي که په مدارسو کې په پوره تدبر او تحلیلي ډول ولوستل شي، نو بې له شکه به دغه علم د مدرسې په طالب کې د انقلابیت روحیه پیدا کوي، او له پیغمبر صلی الله علیه وسلّم سره به یې علمي او شعوري رابطه قوي کوي؛ ځکه چې طالب به په دې پوهېږي چې د رسول الله علی الله علیه وسلم په ژوند کې قرآن کریم څنګه رانازل او اسلام څنګه مکمل شو؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم شریعت په څه ډول تطبیق کړ؟ څنګه یې پر دین ولاړ سیاسي نظام جوړ کړ؟ څنګه یې له پاشلو او پخپلو کې سره له اخته قبائلو د یوه لوی امت لومړنۍ هسته جوړه کړه؟ او څنګه یې انسانانو ته د کامیابۍ او سعادت داسې یوه روښانه لار ور وښوده چې د قیامت تر ورځې به پرې تلونکي له بې لارې کېدلو په امان وي. د دې هر څه مکمله نقشه د سیرت النبې صلی الله علیه وسلم په علم کې په واضح ډول موجوده ده.

زما یو لوی ارمان دا دی چې زموږ په تعلیمي نصابونو کې د سیرت النبي مضمون له دورة الحدیث څخه یو یا دوه کاله مخکې په تفصیلي او تحلیلي شکل ولوستلی شي. د دې کار فائده به داوي چې طالبان په راتلونکي کال کې چې کله د حدیثو دوره کوي، نو د احادیثو په درس کې چې څومره د اشخاصو، ځایونو او قبایلو نومونه او د حوادثو ذکر راځي طالبانو به دا هرڅه په تېر کال کې په تفصیل ویلي وي، او کله چې د احادیثو په درس کې دا هر څه ګوري نو تفاصیل به یې دوئ ته له پخوا ورمعلوم وي.

**د سیرت د علم مصادر:**

د سیرت النبي علم له معتبرو مصادرو را اخیستل شوی دی چې په لاندې ډول دي:

**اول مصدر- قرآن کریم:**

په قرآن کریم کې د رسول الله صلي الله علیه وسلم د شخصي ژوند لکه د هغه مبارک صلی الله علیه وسلم د یتیموالي، فقر او د هغه مبارک د نبوت د ژوند او اخلاقو معلومات ذکر شوي دي. همدارنګه په قرآن کریم کې د هغه مبارک هجرت، د هغه غزوات لکه احد، بدر، احزاب، حنین، د مکې فتحه او د پېریانو او انسانانو له وفدونو سره ملاقاتونه ذکر شوي دي. د دې تر څنګ په تفصیلي توګه له کفارو سره فکري مجادلې، د توحید د پر موضوع مجادلې، د کفارو اعتراضات، د کفارو سرغړونې، پر رسول الله صلی الله علیه وسلم انتقادات، د هغه په مقابل کې له جهل او عناد څخه کا را اخیستل او نور ډېر تفصیلات په قرآن کریم کې ذکر دي. څکه خو وایو چې د سیرت تر

ټولو باوري مصدر قرآن کریم دی، او قرآن کریم هغه مصدر دی چې هېڅ شک او شبهه ورکې نشته.

**دویم مصدر ـ د رسول الله صلی الله علیه وسلم احادیث:**

د رسول الله صلی الله علیه وسلم ټول احادیث چې د صحابه کرامو له خولې روایت شوي او امت ته په سندونو رارسېدلي دي دسیرة النبي د علم دویم مصدر دي. د احادیثو د سند د کره کولو لپاره په سندونو کې یې د یادو شوو راویانو د توثیق او تضعیف، مقبولیت او عدم مقبولیت د معلومولو لپاره د امت لویو علماوو دقیق معیارونه او د (علم التراجم والرجال) په نامه علم رامنځته کړی چې هېڅ ناسم معلومات ورڅخه نه تېرېږي.

د رجالو او تراجمو په علم کې د سند د ټولو راویانو که هغه صحابه کرام، تابعین یا تبع تابعین دي او که تر هغوئ وروسته خلک دي د ټولو په اړه تفصیلي معلومات ذکر شوي دي.

احادیث د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اعمالو، غزواتو، سیاست، تربیت، له اصحابو کرامو سره د هغه مبارک د تعامل، د تشریع او قضا او همدارنګه د هغه مبارک د حاکمیت بیان کوي، چې د احادیثو په ټولو کتابونو لکه صحاحو، سننو، مسانیدو او مصنفاتو کې راجمع شوي دي، او همدغه ټول هغه څه دي چې د سیرت النبي د علم منځپانګه تشکیلوي.

**درېیم مصدر ـ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زمانې ادبیات او اشعار:**

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې د ځینې صابه کرامو لکه عبدالله بن رواحه، حسان بن ثابت او نورو اصحابو کرامو اشعار چې د رسول صلی الله علیه و سلم د صفاتو، محاسنو او د هغه مبارک د کارونو یادونه ورکې

مدرسه او مبارزه

شوې ده، او یا د کفارو هغه اشعار چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو په اړه یې ویلي وو هم د نبوي سیرت د معلوماتو یو مصدر دی.

**څلورم مصدر ـ د صحابه کرامو، تابعینو او تبع تابعینو روایات او د مغازیو کتابونه:**

د اسلامي تاریخ په اولو پېړیو کې د هغه وخت علماوو د سیرت او مغازیو په نامه کتابونه ولیکل چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زمانې احوال او د هغه د اصحابو کیسې یې ورکې په مستند ډول راټولې کړې وې چې دغه ټول د سیرت بل مصدر ګڼل کیږي. په دغو کتابونو کې د ابن اسحاق مغازي، د ابن سعد طبقات، د واقدي فتوح الشام او د ابن هشام سیرت، د ابن کثیر تاریخ الأمم والملوک، د ابن الأثیر الکامل في التاریخ، او تاریخ طبري مهم ځای لري.

**پنځم مصدر ـ د قرآن کریم تفاسیر:**

د اسلامي تاریخ د اولو پېړیو د قرآن کریم مفسرینو چې د قرآن کریم آیتونه تفسیر کړي، نو د تفسیر او بیان لپاره یې د قرآن کریم د نزول د زمانې حالات په نظر کې نیولي او په دې اړه یې د اسباب نزول کتابونه ورته لیکلي دي. ځینې مفسرینو لکه امام طبري او امام ابن کثیر په خپلو تفسیرونو کې تفسیري روایات په سند باندې ذکر کړي دي. له همدې امله د تفسیر کتابونه هم د سیرت له مصادرو څخه یو مصدر ګڼل کیږي.

پورتني پنځه یاد شوي مصادر د سیرت النبي د علم پنځه معتبر او منل شوي مصادر دي. د سیرت علم داسې علم ندی چې مجهول الهویتو راویانو دې تر موږ رارسولی وي، بلکې دا ټول له موثقو مصادرو راخیستل شوی علم دی.

**د سیرةالنبي ځینې مهم کتابونه:**

د سیرت النبي په علم کې بېلابېل اختصاصي کتابونه هم لیکل شوي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم احوال یې په زماني ترتیب سره ذکر کړي یعنې له پیدایښت نیولې تر واده، نبوت، مکي ژوند، مدني ژوند، غزواتو، اخلاقو، شمائلو پورې یې هر څه ورکې په تفصیل لیکلي دي چې په دې لړ کې ځینې مشهور یې په لاندې ډول دي:

۱- (الشفاء بتعریف حقوق المصطفی) د قاضي عیاض.

۲ـ (الروض الأنف لشرح سیرة ابن هشام) د ابو القاسم سهیلي.

۳ـ (الفصول في اختصار سیرة الرسول) د امام ابن کثیر.

۴ـ (زاد المعاد في هدي خیر العباد) د امام ابن قیم کتاب چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سیرت او سنن دواړه ورکې دي.

۵ـ (الرحیق المختوم) د شیخ صفي الرحمن مبارکپوري کتاب دی چې پښتو او فارسي ژبو ته هم ژباړل شوی دی.

٦ـ (نور الیقین في سیرة سید المرسلین) د شیخ محمد خضري بک د تاریخ التشریع د کتاب د مؤلف چې پښتو ته هم ژباړل شوی دی.

۷ـ (نبي الرحمة) د مصطفی یعقوب.

۸ ـ (السیرة النبویة عرض أحداث و تحلیل وقائع) د دکتور علي محمد محمد الصلابي.

۹ـ (سیرة النبي) د علامة سید ابوالحسن علي الندوي چې مرحوم ډاکټر سعید الله قاضي په پېښوری لهجه او مفتي حبیب الله قاسمي صاحب په افغانۍ لهجه پښتو ته ژباړلی.

۱۰ـ (سیرت نبي) د علامه شبلي نعماني او علامه سید سلیمان ندوي چې د افغانستان د علماوو یوې ډلې په اوو جلدونو کې پښتو ته ژباړلی دی.

د سیرة النبي په علم کې په سلګونو نور ډېر مهم کتابونه هم شته چې یوه برخه یې افغاني ژبو ته ژباړل شوي دي.

په وروستیو کلونو کې د سیرت النبي په مجال کې د (فقه السیرة) په نامه کتابونه هم لیکل شوي، او دا هغه کتابونه دي چې له سیرت څخه استنباط شوي احکام او عبرتونه ورکې یاد شوي چې مشهور یې یو د مصري عالم شیخ محمد الغزالي کتاب (فقه السیرة) او بل په همدې نامه د شامي عالم محمد سعید رمضان البوطي کتاب دی.

د سیرت په علم کې یو بل مهم کتاب هم شته چې د جهادي صف منسوبین او د اسلامي نظام اقامه کوونکي او اداره کوونکي ورته شدید ضرورت لري او هغه د (المنهج الحرکي في السیرة النبویة) په نامه د شامي عالم الدکتور منیر محمد الغضبان کتاب دی چې د معاصرو اسلامي او جهادي حرکتونو لپاره یې له نبوي سیرته سیاسي او جهادي تګلارې، حربي تکتیکونه، د امت جوړونې، دولت جوړونې، اقتصاد جوړونې او نور مهم موضوعات استخراج کړي دي، او د دې ټولو لپاره یې له سیرت النبي څخه مثالونه راخیستي دي.

بل کتاب (السیرة النبویة کیف نبني دولة قویة) د محمد مسعد یاقوت کتاب دی چې د سیرت النبي په رڼا کې یې د یوه قوي اسلامي حکومت د جوړولو تګلاره وړاندې کړې ده.

د سیرت النبي په اړه مختلف نور کتابونه هم لیکل شوي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبارک ژوند بېلابېل اړخونه او ځانګړې برخې ورکې تر بحث لاندې نیول شوي دي چې خینې یې په لاندې ډول دي:

۱ـ (الرسول القائد) (رسول صلی الله علیه وسلم د قوماندان په حیث).

مدرسه او مبارزه

۲ـ (الرسول المعلم) (رسول صلی الله علیه وسلم د معلم په حیث).
۳ـ (الرسول أباً) (رسول صلی الله علیه وسلم د پلار په حیث).
او په زرکونو نور ډېر مهم د سیرت النبي کتابونه شته چې په عربي او نورو ژبو کې لیکل شوي دي.

**د راشده خلافت مرحله:**

تر نبوي مرحلې وروسته د راشدینو خلفاوو مرحله ده چې هغه هم د سیرت النبي د علم متممه برخه ګڼل کېږي، او دا ځکه چې د دې مرحلې خلک هماغه خلک وو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم روزلي وو، وظایف یې ورسپارلي وو، او د انسانیت د رهبرۍ طریقه یې ورښودلې وه.

د راشده خلفاوو رضي الله عنهم د زمانې تاریخ طالب ته دا ورښیي چې هغوئ څنګه وکولی شول په لنډه موده کې د فارس امپراتوري له منځه یوسي، له لویو سیمو د روم د امپراطورۍ تسلط ورټول کړي، او د جزیرة العرب او شاو خوا سیمو خلک د دغو امپراتوریو له مشرکانه، ظالمانه او جاهلي تسلط او تأثیراتو خلاص کړي.

تر راشده خلفاوو وروسته د هغوئ په فکر د روزل شوو غازیانو د تاریخ زده کړه طالب ته دا هم ورښیي چې هغوئ څنګه د اسلام داسې یو لوی خلافت قائم کړ چې سرحدونه یې په غرب کې د فرانسې او اتلانتیک سمندر تر حدودو او په شرق او جنوب شرق کې تر چین، هند، مالیزیا، اندونیزیا، فلپین او شمال کې تر روسیې، استراخان او ارمنستان پورې رسېدلي وو؟!

**د یوه خلافت پر ځای د بېلابېلو دولتونو مرحله:**

د راشده خلفاوو له مرحلي وروسته اموي مرحله ده. ورپسې عباسي مرحله او له هغې وروسته (عهد الدول) یا د بېلابېلو دولتونو زمانه شروع کېږي، ځکه

چې څومره چې مرکزي دولت کمزوری کېده په هماغه اندازه به د اسلامي دولت په بېلابېلو سیمو کې د قوت او نفوذ خاوندانو خپل دولتونه اعلانول. مثلاً په افغانستان کې طاهري دولت رامنځته شو، په اندلس کې بل اموي دولت جوړ شو، په افریقا کې نور محلي او لوی دولتونه منځته راغلل، او په خوارزم کې بل دولت قائم شو. دې ټولو ته د اسلامي تاریخ د مراحلو په نوملړ کې عهد الدول ویل کیږي، ځکه چې یو دولت په څو دولتونو ووېشل شو.

په اسلامي تاریخ کې تر عهد الدول وروسته د صلیبي جنگونو مرحله پیلیږي، او په هغې کې د صلیبي جگړو اسباب او عوامل ښودل کیږي چې څنگه صلیبیان وتوانېدل چې د اسلامي نړۍ پر ځینو سیمو یرغل وکړي او تقریبا یوه پیړۍ پرې حکومت وکړي. صلیبیانو هلته یو دولت او درې امارتونه جوړ کړل چې د (بیت المقدس دولت) او د (انطاکیې)، (رُها) او (طرابلس الشام) صلیبي امارتونه وو.

د پورته یادو شویو مرحلو تاریخ د مدرسې طالب ته دا ورښیي چې هغه کوم معیارونه وو چې د اسلام د لومړیو پېړیو مسلمانانو خپل ژوند ورباندې جوړ کړی و؟ او کومه روحیه وه چې د هغې په لرلو یې غرونه او صحراوې لاندې کړې؟ کوم اخلاق وو چې په هغو یې ملتونه او امتونه متأثر کړای شول؟ کوم فرهنگ و چې په هغه یې په ټولنو کې بدلون راوست؟ او کومه حوصله وه چې په هغې یې سفرونه، مشقتونه، لوږې، زخمونه وگالل، ترڅو اسلام د نړۍ گوټ، گوټ ته ورسوي؟!

تاریخ د مدرسې طالب ته د انسانانو له بېلابېلو طبقاتو سره د تعامل مناسبه طریقه ورښیي، ځکه چې په تاریخ کې د حاکم او محکوم او د ټولنې د افرادو تر منځ د مثبت او منفي تعامل په زرگونو مثالونه او پر هغو د مرتبو شوو

نتائجو یادوونه شوې ده، او د ټولنو او افرادو د کامیابۍ او ناکامۍ اسباب او عوامل ښودل شوي دي.

د اسلامي تاریخ د اولو مرحلو زده کړه طالب ته د اسلام د خپرېدو او د اسلامي دولت د پراخېدو اسباب او عوامل ورښيي، او د وروستیو مرحلو زده کړه يې په دې پوهوي چې کله چې مسلمانان په اموي او عباسي دورونو کې د حاکمیت په ځینې مجالونو کې یوه اندازه له خپلو معیارونو لیرې کېږي او د سیاست، حاکمیت، جهاد او له ولس سره د اجتماعي تعامل په ساحو کې یې له خپل دین سره یې تعامل کمزوری کېږي، نو بیا یې مملکتونه ټوټه کېږي، خپلې ځمکې له لاسه ورکوي، پادشاهۍ یې ورانیږي، صلیبیان بېرته زړورېږي، د اسلامي دولت پر ځینې برخو یرغل کوي، اسلامي ځمکې نیسي او پر هغو خپل امارتونه جوړوي، دښمن تر دې حده برلاسی کېږي چې بېرته انطاکیه، فلسطین او بیت المقدس نیسي او سلګونه زره مسلمانان د بېوسۍ په حالت کې وژني.

د مدیترانې د جنوبي غاړې د اسلامي سیمو په خلاف صلیبي جنګونو دوه سوه کاله دوام وکړ، فلسطین د مسلمانانو له لاسه ووت، په یو اعتبار که صلیبې جګړې د هماغه وخت خبره وګڼل شي نو دوه سوه کاله یې نیولي وو. خو په بل اعتبار تر ننه پورې روانې دي، ځکه چې د امریکا جمهور رئیس جورج ډبلیو بوش د افغانستان د اشغالولو جګړه هم د صلیبي جګړې په نامه اعلان کړې وه چې زموږ په سلګونو زره خلک ورکې ووژل شول، کلي او کورونه مو ورکې وران شول، په سلګونو زره ځوان مو زندانونو ته واچول شول، او پوره شل کاله یې زموږ هېواد تر خپل بې رحمه تسلط لاندې وساته، او دلته زموږ د دین، ارزښتونو او آزادۍ غوښتنې د له منځه وړلو په لاره کې خپل ټول مادي او معنوي وسائل وکارول.

له صلیبي جګړو وروسته پر اسلامي نړۍ د چنګیز صاعقه رانازله شوه چې دردوونکي تفصیلات یې د تاریخ په کتابونو کې ثبت دي. دغې لویې صاعقې پر اسلامي امت او اسلامي نړۍ ژور منفني تأثیرات پرېښودل.

**د استعمار مرحله:**

د اسلامي هېوادونو په تاریخ کې یوه بله خطرناکه مرحله چې فکري، سیاسي، اجتماعي او عسکري تأثیرات یې د چنګېز تر صاعقې هم خطرناک وو او چاپ یې پر اسلامي نړۍ دومره ژور پاتې دی چې تراوسه لا نه دی لرې شوی او پیړۍ به نورې وغواړي چې د هغه تأثیرات لرې شي هغه د غربي، روسي او چینایي استعمار مرحله ده.

په استعماري مرحله کې اروپایانو، روسانو او چینایانو وکولی شول په آسیا، افریقا او شرقي اروپا کې اسلامي هېوادونه ونیسي، د خپلې خوښې حکومتونه ورکې جوړ کړي، خپل قوانین ورکې عملي کړي، په خپلو تعلیمي نصابونو د مسلمانو هېوادونو د ولسونو ځوانان داسې وروزي چې باید د دوئ پر لاره روان شي، د دوئ لپاره د خپلو ولسونو او دین په خلاف وجنګېږي. د مسلمانانو د تمدن، فرهنګ، اجتماعي او معنوي ارزښتونو د له منځه وړلو لپاره کار وکړي، د اسلامي هېوادونو سیاسي، اقتصادي، عسکري او فرهنګي چارې په اشغالګرو هېوادونو او نظامونو پورې وتړي، او د ټولې اسلامي نړۍ ولسونه او هېوادونه پداسې وضعیت کې وساتي چې د نړۍ د لویو کفري هېوانو له خوښې پرته هېڅ مهم اقدام ونه کولی شي.

په استعماري مرحله کې انګرېزانو افغانستان، هند، عراق، فلسطین، اردن، مصر سوډان، او د عربي جزیرې ډېرې سیمې، یمن، صومال او ځینې نورې سیمې ونیولې.

فرانسویانو سوریه، لبنان، مصر، مراکش، تونس، الجزائر، جیبوتي او د غربي افریقا ساحلي هېوادونه ونیول.

ایټالویانو لیبیا، صومال، ارتریا او د شرقي افریقا ځینې نورې سیمې ونیولې.

روسانو تاجکستان، ازبکستان، قرغزستان، قزاقستان، ترکمنستان، اذربایجان، انګوشیا، چیچینیا، داغستان، بشکیرستان، تاتارستان، کریمیا (د قرم جزیره) ونیول.

پرتګالي استعمار په خپل وخت کې فلپین، اندونیزیا، مالیزیا او د آرام سمندر شاوخوا سیمې ونیولې.

چینایانو د مسلمانانو لویه خاوره چې شرقي ترکستان ورته ویل کېږي او په هغې کې کاشغر، ختن، قشقر او نور لوی تاریخي ښارونه وو ونیول او د چین له نورو سیمو یې کافر چینایان ورته راوستل ترڅو چینایان په اکثریت او اویغور مسلمانان اقلیت وګرځوي، چینایانو د دغې اسلامي سیمې نوم هم له شرقي ترکستان څخه (سنکیانګ) ته واړاوه. هلته تر اوسه مسجدونه شته، خو مسلمانان آزاد عبادت نشي کولی. په روژو نیولو، حجاب، اذان، اولاد زېږونې بندیزونه لګېدلي. هلته همدا اوس هم په ملیونونو مسلمانان له اسلامه د اړولو په مقصد د کلونو لپاره په اجباري کمپونو کې بندیانېږي او ښځې یې په جبري ډول له خپلو خاوندانو جلا کېږي او له نورو نامحرمو نارینه وو سره اوسول کېږي.

د شرقي ترکستان د پېژندلو لپاره تر ټولو غوره کتاب د (لیالي ترکستان) په نامه د یوه عرب ادیب مرحوم دکتور نجیب الکیلاني لیکلی کتاب دی چې په فارسي کې د (شب های ترکستان) او په پښتو کې (د ترکستان شپې) په نومونو ترجمه شوی دی.

دا چې چینایانو شرقي ترکستان څنګه تر خپل واک لاندې راوست؟ د اویغور د مسلمانانو نجونې یې څنګه چینایانو ته واده کړې؟ د اسلام حاکمیت یې هلته څنګه ړنګ کړ؟ او تر اوسه پورې هلته څه ډول حالات روان دي؟ په دې ټولو پوهېدل زموږ د علماوو او د مدارسو د طلابو مسؤولیت دی.

**د مستعمرینو په لاس تر استعمار د وروسته جوړو شوو دولتونو او نظامونو مرحله:**

د اسلام په تاریخ کې تر ټولو خطرناکه مرحله مابعد الاستعمار دولتونه، نظامونه او د هغو فلسفې او افکار دي.

په اسلامي نړۍ کې د غربي استعمار له تاریخ او جنایاتو خبرېدل او د ما بعد الاستعمار دولتونو او نظامونو پېژندل علماوو او د مدارسو طالبانو ته څکه ضروري دي چې همدغه د مستعمرینو په لاس جوړ شوي دولتونه او د غربیانو په فکر روزل شوي چارواکي یې دي چې په ټوله اسلامي نړۍ کې یې د اسلامي شریعت د تطبیق مخه نیولې، ولسونه یې له رېښتینې آزادۍ محروم کړي، د مسلمانانو د ژوند په تقریبا ټولو چارو کې یې غربي ډوله قوانین عملي کړي، د اسلام له مخلصو علماوو، دعوتګرانو او مجاهدینو چې د اسلامي نظام د راوستلو لپاره فعالیت کوي زندانونه ډک کړي، او په اسلامي نړۍ کې یې د اسلامي نظام د راتلو د مخنیوي لپاره ټول مادي او معنوي وسائل په کار اچولي دي.

د مدرسې طالب چې د سبا ورځې استاذ، امام، خطیب، مجاهد، قائد سیاست مدار دی باید په دې پوه وي چې غربي او روسي مستعمرینو د اسلامي نړۍ کومې سیمې اشغال کړې وې؟ په څه ډول یې اشغال کړې وې؟ د مسلمانانو د دین او ټولنې په خلاف یې کوم جنایات تر سره کړي وو؟ څومره خلک یې

وژلي وو؟ کوم افکار او فلسفې يې په اسلامي نړۍ کې خپرې کړې وې؟ کوم ډول خلک يې په اسلامي نړۍ کې د خپلو ځايناستو په حيث حاکمان کړل؟ او دغو حاکمانو په څه ډول تر اوسه په خپلو هېوادونو کې د اسلام د حاکمېدلو مخه نيولې ده؟ په څه ډول تر اوسه له خپلو اشغالګرو بادارانو سره خپله وفاداري پالي؟

د مدرسې طالب په دې هم بايد پوه شي په څه ډول له دغو شريرو خلکو خپلې سيمې پاکې او له مضرو افکارو يې خپل نسلونه وساتي؟ دا ټول هغه څه دي چې د مدرسې طالب يې بايد په اړه پوهه ولري، ترڅو خپل دښمنان وپېژني او په آګاهانه ډول يې په خلاف فکري او عسکري مقابله وکړي.

**مابعد الاستعمار مرحله د علامه سيد ابوالحسن علي ندوي رحمه الله له نظره:**

علامه سيد ابوالحسن علي ندوي رحمه الله تعالی د دغې مرحلې د نظامونو، فکرونو، فلسفو، مفکرينو او له مستعمرينو د تأثر اخيستونکو نسلونو وضعيت په خپله مشهوره مقاله(ردّة ولا أبابکر لها) يعنې(بيا ارتداد دی خو ابو بکر ورته نشته) ـ چې ما عبدالهادي مجاهد پښتو ته ژباړلې او په خپل کتاب فکري پوهنه کې مې خپره کړې ـ په دقيق شکل په لاندې ډول تصويروي:

«اروپايانو شرق ته داسې نظريات له ځانه سره راوړل چې د دين له اساساتو او هغه رب څخه پر انکار ولاړ دي چې د ټول عالم چلوونکی او واکمن دی. دغه نظريات د هغه عليم ذات له وجود څخه په انکار ولاړ دي چې د ټول عالم چارې يې په واك دي، (ألا له الخلق والأمر) پيدا کول او حکم چلول يوازې د هغه حق دی.

دغه فلسفې او نظريات له غيبياتو، وحې او نبوتونو څخه د انکار پربنسټ ولاړې دي او له آسماني شريعتونو، روحاني او اخلاقي ارزښتونو څخه انکار کوي.

د اروپايانو د دغو فلسفو ځينې يې د بيالوژۍ، نشأت او ارتقا له نظرياتو څخه بحث کوي [لکه د داروينزم فلسفه]. ځينې يې په اخلاقو پورې اړه لري [لکه د کانت او سارتر فلسفه]، ځينې يې د اروا پوهنې په محور څرخي [لکه د فرويد فلسفه] د ځينې نورو موضوع يې بيا اقتصاد او سياست دې [لکه د ليبراليزم فلسفه].

دغه فلسفې که څه هم چې په شکلونو، هدفونو او بنسټونو کې يو له بل سره توپير لري خو ټولې يې په دا يوه نظريه کې سره شريکې دي چې انسان او دنيا ته په خالص مادي نظر ګوري او د نړۍ او انسان د چارو تحليل د مادي علتونو پر اساس کوي.

دغو فلسفو او نظرياتو شرقي ټولنې لاندې کړې، په رګونو کې يې وچليدلې، او په تاريخ کې تر اسلام وروسته د يو لوی دين په حيث راښکاره شوې. په اسلامي ټولنه کې يې په پراخه پيمانه او په ژور ډول د خلکو زړونه او عقلونه تر خپل تسلط لاندې راوستل، د اسلامي نړۍ تر ټولو ذکي او باسواده خلکو ورته مخه وکړه او هغه يې داسې ومنلې لکه مسلمان چې اسلام او مسيحی چې مسيحيت په ټوله معنی مني.

دغه خلک د خپلو دغو نظرياتو په لاره کې قرباني ورکوي، شعارونو ته يې سپڅلتيا او لارښوونکو ته يې عظمت ورښې. په خپلو تأليفاتو او ادبياتو کې ورته خلک رابلي د ټولو هغو دينونو، طريقو او نظرياتو سپکاوی کوي چې د دوئ د نظرياتو مخالف دي. او ټول هغه خلک خپل ورونه ګڼې چې له

دوئ سره د دوئ نظریات مني. دغه خلک ټول سره یوه کورنۍ، یو امت او یو بلاک دي.

اوس دا خبره چې د دوئ دغه دین څه شی دی؟ که څه هم چې منونکي یې هغه ته له دین ویلو څخه انکار کوي.

د دوئ دین د ټول عالم له علیم، خبیر او هغه خالق څخه انکار دی چې هر څه یې اندازه کړي او بیا یې لاره ورښوولې ده. د دوئ دین له بیا ژوندي کېدلو، حشر، د جنت، دوزخ، ثواب او عذاب، پیغمبرۍ او رسالتونو، اسماني شریعتونو، شرعي حدودو او له دې څخه انکار دی چې الله تعالی پر ټولو خلکو د ستر پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم اطاعت فرض کړی دی، او هدایت او سعادت یې یوازې د هغه په پیروۍ کې منحصر کړی دی.

د دوئ دین له دې څخه انکار دی چې اسلام هغه وروستی او تلپاتې رسالت دی چې د ټولو دنیوي او اخروي سعادتونو تضمین او کفالت کوي او د ژوند لپاره تر ټولو ښه او غوره نظام دی. او دا هغه دین دی چې الله جلّ جلاله له هغه پرته بل دین نه مني او نه هم نړۍ له هغه پرته په بل دین کې سعادت موندلی شي. د دې خلکو دین له دې څخه هم انکار دی چې دنیا د انسان لپاره پیدا شوې ده او انسان د الله لپاره پیدا شوی دی.

دا د هغې روڼ اندې طبقې دین دی چې په اسلامي نړۍ کې یې د چارو واګې په لاس کې دي. که څه هم چې دغه طبقه خلک په دغه دین باندې په ایمان او له هغه څخه په دفاع کې ټول یو ډول نه دي، ځینې یې یقیناً په الله جلّ جلاله هم ایمان لري او اسلام هم د دین په حیث مني، خو د دغې طبقې د غالب اکثریت او د ډېرو افرادو او مشرانو دین مادیت او د غرب هغه فلسفه ده چې پر الحاد ولاړه ده.

د دغه ډول نظریاتو منل پرته له شکه ارتداد دی، چې د اسلامي نړۍ له یوه سره تر بل سره خپور شوی او ډېرې د لوړې سطحې کورنۍ، پوهنتونونه، فاکولتې، مکتبونه او مؤسسې یې لاندې کړي دي.

داسې یوه کورنۍ نه ده پاتې چې په هغې کې د دغه دین کوم منونکی او یا ورسره محبت لرونکی او یا د هغه درناوی کوونکی نه وي، پرته له هغو چې الله تعالی ورڅخه ساتلې دي.

که دغه ډله خلک په خبرو راولې او یا ورسره د بحث او مناقشې لپاره یوازې شې، نو وبه ګورې چې یا به پر الله تعالی ایمان نه لري، یا به پر آخرت ایمان نه لري، یا به پیغمبر نه مني، یا به قرآن کریم ته د یو معجز تلپاتې او د ژوندانه د قانون د کتاب په حیث نه ګوري. په دوئ کې تر ټولو غوره یې هغه دي چې وایې: موږ نه په دې مسائلو کې فکر کوو او نه هغو ته په څه اهمیت قایل یو.

دغه نظریات پرته له کوم شکه یو ارتداد دی، خو د مسلمانانو پام یې ځانته نه دی وراړولی او نه یې د هغوئ ذهن مصروف کړی دی. او دا ځکه چې دغه مرتدین تر خپل ارتداد وروسته نه کومې کلیسا او د بل دین معبد ته ورځي، او نه د خپل ارتداد له یوه دین څخه بل دین ته د ورتللو اعلان کوي، او نه یې هم کورنۍ دغه ارتداد ته متوجه کېږي، نه ورسره مقاطعه کوي او نه یې هم له ځانه شړي، بلکې هغوئ په خپلو کورنیو کې ژوند کوي او د کورنۍ ټول حقوق ورته حاصل دي. او کله خو داسې هم پېښېږي چې پر کورنۍ واک هم د همدغو مرتدانو چلېږي. همدارنګه د دوئ ارتداد ته نه ټولنه متوجه کېږي، نه حساب ورسره کوي، نه یې ملامتوي او نه یې له ځانه بېلوي. بلکې په دائمي ډول په ټولنه کې اوسېږي، له حقوقو یې استفاده کوي، او کله خو تسلط هم ورباندې د همدوئ وي.

دغه ډول ارتداد د اسلامي نړۍ تر ټولو لويه قضيه او تر ټولو لويه ستونزه ده، دا يو ارتداد دی چې خورېږي او ټولنه لاندې کوي، خو د چا پام نه وراوړي. علماء او د دين پوهان يې هم په هکله د خطر چيغې نه وهي. مخکې به خلکو ويل: ((قضيه ولا أبا حسن لها خو أبو الحسن علي کرم الله وجهه ورته نشته))

خو زه اوس وايم چې: قضيه پېښه ده خو ابوبکر ورته نشته.

دا يوه داسې قضيه ده چې نه جنګ غواړي او نه هم د خلکو د نظرياتو راپارول. نه کوم انقلابي عمل غواړي او نه يې هم تاوتريخوالي ته ضرورت شته. بلکې د زور استعمال او تاوتريخوالی نور هم ورته تاوان پېښوي او نوره يې هم راپاروي.

په اسلام کې نه د مسيحيت د تفتيش محکمې شته او نه هم د دين له امله د چا ځپل. بلکې دا داسې يوه قضيه ده چې عزم، حکمت، صبر، د مشکلاتو زغملو او څېړنې ته ضرورت لري.

دغه نوی دين ولې په اسلامي نړۍ کې خپور شو؟

دغه نوي دين څنګه وکولی شول چې مسلمانان په خپل کور کې مغلوب کړي؟

او څنګه يې وکولی شول چې د خلکو په عقلونو او زړونو دغه ډول ټينګ تسلط قايم کړي؟

د دغو ټولو پوښتنو ځواب دقيق او ژور فکر او پراخې څېړنې ته ضرورت لري.

اسلامي نړۍ په نولسمه مسيحي پېړۍ کې په دعوت، عقيده، عقل او علم کې له کمزورۍ سره مخ شوه او ستوماني او زړښت ورکې ښکاره شو، پداسې حال کې چې اسلام زړښت او کمزوري نه مني. اسلام د لمر په څېر نوی، د لمر په څېر پخوانی او د لمر په څېر ځوان دی. دا خو مسلمانان دي چې

ستړي او کمزورۍ شوي ول، نه يې علمي انکشاف وکړ، او نه يې په فکر او توليد کې څه ابتکار وښود. نه يې د عقل پياوړتيا وښوده، او نه يې په دعوت کې حماس، او نه يې هم په ښکلي او مؤثر ډول اسلام، د اسلام ځانګړتياوې او د هغه پيغام په پراخه پيمانه خلکو ته وړاندې کړای شو. نه يې د امت باسواده او روڼ اندي ځوانان خپل کړای شول، او نه يې د هغوئ عقل او فکر متأثره کړای شو. دا پداسې حال کې چې همدغه ځوانان د سبا امت وو، او همدوئ ته د اميد سترګې وراووښتې. هغوئ ته چا په دې د قناعت ورکولو هڅه ونه کړه چې اسلام د انسانيت دين او تلپاتې رسالت دی. او قرآن کريم هغه معجز او تلپاتې کتاب دی چې هېڅکله يې نه نوي انکشافات خلاصېږي، نه يې د علومو ذخيرې پای لري، او نه يې ځواني زړېږي.

هغوئ ته چا دا قناعت ورنه کړ چې رسول الله صلی الله عليه وسلم په خپله يوه لويه معجزه، د هر نسل پيغمبر او د هرې زمانې امام دی، او اسلامي شريعت تر ټولو قوانينو غوره او په هره زمانه کې د ژوند د ټولو چارو د ښه حل او تنظيم صلاحيت لري. او هم دا چې ايمان، عقيده، اخلاق او معنوي ارزښتونه د يو غوره تمدن او عزتمنې ټولنې بنسټونه تشکيلوي.

ځوانان په دې هم چا پوه نه کړل چې له نوي تمدن سره له وسايلو او آلاتو پرته بل څه نشته. او نه چا دا خبره وروښووله چې د پيغمبرانو لارښوونې د عقيدې، اخلاقو او لوړو اهدافو مصدر دي. او د يو صالح او متوازن تمدن تمه تر هغه نشي کېدای چې ترڅو وسايل او اهداف سره يو ځای نه کړای شي.

په دغه ډول حالت کې اروپا پر اسلامي نړۍ د خپلو فلسفو يرغل وکړ. د هغو فلسفو چې د هغو په تدوين او تهذيب کې د اروپا لويو فيلسوفانو او د زمانې نابغه شخصيتونو ځانونه ستومانه کړي وو، خپلو نظرياتو ته يې د داسې

علمیت او فلسفي رنګ ورکړی و چې په لیدلو یې سړي ته داسې ښکارېدل لکه چې همدغه د انساني فکر، عقل، څېړنو او تجربو وروستي نتائج او د بشري تأملاتو نچوړ وي.

په دغو فلسفو کې ځینې داسې ټکي وو چې د تجربې او مشاهدې پر بنسټ ولاړ وو او تجربې یې هم تصدیق کاوه. او ځینې ورکې داسې ټکي هم وو چې یوازې پر اټکلونو، تخیل او وهم ولاړ وو، او حق او باطل، علم او جهل، واقعي حقیقتونه او شاعرانه تخیلات ټول پکې وو. شعر یې یوازې په نظم او قافیه کې بند کړی نه و، بلکې هغه یې په فلسفې او علم کې هم ځای کړی ؤ.

دغه فلسفې له اروپایي مستعمرینو سره راغلې، دلته هم د انسانانو عقلونه او زړونه ورته تابع شول، او په شرق کې ورته د باسواده او روڼ اندې طبقې خلک ورتسلیم شول. ځینې یې رښتیا پرې پوهېدل، خو هغوئ ډېر لږ خلک وو. او ډېر یې داسې وو چې له سره پرې پوهېدل نه، خو ټولو پرې ایمان درلود، او د هغو له سحر څخه متأثر شوي وو چې ظرافت او ذکاوت به یې د هغو په منلو کې ګاڼه، او دغه نظریات به یې د آزادو روښان فکرو شعارونه ګڼل.

دغه ډول الحاد او ارتداد په اسلامي ټولنه کې پداسې حال کې خپور شو چې پلرونه، استاذان، مربیان او غیرتمن خلک ورته هېڅ متوجه نه شول. او دا ځکه چې دغه مرتدین نه کومې کلیسا ته تلل، نه کوم معبد ته داخلیدل، نه یې کوم بت ته سجده کوله، او نه یې د کوم طاغوت په نامه قرباني او حلاله کوله، چې همدغه به په پخوا زمانه کې د کفر، ارتداد او زندیقیت دلائل او نښې ګڼل کېدې.

پخوا به چې څوک له اسلامه وتل، هغوئ به له اسلامي ټولنې هم وتل، او له هغې ټولنې سره به یو ځای کېدل چې دوئ به یې دین منلی و. مرتدینو به

خپله عقیده او خپل اوښتون په صراحت او زغرده اعلاناوه، او د خپلې نوې عقیدې په لاره کې به د هر ډول تاوان زغملو ته تیار وو. په دې به یې اصرار نه کاوو چې په پخوانۍ ټولنه کې پاتې شي، ترڅو د هغې له حقوقو او منافعو هم برخمن شي.

خو نن چې څوک له اسلام سره خپلې اړیکې پرېکوي، هغوئ نه غواړي له اسلامي ټولنې سره هم خپلې اړیکې پرې کړي، سره له دې چې اسلامي ټولنه یواځنۍ هغه بشري ټولنه ده چې د عقیدې پر بنسټ ولاړه ده او له عقیدې پرته دغه ټولنه منځته نه راځي. خو دغه خلک بیا هم اصرار کوي چې باید په اسلامي ټولنه کې پاتې شي، د ټولنې باور هم تر لاسه کړي، او له هغو حقوقو هم برخمن شي چې اسلام یې د اسلامي ټولنې افرادو ته ورکوي. دغه ډول وضعیت یو شاذ وضعیت دی چې اسلامي تاریخ یې مثال نه لري.

ځینې نور جاهلي تصورات او افکار هم شته چې اسلام یې په خلاف ښکاره جګړه اعلان کړې ده، او رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل ټول توان د هغو په خلاف جنګېدلی دی. لکه جاهلي تعصب او قوم پرستي چې د وینې، وطن او توکم د یو والي پربنسټ ولاړ دی. اوس دغه ډول عصبیت ستایلی کېږي، مقدس او سپېڅلی ګڼل کېږي، دفاع ورڅخه کېږي، تر بیرغ لاندې یې جګړې کېږي او انساني ټولنه د هغه پر اساس ویشل کېږي، تردې چې د خلکو دین او عقیده وګرځي، او د خلکو په عقلونو، زړونو، ژوند او آدابو تسلط پیدا کړي.

دغه توکم پالنه (قوم پرستي) یقیناً په خپل ژوروالي، پوخوالي، قوت او هراړخیزوالي کې له دینونو سره ډغره وهي او انسانان خپلې بنده ګۍ ته وربولي، د انبیاؤ علیهم السلام کوښښونه له منځه وړي، او (دین) چې پر ټول ژوند د حاکمیت لپاره راغلی یوازې په یو څو عباداتو او حرکاتو کې خلاصه

کوي، انساني نړۍ په خپلو منځو کې په جنګېدونکو بلاکونو ویشي، او هغه امت په ډېرو امتونو ویشي چې الله تعالی یې په هکله فرمایي:

﴿وَإِنَّ هَذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَأَنَا رَبُّكُمْ فَاتَّقُونِ﴾ [المؤمنون: ٥٢]

ترجمه: (بې شکه دغه امت ستاسې يو امت دی، او زه ستاسې رب يم له ما څخه ووېرېږئ).

رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل ټول قوت د دغه جاهلیت په خلاف جنګېدلی او په دې لاره کې یې هېڅ نرمي نده ښودلې. خلک یې ترې وېرولي او د هغه ټولې لارې یې بندې کړې دي.

د اسلام نړیوال دین او واحد امت له دغو جاهلیتونو سره یو ځای نشي پاتې کېدی. د اسلامي شریعت منابع د هغو له انکار او غندلو څخه ډک دي، او په دې هکله د اسلام بې شمېره دلائل موجود دي.

څوک چې د اسلام په طبیعت پوهېږي او یا د دینونو په طبیعت پوهېږي، هغوئ په دې پوهېږي چې دینونه دغه ډول قوم پرستۍ نه مني. که څوک تاریخ ته له سیاسي او مذهبي تمایلاتو په یو بې طرفه نظر وګوري نو و به ویني چې دغه قومپرستۍ د انسانانو ترمنځ د ورانۍ، تخریب، فساد او تفرقې تر ټولو زورور عامل دی.

معقوله توقع له هغو انسانانو څخه چې غواړي نړیوال سره یو کړي او ټول انسانیت د یوه بیرغ تر سیوري لاندې په یوه عقیده راټول کړي او له هغوئ څخه یوه داسې نوې ټولنه جوړه کړي چې د دین او پر رب العالمین د ایمان پر اساس ولاړه وي او د انساني ټولنې د کورنۍ د اعضاؤ ترمنځ سوله او امنیت، مینه او پیوستون خپور کړي او ټول د یوه داسې جسد په څېر کړي چې که یوه غړي ته یې څه تکلیف ور رسېږي نو ټول غړي به ورسره په بې خوبۍ او تبه ناکراره وي. له دغو انسانانو څخه خو معقول او د انتظار وړ کار

دا دی چې په ښکاره او پوره وضاحت د عصبيت او قوم پرستيو په خلاف وجنګېږي او راتلونکو انسانانو ته داسې تاريخ پرېږدي چې حق ته د هغوئ د لارښوونې سبب شي.

خو اسلامي نړۍ وروسته له هغه چې اروپايانو په سياسي او فرهنګي ډول لاندې کړه، دغو عصبيتونو ته چې دوينې، توکم او وطن د اختلاف پر بنسټ ولاړ دي ورتسليم شوه، او هغه يې د يوې داسې علمي قضيې، منل شوي حقيقت او واقعيت په توګه ومنل چې هېڅ خلاصون ورڅخه نشته.

د اسلامي ټولنې ملتونه د هغو عصبيتونو چې اسلام له منځه وړي وو په بيارا ژوندي کولو پسې شول، د هغو بوللي يې وبوللې، د هغو شعائر يې را ژوندي کړل، په هغو او د هغو پر هغې زمانې يې وویاړل چې تر اسلام دمخه وه. او دا هغه کار دی چې اسلام ورته په ټينکار سره (جاهليت) وايي، او د اسلام په قاموس کې د دغې عقيدې لپاره تر (جاهليت) بل بد او وېروونکی نوم نشته.

له دغه جاهليت څخه وتل قرآن کريم پر مسلمانانو د يوه احسان په توګه يادوي، او مسلمانان دېته هڅوي چې پر دغه لوی احسان او نعمت د الله تعالی شکر ادا کړي:

﴿وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنْتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنْتُمْ عَلَى شَفَا حُفْرَةٍ مِنَ النَّارِ فَأَنْقَذَكُمْ مِنْهَا﴾ [آل عمران: ۱۰۳]

ترجمه: (او هغه پيرزوونې در يادې کړئ کله چې تاسې يو د بل دښمنان واست، نو ستاسې د زړونو په منځ کې يې مينه راوستله او د هغه په دغه نعمت سره ورونه شوئ او تاسې د اور د کندې پر څنډه واست، نو له اور څخه يې خلاص کړئ).

﴿بَلِ اللهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ أَنْ هَدَاكُمْ لِلْإِيمَانِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ﴾ [الحجرات: ۱۷]

ترجمه: (بلکې پر تاسې د الله احسان دی چې د ایمان په لور یې ښوونه درته کړې، که تاسې ریښتني مؤمنان یاست).

خو اوس د اسلامي نړۍ ډېرې سیمې او ولسونه له غربي فلسفو او افکارو څخه د تأثر په نتیجه کې داسې شول چې له اسلام څخه د مخکې زمانې تمدن او عنعنات ستایي، او هغو ته د بېرته ورگرځېدلو لپاره لېوالتیا ښیي، هڅه کوي چې د هغې زمانې دیني شعائر بېرته راژوندي کړي، او مشهور اشخاص، د جاهلیت د وخت اتلان، بادشاهان او د هغوئ کار نامې تلپاتې وښيئ، لکه هماغه یې چې د تاریخ زرینه زمانه وي، او یا هغه کوم داسې لوی نعمت وي چې اسلام دوئ ورڅخه محروم کړي دي.

د جاهلیت زمانې ته په دغه ورگرځېدلو د اسلام له لوی نعمت څخه انکار او د هغه د احسانونو ناشکري او د اسلام د نعمت او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د فضل د قدر نه پېژندل دي. په دې کار سره د خلکو په ذهن کې د کفر، بت پرستۍ او د جاهلیت د خرافاتو، گمراهیو، بې عقلیو او خندوونکو او ژړوونکو هغو عقایدو او نظریاتو چې د هېڅ هوښیار مسلمان عقل یې نه مني خطر کم ښودل دي. دا هغه کار دی چې په کولو یې د دې ویره شته چې مسلمان دې له اسلام او ایمان څخه محروم شي او د الله تعالی له سخت عذاب سره دې مخ شي. الله فرمایي:

﴿وَلَا تَرْكَنُوا إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ مِنْ دُونِ اللهِ مِنْ أَوْلِيَاءَ ثُمَّ لَا تُنْصَرُونَ﴾ [هود: ١١٣]

ترجمه: (میلان مه کوئ هغو خلکو ته چې ظلم یې کړی چې اور به مو وسوځوي، او نه به وي ستاسو لپاره له الله پرته نور دوستان، او نه به له تاسو سره مرسته کېږي).

له دغو نظرياتو سره نن په اسلامي نړۍ کې د مادياتو د حاصلولو لپاره شديده لېوالتيا، ماديات تر هر ډول اصولو او عقيدې غوره ګڼل، دنيا ته پر آخرت ترجيح ورکول، له معنويت څخه پرېکون او په هوی او هوس پسې تلل هم ملګري شوي دي چې نتيجه يې بې بندوباري، د الله تعالی حرامو ته د حرامو په سترګه په نه کتلو، په لوړو طبقې کې دشرابو او فسق د خپرېدلو په شکل کې راووتله. تردې چې دغه طبقه خلک په هر اسلامي هېواد کې په همدغه يو شکل او صورت کې رامنځته شول، ډېر لږ يې داسې دي چې الله تعالی له دغه ډول وضعيت څخه ساتلي دي. دغه د لوړې طبقې خلک ځان د اسلام له هر ډول قيودو او فرايضو په مکمل ډول داسې آزاد بولي لکه چې له اسلام او شريعت سره يې چې هېڅ رابطه نه وي، او يا داسې چې لکه اسلام چې کوم منسوخ شريعت او خيالي افسانه وي.

دغه په اجمالي ډول د اسلامي نړۍ د ديني او اعتقادي وضعيت تصوير دی.

دا يوه داسې د جاهليت څپه ده چې اسلامي نړۍ يې له يوه سره تر بل سره لاندې کړې ده. او دا د اسلامي نړۍ په اوږده تاريخ کې تر ټولو لويه څپه ده چې ورسره مخ ده.

دغه څپه په خپل قوت، هر اړخيزوالي او تأثير کې له ټولو هغو د اسلام مخالفو څپو څخه زياته ده چې اسلامي تاريخ تر اوسه ليدلې دي. خو له نورو څپو څخه يې فرق دا دی چې دغې څپې ته د ډېرو لږو خلکو پام ورګرځېدلی دی، او هغه خلک چې د دې په خلاف جنګېږي په دې لاره کې خپل ټول قوت او استعدادونه کاروي ډېر لږ دي.

پخوا هم د يونان له فلسفې د متأثر کېدو په نتيجه کې الحاد او زنديقيت منځته راغلی و، خو په هغه وخت کې د هغه د مقابلې لپاره داسې خلک راميدان ته

شوي وو چې په خپل لوی عقل، بې ساري ذکاوت، قوي علم، پراخې څېړنې او قوي شخصيت د هغه پر خلاف وجنګيدل.

باطنيان او ملحدان هم پيدا شوي وو، خو د هغو په خلاف هم داسې خلک را ميدان ته شول چې په علم، حکمت او دلائلو د هغو په خلاف وجنګيدل او اسلام خپل عقلي نفوذ او علمي لوړه مرتبه وساتله او هره توپاني څپه يې بيرته په شا کړه، هيڅ توپان او سيلاب د اسلام هسک غر لاندې نکړای شو.

دغه مسأله کومه د اخلاقي تنزل، يا په عباداتو کې د کمزورۍ او يا د شعائرو د پرېښودلو او د پرديو د تقليد مسأله نه ده، که څه هم چې دغه مسائل هم توجه او په خلاف يې مبارزه غواړي. نن ورځ د اسلامي نړۍ مسأله تردې مسائلو ډېره ډېره لويه او پلنه ده. دا د کفر او د ايمان مسأله ده، په اسلام باندې د پاتې کېدلو او يا له اسلام څخه د وتلو مسأله ده.

نن جګړه د غرب د سيکولرۍ (بې دينې) فلسفې او د وروستي اسماني دين (اسلام) ترمنځ روانه ده. د ماديت او د اسماني شريعت تر منځ جګړه ده. او داسې ښکاري چې همدا به د دين او بې دينۍ ترمنځ وروستۍ جګړه وي او همدا به د نړۍ برخليک ټاکي.

د نن ورځې جهاد، د نبوت خلافت، الله ته د نږدې کېدلو تر ټولو لويه ذريعه او تر ټولو غوره عبادت دا دی چې د (بې دينۍ) د دغې څپې چې په اسلامي نړۍ يې يرغل کړی او د مسلمانانو عقلونه او مرکزونه اشغالوي مخه دې ونيول شي، او د ځوانانو او روڼ اندو زړونو ته دې بېرته د اسلام پر اصولو، عقائدو، حقائقو، قوانينو او پر محمدي رسالت له منځه تللی باور او اعتماد راستون کړای شي. او هم دې هغه فکري او رواني (روحي) بې باوري او اضطراب له منځه يوړل شي چې د امت روښانفکره ځوانان وربانديې اخته دي. هغوئ ته بايد د عقل او فرهنګ په ساحه کې په اسلام قناعت ورکړ شي. د هغو ټولو

جاهلي افکارو او نظریاتو په خلاف باید علمي او عقلي مبارزه وشي چې د خلکو په زړونو عقلونو مسلط دي. او پر ځای یې اسلامي فکر او نظر د قناعت، ایمان او ایماني غیرت له لارې حاکم شي.

پوره یوه پېړۍ شوه چې اروپا زموږ ځوانان او زموږ عقلونه له موږ څخه یرغمال کړي دي او زموږ په ذهنونو کې د شک، الحاد، منافقت او په ایماني او غیبي حقیقتونو باندې د بې باورۍ تخم شینه دي، او په مقابل کې یې موږ پر نوو اقتصادي او سیاسي فلسفو ایمان راوړلو ته وربولي. پداسې حال کې چې موږ د دغو نوو فلسفو مقاومت ته شا وراړولې، او یوازې په خپل تاریخي میراث مو اکتفا کړې ده، او له نوي ایجاد څخه مو لاس نیولی دی.

موږ د اروپا د فلسفو او قوانینو له علمي محاسبې، نقد او د جراحي د طبیبانو په څېر د هغو جراحۍ او سپړنې ته هم شاکړې ده. او یوازې په بېړني او سطحي ډول مو هغه د خپلو پخوانیو علمي معلوماتو د زیاتولو په مقصد یوڅه څېړلي دي. د دغه غفلت په نتیجه کې خبره تردې را ورسیده چې په نابېره ډول اسلامي نړۍ په دې وروستیو کې د ایمان او عقیدې په ډګر کې له سقوط سره مخ شوه، او په اسلامي هېوادونو کې د چارو واګې داسې خلکو په لاس کې واخیستل چې نه د اسلام په اصولو او عقیدې باور لري، نه ورڅخه دفاع کوي او نه یې له مؤمن او مسلمان ولس سره له یو ډول (اسلامي نشلیزم) او سیاسي مصالحو پرته بله رابطه شته.

دغې د (بې دینۍ) روحیې په کراره کراره د ادبیاتو، فرهنګ، ژورنالیزم او سیاست له لارې ولسونو ته لاره پیدا کړه، تردې چې مسلمان ولسونه دغې بې دینه طبقې ته له دې امله تابع شول چې هغوئ ډېر مکار خلک وو، او په ټولنه باندې یې خپل نفوذ او فرهنګ حاکم کړی ؤ، که څه هم چې په

مسلمانو ولسونو کې ډېر خیر، صلاح او ښه استعداد شته او په نړۍ کې هغوئ له غوره ټولنو څخه دي.

او که وضعیت همدغه ډول پاتې شي، نو الحاد او فساد به دغو ټولنو ته نوره هم لاره پیدا کړي، او حتی هغو خلکو ته به هم ورسېږي چې په کلیو او بانډو کې اوسېږي او په صنعت او زراعت باندې مشغول دي. هغوئ کې به هم (لادینیت) او (زندیقیت) خپور شي. همدغه ډول په اروپا کې هم وشول او دا دی اوس په شرق کې هم دا پېښېږي، که وضعیت همدغه ډول وي او چارې په همدې ډول پر مخ ولاړې شي او الله تعالی یې په خپل قدرت مخه ونه نیسي».[1]

[1] فکري پوهنه اوم چاپ ص ۲۵۱

مدرسه او مبارزه

**په اسلامي نړۍ کې د غربي فکر مقابله د علامه ندوي له نظره:**

دا چې په اسلامي نړۍ کې د غربي فکر د خاوندانو په خلاف څه ډول مؤثره مبارزه وشي امام سيد ابوالحسن علي ندوي رحمه الله تعالی د دې مبارزې کيفيت په لاندې ډول بيانوي:

اسلامي نړۍ نن ورځ يو نوي اسلامي دعوت ته ضرورت لري. او د نن ورځې د دعوتګرو نعره او هدف هم همدادی چې وايي:

«يو ځل بيا د اسلام پر لور».

خو په دې لاره کې يوازې شعارونه کافي نه دي. اوس تر کار دمخه يو حکيمانه تصميم ته ضرورت دی، بايد په سړه سينه په دې غور وکړو چې هغه طبقه چې ځان روشنفکران بولي او د ولسونو د ژوند د ټولو چارو واګې يې په لاس کې نيولي دي څنګه يې بېرته اسلام ته را واړوو؟ او څنګه يې زړونه بېرته له ايمان او په اسلام باندې له باور څخه ډک کړو؟ او څنګه يې د غربي فلسفو او د معاصر تمدن د بې دينه نظرياتو له غلامۍ څخه خلاص کړو؟

اسلامي نړۍ نن ورځ داسې شخصيتونو ته ضرورت لری چې د دغه دعوت لپاره ځانونه وزګار کړي، خپل علم، استعدادونه او توان د دغه دعوت په لاره کې ولګوي او داسې خلک وي چې نه يې منصب په کار وي او نه مرتبه، نه د وظيفې په لټه کې وي او نه د حکومت، او نه يې هم د چا لپاره کينه په زړه کې وي. داسې خلک چې خلکو ته ګټه رسوي، خو د ځان لپاره په ګټو پسې نه ګرځي، داسې خلک چې خلکو ته ورکړه کوي، خو له خلکو يې نه غواړي. له هېڅ طبقې سره په کوم داسې دنياوي شي کې چې هغه يې ډېر حرص لري او ځان پرې وژني په کشمکش کې نه پرېوځي ترڅو د دغو خلکو لپاره دغه دعوتګر شخصيتونه پر خپل ځان نه کوم حجت په لاس ورکړي او نه هم شيطان ته لاره پرېږدي چې د دوئ زړونو ته ورداخل شي. د

دغو دعوتگرو شعار باید اخلاص، له هر ډول شهوتونو، ځان غوښتنو او تعصباتو څخه لیرې اوسیدل وي.

اسلامي نړۍ نن ورځ داسې ټولنو او ادارو ته ضرورت لري چې د یو داسې نوي او قوي اسلامي ادب د رامنځته کولو لپاره کار وکړي چې ځوانان په پراخه معنی بیا د اسلام غېږې ته راوګرځوي او د هغو غربي فلسفو له غلامۍ یې وژغوري چې ځینو یې د پوهې او څېړنې په نتیجه کې منلي دي او ځینو نورو یې بیا یوازې په پټوسترګو د غربیانو د تقلید په نتیجه کې منلي دي.

د دغه نسل په ذهنونو او فکرونو کې باید بېرته د اسلام اصول ځای پرځای شي، فکر او ذهن یې باید بېرته په اسلام موړ کړای شي. اسلامي نړۍ نن په هره ساحه کې دغه ډول شخصیتونو ته ضرورت لري، ترڅو په ټینګه او جدي ډول دغه جهاد پر مخ بوځي.

زه له هغو خلکو هېڅکله نه یم چې دین له سیاست څخه جلا بولي او د دین داسې تعبیر او تفسیر کوي چې له حاکم وضعیت سره په ټکر کې رانشي- که څه هم چې حاکم وضعیت هر څومره له اسلام سره نا آشنا او له هغه نه منحرف هم وي- او یا یې داسې تعبیروي چې له هرې ټولنې سره همغاړې کېدي شي. او نه هم له هغو خلکو څخه یم چې سیاست (الشجرة ملعونة في القرآن) ګڼي. بلکې زه د هغو خلکو په سر کې یم چې د مسلمانو ولسونو لپاره د سالم سیاسي پوهاوي او صالح قیادت د ایجاد لپاره کار کوي.

زه له هغو خلکو څخه یم چې په دې باور دي چې دیني ټولنه له یوه سالم دیني حاکمیت چې د اسلام پر بنسټونو ولاړ وي پرته منځته نشي راتلای. زه به ترڅو چې ژوندی یم همدې نظریې ته خلک رابلم. خو خبره د ترتیب، تقدیم او تأخیر، د دین د حکمت او پوهې د تقاضا او د اوضاعو او د واقعیتونو ده.

موږ خپل کوښښونه، استعدادونه، موجود فرصتونه او خپل وسائل په سیاسي او تنظیمي حرکتونو کې مصرف کړل، او دا ټول په دې بنیاد چې ولس مؤمن دی او هغه خلک چې د ولسونو قیادت کوي او د چارو واګي یې په لاس کې دي (روښانفکران) هغه هم مؤمنان دي، د اسلام په اصولو او عقیدې باور لري، او د اسلام د سر لوړۍ او د حدودو د تنفیذ لپاره به یې په لېوالتیا سره کار کوي، خو خبره سر چپه راووته، او هغه داسې چې د ولس مو په همدې ډول حال کې ایمان کمزوری شو، او اخلاق یې د انحطاط (لویدنې) په لور لاړل، چې نه موږ ورته متوجه شوو او نه هغه خپله پر ځان پوه شو. او د روښانفکره طبقې د اکثرو خلکو اسلامي عقیده د غرب د فلسفې، سیاست او نفوذ د منلو په نتیجه کې له منځه لاړه، او یوه لویه برخه خلک خو یې د اسلامي عقیدې په خلاف هم راپورته شول، او په هغو غربي نظریاتو یې ایمان راووړ او دفاع یې ورڅخه پیل کړه او د هغو د خپرولو او تطبیقولو لپاره یې متې راونغښتې چې اصلاً له دین سره په ټکر کې دي.
دغه خلک غواړي چې د ژوند چارې ټولې د همدغو غربي نظریاتو پر اساس او د هغو په رڼا کې تنظیم کړي. او ملت په هغو باندې عمل کولو ته اړباسي. ځینې یې غواړي د دغو نظریاتو تطبیق په بیړه او افراط سره عملي کړي، او ځینې یې غواړي یو څه له حکمت څخه کار واخلي او مرحله په مرحله یې عملي کړي. او ځینې یې دغه غربي نظریات د زور او خشونت په ذریعه عملي کوي. ځینې نور یې بیا کوښښ کوي چې خلکو ته یې ښایسته کړي ترڅو یې خلک په خپله ومني، خو هدف دټولو یو دی.
دیني علماء په دې اړه دوه ډلې دي: یوه ډله یې هغه دي چې د دغې طبقې په خلاف یې سخته جګړه پیل کړې، هغوئ کافر ګڼي او له هغوئ سره یې هر

ډول مقاطعه اعلان کړې ده، او د دغو بې دینه نظریاتو او فرهنګ د اسبابو او ریښو د لټولو هڅه هم نه کوي.

هغوئ د دغې اسلام دښمنې طبقې د احوالو د تغییر او اصلاح هڅې هم نه کوي، پداسې ډول چې له هغوئ سره دې ناسته ولاړه ولري او د دین په اړه د دغې طبقې له زړونو څخه نفرت لیرې کړي، چې په دې ترتیب د هغوئ په زړونو کې د ایمان د کومې پاتې ذرې په سالمو او مؤثرو اسلامي ادبیاتو پالنه وکړي، له هغوئ څخه هېڅ مال، قوت او منصب ونه غواړي، خو مخلصانه لارښوونه ورته په حکیمانه ډول تقدیم کړي.

بله ډله بیا هغه علماء دي چې له دوئ سره مرسته کوي، په مصالحو او منافعو کې ورسره شریک دي، له دنیا څخه یې استفاده کوي، پرته له دې چې په دین کې څه ګټه ورورسوي. دوئ نه د دعوت غم کوي او نه د عقیدې، نه پر دین غیرت لري او نه هم د هغوئ د اصلاح اراده لري، نه هم له هغوئ سره په دغه نږدیوالي کې د کوم رسالت خاوندان دي.

خو درېیمه ډله چې هغوئ باید له دغه وضعیت څخه دردمن وي او دا هم مني چې دغه طبقه خلک داسې مریضان دي چې د تداوي او شفا وړتیا هم ورکې شته، هغوئ ته باید په مهربانۍ دعوت ورکړي او په مخلصانه نصیحت ورته خپل حکیمانه پیغام ورورړاندې کړي چې دغه ډله ډېر لږ دي.

هغه طبقه خلک چې د غرب نظریات یې منلي دي او دین او د دین چاپېریال سره یې هېڅ تړاو نشته، له دین نه لیرې او له هغه څخه په وېره کې اوسېږي او نور هم له دین څخه لیرې کېږي، په هر هغه څه پورې چې په دین پورې تړاو لري پسخند او مسخرې کوي له هغوئ سره د هغې ډلې مسلمانانو دښمني چې له دوئ سره په جګړه اخته دي دوئ نور هم د سختې جګړې خوا ته بیایي. او هغه مسلمانان چې د دین زعامت کوي او غواړي چې حاکمیت د

دغې بې دينې طبقې له واکه وباسي دواړه سره د زعامت پخاطر په سيالۍ اخته دي، د هغوئ دغه دښمني د دې سبب شوې چې د غربي نظرياتو منونکي نور هم له دين سره کينه وکړي او ورځخه په وېره کې شي.

په انسانانو کې دا فطري خبره ده چې له هغه چا سره کينه وکړي چې غواړي دنيا له دوئ څخه واخلي، او دا په داسې حال کې چې که يې ايمان هم يوازې په دنيا وي. او له هغه چا سره کينه وکړي چې غواړي حکومت او واک ترې واخلي. پداسې حال کې چې دوئ خپل پايښت هم يوازې په حکومت او واک کې گڼي. او له هغه چا سره هم کينه وکړي چې غواړي له مادياتو او خوندونو يې بې برخې کړي، پداسې حال کې چې پرته له مادياتو او خوندونو بل څه نه پېژني هم نه.

اسلامي نړۍ نن داسې يوې ډلې داعيانو ته ضرورت لري چې له دنياوي مقاصدو خلاص وي او د دعوت لپاره اخلاص ولري، له هر هغه څه ليرې وي چې خلکو ته دا تصور ور پيدا کوي چې کېدی شي د دوئ مقصد به ماديات يا د خپل ځان، خپل قوم او يا خپل تنظيم لپاره د حکومت غوښتل وي.

دغه دعوتگر بايد د خلکو د ذهن او نفس هغه روحي او رواني عقدې ليرې کړي چې د غرب فرهنگ او د ديني علماوو غلطيو، د دغې طبقې غلط فهميو، د علم کموالي او له اسلام او د هغه له چا پيريال څخه ليرې والي د دوئ په ذهنونو کې ايجاد کړې دي، او دغه کار د ليدنو کتنو، ملگرتياوو، خبرو اترو، د ليکنو د تبادلې، د سفرونو او ملاقاتونو، د اسلامي مؤثرو ادبياتو، شخصي روابطو، پاکنفسۍ، اخلاقي لوړتيا، د قوي شخصيت په لرلو، له دنيا

څخه په زهد، د خوندونو په پرېښودلو او د انبیاوو علیهم السلام او د هغوئ د خلفاوو د اخلاقو په تمثیل سره ترسره کړي.[1]

دغه ډول داعیانو تل د اسلام خدمت کړی، په اموي دولت کې د پنځم راشدخلیفه (عمر بن عبد العزیز) څرګندېدل د همدغه اسلوب او طریقې نتیجه وه. همدغه تاریخ یو ځل بیا په هند کې د مغولي بادشاه جلال الدین اکبر په وخت کې تکرار شو، هغه چې د اسلام په خلاف را پورته شوی و او تصمیم یې نیولی و چې پر هند د اسلام له څلور پېړۍ حکومت وروسته یو ځل بیا هندوستان د (برهمي) جاهلیت په لور وروګرځوي، خو د دغه حکیمانه دعوت په برکت او د (مجدد الف ثاني) د باحکمته شخصیت په هڅو چې اسلام ته یې په اخلاص بلنه کوله او په اسلام او د اسلامي دعوت په فقه ښه پوهېده، او همدارنګه د هغه د شاګردانو په کوښښونو هند یو ځل بیا تر پخوا هم په قوي او په ښه ډول اسلام ته را وګرځېده.

وروسته د (اکبر) پر تخت داسې بادشاهان کښیناستل چې په تقوی او د اسلام په مینه کې یو تر بله غوره وو، تر دې چې د هند پر تخت داسې څوک کښېناست چې د اسلام او د اصلاح تاریخ یې په یاد او کارنامو ښایسته شو او هغه (اورنګ زیب عالمګیر) ؤ، هغه چې (فتاوی هندیه عالمګیریه) هم هغه ته منسوبه ده.

د دغه ارتداد مقابله کول داسې یوه فریضه ده چې یوه ورځ ځنډ هم نه مني، نن ورځ د اسلامي نړۍ ځواکمن هېوادونه او غوره بچیان د ارتداد له یوې قوي او خطرناکې څپې سره مخ دي، دغه د ارتداد څپه د مسلمانانو د عقیدې، اخلاقو او ارزښتونو په خلاف یو پاڅون او بغاوت دی. او که اسلامي نړۍ خپله دغه شتمني چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته په میراث پرې

[1]- فکري پوهنه، اوم چاپ ص ۲۵۱-۲۵۶

اینبې او مسلمانو نسلونو هغه په خپلو منځو کې ساتلې او د اسلام اتلانو له هغې څخه د دفاع په لاره کې قرباني ورکړې، له لاسه ورکړي، بیا نو د اسلامي نړۍ بقا له منځه ځي. دغه موضوع باید د ټولو هغو خلکو د توجه او اهتمام وړ وګرځي چې د اسلام غم ورسره دی).[1]

**د اسلامي نړۍ د اوسني وضعیت مرحله:**

موږ باید د یوه متمدن اسلامي نظام په حیث د علماوو د روزنې لپاره داسې هر اړخیز تعلیمي نظام او نصاب ولرو چې راتلونکي علماء د انطوائیت او ګوښیتوب له هغه محیطه راوباسي چې د سیکولرو حکومتونو له لوري دوئ ورکې ایسار شوي وو.

په افغانستان او سیمه کې سیکولرو حکومتونو نه غوښتل چې د دیني علماوو د معلوماتو افق دې پراخه شي، د دین او دنیا دواړو په احوالو دې پوه شي، د اسلامي امت د معاصرو قضایاوو په اړه دې معلومات ولري، په سیاسي او اجتماعي لحاظ دې قیادي وړتیاوې ورکې پیدا شي، او له محکومیت څخه د حاکمیت لوري ته د مسلمانانو د راوپسټلو حس ورکې راوینښ شي.

اوس چې دیني علماء په افغانستان کې حاکم دي، او د ټولو چارو واګې هم د همدوئ په لاس کې دي، او د نورې اسلامي نړۍ مسلمان ولسونه هم همدوئ ته د امید په سترګو ګوري، نو پکار ده چې موږ په خپل تعلیمي نصاب کې(حاضر العالم الاسلامي) یعنې (د اسلامي نړۍ اوسنی وضعیت) یا (د اسلامي نړۍ د پېژندنې) مضمون داخل کړو.

د اسلامي نړۍ پر اوسني وضعیت پوهېدل د مدرسې په طالب کې ویښ فکر، د امت د اوسني وضعیت په اړه دقیق ادراک، سیاسي شعور، د اسلامي امت پر وحدت باور، د مسلمانانو له احوالو باخبري پیداکوي.

---

[1]- فکري پوهنه اووم چاپ ص ۲۹۳

زموږ عالم او طالب باید پر دې پوه وي چې په اوس وخت کې اسلام او مسلمانان په کوم حالت کې دي؟ چېرې حاکم او چېرې محکوم دي؟ ولې حاکم او یا محکوم دي؟ او ولې حاکمیت ته رسیدای نه شي؟ نن اسلامي نړۍ په کوم دیني، اخلاقي، سیاسي، عسکري وضعیت کې ده؟

همدارنګه عالم او د مدرسې طالب ته پکار ده چې په اسلامي نړۍ کې د هغو معاصرو ادیانو، افکارو او احزابو په اړه معلومات ولري چې له مسلمانانو سره په جنګ کې دي.

د اسلامي نړۍ د اوسني وضعیت پر پوهولو د مدرسې د طالب پوهول دا تقاضا کوي چې مخکې تر دې چې اسلامي نړۍ ور وپېژنو اول باید ټوله نړۍ ورو پېژنو، او هغه په دې معنی چې طالب باید د ځمکې ټوله کره وپېژني چې کوم یې سمندرونه دي او کومې یې لویې وچې دي؟ پر دې باید پوه وي چې آسیا، افریقا، اروپا، امریکا، استرالیا چېرې واقع دي؟ پر دې هم باید پوه وي کومې سیمې ته اسلامي نړۍ ویل کېږي؟ دا هم باید ورمعلوم وي چې نړۍ د ادیانو په لحاظ کوم تقسیم لري، په دې معنی چې اسلام په کومه سیمه کې دی او یهودیت، نصرانیت، بودایت، هندوئزم، کنفوشیوسزم (د چینایانو دین)، الحاد، او نور فکري مکاتب او حاکم نظریات په کومو سیمو کې شتون لري؟ نړۍ پېژندنه زموږ له علماوو او طالبانو سره په دې کې مرسته کوي چې په دې پوه شي زموږ په شاوخوا کې څوک پراته دي؟ او د دوئ پر موږ څومره تأثیرات دي او زموږ پر دوئ څومره شته، او څومره نور ورباندې درلودلی شو؟ او دا ټول هغه وخت کې ممکن وي چې موږ یو ځل نړۍ په جغرافي، سیاسي، دیني او فکري لحاظ وپېژنو او له نورو خلکو سره موږ ته خپلې د تماس او د افتراق نقطې او وضیعتونه رامعلوم شي.

د اسلامي نړۍ پېژندل زموږ يو ديني ضرورت دی، ځکه چې موږ له اسلامي امت سره عقيدوي اشتراک لرو، دين، پيغمبر، اجتماعي پيوندونه او د تناصر او تناصح مسؤوليتونه مو سره شريک دي، او يو له بله دفاع او ملاتړ، او يو بل ته دعا کول او پخپلو کې همدردي مو د دې تر څنګ چې ديني وجيبه ده يو سياسي، عسکري، ستراتېژيک او اقتصادي ضرورت هم دی.

نن چې مسلمان ولسونه او هېوادونه پخپلو کې سره وېشل شوي او پخپلو کې سره په دښمنيو اخته دي دا له دې امله نه دي چې موږ پخپلو کې داسې توپيرونه لرو چې د هغو د پاللو له امله بايد يو له بله جلا و واوسو، بلکې دا خو استعمار او کافرانو موږ سره په دې خاطر ټوټه ټوټه کړي، د نشنلزم په مرض اخته کړي او يو د بل په اړه بې احساسه کړي يو چې بيا راڅخه يو قوي امت او نظام جوړ نشي، او ټول د اسلام تر يوه بيرغ لاندې راټول نشو.

د اسلامي نړۍ اوسنی وضيعت د اسلام د مزاج مطابق نه دی، بلکې دا د پرديو له خوا تحميل شوی وضعيت دی او موږ يې ورکې لتاړ کړي يو.

زموږ د مدرسې طالبان چې د اسلامي مبارزې لپاره يې روزو بايد په دې پوه شي چې اسلامي نړۍ چېرته ده؟ له کوم ځايه شروع کېږي او په کوم ځای ختميږي؟ کوم هېوادونه يې قوي او کوم يې کمزوري دي؟ اسلام ورکې حاکم دی که محکوم؟

که موږ د اسلامي نړۍ له وضعيت او د هغه په اړه له خپلو مسؤوليتونو ځان خبر کړو، نو عالم، طالب، ليکوال، خطيب، مفکر، او د نظر خاوند به مو وينښ، با احساسه او په واقعيتونو خبر وي، په دې به پوهېږي چې په اسلامي هېوادونو کې کوم سياستونه او قوانين حاکم دي؟ په سياسي او عسکري لحاظ په چا پورې تړلي دي؟

عالم او طالب ته د اسلامي نړۍ له اوسني وضعیته ځان خبرول ځکه ضروري دي چې په ننۍ اسلامي نړۍ چې کې چې کوم سيکولر حکومتونه، احزاب او سياسي جوړښتونه موجود دي تقریبا ټول يې د شریعت د حاکموونکو په خلاف یوه مشترکه جبهه تشکیلوي، او دغې مشترکې جبهې خپل ټول مادي او معنوي وسائل لکه حکومتونه، پوځونه، امنيتي ارګانونه، اقتصادي سیستمونه، عدلیه او قوانین، سياسي احزاب، فرهنګ او میډیا ټول د اسلامپالو په خلاف بسیج کړي دي.

کله چې عالم او د مدرسې طالب د اسلامي نړۍ له اوسني وضعیته ځان خبر کړي، نو په دې توانیږي چې خپل مخالف لوری او د هغه د ضعف او قوت نقطې وپیژني، له هغه سره د مناسب تعامل لاره ځانته معلومه کړي. په دې کار به يې د مبارزې او دعوت لپاره د سیاسي درک افق پراخ شي، ژبه به يې روانه شي، قلم به يې تاند شي، د خپلې ټولنې او نورو ولسونو له لوړ او ځوړ به خبر شي، او له واقعیتونو سره د تعامل لپاره به په ځان کې وړتیا پیدا کړي.

د اسلامي نړۍ له اقتصادي او جیوپولیټک (سیاسي جغرافي) حالته خبرېدل له عالم او طالب سره پر دې په پوهېدلو کې هم مرسته کوي چې په اسلامي نړۍ کومې داسې شتمنۍ دي چې کله ورته انګریزان، کله روسان، کله امریکایان، کله فرانسویان، کله ایټالویان رروان وي، او کله نور کافران؟

د اسلامي نړۍ پر اوسني وضعیت ځان پوهول عالم او طالب ته د مسلمانانو په خلاف د روانې جګړې اقتصادي اړخ هم ورمعرفي کوي، او په دې پوهوي چې اشغالګر یوازې زموږ د فکر او عقیدې دښمنان نه دي، بلکې هغوئ زموږ د شتمنیو، اقتصاد، تیلو، ګازو، ډبرو، ونو، بوټو او د هر څه غله دي.

همدارنګه د اسلامي نړۍ د عسکري وضعیت پېژندل عالم او طالب په دې پوهوي چې د اسلامي نړۍ پوځي وضعیت څوک کنټرولوي؟ پوځونه يې په

کومه عقیده او نظریه روزل کېږي؟ په کوم نړیوال تړون کې شامل دي؟ وسله څوک ورکوي او اهداف څوک ورته ټاکي؟ جګړې یې د خپلو مسلمانو ولسونو په خلاف دي، او که د کوم یرغلګر کافر ځواک په خلاف؟ د مشرانو وفاداري یې له اسلام او مسلمانانو سره ده، او که له پردیو سره؟

د اسلامي نړۍ د اوسني وضعیت په پېژندنه کې بله موضوع د اسلامي نړۍ له مهمو قضایاوو څان خبرول دي. په اسلامي نړۍ کې د مسلمانانو ځینې ډېرې مهمې قضیې دي لکه د فلسطین، کشمیر، قبرص، صومال، سوډان او برما او همدارنګه په غرب کې د مسلمانو اقلیتونو قضایا چې تر هر څه مخکې د هغو په اړه په مسلمانانو کې فکري پوهاوی پکار دی، او بیا د هغو د حل لپاره د امت په سطحه د کوښښونو شریکول پکار دي.

مسلمانان په شرعي لحاظ په دې مکلف دي چې د امت د وحدت لپاره کار وکړي. خو د تأسف ځای دی چې له غربه راغلې سیکولر نشنلیزم پر مسلمانانو خپل دومره اثر پرې ایښی چې نن د مسلمان امت د وحدت د اعاده کولو لپاره خبره او کار کول ان په اسلامي هیوادونو کې هم جرم ګڼل کېږي، پداسې حال کې چې په شرعي لحاظ په ټوله نړۍ کې د (لا إله إلا الله محمد رسول الله) ویونکي او منونکي ټول یو امت دي، او د هغوئ تر منځ تناصر، تناصح او تعاون یو مطلوب شرعي عمل دی، او مسلمانان او په خاص ډول د اسلام د حاکمولو لپاره مبارزه کوونکي باید دې کار ته په کم نظر ونه ګوري.

که په نیږدې ماضي کې د مسلمانانو تر منځ د تناصر، تعاون، او تناصح د یوه عملي مثال یادونه وکړو نو غوره مثال یې هغه وو چې کله د روسانو پر افغانستان حمله وکړه او د هغوئ د اشغال په نتیجه کې په ملیونونو خلک مهاجر شول، نو د اسلامي نړۍ خلک زموږ مرستې ته راغلل، چا د اوسېدو لپاره زمکه راکړه، چا پیسې راوړې، چا لباس، دوا او خیمه راولېږله، چا راته په

دښتو کې څاګانې ووېستې، چا مو د مهاجرینو اولادونو ته کتاب، کتابچې، مکتب او پوهنتون جوړ کړ، څوک زموږ تر څنګ د جهاد په میدان کې د دین د نصرت په مقصد د قربانېدلو لپاره پخپله راغلل، او په دې ډول د اسلامي نړۍ خلکو زموږ د جهاد، هجرت او ستونزو په اړه خپل مسؤولیتونه درک کړل، زموږ تر څنګ ودرېدل، او د الله په فضل او بیا د اسلامي نړۍ د مرستې په نتیجه کې د کمونیزم په خلاف د افغانانو جهاد کامیاب شو.

موږ هم د نورو مسلمانانو په هکله دیني مسؤلیتونه لرو. که نصرت یې کولی نشو کولی نو دعا خو ورته کولی شو، د هغوي په اړه خو د خلکو ذهنونه جوړولی شو، له قضیو خو یې سیاسي او اخلاقي ملاتړ کولی شو. او دا هر څه په هغه وخت کې کېږي چې موږ د هغوئ په اړه معلوات او له هغوئ سره د همدردۍ احساس ولرو.

اسلامي نړۍ نن ډېر دردوونکي قضیې لري، داسې قضایا چې سبا او بیګا هلته د وینو فوارې دي، د فلسطین قضیه د مسلمانانو مهمه قضیه ده، ځکه د مسلمانانو اولنۍ قبله په بیت المقدس کې ده، هغه د انبیاوو وطن او رسول الله صلی الله علیه وسلم مسرىٰ او نورو انبیاوو علیهم السلام ته د معراج په شپه په جماعت سره د لمانځه د ادا کولو ځای او مبارک وطن دی لکه چې الله تعالی فرمایي:

﴿سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلًا مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا﴾ [الإسراء: ١]

ترجمه: (پاکي ده هغه ذات لره چې په شپه کې یې خپل بنده له مسجد حرامه هغه مسجد أقصی پورې بوت چې موږ یې شاو خوا برکتي کړې).

خو همدغه مبارک فلسطین تقریبا له یوې پېړۍ راهیسې اول د انګرېزانو او بیا د یهودو تر تسلط لاندې دی، پنځه اتیا فیصده زمکه یې یهودو غصبه کړې

ده، لویه برخه خلک یې ترې شړل شوي دي، د نورو یې آزادي سلب شوې، کورونه یې ورانېږي او پر ځای یې یهودان ځانته کورونه او کلي جوړوي، یهود د مسلمانانو د لومړۍ قبلې مسجد اقصی سپکاوی کوي، په بېرحمۍ سره مسلمانان وژني او آزادیپال ځوانان او ښځینه زندانونو ته وراچوي.

دا چې فلسطین د اسلام او مسلمانانو قضیه ده، نو په اړه یې د نړۍ ټول لوی کفري قوتونه او د هغوئ ملګري د مسلمانو هېوادونو حکومتونه د فلسطینیانو په خلاف د یهودو خوا نیسي. خو شرقي تیمور چې له اندونیزیا څخه پرېکېده او د نصرانیانو لپاره ورڅخه یو نصراني هېواد جوړېده په دري کلونو کې یې هم قضیه پورته شوه، هم یې آزادي ورکړل شوه، هم په ملل متحد کې غړیتوب ورکړ شو، هم یې پیسې چاپ شوې او هم د خپل سیاسي هویت خاوندان شول. خو د فلسطین، کشمیر، چیچنیا، قبرص او د میانمار یا برما د مسلمانانو قضیې چې ټولې د مسلمانانو قضیې دي له لسګونو کلونو راهیسې مسلمانان ورکې ځوریږي هېڅ نړیوال خواخوږي نه لري.

پورته یاد شوي ټول مراحل د اسلامي تاریخ مهم مراحل دي چې باید زموږ د مدارسو په نصاب کې تدریس شي، ترڅو مو طالبان د خپل امت د ماضي په اړه معلومات ولري او له مثبتو او منفي تجاربو یې د اسلامي مبارزې په بهیر کې استفاده وکړي.

## درېیم ضروري مضمون ـ د دعوت علم

د دین علماء د انبیاوو علیهم السلام وارثان دي لکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: «إِنَّ العُلَمَاءَ وَرَثَةُ الأنبِيَاءِ...».(1)

ترجمه: (یقینا علماء د انبیاوو وارثان دي).

دا چې د انبیاوو علیهم السلام وظائف څه وو چې علماوو ته یې په میراث پرې ایښې دي د قرآن کریم لاندې آیتونه یې روښانوي:

۱ ـ خلکو ته الهي پیغام رسول:

﴿يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ﴾ [المائدة: ٦٧]

ترجمه: (ای پیغمبره هغه څه ورسوه چې د خپل رب له لوري درته نازل شوي، او که دې ونکړ، نو د ده پیغام دې نه دی رسولی، او الله دې له خلکو ساتي).

۲ـ د الله لوري ته د خلکو بلل:

﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ شَاهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا (45) وَدَاعِيًا إِلَى اللهِ بِإِذْنِهِ وَسِرَاجًا مُنِيرًا﴾ [الأحزاب: ۴۵-۴٦]

ترجمه: (ای نبي یقینا چې ته مو شاهد، زیری ورکوونکی او انذار ورکوونکی لېږلی یې، او د الله لوري ته بلونکی او لکه روڼ څراغ).

۳ ـ د الله تعالی له لوري د رالېږل شوي پیغام وضاحت کول:

﴿وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ﴾ [النحل: ۴۴]

ترجمه: (او تا ته مو دا ذکر او پند درلېږلی ترڅو خلکو ته روښانه کړې چې څه ورته نازل شوي او د دې لپاره چې تفکر وکړي).

---

1- رواه أبو داود والترمذي وابن ماجة.

مدرسه او مبارزه

۴ـ د نفسونو تزکیه او اصلاح:

﴿هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولًا مِنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ﴾ [الجمعة: ٢]

ترجمه: (دی همغه ذات دی چې په نالوستو کې یې د دوئ له ډلې یو رسول ورولېږه چې د ده آیتونه پرې ولولي، تزکیه یې کړي او کتاب او حکمت وروښیي).

۴ـ پر خلکو د الله تعالی لوري د حجت اقامه کول:

﴿رُسُلًا مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى اللَّهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ﴾ [النساء: ١٦٥]

ترجمه: (زيري وركوونكي پيغمبران، ترڅو خلكو ته د پغمبرانو تر لېږلو وروسته د الله پر ذمه كوم حجت پاتې نشي).

۵ـ د امتونو سیاست:

﴿ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللهُ﴾ [المائدة: ۴۸]

ترجمه: (نو د دوئ تر منځ په هغه څه حکم کوه چې الله نازل کړي).

﴿يَا دَاوُودُ إِنَّا جَعَلْنَاكَ خَلِيفَةً فِي الْأَرْضِ فَاحْكُمْ بَيْنَ النَّاسِ بِالْحَقِّ﴾ [ص: ٢٦]

(ای داووده! يقينا چې ته مو په زمکه کې خليفه گرځولی یې نو د خلکو تر منځ په حقه پرېکړه کوه).

٦ـ د خلکو لپاره غوره مثال کېدل:

﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ﴾ [الأحزاب: ٢١]

ترجمه: (يقينا چې د تاسې لپاره د الله په استازي کې غوره مثال او اسوه ده).

۷ـ خلکو ته آخرت ور په یادول:

﴿يَا مَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ أَلَمْ يَأْتِكُمْ رُسُلٌ مِنْكُمْ يَقُصُّونَ عَلَيْكُمْ آيَاتِي وَيُنْذِرُونَكُمْ لِقَاءَ يَوْمِكُمْ هَذَا﴾ [الأنعام:١٣٠]

ترجمه: (ای د پېریانو او انسانانو ټولیه! ایا ستاسو پیغمبران نه وو درغلي چې زما آیتونه یې درته بیانول او له دغې ورځې سره له مخامخېدو یې وېرولئ؟!)

پورتنیو آیتونو کې د انبیاوو علیهم السلام یادو شوو وظائفو او مسؤولیتو ته په پام سره وینو چې دیني علماوو ته چې د انبیاوو وارثان دي درانه مسؤولیتونه ورله غاړې دي. دغه وظائف او مسؤولیتونه چې عموما دعوت محوره مسؤولیتونه دي دا خبره واضحه کوي چې د علماوو کار یوازې درس، تدریس، امامت او افتاء نه ده، بلکې په مؤثر ډول د الله تعالی لوري ته د خلکو بلل، د زمانې د کفارو له لوري د دین په اړه د راپورته کړل شوو شبهو ځوابول، له کفري او گمراهو ادیانو، افکارو، نظریاتو او فلسفو د مسلمانانو راگرځول، د اسلام محاسن بیانول، پر نورو دینونو او افکارو یې تفوق ثابتول او اسلام ته په مؤثر او معاصر ډول د کفارو رابلل هم د علماوو له مهمو مسؤولیتونو څخه دي چې باید هم په تعلیمي نصاب او هم عمل کې مهم ځای ورکړ شي.

د الله تعالی لوري ته د خلکو بلل هغه لوی کار او مهم هدف دې چې رب العالمین ټول انبیاء علیهم السلام د همدې کار لپاره رالیږلي دي او د هغوئ تر ټولو مهم کار یې هم همدغه دعوت او بلاغ گرځولی دی.

د الله تعالی لوري ته بلنه یوازې د ر سول الله صلی الله علیه وسلّم وظیفه نه وه، بلکې همدغه وظیفه د هغه مبارک د ټول امت وظیفه هم ده لکه چې الله تعالی فرمايي:

﴿كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللهِ﴾ [آل عمران:۱۱۰]

ترجمه: (تاسې تر ټولو غوره امت یاست چې د خلکو لپاره رابرسېره شوئ چې په معروف امر کوئ او د منکر مخنیوی کوئ او په الله ایمان لرئ).

او همدارنګه فرمايي:

﴿وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ﴾ [التوبة: ٧١]

ترجمه: (او مؤمنان نارينه او مؤمناني ښځې ځينې يې د ځينو نورو دوستان دي، په معروف امر کوي، او له منکر ممانعت کوي).

رسول الله صلى الله عليه وسلم هم فرمايلي: «بَلِّغُوا عَنِّي وَلَو آيَةً»[1]

ترجمه: (زما له لوري يې ورسوئ که څه هم چې يو آيت وي).

## د عوت د ټولنو په ژوند کې څه اهميت لري؟

دا يوه منل شوې حقيقت دی چې په انساني ټولنو کې چې ځومره ديني او فکري بدلونونه راغلي دي او يا راځي، او ځومره حق او يا باطل افکار، اديان او مذاهب چې په انساني ټولنو کې خپاره شوي دي او يا به خپريږي، د دې ټولو په خپراوي کې تر ټولو مهم نقش د دعوت او دعوتګرانو دی.

عقايد، اديان او افکار په پيسو نه خپريږي. د مال مصرفول به د افکارو او اديانو په خپرولو کې مؤثر وي، خو اساسي عامل په دې کار کې خلکو ته په فکري لحاظ قناعت ورکول دي. عقايد، دينونه د تورې او ټوپک په زور نه خپريږي، ځکه چې ټوپک او توره د اکراه وسائل دي، او اکراه د مقابل لوري په زړونو کې د زور د استعمالوونکي او د هغه د عقيدې او فکر په مقابل کې نفرت پيدا کوي.

که يو ځوک پر يو چا يو فکر او دين په زور تحميل هم کړي، نو محکوم خلک به ظاهراً غاړه ورته کيږدي، خو له زړه يې نه مني او نه يې عملي کوي. او که يې کله عملي هم کړي، نو د پوليس او قانون له ډاره يې عملي کوي.

[1] رواه البخاري.

علماء د وضعي قوانينو او د شرعي احکامو تر منځ مهم فرق دا ښيي چې د وضعي قوانينو منونکي قوانين د پوليس له ډاره مني، خو د شرعي احکامو منونکي شرعي احکام له زړه د عبادت په نيت او د ثواب لپاره مني، او دېته ورکې نه ګوري چې څوک يې څارنه کوي او که يې نه کوي. له همدې امله خو د هر فکر خاوندان چې غواړي په ټولنه کې د خپل فکر او دين په ګټه بدلونونه راولي د خپل دين او فکر لپاره ماهر دعوتګران روزي، او همدغه دعوتګران بيا د خپلې زمانې د تأثيرګذارۍ د ټولو مؤثرو وسائلو په استعمال په نه ستومانه کېدونکي ډول په سختيو او آسانيو کې د خپل دين او فکر د خپرولو لپاره مخلصانه دعوت او کار کوي، وخت او مال مصرفوي، او انسانانو ته د قناعت ورکولو لپاره منقول او معقول دلائل بيانوي.

د الله تعالی لوري ته دعوت بايد يوازې دا نه وي چې دعوتګر دې يو څو کسانو ته څو نيکې خبرې وکړي او بس، بلکې دعوت يو دقيق، دوامداره، سنجول شوی او دلسوزانه عمل دی چې تل بايد په پوره شوق، اخلاص او قناعت پداسې شکل تر سره شي چې لاندې نتايج ورڅخه حاصل شي:

۱- د دعوتګر هدف بايد دا وي چې د دعوت له لارې له الله تعالی څخه د باغي شوو خلکو رابطه بېرته له الله تعالی سره ورجوړه کړي، د هغه د دين منلو او عملي کولو ته يې وهڅوي، او د شر او شيطان له لارو يې راوګرځوي.

۲ـ انسانانو او خصوصا مسلمانانو ته د ژوند په هر اړخ کې د اسلام ښېګڼې او افاديت بيان کړي ترڅو هغوئ پرې قانع شي، او پخپله يې له زړه ومني. دا ډېر ستر کار دی هدف دی چې ډېر وخت او ډېر کار غواړي.

۳ـ په هره زمانه کې د هماغې زمانې له تقاضاوو سره سم او د حالاتو مطابق په مناسب کيفيت او مناسبو وسائلو انسانان د دين په پيغام مخاطب کړای شي، ترڅو يې د دعوت د تأثير ساحه پراخه او پيروان يې ډېر شي.

نن که نصراني دعوت ته د یوه مؤثر دعوت په حیث وګورو نو وینو چې نصراني مبلغینو یو منسوخ او تحریف شوی دین چې منشأ یې فلسطین و او یوازې بني اسرائیلو ته راغلی و ټولې اروپا، امریکاګانو، روسیې، افریقا، استرالیا، جنوب شرقي اسیا، اندونزیا او نوي زیلانډ پورې ورساوه، پداسې حال کې چې نننی نصرانیت نه پر حق ولاړ دی چې الله تعالی دې یې نصرت وکړي، او هم پر معقولیت ولاړ دی چې خلک دې یې د معقولیت له امله ومني، خو بیا هم د نړۍ لویې برخې خلکو ته ځکه رسول شوی دی چې دوئ د خپل دین خپرولو او دعوت ته داسې فعال میکانیزم او تګلاره جوړه کړې چې د دوئ د کار د تداوم او مؤثریت عوامل یې برابر کړي دي.

نصراني کلیساوو دعوت ته کار ویلی دی، او د دې کار لپاره یې مؤثر وسائل، ترتیبات، اداري، نصابونه، مؤسسې، شخصیتونه او فکري ادبیات مهیا کړی دي. ځکه خو یې دعوت د اسلامي نړۍ په شمول د نړۍ لویو برخو ته رسیدلی دی.

د اسلام دعوت ته که وګورو نو وینو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم چې کله مبعوث شو نه یې لښکر درلود چې یو چا دې یې د وېرې له امله خبره منلې وای، نه هم هغه مبارک کوم قومي مشر و چې د خپل قومي رسوخ له امله یې پر خلکو تأثیر درلود، بلکې هغه مبارک یتیم رالوی شوی و، حتی خپل تره یې په خلاف ولاړ و، خو بیا یې هم په انسانیت کې د الله تعالی له توفیقه وروسته د خپلو مخلصو ملګرو(رضی الله عنهم) په مؤثره روزنه او دعوت دومره لوی تحول راوست چې تاریخ یې مثال نه وو لیدلی.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دعوت او پوهاوي له لارې د خپلو اصحابو (رضی الله عنهم) په ډېر ښه ډول ذهنسازي وکړه، د هغوئ نفسونه یې تزکیه کړل، مسؤلیتونه یې وروپیژندل، او پر خپل دین یې د هغوئ باور دومره

ور قوي کړ چې بل هېڅ دعوت، تهدید، تطمیع، او هېڅ ډول شبهاتو له دین څخه څخه نشوای اړولی.

د رسول الله رسول الله صلی الله علیه وسلم د دعوت او تربیې په نتیجه کې روزل شوي صحابه (رضي الله عنهم) د نړۍ هرې خوا ته په کمو وسایلو خو په لوی او قوي عزم روان شول، له دښتو، غرونو او سیندونو واوښتل او تر کومه ځایه یې چې کولی شول د اسلام دین یې ورساوه.

په ټولنو کې تر ټولو لوی عقائدي، فکري او اخلاقي تحولات چې تر پېړیو پېړیو دوام کوي هغه تحولات دي چې د دعوت او اقناع په نتیجه کې راغلي وي. د دې خبرې شاهد پخپله د اسلام د دین په نتیجه کې راغلی تحول دی چې کومو ځایونو ته اسلام د دعوت له لارې ورغلی هلته تر اوسه پاتې دی، او ان شاء الله چې تر قیامته به وي.

د نړۍ نور دینونه او فکرونه هم لکه یهودیت، نصرانیت، بودایت، برهمیت، کنفوشیوسیزم او نور باطل دینونه او فکرونه چې د دعوت او اقناع له لارې خپاره شوي دي د اوږدې مودې لپاره یې پیروان لرلي دي.

**زموږ په مدارسو کې د دعوت مضمون نشته:**

سره له دې چې دعوت إلی الله یو الهي حکم، د انبیاوو او علماوو وظیفه او د دین د خپرولو او د انسانو د هدایت ذریعه دی، خو د تأسف ځای دی چې زموږ د مدارسو په تعلیمي نصاب کې نه دې علم ته ځای ورکړ شوی، او نه هم په عملي ډول دې کار ته علماء روزل کېږي.

زه دا نه وایم چې زموږ علماء وعظ او ارشاد نه کوي او خلکو ته د جمعې، اخترونو او یا نورو مناسباتو په ورځو کې ویناوې نه کوي، بلکې زما مقصد او د شکوې ځای دا دی چې زموږ په مدارسو کې د دعوت مضمون، د دعوت

تګلارې، د دعوت فقه، د انبیاوو علیهم السلام د دعوتونو مثالونه، د هغوئ د دعوت کیفیتونه، له ولسونو او امتونو سره د هغوئ د تعامل طریقې، او همدارنګه د دعوت ډولونه لکه سرّي دعوت، علني دعوت، اجتماعي او انفرادي دعوت، د دعوت او تأثیرګذارۍ اوسني مادي او معنوي وسایل، د دعوتګرانو صفات او لازمي وړتیاوې، د دعوت د لارې خنډونه، د مدعووینو انواع، په هره زمانه کې د مقابل لوري عقائد او شبهات او د هغو رد او نور اړوند معلومات په منظم او لازمي ډول نه تدریسېږي چې په اوس وخت کې دا په مدارسو او د علماوو په فعالیت کې یوه لویه نیمګړتیا ګڼل کېږي.

موږ د دعوت لپاره د اسلامي نړۍ تر بل هر ولس هم بالقوه وړتیاوې ډېرې لرو، ځکه چې ډېر مدارس او علماء لرو، او هم مو ولس دعوت ته ضرورت ډېر لري، ځکه چې دلته چې هر ځل اشغالګر د انګرېزانو، روسانو، امریکایانو او نور په شکل کې راغلي دي، نو د خپل عسکري تأثیر ترڅنګ یې دلته خپل عقائدي، فکري، فرهنګي او تمدني تأثیرات او شبهات هم پرې ایښي دي چې په عملي او اختصاصي ډول له منځه وړلو ته ضرورت لري، او دا کار باید علماء او د دیني مدارسو منسوبین تر سره کړي.

د دې لپاره چې د دعوت علم په مطلوب، مؤثر او معاصر ډول زموږ په علماوو کې راشي نو پکار ده چې د مدارسو په نصاب کې مو د دعوت د علم څلور ګوني ارکان د دعوت د متخصصو علماوو له لوري داسې تدریس شي چې په ځوانو علماوو کې مو د دعوت وړتیا او شوق ایجاد شي، او په عملي ډول د پردیو افکارو مقابلې ته راووځي.

### د دعوت څلورګوني ارکان:

مدرسه او مبارزه

هر دعوت چې په مسلکي ډول تر سره نشي، ارکان يې پر ځای نشي، آداب يې رعايت نشي او تقاضاوې يې پوره نشي کېدی مطلوبه ثمره ونه لري، که څه هم چې د دعوت محتوی به حقه وي او په ځان کې به پوره معقوليت او د مدعو لپاره ښه ډېر خير هم لري. او که چېرې په دعوت کې پورتني ټکي په پام کې ونيول شي، نو په جذاب او مؤثر ډول به تر ډېرو خلکو ورسېږي او ډېر منونکي او ملاتړي به پيدا کړي، که څه هم چې د دعوت محتوی به نه په ځان کې معقوليت او حقانيت لري، او نه به خپلو مخاطبينو او بلل شوو ته په ريښتينې معنی کوم د خير پيغام لري.

نن چې په اسلامي نړۍ کې لويه برخه خلک غربي فکر، غربي فرهنګ، غربي اخلاقو، ي ډوله سياست او حاکميت، غربي فلسفې او تمدن ته پر اسلامي نظام او ارزښتونو ترجيح ورکوي او خپلوي يې دا له دې امله نده چې غربي هغه تر اسلامي هغو غوره دي، بلکې اصلي خبره دا ده چې غربيان په دې توانېدلي چې خپل ارزښتونه په ډېر جذاب او مؤثر ډول تر عامو مسلمانانو ورورسوي، او مسلمان علماء او دعوتګران تر ډېره حده په دې کې پاتې راغلي چې د خپل دين حقائق او عالي ارزښتونه په ښه ډول مسلمانانو ته وړاندې کړي، او پر حقانيت او افاديت يې د خلکو باور ورجوړ کړي.

د دعوت او فکري تأثير ګذارۍ علماوو د دعوت د عمليې لپاره لاندې څلور ارکان په ګوته کړي دي:

**اول رکن- داعي:**

د دعوت په عمليه کې تر ټولو مهم رکن دعوتګر دی، ځکه چې دعوتګر هغه څوک دی چې پر دعوت، مدعو، د دعوت پر محتوې(هغه څه چې

خلک ورته دعوت کېږي) او همدارنګه د دعوت پر طريقو او د دعوت پر زماني او مکاني محيط يې پوره تأثير وي.

که داعي يو مخلص، صابر، مهربانه، با احساسه، خوش اخلاقه، د خپل دعوت په محتوا پوه او د هغه له اهدافو او مقاصدو باخبر، باعمله، د پراخو معلوماتو او د تأثير ګذارۍ د مادي او معنوي وړتياوو درلودونکی، د ټولنې په نبض پوه او په سياسي، ديني، اجتماعي او ملي مناسبتونو خبر شخص وي، نو دعوت به مثمر او کامياب وي، او د پيغام اورېدونکي او منونکي به يې ورځ تر بلې زياتېږي. او د دې برعکس چې په څومره اندازه پورته ياد شوي صفات په دعوتګر کې کم وي، نو په هماغه اندازه به يې د دعوت تأثير کم او نتيجه کمزورې وي.

دا چې پورته ياد شوي صفات او وړتياوې بايد په دعوتګر کې راشي، نو بايد هغه ته د دعوت علم وروښوول شي، او دعوتګر د تجربه کارو استاذانو لخوا داسې وروزل شي چې له خپلې ټولنې سره ښه تعامل وکړای شي، او د قيادي صلاحيتونو خاوند شي.

د دعوتګرانو د روزنې کار هغه وخت په ښه ډول ترسره کېدی شي چې هم د افغانستان په حکومتي او غير حکومتي پوهنتونونو کې د دعوت فاکولتې او تخصصات ايجاد شي او فارغينو ته يې د نظام په بېلابېلو تعليمي او نشراتي ادارو کې د استخدام پراخه زمينه برابره شي، هم د مدارسو په تعليمي نصاب کې د دعوت د علم کتابونه ورداخل کړای شي او تدريس ته يې دومره توجه وشي لکه د صرف، نحوې او منطقو علم ته چې کېږي، او هم د اوقافو د وزارت د مساجدو د رياست په جوړښت کې د دعوت انسټيټيوټ جوړ شي چې د مساجدو امامانو ته د دعوت لارې چارې وروښيي، او هم بايد د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د وزارت په جوړښت کې د دعوت انسټيټيوټ

مدرسه او مبارزه

جوړ شي او د دعوت او احتساب لپاره داسې محتسبين او دعوتگران وروزي چې په ماهرانه او مسلکي ډول د دعوت او احتساب لپاره د مطلوبې وړتيا درلودونکي علماء وروزي.

اوس خو د تأسف ځای دی چې د دعوت إلی الله په څېر د يوه ستر او مقدس کار د زده کړې لپاره چې الله تعالی خپل ټول انبياء کرام د هغه د ترسره کولو لپاره رالېږلي دي موږ په خپل تعليمي نصاب کې يو کتاب هم نه لرو.

په اوسني وخت کې چې څوک د دعوت علم ونه لولي، د دعوت معاصر اساليب او وسائل ونه پېژني، د ننني زمانې د انسان د مخاطبولو لپاره فکري ادبيات ونه لري او د هغه د مخاطبولو لپاره په ځان کې وړتيا پيدا نه کړي، نو څنگه به پر خلکو خپل اثر پرېږدي؟ او څنگه به د خلکو له ذهنونو هغه تأثيرات وتوږي چې د کفارو او گمراه فکري مذاهبو له لوري پرې په سياسي، فکري او اخلاقي ډگرونو کې راغلي دي؟

که په هندوستان کې د طب يو ډاکټر چې د ديني مدرسې فارغ هم ندی خو د معاصر دعوت د طريقو او وسائلو په کارولو په يوازې ځان تر سلو مليونو ډېر مخاطبين پيدا کولی شي او په زرگونو خلک مسلمانولی شي، نو يو څوک چې له دوولسو څخه تر پنځلسو کلونو پورې يې شرعي علم حاصل کړی وي، او په هره درجه کې يې د دعوت يو کتاب هم لوستلی وي، نو له هغه به ولې يو کامياب دعوتگر نه جوړېږي.

**دويم رکن- مدعو:**

د دعوت د عمليې دويم رکن مدعو (هغه څوک چې بلنه ورکول کيږي) دی. په دعوت کې د مدعو درک کول د دعوت او دعوتگر د کاميابۍ تر ټولو مهم

عامل دی، ځکه چې ترڅو چې دعوتګر خپل مدعو ونه پېژني او په دې پوه نشي چې آیا مدعو خالي الذهن دی که د کوم فکر او عقیدې خاوند دی؟ باسواده دی که بې سواده؟ معاند(ضدي) دی که مسالم؟ فرد دی که ټولنه؟ حاکم دی که محکوم؟ ښاري دی که کلیوال او اطرافي؟ دکوم ډول سایکولوژۍ (نفسیاتو) خاوند دی او په کوم محیط کې اوسي؟ د اسلامي احکامو، ارزښتونو او اسلامي نظام په اړه شکوک او شبهات لري چې باید لیرې شي، او که له شکوکو او شبهاتو خلاص دی؟ د عمر او علم په کومه مرحله او سطحه کې دی؟

د مدعو په اړه پر پورتنیو ټولو نقطو پوهېدل له دعوتګر سره په دې کې مرسته کوي چې خپل مدعو څنګه مخاطب کړي؟ د اقناع له کومو دلائلو او وسائلو کار واخلي؟ پر مشکلاتو یې څنګه صبر وکړي؟ د کومې لارې په خپلولو یې خپل کړي؟ او څنګه یې له پردیو تأثیراتو وساتي؟

موږ باید د مدرسې عالم او طالب ته د دعوت او فکري تأثیر ګذارۍ ټولې طریقې، علمي او رواني میتودونه ور وښیو چې د هغو په وسیله د خپل ولس له ذهنونو د پردیو افکارو او نظریاتو تأثیرات وتوږي، او د ژوند په ټولو ډګرونو کې یې د اسلامي احکامو پر منلو او د اسلامي نظام پر طاعت او ملاتړ قانع کړي. او که داسې ونشي، نو بیا به هغه تېره ناکامه تجربه تکرار شوې وي چې زموږ مجاهدینو په عسکري لحاظ کمونستان مات کړل، خو کمونیزم مو د هغوئ له ذهنه ونه وېستلی شو، بلکي اوس هم د هغوئ په فکر، اخلاقو، قناعتونو او دریځونو کې ځاي لري، که څه هم چې اوس به یې تر ډېره حده د روسي (سوسیالیزم) بر فکر او عقیدې د غربي (لیبرالیزم) فکر او عقیده غالبه شوې وي، خو له اسلام او اسلامي نظام سره هېڅکله بېرته نه دي پخلا شوي.

**درېیم رکن- وسائل او مېتودونه:**

د دعوت درېیم رکن د دعوت طریقې او هغه لارې چارې دي چې د هغو په کارولو دعوتګر خپل پیغام په مناسب ډول خپلو مخاطبینو ته رسولی شي.

لکه څنګه چې انسانان د فکرونو، خویونو، عقلي توانایيو، ذهني ظرفیتونو، عمرونو، جنسونو، اخلاقو، دینونو او عقائدو، فرهنګونو، د ژوند د محیطونو او د دعوتګرانو په مقابل کې د دریځونو له لحاظه یو له بل سره متفاوت دي، همدغه ډول هغوئ ته د پیغام د رسولو طریقې او وسائل هم متفاوت دي، او دا ځکه چې په کومه طریقه چې خالي الذهنه انسان ته خبره کېږي ښایي هغه طریقه به د یوې نظریې او فلسفې خاوند ته نه یوازې دا چې مناسبه به نه وي، بلکې اصلا به مفیده نه وي، او همداسې نور هم در قیاس کړئ. او په کومه طریقه چې جهري دعوت ترسره کېږي یقینا چې په سرّي دعوت په هغه طریقه نه تر سره کېږي.

الله تعالی هم په قرآن کریم کې د انسانانو د پوهولو لپاره په بېلابېلو طریقو هغوئ مخاطب کړي، او د مفاهیمو د وضاحت لپاره یې بېلابېل حسّي او معنوي مثالونه بیان کړي دي.

الله تعالی په په قرآن کریم کې د نوح علیه السلام چې د اولوالعزمو رسولانو له ډلې څخه دی او نهه نیم سوه کاله یې خپل امت ته په دعوت کې تېر کړي دي او هم د نورو مبارکو انبیاوو علیهم السلام د دعوت د بېلابېلو طریقو یادونه کوي چې هم به یې په سرّي ډول دعوت کاوه، او هم به یې جهري، هم به یې د شپې دعوت کاوه، او هم به یې د ورځې، هم به یې خپلو قومونو ته د دعوت د منلو دنیوي او اخروي فوائد بیانول، او هم به یې د مخالف له بدو انجامونو وېرول.

مدرسه او مبارزه

رسول الله صلّى الله عليه وسلم هم د دين د خپرولو او خلکو ته د قناعت ورکولو لپاره بېلابېلې طريقې او وسائل کارولي دي.

د دعوت او د پيغام د رسولو وسائل هم په هره زمانه کې له بلې متفاوت وي. په پخوا زمانه کې به دعوت يو چا ته په مخامخ وينا او موعظه، ليک ورلېږلو او يا د کتاب په تأليف تر سره کېده، خو اوس د دعوت، د مفاهيمو د خپرولو او د پيغام د رسولو لپاره داسې وسائل ايجاد شوي چې په يوه وخت کې لسګونو مليونو انسانانو ته په ډېرې آسانۍ، چټکتيا او مؤثر ډول پيغام رسوي، چې راډيو، تلوېزيون، انټرنټ، جرائد، مجلې او نور ډېر وسائل په دې جمله کې راځي.

موږ بايد په اوسنۍ زمانه کې په مؤثر ډول د دعوتګرانو د روزلو په مقصد په مدارسو کې خپلو طالبانو او علماوو ته د دعوت د پخوانيو طريقو ترڅنګ له موجودې عصري ټکنالوژۍ د استفادې لارې چارې هم ور وښيو، او په پراخه پيمانه او مؤثر ډول هم خپل دعوت خپور کړو، او هم د باطلو اديانو، افکارو او فلسفو مقابله وکړو.

**ځلورم رکن- د دعوت محتوا:**

د دعوت ځلورم رکن چې تر ټولو مهم رکن ګڼل کېږي پخپله د دعوت محتوا ده. د دعوت محتوا هغه څه ته ويل کېږي چې دعوتګر د هغه لوري ته خلک وربولي. د مسلمان دعوتګر لپاره د دعوت محتوا پخپله د اسلام دين دی چې يوازې په همدې دين کې د ټول انسانيت د دنيا او آخرت ريښتينی سعادت نغښتی دی او الله تعالی خپل ټول پيغمبران همدې دين ته د دعوت لپاره مبعوث کړي دي.

دعوتگر باید د خپل دعوت پر محتوا ښه پوه وي، د هغه پر حقانیت او افادیت معتقد وي او ښېګڼې یې ورمعلومې وي، او تر مدعو مخکې باید همدی د خپل دعوت د محتوا ښه منونکی او پر هغې تر نورو ښه عمل کوونکی وي. او دا ځکه چې دعوتگر په حقیقت کې د عوت د محتوا هینداره وي، او هغه څه ته چې خلک وربولي هغه باید په ده کې موجود وي، ترڅو د ده عمل او اخلاق د ده دعوت تصدیق وکړي.

خلک د دعوتگر دعوت د هغه د شخص او عمل په آینه کې ګوري، که د دعوت د محتوی آثار په ده کې موجود وو، نو خلک یې هم ورسره مني، او که په ده کې هغه څه چې خلک ورته وربولي موجود نه وي، نو خلک بیا داسې ګڼي چې که د ده د دعوت محتوی د منلو وای، نو ده به پخپله منلی وای. او دا چې دی یې پخپله نه عملي کوي نو د دې معنی خو دا ده چې دعوتگر پخپله د خپل دعوت پر حقانیت، معقولیت، او افادیت معتقد نه دی. خو که په دعوتگر کې د ده د دعوت د محتوا تطبیق او آثار معلومېدل، نو بیا که خلکو ته وواېي او که یې ونه وایي خلک د ده په عمل کې د دعوت محتوا ګوري او عمل وربانديې کوي او د دعوتگر پر لاره ځي.

موږ چې د مدرسې له طالبه د اوسنۍ او راروانې زمانې د فتنه ځپلیو انسانانو لپاره دعوتگر جوړوو او هم له هغه څخه غواړو چې د اوسنۍ زمانې د کفر او ګمراهیو د پېچلیو اشکالو او انواعو په مقابل کې دې ودرېږي او په عالمانه او عاقلانه ډول دې هم هغه رد کړي، او هم دې انسانان د هغو له فساد او شر څخه وژغوري، نو باید هغه ته د دین محتوا په اصیل او هر اړخیز ډول ورزده کړل شي، او د دین له عقیدوي، تعبدي، اخلاقي، سیاسي، اجتماعي، دعوتي، اقتصادي، عسکري او تمدني اړخونو سره په ښه ډول آشنا کړای شي، ترڅو په دې ټولو مجالونو کې د دین ښه نماینده ګي وکړای شي، او مقابل لوري ته

په دې ډګرونو کې د دين پيغام په ښه ډول ورسولی شي، او دې هدف ته په هغه وخت کې رسېدی شو چې د مدارسو نصاب مو دغه ټوله محتوا په متوازن او متناسب ډول په ځان کې ولري، او داسې نه وي چې د منطقو او فلسفې په نامه دې د افلاطون او ارسطو د نظرياتو څوارلس کتابه تدريسېږي، خو د دعوت إلى الله د علم په اړه دې په نصاب کې يو کتاب هم نه وي چې تدريس شي.

## غربيان څنګه د دعوت او معاصرې تأثير ګذارۍ له لارې نور ولسونه تسخيروي؟

هېوادونه تر هغه يرغلګرو او اشغالګرو ته نه تابع کېږي چې ترڅو يې ولسونه نه وي تابع شوي. او ولسونه تر هغه پرديو ته نه تابع کېږي چې ترڅو يې عقلونه او فکرونه هغوئ ته نه وي تابع شوي. او د ولس د افرادو فکرونه او عقلونه تر هغه وخته بل چا ته نه تابع کېږي چې ترڅو يې فکر ورکوونکي اشخاص، ادارې او ذهن جوړونکي وسائل او عوامل د دښمن لاسته ورلوېدلي نه وي.

له همدې امله خو يرغلګر او اشغالګر قوتونه تر يرغل د مخه او وروسته د جنګي وسائلو تر څنګ په پراخه پيمانه او په سيستماتيک ډول د فکر ورکولو او ذهن جوړولو ټول وسائل په کار اچوي ترڅو تر يرغل مخکې او وروسته د نيول کېدونکي يا نيول شوي هېواد د ولس د خلکو ذهنونه داسې عيار کړي چې د يرغلګرو په خلاف له مقاومته مأيوس، د مقاومت پر افاديت بې باوره، او په سايکالوژيک (روحي) لحاظ دښمن او د هغه هر ډول پلانونو ته ورتسليم شي.

د ولسونو په تسخیرولو کې ډېر ترکیز د هغو پر عقلي، روحي، عاطفي او سلوکي جوانبو وي چې په لاندې ډول تر سره کېږي:
۱ـ عقل یې کنټرولیږي.
۲ـ روح او روان یې په هغه ډول عیارېږي چې مستعمرین یې غواړي.
۳ ـ عواطف، احساسات او شعوري څواک یې داسې مهندسي کېږي چې خپل ارزښتونه ورته بې قدره او د یرغلګرو ارزښتونه ورته قدرمن ښکاره شي، او د خپلو خلکو پر ځای یې له اشغالګرو سره خواخوږي پیدا شي.
۴ ـ د ټولنې اخلاق، سلوکیات، مصروفیات او ژوندبڼه پداسې ډول مهندسي کېږي چې باید له یرغلګرو سره پوره ورته والی ولري، ترڅو تسخیرېدونکی ولس د تسخیروونکو اشغالګرو په اړه د پردیتوب احساس ونه کړي، او د ژوند په ټولو مادي او معنوي صحنو کې ځان د هغوئ په څېر وویني.
دا چې په فکري لحاظ تسخیر شوو خلکو ته د ښه ژوند فرصتونه او وسائل د اشغالګرو له تسلطه حاصل شوي وي، نو باید په روحي لحاظ د هغوئ منونکي او احسانمن و اوسي، په سیاسي لحاظ یې پیروي وکړي، په عسکري لحاظ یې ملګري و اوسي او د هغوئ د دښمن په مقابل کې یې ترڅنګ ودرېږي، او په اجتماعي او فرهنګي لحاظ ځان د هغوئ برخه وګڼي. نو په دې ډول به یرغلګر او اشغالګر له دې بې غمه شي چې څوک به یې په مقابل کې ودرېږي او د پلانونو د عملي کېدو مخنیوی به یې وکړي.
او که بالفرض یوه وړه برخه خلک د مخالفت او مقاومت لاره هم ونیسي، نو د ولس نور خلک به په دې دلیل د هغوئ په خلاف ودرېږي چې مقاومت کوونکي د دوئ په ژوند کې استقرار له منځه وړي، د پرمختګ مخه یې نیسي، او د نظام او د هغه د نړیوالو دوستانو تر منځ روابطو ته صدمه رسوي، نو باید له منځه یوړل شي، چې په دې ډول بیا اشغالګر قوتونه د اشغال شوي

ولس خلک د نیابتي جګړې لپاره د مفتو ملیشو او بې مزده مزدورانو په حیث د مقاومینو په ضد استعمالوي، چې همدغه کار په پراخه پیمانه پخوا په زاړه شکل انګریزانو په خپله لویه امپراتورۍ کې ترسره کاوه، او د هند د نیمي وچې خلک به یې په آسیا او اروپا کې د خپلو دښمنانو په خلاف جنګول، او اوس یې په نوي شکل کې امریکا پداسې ډول ترسره کوي چې تقریبا د ټولو اسلامي هېوادونو نظامونه یې د مسلمانو ولسونو او آزادي غوښتونکو حرکتونو او نهضتونو په خلاف په جګړو کې مصروف کړي، او ولسونه یې د بېلابېلو وسائلو په کارولو د همدې نظامونو لپاره تابع کړي دي.

**په عقلي لحاظ د ولسونو تسخیرول یو دقیق علمي او تخنیکي عمل دی:**

نن چې په اسلامي نړۍ کې د مسلمانانو تقریبا ۵۷ هېوادونه او د هغو ولسونه تر ډېره حده په سیاسي، نظامي، عدلي، فرهنګي او اجتماعي لحاظ په غرب پسې روان او د غربیانو په اخلاقي او معنوي ارزښتونو باورمن شوي دي، دا هر څه یوازې د پوځي غلبې په نتیجه کې نه دي رامنځته شوي، بلکې د دې کار لپاره د غرب د سیاست، سایکالوژۍ (اروا پوهنې) ټولنپوهنې، تعلیم او تربیې او د اعصابو متخصصینو پراخې او ژورې څېړنې او عملي تجربې ترسره کړې دي، او د همدغو څېړنو او تجربو په نتیجه کې داسې میتودونه، فارمولې او کړنلارې په لاس ورغلي دي چې د هغو په دقیق ډول عملي کولو یې د نړۍ او په خاص ډول د اسلامي نړۍ د ولسونو په عقلي، فکري، عاطفي او اجتماعي وضعیتونو کې پراخ او ژور بدلونونه راوستل، او د پردیو هېوادونو د نیولو او د هغو د ولسونو د تسخیرولو لوی او خطرناک کارونه چې پخوا به یې په پوځي لښکرکشیو او درنو مصاریفو او د تلفاتو په زغملو ترسره کول اوس یې د څو خاصو میتودونو په کارولو او د خاصو او دقیقو استراتېژیو په عملي

کولو په اسانه ډول داسې ترسره کوي چې د اسلامي هېوادونو نظامونه او ولسونه يې پخپله د عملي کولو لپاره ليوالتيا ښيي او يو تر بله ورکې مخکې کيږي.

**د ولسونو د عقلي تسخير د علم معاصر تاريخ:**

په عقلي او فکري لحاظ د ولسونو د تابع کولو تاريخ د بشريت د تاريخ په اندازه پخوانې دی، او د تاريخ په اوږدو کې تل غالبو او يا هوښيارو خلکو کوښښ کړی چې د افرادو او ولسونو ذهنونه داسې مهندسي کړي چې پخپله خوښه په غالبو خلکو پسې روان شي. د دې مقصد د حاصلولو لپاره د تاريخ په اوږدو کې خارجي يرغلگرو او يا داخلي حکامو د ولسونو ديني عقائد او رواني وضعيتونه مطالعه کړي او د هغوئ د ذهنونو د بدلولو او يا له مطلوب بدلون څخه د مصروف ساتلو لپاره يې ستراتېژۍ جوړې کړې او سنجول شوي اقدامات يې ترسره کړي دي.

په معاصر تاريخ کې دې علم ته تر نورو خلکو د اروپايانو ډېر پام ورواوښت، ځکه چې اروپايې دولتونو آسيايي او افريقايي هېوادونه او ولسونه لاندې کړي وو، او هر وخت به له دې په وېره کې وو چې هسې نه چې په نيول شويو هېوادونو او تسخير شويو ولسونو کې د مستعمرينو په خلاف د آزادۍ غوښتنې ځپې او حرکتونه زور واخلي او دوئ له خپلو مستعمراتو او نيول شويو هېوادونو وشړي. نو د دې لپاره چې د دغه ډول وضعيت د رامنځته کېدو مخنيوی يې کړی وي خپلو سياسي، فکري، تعليمي، متخصصينو او د ټولنپوهنې، اروا پوهنې او انسان پوهنې ماهرينو ته يې وظيفه ورکړه چې په نيول شويو هېوادنو او ولسونو کې په عقلي او فکري لحاظ د خلکو د مصروف ساتلو لپاره داسې پلانونه او د تطبيق وړ استرتېژۍ جوړې او تنفيذي

جهتونو ته يې د عملي کولو لپاره ورکړي چې مستعمرين د هغو په مټ وکولی شي تسخير شوي خلک او نيول شوي هېوادونه په خپله خوښه اداره کړي.
دغه علم او تخنيک په هغه وخت کې ډېر منظم او هر اړخيز شکل غوره کړ چې په نولس سوه دېرشمه لسيزه کې جرمن مشر (هټلر) د ټولې اروپا د لاندې کولو په مقصد لويه جګړه پيل کړه، او د مليونونو يهودانو په شمول يې د نورو ولسونو ښه ډېر وګړي هم په لويو کمپونو کې بنديان کړل او جرمني پوهانو پر هغوئ ډول ډول (رواني) او (فزيکي) تجربې اجراء کړې.
د نازي جرمني انساپوهانو، ټولنپوهانو او اعصاب پوهانو خپل تجارب په دقيق ډول اجراء او په تفصيلي ډول يې د هغو نتائج تدوين کړل، او له هغو يې د افرادو او ولسونو د عقلي او رواني تسخير لپاره نوي مېتودونه او تخنيکونه ايجاد او تطبيق کړل.
کله چې نازي جرمني او (هټلر) ماتې وخوړه د امريکا استخباراتي ادارې C.I.A د دغه علم او تخنيک جرمن ماهرين ورجذب کړل، او د نړۍ د ولسونو او افرادو د عقلي او رواني تسخير لپاره يې د هغوئ له تجاربو او علمي لاسته راوړنو کار واخيست.
امريکايي استخباراتي ادارې C.I.A په خاص ډول، او د انساني علومو نورو ادارو دغو تخنيکونو ته نوره هم وده ورکړه، او د خپلو دښمنانو د کمزوري کولو او د نړۍ پر نظامونو او ولسونو د خپلې نړيوالې برلاسۍ د منلو په لاره کې يې په پراخ ډول تطبيق کړل.
د دې لپاره چې په عقلي، رواني او فرهنګي لحاظ د نړۍ او په خاص ډول د اسلامي نړۍ د ولسونو په تسخيرولو کې امريکايي نظام لوی لاس ولري او د نظامي او اقتصادي پاليسيو د تطبيق لپاره يې د نړۍ د خلکو ذهنونه په پراخ

ډول مهندسي کړي وي نو يي د ۴۵۰۰ په شاوخوا کې د (Think Tanks) په نومونو فکري مراکز ايجاد او د بېلابېلو مجالاتو متخصصين يې ورکې په کار وګومارل چې د نړۍ د ولسونو ټولې چارې په اختصاصي ډول تر څېړنې لاندې ونيسي.

په تېره يوه نيمه پېړۍ کې غربي فکر او فرهنګ او امريکايي سياسي برلاسۍ د اسلامي نړۍ ټول هېوادونه تر خپل سياسي تأثير او تسلط لاندې وروستل، او د ټولو مسلمانو ولسونو په ژوند او نظامونو يې خپل فکر، فرهنګ، قوانين او اجتماعي ارزښتونه ورتحميل کړل. د دغه تأثير او تسلط په نتيجه کې د اسلامي نړۍ تقريبا ټولو ولسونو خپل اصلي فرهنګ، قوانين، اخلاق او تر ډېره حده ديني ارزښتونه له لاسه ورکړل، او د غرب د نظامي، سياسی او فرهنګي برلاسۍ په مقابل کې يې د تسليمۍ لاسونه پورته کړل.

خو د نورو اسلامي هېوادونو په خلاف افغانستان د يوه هېواد او افغانان د يوه ولس په حيث کله هم په ټوليز ډول د غربي فکر او فرهنګ تر تسلط لاندې را نه غلل. نه يوازې دا چې تر تسلط لاندې نه شول، بلکې د غربي او روسي توسعه طلبۍ په مقابل کې يې په مېړانه مقاومتونه وکړل چې د انګريزانو، روسانو او امريکايانو په مقابل کې يې اوږده مقاومتونه د دې وضيعت شاهدي ورکوي.

غربيانو ته دا هم ورمعلومه شوه چې د افغانانو مقاومت د هغوئ د پوځي او اقتصادي قوت له امله نه، بلکې د دوئ د ايماني قوت او د دوئ او د غربيانو تر منځ په فکري، اجتماعي او ديني ارزښتونو کې د لوی تفاوت او شديد تضاد د شتون له امله دی، نو هماغه و چې د غرب فکري، سياسي، ديني او اقتصادي مؤسسات د دوئ د پوځي مؤسساتو ترڅنګ ټول په دې هڅه کې

شول چې افغانستان هم په هر لحاظ لاندې کړي، ترڅو د مخالفت دا یوازینی مرکز هم ترخپل تسلط لاندې ورولي.

غربي استخباراتي کړیو چې په افغانستان کې چې د خپلو نظامونو او فکري مراکزو توصیې او پلانونه عملي کول له پخوا څخه مشهور سیاسي، جهادي او قومي شخصیتونه او د هغوئ کورنۍ ترکار لاندې نیولې وې چې په نتیجه کې یې د همدغو کورنیو او بانفوذه شخصیتونو اولادونه د یرغلگرو او اشغالگرو په صف کې ودرېدل او د هغوئ د اهدافو د تحقق لپاره یې ښه ډېر کار وکاوه.

د امریکا له لوري د افغانستان تر اشغال وروسته غربیانو په خلاص مټ او په لویه پیمانه په افغاني ټولنه په خپله گټه د بدلون راوستلو لپاره د دولتي مؤسسو تر څنگ نادولتي مؤسسې هم جوړې کړې. دغه نادولتي مؤسسې دومره ډېرې شوې چې یو ځل (رمضان بشردوست) چې د کرزي په کابینه کې د پلان وزیر وو تقریباً ۲۰۰۰ مؤسسې په یوه ورځ لغو کړې چې د هغه د دې اقدام په عکس العمل کې څو ورځې وروسته دی پخپله له وزارت څخه لیرې کړای شو. تر فتحې وروسته بشر دوست همدغه حقیقت ما ته پخپله هم تأیید کړ.

امریکا او ورسره ټول غرب د خپل پوځي اشغال تر سیوري لاندې پراخې هڅې وکړې چې د بېلابېلو سیاسي، فرهنگي، تعلیمي او ټولنیزو مؤسسو په لاس په افغاني ټولنه کې داسې ژور بدلون رامنځته کړي چې په راتلونکي کې افغانستان هم د نړۍ د نورو هېوادونو په څېر د ژوند په هر ډگر کې په ځان پورې وتړي او جهادي فکر او عمل پالل او د اسلامي نظام رامنځته کول د خلکو له ذهنونو وباسي.

د غربي دولتونو او په خاص ډول د امریکا استخباراتي او د ذهنونو د مهندسي کولو ادارو چې په افغانستان کې په دې ډګر کې کوم لوی کارونه ترسره کړي دي په لاندې ډول یې د ځینو یادونه کوو:

۱ ـ د کمونیزم په خلاف د افغانانو د څوارلس کلن جهاد سیاسي او نظامي لاسته راوړنې یې د غرب څولۍ ته ورواچولې.

۲ ـ له یوڅو خاصو جهادي شخصیتونو پرته نور یې ټول جهادي مشران، د هغوئ تنظیمونه، د هغوئ تنظیمي او اداري پرسونل او قومندانان ټول له جهادي فکر او اسلامي اهدافو منحرف کړل، او د محلي ملیشو په حیث یې د یرغلګر ترڅنګ ودرول، او له خپلو ټولو وسائلو، افرادو او ادارو سره یې د مجاهدینو په خلاف کار ورڅخه واخیست.

۳ـ د افغان ولس د ډېرو خلکو فکر، نظر او خواخوږي یې د غربیانو په ګټه عیار کړل.

۴ ـ په ټولنه کې یې سیاسي قومي، سمتي، ژبني او مذهبي تعصبات راوپارول او ټولنه یې داسې متشنجه کړه چې نږدې وه پخوانی جوړښت او کوشېر یې له منځه لاړ شي، اسلامي هویت یې مسخه شي، او سیاسي او اجتماعي یو والی یې نه جبرانېدونکي صدمه ووینې.

دا هر څه ځکه راپېښ شول چې غربیانو د افغانستان د سیاسي، دیني، قومي او پوځي شخصیتونو ذهنونه پداسې ډول مهندسي کړل، او فکرونه او معیارونه یې وربدل کړل چې پر پخوانیو معیارونو یې باور پاتې نشي، او هره ډله د پردیو په مرسته د خپل ځان په ګټه د تبدیلۍ راوستلو په تلاش کې شي، او د پردۍ مرستې د حاصولو لپاره پر هرڅه د سودا لپاره تیار شي.

نعوم چومسکي یو اوکرایني الاصله امریکایي یهودی فیلسوف دی، هغه په ۱۹۲۸م کال کې د امریکا د فلادلفیا د ولایت په ختیځ (اوک لین) کې له

یهودي مور او پلاره زیږېدلی، د پنسلوانیا له پوهنتونه یې په ۱۹۴۹م کال کې په ژبپوهنه کې لسانس، په ۱۹۵۱م کې ماستري او له همدې پوهنتونه په ۱۹۵۵م کې د دکتوراه سندونه تر لاسه کړي دي. هغه د عبري ژبې ( دیهودو د ژبې) یو لوی ژبپوه، معاصر ټولنپوه، تاریخپوه، سیاستپوه، د لیبرال پانګه وال نظام مشهور نقد کوونکی او د امریکا ستر فیلسوف دی.
چومسکي پر ژبپوهنې، سیاست، جګړې، میډیا او د معاصرې نړۍ پر بېلابېلو نورو موضوعاتو تر ۱۰۰ زیات کتابونه لیکلي دي. هغه که څه هم چې یهودی دی، خو د اسرائیلو له نظام او سیاست سره یې جوړه نه ده. هغه د پانګه وال نظام د نقد کولو تر څنګ د امریکا د پالیسیو سر سخت مخالف دی، او د نورې نړۍ له ولسونو سره د امریکا پر سیاست او تعامل یې ژورې څېړنې او پاخه نقدونه کړي دي. امریکایي ولسمشر ریچارد نېکسون هغه د امریکا د دښمن په حیث هم معرفي کړی وو. دغه یهودي فیلسوف او ډېرو نورو پوهانو هغه لارې چارې او منظمې استراتېژۍ په خپلو کتابونو او مضامینو کې خلکو ته معرفي کړې دي چې غرب او په خاص ډول امریکا د هغو له لارې د نرم قوت (soft power) په کارولو د ولسونو ذهنونه مهندسي کوي او د خبرې منلو او په ځان پسې روانولو ته یې تیاروي.
زموږ د مدارسو استاذان باید د پراخې مطالعې له لارې هغه لارې چارې، وسائل او فکري فعالیتونه وپېژني د کومو په استعمال چې غربیان او نور کفار په مسلمانو ټولنو کې فکري تأثیر ګذاري کوي.

**غربیانو د افغانستان د اشغال په کلونو کې د دعوت او فکري تأثیرګذارۍ وسائل څنګه وکارول؟**

اشغالګرو امریکایانو او اروپایانو د افغانستان د اشغال په شلو کلونو کې په خپله ګټه د افغانانو د ذهنسازۍ په مقصد په پراخ ډول د فکري تأثیرګذارۍ وسائل وکارول او د دې خاورې ډېر خلک یې له ځان سره داسې ملګري کړل چې بېرته یې د علماوو، مدارسو، مجاهدینو او عامو اسلامپالو پر ضد وکارول.

غربي اشغالګرو تل په خپلو مستعمراتو کې د ولسونو د تسخیر او پر اسلام د خلکو د باور د کمزورۍ کولو لپاره په ډېر مهارت فکر، تعلیمي نصابونه، ادبیات، فرهنګ، فیشن، موسیقي او څېړنیز مراکز کارولي دي، او د دوئ د دې فعالیتونو په نتیجه کې چې د کومو خلکو باور پر خپل دین او خپلو ارزښتونو کمزورۍ شي هغوئ د دښمن په صف کې درېږي، او د هغه د پلانونو او پروګرامونو د تطبیق لپاره عملي کار کوي چې عملي مثالونه یې موږ د روسانو او امریکایانو د اشغال په وخت کې ولیدل.

امریکایانو د خپل اشغال په وخت کې په مستقیم او غیر مستقیم ډول په افغانستان کې د افغانانو او د قبائلي سیمي د خلکو د فکري تسخیر په مقصد ۲۵۰ راډیویي او او ۹۵ تلویزیوني سټېشنونه یا فعال او یا تمویل کړل، چې په هر سټېشن کې په لسګونو مامورینو، نطاقانو، ادیبانو، شاعرانو، مسخره چیانو، مفکرینو، شاعرانو، فني ماهرینو، د پروګرامونو طراحانو او په لسګونو فکري موجهینو کار کاوه چې خارجي مشاورین او سفارتونه یې ترشا ولاړ وو.

غربیانو د خپلو اهدافو د تحقق لپاره اول په افغاني ټولنه کې اولویات تشخیص کړل، او بیا یې د همدې اولویاتو په پام کې نیولو سره خپل فکري او دعوتي فعالیتونه د خبري اژانسونو د تأسیس، د فلمونو د جوړولو، د سریالونو

د دوبله کولو، د خبري، تحليلي، تربيوي، تعليمي او تفريحي پروګرامونو د خپرولو په شکل کې اجرا کړل، او له دې لارې يې د دې ټولنې ديني، فکري، اخلاقي او اجتماعي ارزښتونه تر ضربې لاندې ونيول، او د هغو په بدل کې يې غربي مفاهيم ورتلقين کړل، د ماشوانو، پېغلو او ځوانانو، لويانو، ښځو او نارينه وو لپاره يې جلا جلا سنجول شوي پروګرامونه خپاره کړل، او کوښښونه يې وکړل چې دا ټولنه په هر څه کې په غرب پورې وتړي او غربيان او غربي دوله ژوند ورته د غوره بېلګو په حيث وړاندې کړي.

پر افغاني ټولنه د غرب د فکري تأثير ګذارۍ د ژورې اغېزې يوه مثال په دې شکل کې راووت چې کله چې امريکايان او غربيان له افغانستانه وتل نو په سلګونو زره له هغوئ متأثره افغانان هم څه ورسره يوځای ووتل، او څه له بېلابېلو لارو ورپسې ورغلل.

د پورته يادو شوو منفي تأثيراتو له شتون سره بيا هم په افغاني ټولنه کې دعوت او اسلامي ذهن جوړونه تر نورو ولسونو ډېر تأثير لري، ځکه چې نور ولسونه غربيانو په فکري لحاظ لاندې کړي دي او له دې وضعيت څخه يې راوېستل نهايت ډېر فعاليت ته ضرورت لري، خو افغانان که څه هم چې د ډېرو يرغلګرو پوځونو او د پرديو واردو شوو افکارو او نظرياتو تر تأثير لاندې راغلي دي، خو په لويه پيمانه له خپلو ارزښتونو نه دي پردي شوي، نو ځکه خو اسلامي دعوت او فکري فعاليت ورکې ژر تأثير ښکاره کوي.

د دې لپاره چې د دعوت فکر او عمل زموږ په مدارسو کې بنسټيز شي او مثبت تأثير يې د افرادو او ټولنې د ژوند پر ټولو اړخونو مرتب شي، بايد په تعليمي نصاب کې د دعوت علم ته ځانګړې ځای ورکړو، اساليب او وسائل يې وپېژنو، د مدارسو، مکاتبو، پوهنتونونو طالبانو ته د پخوانيو انبياو عليهم السلام، د رسول الله صلی الله عليه وسلم، د دې امت د لويو دعوتګرانو،

مفکرینو او د هغو علماوو د دعوت د تاریخ، تأثیراتو او کارنامو په اړه کافي معلومات ورتدریس شي چې د دې امت دیني هویت یې ساتلی، د اسلام علوم او محاسن یې خلکو ته بیان کړي، او د اسلام د دښمنانو شبهاتو ته یې ځوابونه ویلي دي، ترڅو مو علماء او دعوتگران د دعوت په مجال کې د غوره مثالونو په لیدلو د هغوئ پیروي وکړي، او د دعوت په کار کې له خنډونو او مشکلاتو سره د مخ کېدلو په صورت له نا امیدۍ سره مخ نشي.

او که په ټولنه کې په مؤثر ډول دعوت ونه کړو، نو د ولس د خلکو فکرونه به مو په پردیو پورې تړلي پاتې شي، د پردیو اخلاق او فرهنگ به مو پر ژوند حاکم وي، ځوانان به د اسلام له پټو او ښکاره دښمنانو د تأثر په نتیجه کې له دین، مدرسې، مسجد، ملا، مرشد، اسلامي فکر او اسلامي نظام سره په دښمنۍ کې ودرېږي، د پردیو له لوري د یرغلونو په وخت کې به د هغوئ لپاره، د عسکرو، ملېشو، جاسوسانو، فرهنگي فعالینو او لاسپوڅو رول ادا کوي. دغه خلک به بیا ملا وژني، مسجد او منبر به ورانوي، مدرسه به بندوي، په اسلامي دعوت او فکر به بندیز لگوي، او په خپل افراط او تنگنظرۍ کې به دې حد ته رسیږي چې د اسلامي فکر د خپرولو لپاره به هېڅ فرصت نشي زغملی، خو بیا به هم ځان مسلمان او هېواد پال بولي.

د مدارسو او نصاب مسؤولین مو باید په دې پوه شي چې لکه څنگه چې د خاورې د آزادولو لپاره یوې منظمې مبارزې او انقلابي عمل ته ضرورت و، همدغه ډول د ذهنونو د آزادلو لپاره هم منظم عمل ته ضرورت دی، او دا منظم عمل باید د تعلیمي نصاب له لارې تطبیق شي.

د دعوت په علم کې د اسلامي نړۍ علماوو ښه ډېر کتابونه لیکلي دي. د دغو کتابونو له منځه باید څو مناسب کتابونه انتخاب شي او تر ترجمې یا تلخیص وروسته په تعلیمي نصاب کې ښه ځای ورکړ شي.

د دعوت د علم په اړه درې مهم کتابونه ډېر مشهور او مفيد دي چې په لاندې ډول دي:

۱ـ (اصول الدعوة) د عراق د مشهور فقيه او اصولي عالم دوکتور عبدالکريم زيدان رحمه الله تعالی تألیف.

۲ـ (فقه الدعوة) چې تفصيلي نوم يې(فقه النصح والإرشاد والأمر بالمعروف والنّهي عن المنكر دراسة استنباطية تشتمل على بيان وجوبها و أسسها و مناهجها و سبلها و وسائلها و آدابها و نماذج من تطبيقاتها) دی، چې د شام مشهور فقيه عالم الشيخ عبدالرحمن حسن حبنَّكة الميداني رحمه الله تعالی ليکلی دی.

۳ـ (منهج الدعوة المعاصرة في ضوء الكتاب والسنة) د شام د يوه عالم الشيخ عدنان بن محمد آل عرعور تأليف دی چې د دعوت معاصرې لارې چارې يې ورکې په تفصيل سره بيان کړې دي. پورته ياد شوي او نور ډېر کتابونه په انټرنټ کې پيدا کيږي چې په اسانه را اخيستل کېدی شي.

## څلورم ضروري مضمون ـ معاصره ليکوالي

د ديني مدارسو د نصاب لپاره يو بل ډېر ضروري مضمون چې متأسفانه اوس ورکې نشته هغه د معاصرې ليکوالۍ مضمون دی. د معاصرې ليکوالۍ زده کړه او د هغې عملي کارول د ديني عالم او د مدرسې د طالب لپاره داسې ضروري ده لکه څنګه چې د مجاهد لپاره د وسلې زده کول او عملي کارول ضروري دي.

### معاصره ليکوالي څه شی ده؟

په هره زمانه کې د ليکوالۍ، په ليکلی ډول د انسانانو د مخاطبولو، د ټولنې بېلابېلو طبقاتو ته د ليکنې په بېلابېلو قالبونو کې د مختلفو موضوعاتو د وړاندې کولو لپاره بېلابېل اساليب، ميتودونه، سبکونه موجود وي چې د هماغو په رعايت سره مفاهيم خلکو ته په ښه، اسانه او په په زړه پورې ډول رسېږي. او که په ليکنه کې همدغه اساليب او ميتودونه رعايت نشي نو لوستونکي به په ليکل شويو مفاهيمو په اسانه پوه نشي.

په دې مضمون کې مې د معاصرې ليکوالۍ له زده کړې څخه مقصد دا دی چې د مدرسې عالم او طالب بايد د ليکوالۍ په مجال کې دا وړتياوې ولري چې په روانه، اسانه، معياري او مأنوسه ژبه د خپلې زمانې خلکو ته د ژوند په هر اړخ کې ديني مفاهيم پداسې ډول وليکي چې خلک ورباندې په پوهېدلو کې له مشکل او پېچلتيا سره مخ نشي.

ډېر ځلي داسې پېښ شوي چې له علماوو او هوښيارو خلکو سره مې په مجالسو کې له هغوئ ډېرې ارزښتناکې خبرې، مشورې، وړانديزونه، طرحې، رغوونکي انتقادونه، او عالي مفاهيم اورېدلي دي، خو چې کله مې له هغوئ

غوښتي چې خپل همدغه افکار او نظريات د کوم مضمون او مقالې په شکل کې وليکي او د فائدې د عام کولو په مقصد يې په کومه جريده، مجله او يا کوم انټرنټي ويبسايټ کې نشر کړي چې په زرګونو نور خلک هم ورڅخه استفاده وکړي، نو اکثره يې وايي چې نه پوهېږم څنګه يې وليکم؟ تجربه مې نشته، زه به يې ونشم کولی، او داسې نور ځوابونه. د دغه ډول سړو او سستو ځوابونو او بهانو نتيجه بيا دا شي د علماوو او هوښيارو خلکو د مرغلرو په څېر خبرې او رغوونکې طرحې او نظريات ونه ليکل شي او هسې په هوا کې ورک شي.

د دې لپاره چې علماء او د مدارسو د لوړو درجو طالبان مو معاصره ليکوالي وکولی شي بايد لاندې وړتياوې په ځان کې پيدا کړي:

**د معاصرې ليکوالۍ لپاره ضروري وړتياوې:**

د ليکوال کېدلو لپاره د يو څه وړتياوو درلودل او رعايتول ضروری دي چې بايد د مدرسې په طالبانو کې د تعليمي نصاب او عملي تمرين له لارې ايجاد کړای شي. او که څوک دغه وړتياوې ونه لري، نو نه به يې ليکنه معياري وي، او نه به يې لوستونکي له ليکنې ښه استفاده وکړای شي. دغه وړتياوې په لاندې ډول دي:

۱ـ ليکوال بايد د خپلې ژبې د الفاظو ښه پراخه ذخيره ولري، ترڅو د هغو له لارې خپل مفاهيم په پوره وضاحت سره لوستونکو ته وليکلی شي. په ژبه کې د خالصيت راوستلو پخاطر بايد داسې ونشي چې ژبه څو سوه کاله شاته وګرځول شي، بلکې ښه خبره دا ده چې خلکو ته په آشنا او عام فهمو الفاظو او تعبيرونو خبره وليکل شي، خير دی که هغه عام فهم او پېژندل شوی لفظ په اصل کې د کومې بلې ژبې وي.

په لیکنه کې له ځانه د جوړوشوو او ډېرو زړو او له کاره لوېدلو الفاظو استعمال مضمون بې خونده کوي او د لوستونکي پام له معنی څخه الفاظو ته ور اړوي. خو د دې خبرې معنی دا نده چې یوه ژبه دې د بلې ژبې په الفاظو داسې مسخ شي لکه د پېښور انګریزۍ ځپلیو ښاري پښتنو چې له (پښتو) څخه (انګلستو) جوړه کړې ده.

۲ـ د خپلې ژبې له ګرامر (قواعدو) سره باید پوره بلدتیا ولري ترڅو په سم ډول الفاظ او جملې جوړې کړای شي.

۳ـ د خپلې ژبې له ادبیاتو او معیاري لیکدود سره باید بلد وي او د خپلې ژبې د معاصر نظم او نثر یو څه کتابونه یې لوستلي وي، ترڅو له هغو څخه په تأثر دی هم معاصره لیکوالي وکولی شي. داسې نه چې د دې زمانې انسان ته په هغو الفاظو او اصطلاحاتو لیکل وکړي چې څو سوه کاله مخکې به پرې کېدل.

۴ ـ د معاصرې لیکوالۍ په لیکنښو، جمله بندۍ او فقره جوړولو باید پوه وي. داسې لیکل ونه کړي چې د صفحې له پیله یې تر پایه ټول متن سره وصل وي چې لوستونکی د خپل عقل او فهم په زور د جملو او پراګرافونو په سره جلا کولو ستومانه شي، او یا هم د لیکنښو د نه استعمال له امله په جملو او عبارتونو کې د یوځای کولو او جلا کولو مشکل دومره زیات وي چې د مفاهیمو په فهم کې خلل رامنځته کړي او لوستونکی ترې سم مقصد وانخیستلی شي.

۵ ـ د نثري لیکنې اصناف باید ورمعلوم وي او په دې پوه شي چې مقاله، سرمقاله، کالم، راپور، طنز، خاطره، ناول، کیسه، کیسه ګۍ، سفرنامه او د لیکنې نور اصناف څه شی دي؟

٦ـ لیکوال باید په هر ډول لیکنه کې د سپکې او بې مروته ژبې له کارولو ډډه وکړي، ځکه چې دغه ډول ژبه د لیکوال شخصیت او د هغه د افکارو او نظریاتو مقبولیت ته زیان رسوي، او د لوستونکو باور وربانديې له منځه وړي.

٦ - لیکوال باید د دلائلو، شواهدو، اقتباسونو او د اقوالو په راوړلو کې منصف او امین و اوسي، ځکه چې لیکوال د ټولنې د اجتماعي استاذ او لارښود حیثیت لري. که یو ځل یې خلك په کوم مضمون یا کتاب کې بې انصافي او د امانت او صداقت نشتوالي ووینې، نو بیا یې خلک نورو مضامینو او کتابونو ته هم د بې اعتمادۍ په نظر ګوري.

٧- د مدرسې د عالم او طالب معلومات باید یوازې په دیني موضوعاتو کې منحصر نه وي، بلکې هغه باید د خپلې ټولنې او اسلامي نړۍ په ژوند پورې د مربوطو فکري، اخلاقي، سیاسي، عسکري، اجتماعي، اقتصادي او نورو موضوعاتو په اړه پراخ معلومات ولري، ترڅو د هغو په اړه د دین له لیدلوري لیکنه او وینا وکړای شي، او په هر مجال کې په واقعي معنی د ټولنې استاذ واوسي.

د مدرسې په نصاب کې په عربي ژبه کې ځینې د صرفي او نحوي قواعدو او ادب پخواني کتابونه شته، خو هغه په اوس وخت کې پداسې غیر مؤثر او غیر فعال ډول تدریسیږي چې د ادب له لوستونکو یې ادیبان نه جوړیږي، د شعر او شاعرۍ له لوستونکو یې شاعران نه جوړیږي، د نثر له لوستونکو یې لیکوالان نه جوړیږي، او د بلاغت او معاني تدریس له یې طالبانو بلیغان او معاني پېژندونکي نه جوړوي. او د دې پر ځای چې د طالب ذهن د معانیو او دلالتونو عمق ته بوځي او ادبي ذوق ورکې پیدا کړي، هغوئ په سطحیت کې پاتې کیږي، او په هماغه عربۍ کې هم د لیکوالۍ په ډګر کې د ناتوانۍ اظهار کوي. دا هر څه له دې امله دي چې په دې مجال کې په درس، تدریس او

نصابي کتابونو کې یو څه خلل شته، او تر څو چې د دغه خلل علاج په علمي او عملي ډول و نشي او د صرف او نحوې، لغت او ادب کتابونو او د هغو د تدریس په طریقو کې بدلون رانشي په دې مجال کې به کمزوري همداسې دوام لري.

**ولې باید دیني علماء معاصره لیکوالي زده کړي؟**

نن ورځ په نورې اسلامي نړۍ او هم په افغانستان کې د فکري تأثیرگذارۍ، ټولنیزې ذهن جوړونې، مطبوعاتو او ټولنیزو رسنیو مجال تر ډېره حده د نااسلامي فکر خاوندانو اشغال کړی او د مسلمان امت د سلگونو ملیونو افرادو ذهنسازي د همدوئ په افکارو او نظریاتو کیږي، چې په نتیجه کې یې د اسلامي نړۍ د قضایاوو په اړه دریځونه هم له همدې پردیو افکارو د زیږېدلیو قناعتونو پر اساس نیول کیږي. دا هر څه ځکه کیږي چې د نااسلامي فکر خاوندان د ژوند په ټولو مجالونو کې مسلمانانو ته ښې ډېرې لیکنې کوي، په ډېر مهارت یې وررسوي، او په فکري لحاظ مسلمانان هغه ډول عیاروي چې دوئ یې غواړي.

خو د پورته یاد شوي وضعیت په اړه که موږ د خپلو دیني مدارسو د علماوو او منسوبینو فعالیت ته وگورو نو وینو چې سره له دې چې په افغاني ټولنه د دوئ شمېر په یقیني ډول تر پنځه سوه زرو ډېر دی، خو بیا هم په دیني او فکري موضوعاتو کې په ټول کال کې پنځه سوه زره مقالې څه چې زر مقالې هم نه لیکل کیږي. د دې معنی دا ده چې هغه تشه چې په دې مجال کې یې دیني علماء پرېږدي د نااسلامي فکر خاوندان یې په خپلو لیکنو او مفاهیمو ډکوي.

د افغانستان مسلمان ولس پر خپلو علماوو حق لري چې دوئ ته په معاصره او مفهومه ژبه د دین، فکر، سیاست، اقتصاد، عسکریت او تمدن په اړه په لیکلي

ډول معلومات وړاندې کړي، ځکه چې ټول خلک نشي کولی مدارسو ته لاړ شي او هلته په عربي کتابونو کې د دین په مفاهیمو ځان پوه کړي. پکار ده چې دیني مفاهیم او د الله تعالی او د هغه د مبارک رسول صلی الله علیه وسلم مراد او د شریعت مقاصد د خپلې زمانې خلکو ته د هغوئ په ژبه او د هغوئ د ذهني سطحې مطابق او په هغه کیفیت ولیکل شي چې دوئ په اسانه پرې وپوهیږي.

## د اسلام علماء څنګه توانېدلي چې امت ته په ملیاردونو صفحې لیکنه وکړي؟

اسلام د قراءت او قلم دین دی، او د دې د دین لومړني آیتونه چې پر رسول الله صلّی الله علیه وسلم رانازل شوي ټول د قراءت، قلم او علم په اړه دي.
الله تعالی فرمايي:
﴿ اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ (1) خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ (2) اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ (3) الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ (4) عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ﴾ [العلق: 1-5]
ترجمه: (د خپل هغه رب په نامه ولوله(چې هر شی یې) پیدا کړی دی، چې انسان یې له پرنډ شوو وینو پیدا کړی دی، ولوله چې رب دې ډېر کریم دی، هغه چې په قلم یې پوهه ورکړه، انسان ته یې ورزده کړل هغه څه چې نه پرې پوهېده).

په اسلام کې د قراءت او کتابت همدې اهمیت ته پام سره د اسلام علماوو دې امت ته په بېلابېلو علومو کې په ملیاردونو صفحې معیاري لیکنې کړې دي، او علماء د دغو معیاري لیکنو په کولو ځکه توانېدلي دي چې د خپلې زماني ژبني او ادبي علوم یې حاصل کړي وو.

نن چې په ټوله اسلامي نړۍ کې په قرآني علومو، د نبوي احادیثو په علومو، اسلامي فقه، عقیده او فکر، تزکیه او احسان، اخلاقو او سلوک، سیاست او

تمدن، عسکرۍ او امنیت، اقتصاد او معاملاتو او نورو علومو کې په ملیاردونو صفحې لیکل شوي دي، دا هر څه موږ ته د همدې قلم او لیکوالۍ له برکته رارسېدلي دي.

د اسلام د علمي او فرهنګي تاریخ له صعودي او نزولي سیر څخه دا معلومېږي چې هر وخت چې د اسلام د علماوو قلم سم چلېدلی دی اسلامي فرهنګ او تمدن وده کړې، علوم تدوین شوي، د نړۍ نورو ولسونو لکه اروپایانو، هندوانو او نورو له مسلمانانو مثبت تأثر اخیستی، او اسلام په نړۍ کې خپور شوی دی. خو کله چې د مسلمانو علماوو قلم ویده شوی، او د لیکنې او تألیف ډګر یې خالي پرې ایښی، نو دغه میدان بیا پردیو افکارو ډک کړی، او د مسلمان امت په ملیونونو افراد چې په پخوا په وخت کې د باطلو مذاهبو له افکارو متأثر شوي وو په وروستیو دوو پېړیو کې له غربه د راصادرو شویو نظریاتو لکه د کمونیزم، لبرالیزم، سیکولرزم، رشنلزم(عقل پرستۍ) نشنلزم، هیومنزم(انسان پرستۍ) او د معاصر الحاد له نورو نظریاتو او افکارو متأثر شوي دي.

**افغان علماء او په ټولنه کې د اسلامي معلوماتو فقر:**

په افغاني ټولنه کې د مسلک له مخې د دین علماء تر ډاکټرانو، انجینیرانو، ژورنالستانو، پوځي افسرانو، اجتماعي کار کوونکو، ادیبانو، شاعرانو، سیاسي او حقوقي کار پوهانو او بالآخره د بل هر مسلک تر درلودونکو ډېر دي. نه یوازې دا چې شمېر یې ډېر دی، بلکې په ټولنه کې منلي، محترم، مطرح او د نفوذ خاوندان هم همدوئ دي، ځکه چې افغاني ټولنه تر ډېره حده متدینه ټولنه ده، د ژوند په ډېرو چارو کې د دین علماوو ته رجوع کوي، لارښوونه ترې غواړي او په خبره یې باور او عمل کوي.

د کمپیوټر او انټرنیټ په دې زمانه کې ټول بشري او ديني علوم کمپیوټر او انټرنیټ ته ورلوېدلي دي، په هره موضوع کې په ملیونونو پاڼې معلومات په ډېرې آسانۍ پیدا کېږي، او د هر مسلک خلک ورڅخه خپل ضرورتونه پوره کوي، او هغه علمي کارونه چې ترسره کولو به یې پخوا کلونه غوښتل اوس یوازې یو څو دقیقې غواړي.

مثلاً که پخوا به چا غوښتل چې یوه کتابخانه ولري، نو هغه باید ښې ډېرې پیسې لرلای، په ښو ډېرو کتابونو پسې باید گرځېدلی وای، ډېرې کتابخانې یې باید چاڼ کړې وای، او بیا یې په ډېر مشکل خپل مطلوب کتابونه اخیستي وای، او د ډېرو مشکلاتو په زغملو یې هغه خپل کورته راوړی وای، او د هغو د سمبالولو لپاره یې مناسب ځای او ډېرې الماری جوړې کړې وای، او بیا یې په کلونو وزگار وخت درلودلی چې دا ټول کتابونه یې یو ځل کتلي وای، ترڅو یې محتوی ځانته معلومه کړې وای، او بیا یې د ضرورت په وخت کې مراجعه ورته کړې وای.

خو اوس دا ټول کارونه پرته له دې چې مال ورباندې مصرف کړي، سفرونه وکړي او ستونزې وگالي او یا هم وخت ورته فارغ کړي، یوازې په یو څو لحظو کې ترسره کېږي. او هغه داسې چې په خپل کمپیوټر کې یوازې یوه د کومې (مکتبې) سي ډي چې زرگونه کتابونه ورکې موجود دي داخله کړي او بیا یې د خپلې مطلوبې موضوع لپاره د (سرچ) بټن ووهي، نو وبه ویني چې د ده مطلوب معلومات چې په هر کتاب کې وي فوراً به یې مخې ته راووځي.

او که وغواړي چې د نړۍ له بل هر ځایه خپل مطلوب معلومات په فوري شکل حاصل کړي، نو انټرنیټ ته به خپل مطلوب عنوان ورداخل کړي او په څو ثانیو کې به یې ټول مطلوب معلومات له مراجعو سره په خدمت کې حاضر وي.

خو د دې ټولو امکاناتو او وسائلو له شته والي سره سره بیا هم د افغاني ټولنې علماوو لیکوالۍ او انټرنیټ ته شاکړې ده، چې نه ورڅخه په خپله استفاده کوي، او نه ورته خپلې لیکنې ورپورته کوي چې خلک دیني استفاده ترې وکړي. له همدې امله خو زموږ د ملت نوی نسل په انټرنیټ کې د دیني معلوماتو له فقر سره مخ دی.

داچې د دیني معلوماتو حاصلول او د معنویت د غریزې پوره کول په انسانانو او په خاص ډول په مسلمانانو او بیا په افغانانو کې یو فطري ضرورت دی، نو خلک هڅه کوي چې له هرې لارې چې وي خپل ضرورت پوره کړي.

خو دا چې افغانانو ته د خپلې ټولنې علماء څه نه لیکي، او یا یې که لیکي هم نو کمپیوټر او انټرنیټ ته یې نه ورپورته کوي، نو ځکه خو د نوي نسل ځوانان پردیو افکارو او نظریاتو ته رجوع کوي، او خپلې ټولنې ته داسې افکار، نظریات، عقائد او فلسفې راواردوي چې په ټولنه کې د اختلاف، انقسام، تشنج او تاوتریخوالي اسباب رامنځته کوي، او د دې پرځای چې خلک خپله دیني تنده خړوبه کړي، د فکري او مذهبي کشمکش په جنجالونو اخته کیږي.

په اوس وخت کې افغانانو ته له اسلامه په تېښته نشنلستان، غرب ځپلې دیموکراتان، بې بندوباره ډمان، سندرغاړي، نځاګر، د فحشاوو خپرونکي او د غرب له وراسته او بې لارې فرهنګه متأثر خلک خپلې هر ډول لیکنې او خپل فکري ادبیات د انټرنیټ له لارې خلکو مخې ته ږدي، خو هغه څوک چې ونډه یې په انټرنیټ کې تر ټولو لږ او فکري تأثیر یې په ځوانانو کې کمزوری دی، هغه دیني علماء دي.

## د تأمل وړ او ځوروونکی وضعیت:

په اوسني وخت کې موږ په افغاني ټولنه کې تر نيم مليون زيات علماء او د ديني مدارسو د لوړو درجو زده کوونکي لرو. که داسې وګڼو چې هر عالم او د لوړې درجې طالب دې په مياشت کې يوازې يو مضمون په يوې دينې، اخلاقي او يا کومې اجتماعي موضوع کې وليکي، نو بايد موږ په مياشت کې پنځه سوه زره نوي مضامين ولرو.

او که داسې وګڼو چې په هرو سلو تنو ديني علماوو کې يوازې يو تن يې د ليکوالۍ استعداد لري، نو بايد لږ تر لږه په مياشت کې پنځه زره نوي مضامين او موضوعات د ټولنې افرادو ته وړاندې کړای شي.

خو که د عمل او واقعيت په ميدان کې وګورو، نو يوازې يو څو تنه ديني علماء داسې لرو چې دين او ټولنې ته د ليکوالۍ له لارې خدمت کوي، او په ډېرو محدودو معاصرو موضوعاتو يو څه سطحي ليکنې کوي. او هغه علماء چې ليکنې يې انټرنيټ ته راوځي هغوئ بيا ډېر لږ دي. اوس پوښتنه دا ده چې زموږ په سلګونو زره علماء ولې ليکل نه کوي؟

آيا شرعي علوم يې نه دي لوستلي؟

آيا ليکل يې نه دي زده؟

آيا د ټولنې ضرورت نه درك كوي؟

آيا په ټولنه کې د واردو شويو معاصرو جاهليتونو او بې لارې نظرياتو او افکارو تأثير نه احساسوي؟

آيا د ادب او ليکوالۍ د فن اړوند د صرف، نحوې، بديع، بيان، معاني او د منطقو علوم يې نه دي لوستي؟

او که په تدريس، امامت، دعوت، اداره او سياست کې دومره مصروف دي چې په مياشت کې هم د يوې صفحې مضمون د ليکلو لپاره وخت نه پيدا کوي؟

نن چې انټرنېټ پاڼې ګورو نو وینو چې ډېر داسې خلك چې په اصل کې د نورو مسلکونو خاوندان دي، خو د خپل ذوق، استعداد او مطالعې له مخې په اجتماعي، اخلاقي او ان په عقیدوي او شرعي موضوعاتو کې کتابونه او مضامین لیکي. خو په مقابل کې یې ډېر داسې عالمان شته چې په ټول عمر کې یې یو مضمون هم ندی لیکلی.

زه پخپله په لسګونو داسې عالمان پېژنم چې ښه مشهور استاذان دي، خو تر اوسه یې په هېڅ موضوع کې نه یو مضمون لیکلي، او نه یې هم کومه وینا ثبت کړې او خلکو ته یې د خپل دیني مسؤولیت د ادا کولو په مقصد وړاندې کړې ده.

آیا دا به ډېر د تأسف ځای نه وي چې په سلګونو زره علماء د همدې ملت په مصاریفو علوم زده کوي، خو له زرګونو صفحو علومو څخه چې حاصلوي یې لس صفحې هم بېرته په اسانه ژبه د خپل ملت افرادو د پوهولو پخاطر د هغوئ مخې ته نه ږدي؟

زموږ شکایت دا ندی چې علماء د خلکو لارښوونه نه کوي، بلکې شکایت دا دی چې هر څه په شفاهي ډول تر سره کېږي او تأثیر یې هم تقریباً په هماغه یوه مجلس او یوه ځای کې محدود پاتې کېږي.

زموږ علماوو به په لکونو موعظې، ویناوې او درسونه ورکړي وي، خو له هغو ټولو څخه یې پنځه فیصده هم په لاس کې نه لرو. خو که د دې هر څه یوه لږه برخه هم لیکل شوې او یا هم په آواز ضبط شوې وای او بیا انټرنېټ ته پورته شوې وای، نو اوس به موږ د عربي نړۍ د علماوو په څېر د خپلو علماوو په لسګونو زره مضامین او ویناوې درلودلې.

### د مدارسو په طالبانو کې به لیکوالي څنګه راځي؟

دا چې د مدارسو په طالبانو کې به د لیکوالۍ استعداد څنګه پیدا کوو؟ په دې اړه لاندې وړاندیز لرم:

۱ـ د دیني مدرسې په تعلیمي نصاب کې باید د معارف د وزارت اصلاح شوي د متوسطې او ثانویې دورو د پښتو او دري قراءت کتابونه دې له متوسطې دورې ورشامل کړای شي، او د وړې دورې په کال کې دې د (معاصره لیکوالي) کتاب او یا په دې فن کې بل کوم مناسب کتاب وټاکلی شي. د دې کار حاصل به دا شي چې د مدرسې طالب به تر فراغت پورې د دیني او عربي کتابونو ترڅنګ د خپلو ملي ژبو هم دولس دیارلس کتابه لوستلي وي او د خپلې ژبې مفردات، املاء، ګرامر، ادبیات او لیکوالي به یې هم زده کړې وي، او له فراغته وروسته به په ټولنه کې د یوه داسې عالم په حیث راڅرګندیږي چې خپله ټولنه به په شفاهي او کتبي شکل مخاطبولی شي.

د نصابي زده کړې تر څنګ باید د مدارسو طالبان په انفرادي ډول هم خپلو وړتیاوو ته انکشاف ورکړي، صیقل یې کړي، او د دې کار لپاره باید له لیکوالو استادانو سره کښېني، خپله مطالعه پراخه کړي، له حالاتو او موضوعاتو ځان خبر کړي، او د لیکوالۍ دوامداره تمرین او ممارست وکړي.

**د معاصرې لیکوالۍ لپاره د دیني موضوعاتو پراخه ساحه:**

په اوس وخت کې ډېر ځله داسې پیښیږي چې زه د مدارسو ځوان علماء په دیني موضوعاتو کې لیکوالۍ ته تشویقوم خو د هغوئ یوه لویه برخه راته وایي چې زه به نو څه ولیکم؟ له کوم ځایه یې شروع کړم؟ ما ته خو موضوعات نه دي رامعلوم، او یا دېته ورته نورې خبرې.

له پورته یاد شوي حالته دا خبره جوتېږي چې موږ خپلو ځوانو علماوو او د مدرسې طالبانو ته هغه ابحاث او موضوعات، مجالونه او د ضرورت ساحې نه ورپه ګوته کوو چې په هغو کې لیکل پکار دي. لویه برخه د مدارسو ځوان فارغان مو پداسې وضعیت کې دي چې له یوې خوا د لیکوالۍ له هنر سره نابلده دي، او له بلې خوا یې د معلوماتو افق دومره تنګ دی چې د فقهې شریفې له ځینې متونو او د صرف، نحوې، منطقو او زړو عربي ادبیاتو له موضوعاتو پرته بل څه په نظر نه ورځي. او دا پداسې حال کې چې موږ د لیکلو لپاره په سلګونو مجالونه او په زرګونو موضوعات لرو چې یوه برخه یې په لاندې ډول دي:

د قرآن کریم ترجمه، تفسیر، د تفسیر مناهج، د تفسیرونو معرفي کول، د معتبرو تفاسیرو ترجمه کول، علوم القرآن، قصص القرآن، تجوید او قراءآت، د قرآن کریم ساینسي اعجاز، د قرآن کریم بلاغي اعجاز، نظم القرآن، د قرآن کریم د ځیني آیتونو او موضوعاتو په اړه د ملحدینو او مستشرقینو د شبهاتو ځوابول او داسې نور موضوعات.

د قرآن کریم په اړه یوه بله مهمه موضوع چې باید ډېر لیکل ورباندې وشي هغه په هره زمانه کې د قرآني آیتونو د مدلولاتو لپاره د افرادو او ټولنې د ژوند په هر اړخ کې د واقعي مصداقونو او مثالونو تشخیصول، د مثال په ډول که موږ په قرآن کریم کې د فرعون کیسه ګورو، نو باید دا مو ذهن ته راشي چې فرعون یوازې یو شخص نه وو چې یوه زمانه کې تېر شوی او بس، بلکې د فرعون له کیسې باید دا فهم واخلو چې د هغې زمانې فرعون خو د شخص په حیث تېر شوی او نن نشته، خو د هماغې زمانې د فرعون او فرعونیت د صفاتو، افکارو او اعمالو درلودونکي نور فرعونان شته چې د حق د پلویانو په مقابل کې هماغه ډول دریځونه او اعمال لري.

د فرعون له کیسې باید موږ د خپلې زمانې فرعونیت وپېژنو، او په دې هم پوه شو چې د هرې زمانې د فرعون او فرعونیت د مقابلې لپاره په هماغه زمانه کې علماء، دعوتګران او د مسلمانانو سیاسي مشران باید د موسی علیه السلام نقش ادا کړي. او د قرآن کریم هغه آیتونه چې د پخواني فرعون په هکله راغلي دي یوازې په هغه پورې منحصر پرېنښودل شي، بلکې د هغو په رڼا کې خلکو ته د دې زمانې د فرعونیت مظاهر او مصداقونه د واقعیتونو په شکل کې وښودل شي چې د دې زمانې فرعونان د دې زمانې له مصلحینو سره څه کوي؟ څنګه په بېلابېلو نومونو مسلماني ټولنې ټوټه کوي، څنګه مسلمانان تذلیلوي او په بندیزونو او زندانونو کې یې ساتي، او څنګه د حقپالو علماوو په مقابل کې د باطل فکر پلویان راپورته کوي.

کله چې د قرآن کریم د کیسو، لارښوونو او آیتونو لپاره د انسانانو په ژوند کې په هره زمانه کې مصداقونه او مثالونه پیدا کړو، نو په دې ډول به قرآن کریم زموږ په ژوند کې یو ژوندی کتاب وي چې زموږ په زړونو، عواطفو، احساساتو، تصامیمو، فیصلو، اعمالو، مشورو، ادبیاتو او د ژوند د حوادثو په اړه په برداشتونو کې به موجود وي، او په دې کار سره به مو د ټولنې بېلابېلې طبقې له قرآن کریم سره د ژوند په ټول بهیر کې آشنا کړې وي، او قرآن کریم به خلکو ته یوازې د علماوو کتاب نه ښکاري، بلکې ټول به پرې د ځان پوهولو کوښښ کوي.

همدارنګه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زرګونو احادیثو ترجمه کول، معناوې او مصداقونه یې د خلکو په ژبه په اسانه بیانول، او د هغو په رڼا کې د خلکو د ژوند مسائلو او ستونزو ته د حل د لارو چارو لټول، او ټولنې ته د صحیحو او موضوعي احادیثو ورپېژندل، د فقهي احکامو لپاره د احادیثو دلیلونه راوېستل، د احادیثو په اړه د مغرضو مستشرقینو (هغه کافر علماء چې

مدرسه او مبارزه

اسلام يې زده کړی) او د نورو بې لارې ډلو او طائفو شکوك او شبهات په علمي ډول ردول، او په احاديثو پورې په لسګونو اړوند نور ټول هغه موضوعات دي چې افغان علماء يې بايد په پښتو، فارسي او نورو محلي ژبو وليکي او انټرنيټ ته يې ور پورته کړي.

د رسول الله صلی الله عليه وسلم د زرګونو اصحابو د ژوند په زرګونو واقعات چې ټول په عربي ژبه کې ساتل شوي دي هم د علماوو لپاره د ليکنې پراخ موضوعات دي چې بايد په پښتو، فارسي او نورو افغاني ژبو کې يې خلکو ته وړاندې کړي؛ ځکه چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم اصحابان د دې امت لپاره د هدايت ستوري دي، او د هغوئ ايمان زموږ لپاره د ايمان معيار دی.

همدارنګه سيرت النبي بل هغه مبارك علم دی چې په عربي او نورو اسلامي ژبو کې په زرګونو کتابونه ورکې ليکل شوي او په رڼا کې يې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د ژوند ټول تشريعي، اخلاقي، سياسي، حربي، سفارتي، اجتماعي، اقتصادي، تربيوي او نور اړخونه بيان شوي دي. خو زموږ په افغاني ژبو کې تر ټولو بې پانګې مضمون همدغه د (سيرة النبي) علم دی.

په پښتو او فارسي کې ښايي چې د سيرت ټول ليکل شوي او ژباړل شوي کتابونه د ګوتو په شمېر وي. زموږ په زرګونو علماء که د سيرت د موضوعاتو په اړه يو يو مضمون هم په مفصل شکل وليکي، ښايي په ډېر لنډ وخت به دغه تشه ډکه شي، او د ټولني افرادو ته به مو د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د ژوند ټول اړخونه ورمعلوم شي، ترڅو په هر څه کې د خپل ګران پيغمبر صلی الله عليه وسلم پر پله پل کښېږدي.

د افغانانو د ديني علومو طالبان او عالمان تر هرڅه ډېر وخت د فقهې شريفې د کتابونو په لوستلو، تدريس او مطالعه کې تېروي. د دې کار نتيجه بايد دا

واى چې افغان علماوو بايد تر بل هر چا په اسلامي او حنفي فقهه کې ډېر معاصر فقهي کتابونه ليکلي او يا ترجمه کړي واى. خو په عملي ميدان کې وينو چې ډېر لږ نوي فقهي کتابونه په پښتو او فارسي کې ليکل شوي او يا ترجمه شوي دي.

د فقهې شريفې علم خو په حقيقت کې د هرې زمانې د خلکو د ژوند مشکلاتو او مسائلو ته د شريعت په رڼا کې ځواب ويل او هغو ته د حل لټول دي. دا چې د هرې زمانې د خلکو د ژوند بڼه بېله او مسائل يې سره جلا وي، او د هرې زمانې اجتماعي، حقوقي، تقنيني، تجارتي، سياسي، زراعتي، صنعتي او بين المللي مسائل د زمان، مکان، حالاتو او نويو واقعاتو په نظر کې نيولو سره له نورو زمانو سره فرق لري، نو بايد د فقهې شريفې علماء په هره زمانه کې د موجودو معاصرو مشکلاتو د حل او ځواب لپاره د شريعت د نصوصو او د فقهې شريفې د اصولو په رڼا کې نوي ځوابونه بيان کړي، چې دا کار د نويو څېړنو، مطالعاتو او تأليفاتو د رامنځته کېدلو تقاضا کوي. خو د تأسف ځاى دى چې په افغاني ټولنه کې ډېر لږ علماء داسې شته چې د نويو ضرورتونو لپاره نوې فقهي ليکنې کوي، او نور ټول يې هماغه کتابونه تدريسوي چې اته سوه يا زر کاله د مخه د هماغې زمانې د حالاتو، شرايطو، عرفونو، وزنونو، پيمانو، مصالحو، اصطلاحاتو او مثالونو په نظر کې نيولو سره د هماغې زمانې د خلکو لپاره ليکل شوي وو.

دا هر څه په داسې حال کې روان دي چې د عربي هېوادونو، هند، پاکستان، بنګله ديش او افريقايي اسلامي هېوادونو علماء په خپلو خپلو فقهي مذاهبو کې په لسګونه زره نوي فقهي تأليفات او مقالې لري. په کار ده چې افغان علماء هم په اسلامي او حنفي فقه کې نوي تحقيقات او څېړنې ولري. ځکه چې زموږ په ژوند کې هم په زرګونو داسې فقهي مسائل او بدلونونه راغلي

دي چې ښايي ځواب ورته د فقهې شريفې په پخوانۍ بڼه کې په مناسب شکل پيدا نشي.

له بلې خوا له نېکه مرغه د اسلامي فقهې د اصولو جوړښت داسې دی چې د هرې زمانې لپاره تازه ګي او د انکشاف صلاحيت لري. دا به نو اوس زموږ د خپلې تمبلۍ لپاره يوازې بهانه لټول وي چې موږ يوازې پر پخوانيو کتابونو د دې لپاره اکتفا کوو چې هغه په تاريخي لحاظ منل شوي کتابونه دي.

دا سمه ده چې موږ له هغو کتابونو په هېڅ صورت مستغني کېدلی نه شو، او نه بايد د هغو تدريس پرېږدو؛ ځکه چې هغه د اسلامي امت د علماوو له لوري د شرعی نصوصو د اجتهادي فهم يوه بې مثاله تشريح او قېمتي ذخيره ده. خو ښه خبره دا ده چې هغه دې هم ولوستل شي او د هغو د اصولو او قواعدو په رڼا کې دې د نويو مسائلو لپاره نوي کتابونه په پښتو او فارسي کې وليکل شي، ځکه چې زموږ د ولس يوازې يو يا دوه فيصده وګړي په علمي عربۍ ژبې پوهېږي.

موږ ويلای شو چې د اسلامي فقهې ابحاث او بابونه د افغانو علماوو لپاره د ليکوالۍ تر ټولو ښه مناسب او پراخه مجال دی چې ليکنې ورکې وکړي، او دا بهانه نوره پرېږدي چې موږ نو څه وليکو؟ څنګه يې وليکو؟ چاته يې وليکو؟ او داسې نور.

پر پورتنيو موضوعاتو او ډګرونو علاوه زموږ د ملت د تېر او اوسني ستر جهاد چې د روسانو، کمونستانو، امريکا او نورو غربي يرغلګرو هېوادونو په مقابل کې يې وکړ په اړه هم په لسګونو زره موضوعات اوحادثې داسې شته چې خورا ډېر ديني، تاريخي، فرهنګي، علمي، عاطفي، ملي، اقتصادي، اخلاقي او وجداني اهميت لري چې بايد ليکنې ورباندې وشي، توثيق شي، او د قربانيو

د دغې لوېې (ملحمې) چې تقريبا نيمه پېړۍ يې ونيوله تفصيلي تاريخ راتلونکو نسلونو ته وساتل شي.

زموږ ملت په تېره نيمه پېړۍ کې په زرګونو د جګړو، قربانيو، شهادتونو، شجاعتونو، هجرتونو، بمباريو، زندانونو، جناياتو، تجسسونو، وفاګانو او جفاګانو صحنې وليدلې چې پر هرې يوې يې يو يو کتاب ليکل کيدلی شي. خو افسوس چې ډېرې لږې دغه صحنې په ليکلې بڼه ساتل شوې دي، بلکې ډېرې يې د خلکو له ذهنونو څخه وتلې دي، او يا يې خاوندان او اتلان نور په دې دنيا کې نشته. نو څکه خو زموږ د ملت په لکونو د پند اوعبرت واقعي کيسې او صحنې په ليکلې بڼه زموږ د ټولنې اجتماعي حافظې ته ور ونه سپارل شوې.

دا چې د علم طالبان او علماء د خلکو د دين، ايمان، اخلاقو او معنوي ارزښتونو د ساتلو او پاللو مسؤوليت پر غاړه لري او د نسلونو روزل د هغوئ اصلي وظيفه ده، نو دوئ بايد تر بل هر چا ډېر د خپل ملت د ديني او اجتماعي ارزښتونو په خوندي کولو او پاللو کې مخکې وي. او تر بل هر چا بايد په دې موضوعاتو کې ډېرې ليکنې وکړي.

د پورته يادو شوو موضوعاتو تر څنګ سياسې موضوعات، اجتماعي او اخلاقي موضوعات، د بدو رواجونو او عادتونو، بدعاتو او خرافاتو او په دين پورې د تړليو غلطو برداشتونو ردول او نور موضوعات هم هغه مجالونه دي چې علماء بايد ورکې معاصرې او مؤثرې ليکنې وکړي.

افغان علماء بايد دېته هم وګوري چې که پرونيو علماوو په هرې موضوع کې ليکنې نه واى کړې، نو اوس به دوئ موجود په سلګونه زره ديني او اجتماعي کتابونه په عربي او نورو ژبو کې له کومه کول؟ همدارنګه بايد دوئ هم د خپلې زمانې علمي او فرهنګي لاسته راوړنې د سبا د نسلونو لپاره په ليکلې بڼه

پرېږدي. او که داسې ونه شي، نو د هر عالم له مرگ سره به د هغه علم هم ومري.

د کمپیوټر او انټرنیټ په دې زمانه کې چې یو بله ډېر مهمه آسانتیا رامنځته شوې، هغه پر چاپ او نشر د انحصار او محدودیت له منځه تلل دي. پخوا به د چاپ او نشر وسائل هم د حکومتونو په لاس کې وو، او د خپرولو واك او اجازه به هم د حکومت په انحصار کې وه. اول خو به چا په اسانه د کتاب د چاپولو اجازه نه شوه اخستلی، او که به یې په ډېر مشکل اجازه حاصله هم کړه، نو بیا به یې د چاپ او نشر مصارف نه شول پوره کولی. او که به بالفرض کتاب یا مضمون چاپ هم شو، نو بیا به له یوې محدودې جغرافیې د باندې نه شو وتلی.

خو اوس کمپیوټر د چاپ چارې دومره آسانې کړې دي چې هر څوك چې په هر ځای کې هرڅه وغواړي په ډېرې آسانۍ یې په ښه کیفیت، رنگینه بڼه او ښکلي ډیزاین د هر چا تر خارنې لیرې په خپله ترتیبولی شي، او تر ترتیب وروسته یې چې انټرنیټ ته ور پورته کړي نو په یوه لحظه کې یې ټولې دنیا ته رسولی هم شي، چې همدغه چاره اوس د اسلامي نړۍ په ټولو علمي مراجعو او فرهنگي مراکزو کې دود ده، خو افسوس چې زموږ ډېری علماء لا تر اوسه ورڅخه خبر هم نه دي.

په عربي نړۍ کې خو تقریباً هر لوی عالم خپله وېبپاڼه لري چې په هغوئ پخپله او یا د هغوئ شاگردان او معاونین د هغوئ ټول تألیفات، مضامین، صوتي او ویډیویي مواعظ او درسونه ورکې خوندي کوي، او ټولې دنیا ته یې په ډېرې آسانۍ وړاندې کوي.

**یو ارمان او یو مهم وړاندیز:**

کاشکې يوه ډله ځوان علماء چې له کمپيوټر او انټرنټي خدماتو سره آشنايي ولري د ځينې شتمنو خلکو او خيريه جهتونو په مالي مرسته افغاني ټولنې ته د اسلامي علومو د رسولو په مقصد يوه انټرنټي علمي ټولنه جوړه کړي، چې لاندې ياد شوي او يا هغو ته ورته علمي او فني کارونه تر سره کړي:

۱ - دغه علمي انټرنيټي ټولنه بايد د قرآن کريم ټول په پښتو او فارسي ليکل شوي تفسيرونه، ترجمې او په قرآني موضوعاتو پورې اړوند کتابونه راجمع کړي، کمپوز يې کړي، او بيا يې په منظم ډول په کمپيوټري آرشيف کې خوندي او خلکو ته يې د خپلې ويبپاڼې له لارې وړاندي کړي.

۲ - ټولنه بايد هڅه وکړي چې قرآن کريم د پښتو او فارسي ترځنګ نورو هغو افغاني ژبو ته هم چې ليکلې بڼه لري ترجمه کړي او په هغو ژبو غږېدونکو ته يې تقديم کړي.

۳ - ټولنه بايد ښه تکړه او ماهر علماء توظيف کړي چې له عربۍ او نورو ژبو مهم کتابونه ترجمه کړي او افغانانو ته يې عرضه کړي، که څه هم چې دا کار به يو څه وخت ونيسي.

۴ - ټولنه بايد هڅه وکړي چې د رمضان د مياشتې د قرآني دورو د مشهورو او معتمدو علماوو مکمل تفسير او ترجمه په آډيو (آواز) او ويډيو (تصويرى) شکل ثبت کړي او د خپلې ويبپاڼې له لارې يې ټول کال خلکو ته وړاندې کړي. دا کار به يو څه محدود مصاريف وغواړي، خو زموږ په ټولنه کې ډېر اهل خير او دين پالونکي تاجران شته چې دغه ډول مصاريف په خوشحالۍ په غاړه اخلي، خو چې څوك يې يو ځل پر اهميت او افاديت وپوهوي.

۵ - ټولنه بايد منلي او معتبر علماء توظيف کړي چې د رسول الله صلي الله عليه وسلم د احاديثو کتابونه لکه مشکوة المصابيح، صحاح سته، طحاوي، د امام مالك مؤطا او د امام احمد مسند او نور مهم د احاديثو، رجالو او تراجمو

کتابونه پښتو او فارسی ته ترجمه کړي. دا کارونه افغاني علماء همدا اوس هم په مدارسو او حجرو کې په نیمګړي ډول هر کال تر سره کوي، خو دا هر څه په درسي او شفاهي شکل کې دي، چې تدوین او توثیق ته ضرورت لري.که یو یو کتاب په پنځو شپږو کلونو کې هم په علمي ډول ښه ترجمه شي، بیا به هم څو کاله وروسته ټول احادیث له عربي متن سره په خپلو ژبو کې ولرو او د ولس لویه برخه خلک به مو ترې په اسانه استفاده کوي.

د احادیثو د علم، او له هغو څخه د دفاع په اړه هم په سلګونو کتابونه لیکل شوي دي، چې ټولنه یې باید ځینې ډېر مهم ورڅخه ترجمه کړي، او یا علماوو ته وظیفه ورکړل شي چې د دې موضوعاتو په اړه هم کره لیکنې وکړي.

٦ – ټولنه باید د پرلیکه (آنلاین) استفتاء او فتوي په اړه هم له منل شویو علماوو سره په تماس کې یوه آسانتیا برابره کړي، ترڅو خلك د خپلو ورځنیو چارو په اړه له علماوو څخه پوښتنې وکولای شي او خپل ژوند د شریعت مطابق برابر کړي.

٧ - په وروستیو څو لسیزو کې افغاني ټولنه د جګړو او اجتماعي اضطراب له امله څو ځله بې سرپوښه او بې قیادته شوه، نو له ډېرو فکري او عقیدوي، فتنو سره یې هم مخه شوه، او ډېرو کفري فرقو او منحرفو نظریاتو لکه کمونیزم، ډیموکراسی، لیبرالیزم، مسیحیت، بهائیت، قادیانیت، الحادي عقلانیت (Rationalism))، پر احادیثو بې باوري، نړیوالتوب (globalization)، هندویزم او نورو فکري افراطي او تفریطي نظریاتو او مذاهبو خپل افکار افغاني ټولنې ته د بېلابېلو فرهنګي ټولنو، مؤسساتو، راډیوګانو، تلویزیونونو، انټرنیټ، کتابونو، پوهنتونونو او مدارسو له لارې راصادر کړل، چې دلته یې تر یوه حده منونکي هم پیدا کړل. خو د دې راصادرو شویو فتنو د ردولو، مخنیوي

او د هغو د ماهیت د راسپړلو او ښکاره کولو لپاره زموږ علماوو یا خو هېڅ لیکلی کار ندی کړی، او یا یې هم کار دومره کمزوری دی چې هېڅ تأثیر یې نه ښکاري، او د انټرنیټ ساحه خو یو مخ ورڅخه خالي ده.

په پورتني یاد شوي مجال کې په مؤثر ډول کار کول پر علماوو د وجوب حد ته رسیدلی دی؛ ځکه چې په لکونو خلك کله د کمونیزم په لومه کې له دین څخه وتلي وي، او کله د دیموکراسۍ او لیبرالیزم په شوق کې د الله د دین د تطبیق په خلاف ولاړ وي، او کله یې هم په ښکاره خپل دین پرې ایښی وي او کوم بل کفري دین او یا نظریات یې منلي وي. که علماء په دې ډگر کې په جدیت او موثریت کار ونه کړي، نو ښایې چې ولس به مو په مستقبل کې له ډېرو فتنو سره مخ شي.

یاده شوي انټرنیټي ټولنه باید په دې ډگر کې کار کول له خپلو اولویاتو څخه وگڼي او ښه ډېرکار ورکې وکړي.

**انټرنیټي کتابتون:**

یو بل مهم کار چې د افغاني ټولنې او علماوو ورته ډېره اړتیا ده هغه د یوه انټرنیټي اسلامي کتابتون رامنځته کېدل دي چې ټول هغه دیني کتابونه چې په افغاني ژبو کې تر اوسه لیکل شوي، چاپ شوي او په انفرادي شکل له ځینو خلکو سره په کورونو او یا کتابخانو کې موجود دي باید ټول بیا له سره په کمپیوټر ولیکل شي او یا سکن شي، او له هغو څخه یو داسې انټرنیټي کتابتون جوړ شي چې هر څوك ورته په مجاني ډول لاسرسی ولري.

دا کار به له یوې خوا کتابونه د له منځه تللو له خطر څخه وساتي، او له بل لوري به د کتابونو د تشهیر او معرفۍ یو ښه فرصت برابر کړي، چې په دې ډول به په سلگونو دیني کتابونه او په زرگونو دیني موضوعات پوهنتونونو، مکاتبو، تعلیمي او څېړنیزو مراکزو او اشخاصو ته په یوځای ډول لاسته

ورشي، په ټولنه کې به اسلامي علوم په اسانه او پراخه پیمانه خپاره شي، تیارې به رڼا شي، او تر ډېره ځایه به د کفارو او بې لارې ډلو د فکري او فرهنګي یرغل مخه ونیول شي.

د همدغه کتابتون بله برخه ښایې له صوتې او ویډیویي موادو تشکیل شي چې په زرګونو صوتي درسونه، مواعظ، اشعار، ترانې، کیسې، تاریخي ویناوې، د ماشومانو ادبیات او همدارنګه په سلګونو او زرګونو اسلامي ویډیویې البومونه او کلیپونه چې زموږ د هېواد د مؤمنو پرګنو ویرنې او ویاړنې ورکې عکاسي شوې دي خوندي شي، او معاصر تاریخ به مو په ژوندي او مأمون شکل راتلونکو نسلونوته ور ورسېږي.

که چېرې زموږ حکومت او یا د ولس څو با احساسه او متدین شتمن او ملي تاجران د دغه ډول یوې پروژې د تمویل تر شا ودرېږي، نو په ډېرو لږو مصاریفو به افغاني ټولنې ته ستر علمي او دیني خدمتونه تر سره کړي، او د هېواد د مستقبل ځوانان به له بې لارېتوب، شډلتوب، بې هدفۍ او بې علمۍ څخه وژغوري. البته دا کار کوم ناشونی کار نه دی، بلکې په غربي او عربي نړۍ کې ډېرو ټولنو او حتي اشخاصو تر سره کړی دی چې زموږ لپاره د کار ښه مثالونه کېدلی شي.

ما ته خو اوس د دې کار ترسره کېدل یو ارمان ښکاري چې د نوي نسل له علماوو یې د پوره کېدلو هیله لرم، خو لیرې نده چې څو د عزم، حوصلې او هدف خاوندان به یې په علمي ډول په پراخه پیمانه تر سره کړي، چې د دې کار ځینې نښې لا له همدا اوسه په ځینې افغانې ویپاڼو کې تر سترګو کېږي.

مدرسه او مبارزه

## پنځم ضروري مضمون ـ د ژبو زده کول

یوه بله نیمګړتیا چې په دیني مدارسو او د هغو په تعلیمي نصاب کې شته هغه د ژبو د زده کولو لپاره د نصاب او استاذ نشتون دی. دا به ومنو چې په مدارسو کې د عربي ژبې د ګرامر (صرف، نحوې او بلاغت) د زده کړې لپاره یو شو کتابونه د تحت اللفظي ترجمې په طریقه یوازې د کتاب فهمۍ په مقصد تدریسیږي، نه د ژبې د زده کړې په مقصد، ځکه چې د ژبې زده کړه د قواعدو تر څنګ د ژبې د مفرداتو (الفاظو)، د نطق، لیکلو، د ژبې له اصلي ویونکو د هغې اورېدلو، او عملي ممارست ته ضرورت لري چې دا هر څه په مدارسو کې نه ترسره کیږي، او همدا علت دی چې زموږ د مدارسو اکثره فارغان نه په روان او درست ډول په علمي عربي غږېدلی شي، او نه هم پرې په روان او معیاري ډول لیکل کولی شي، او نه یې سم د عربو په څېر تلفظ کولی شي، او دا پداسې حال کې چې د زده کړې په ټول جریان کې یې تقریبا ټول کتابونه د عربي ژبې ویلي وي.

زموږ د مدارسو حال دا دی چې یوازې عربي ژبه لا ورکې نه زده کیږي چې په لسګونو عربي کتابونه یې لوستل کیږي، د نورو ژبو د زده کړې لپاره خو نه اراده شته، او نه یې د زده کړې لپاره نصاب، استاذ او وخت.

### د ژبو زده کړه مو علماوو او طالبانو ته څه ورکوي؟

که غواړو چې مدارس، علماء او طالبان مو په ځان کې د اسلام لپاره د معیارې مبارزې، دیني او سیاسي قیادت، د پراخ علمي افق او اسلام ته د خلکو د دعوت پوره وړتیاوې ولري، نو باید هم خپلې محلي ژبې او هم د نړۍ څو نورې مؤثرې ژبې په علمي ډول زده کړي.

مدرسه او مبارزه

دا چې علماء مو اوس يوازې د مساجدو امامان نه دي، او طالبان مو يوازې د ديني کتابونو لوستونکي نه دي، بلکې دوئ ته اوس الله تعالى د امامت، فتوى او روحانيت ترڅنګ د سياست، حکومت، ډپلوماسۍ، ملتدارۍ، تعليم، اقتصاد، پوځ، امنيت، استخباراتو او نورو لويو مسؤوليتونو د چارو واګې هم په لاس ورکړې دي، او د ژوند او سياست په بېلابېلو ډګرونو کې د نړۍ د ډېرو ژبو له ويونکو سره د دوئ مخه ده، نو پکار ده چې د مدرسې منسوبين بېلابېلې ژبې په معاصر او علمي ډول زده کړي، چې د زده کولو په صورت کې به د ډېرو وړتياوو خاوندان شي چې ځينې مهمې يې په لاندې ډول يادوو:

۱ـ د محلي ژبو په ښه زده کولو به خپل ولسونه په ښه ډول په ليکلي او شفاهي ډول مخاطبولى شي، او له خلکو سره به د ژوند په بېلابېلو ډګرونو کې تخاطب او تفاهم ورته اسانه وي. او د خارجي ژبو په زده کړه به همدا چارې ورته له نورو ولسونو سره اسانه شي.

۲- په اسانه به مسلمانو او نامسلمانو ولسونو ته د دين پيغام ور رسولى شي.

۳- نن ورځ چې د اسلام او مسلمانانو په خلاف په کفري نړۍ کې څه ليکل کيږي او يا ويل کيږي علماء به پر هغو خبريږي، او د هغوئ له دسيسو، توطيو او خطرونو به مسلمانان خبروي.

۴ـ په ديني او دنياوي علومو کې د معلوماتو ډېرې لويې ذخيرې په پښتو او فارسي کې نه، بلکې د نړۍ په نورو پراخو ژبو کې دي، او له هغو څخه استفاده هغه وخت ممکنه ده چې علماء مو پر هغو پوه شي.

۵ـ د نورو ژبو د زده کړې په صورت کې مو عالمانو او طالبانو ته د نړۍ او اسلامي نړۍ پر اوسني وضعيت پوهېدل اسانه کيږي، چې دېته په مبارزه او دعوت کې معرفة الواقع (له موجود وضعيته باخبره اوسېدل) ويل کيږي.

د ډېرو ژبو د زده کړې په صورت کې د انسان ذکاوت ډېر انکشاف کوي، ځکه چې دماغ یې اکثره وخت په فعالیت کې وي، او ساینسي څېړنې او تجارب دواړه همدغه حقیقت تأییدوي.

٦ـ تر یوې پر زیاتو ژبو د پوهېدلو په صورت د انسان پر خپل نفس اعتماد زیاتېږي، ځکه چې په ډېرو کارونو او مواردو کې ځان د محتاجۍ په روحیه ځپونکي حالت کې نه، بلکې د پرځان بسیاینې په حالت کېویني.

٧- پر ډېرو ژبو پوهېدل د انسان د معلوماتو افق پراخوي، او د ډېرو ولسونو له معلوماتو د ځان خبرولو فرصت او امکان په لاس ورکوي.

٨ ـ د ژوند په تېرولو، سفرونو او له اوسنۍ معلوماتي ټکنالوژۍ څخه په استفاده کې ورسره مرسته کوي.

**په افغاني دیني مدارسو کې مو د پښتو او دري ژبو د نه تدریسېدو ناوړه عواقب:**

زموږ د مدارسو په تعلیمي نصاب کې د خپلو دوو لویو محلي ژبو( پښتو او دري هېڅ کتاب نه تدریسېږي، پداسې حال کې چې علماء باید پر نورو ژبو تر پوهېدو مخکې په خپله ژبه کې مهارت ولري؛ ځکه چې د هغوئ ډېر علمي، دعوتي او اصلاحي مصروفیت د خپلې ژبې له خلکو سره وي، او ولس هم له علماوو دیني لارښونه، لیکلي دیني مفاهیم، تعلیم، فرهنګ، مکتب، مدرسه او دیني تنویر غواړي. که علماء مو دا کار وکړای شي، نو ټولنه به مو په عالم پسې روانه وي، او که په عالم کې د دې کار وړتیا نه وي، نو طبیعي ده چې بل څوک به دا کار کوي او بیا به ټولنه په هغه پسې روانیږي. که په افغانستان کې د تېرې یوې پېړۍ فکري، اجتماعي، سیاسي، فلسفي او ژبنیو لیکنو ته پام وکړو، نو وینو چې تر ډېره حده یې مفاهیم د مدرسې د

منسوبینو له لوري نه دي لیکل شوي، بلکې اکثره محتوی یې یا د کمونیزم له فکره متأثره لیکوالو لیکلې، او یا هم د غربي لیبرالیزم د مکتب پیروانو او یا نشنلستانو لیکلې ده، او له همدې امله خو زموږ د مکتب او پوهتنون خلکو ته په پورته یادو شوو مجالاتو کې نه د علماوو لیکنې په کافي اندازه موجودې وې، او نه هغوئ ولوستلې، چې د دې وضعیت له امله د ولس په ملیونونو باسواده ځوانان له پردیو افکارو متأثر شول.

له پردیو افکارو متأثر شوي خلک د پردیو په صف کې ودرېدل، او بېرته یې د علماوو، مجاهدینو او دیني مرشدینو او مصلحینو په خلاف جګړه وکړه، د پردیو په مرسته پر ټولنه او وطن مسلط شول، ښارونه، نظامونه، حکومتونه، پوهڅونه یې په واک کې شول، د ټولنې فکري، اجتماعي، سیاسي او تعلیمي قیادت یې تر لاسه کړ، په ملیونونو خلک یې ووژل، او د دین مخلص علماء او اسلامپالي خلک یې د تجرید، هجرت، غرونو، غارونو، ځنګلونو، صحراوو، زندانونو له ژوند سره مخ کړل.

د دې لپاره چې علماء مو په خپلو ژبو کې مهارت ولري، ادبیات او د ژبې اړوند نور علوم ښه زده کړي او خپل ولس په ښه ډول په شفاهي او لیکلي ډول پرې مخاطب کړای شي، نو باید د خپلو ژبو جمالیات او کمالیات هم زده کړي، ترڅو مو د علماوو وینا معیاري وي، او داسې ښکلا او جذابیت ورکې پروت وي چې خلک یې له کمال او جماله د خوند اخیستلو لپاره هم واوري.

اوس خو ژبنی وضعیت داسې دی چې زموږ طالب ته د درس د پیل له اولې ورځې نیولې تر فراغت او تخصص پورې د خپلې ژبې یو کتاب هم نه تدریسیږي؛ ځکه خو مو د اوس وخت یوه لویه برخه فارغان د خپلې ژبې د الفاظو له وسعت، د لغوي ترکیبونو، شعر او شاعرۍ، کنایو استعارو او متلونو،

لهجو او د ژبې د تکامل له مرحلو او په خپله ژبه کې له لیکل شوو کتابونو ناخبره دي. او دغې ناخبرۍ او په نصاب کې د خپلو ژبو نشتوالي یوه داسې تشه رامنځ ته کړې چې د مدرسې او د مکتب او پوهنتون د فرهنګ او ذهنیت تر منځ یې داسې فاصله ایجاد کړې چې د هغو په نظر کې د مدرسې فارغ پردی او کم سواده ښکاري، او د مدرسې د فارغ په نظر کې په غربي ډوله تعلیم رالوی شوي خلک پردي او جاهل ښکاري. او دا ځکه چې د مدرسې فارغ د مکتب او پوهنتون بچي ته خپل علم په پښتو او فارسي نه لیکي، او هغوئ په عربي نه پوهیږي چې دیني کتابونه زده کړي.

د پورته یاد شوي مشکل حل په دې کې دی چې دیني عالم مو ولس ته د ولس په معیاري ژبه معلومات ولیکي او ووایي، او همدغه د علماوو مسؤولیت هم دی، لکه چې الله تعالی فرمایي:

﴿وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ رَسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهِ لِيُبَيِّنَ لَهُمْ﴾ [ابراهیم: ۴]

ترجمه: (موږ نه دی لیږلی یو پیغمبر مګر د هغه د قوم په ژبه، چې دین ورته بیان کړي).

دا چې علماء د انبیاوو وارثان دي همدغه امر دوئ ته هم راجع کیږي. نو که علماء خپل ولس ته دین په غیر معیاري ژبه بیانوي، دا یو نامناسب کار او د علماوو له لوري یوه کمزوري او بیرته پاتې والی دی. او که یې په معیاري ژبه بیانوې، نو معیاري ژبه له تعلیم او نصابه زده کیږي چې اوس زموږ په مدارسو کې نشته.

کېدی شي ځیني خلک ووایي چې د مدرسې په نصاب کې خو په فارسي ژبه کې پنج کتاب او د سعدي ګلستان شته! په دې اړه باید عرض کړو چې د سعدي ګلستان د ژبښونې کتاب ندی، بلکې هغه په لغوي لحاظ د فارسي د کلاسیکې ژبې د ډېرې لوړې سویې ادبي کتاب دی، او په مفاهیمي لحاظ د

سیاست، علم الاجتماع، تربیې، سلوک او اخلاقو کتاب دی، چې باید د ماسترۍ یا دوکتورا په مرحله کې ولوستل شي. له هغه ځخه د اوسنۍ مدرسې د ابتدايي درجو طالبان په هیڅ ډول اوسنۍ دري ژبه نشي زده کولي.

د دې لپاره چې علماء او مدرسه مو د تل لپاره قیادي حیثیت او په ټولنه کې د تأثیر فرصتونه ولري، او په دې مجال کې خپلې نیمگړتیاوې پوره کړي، نو مهم کار دا دی چې په مدارسو کې مو هم خپلې ژبې تدریس شي، او هم نورې ژبې زده کړای شي.

**پیغمبر صلّی الله علیه وسلم د کفارو د ژبې پر زده کولو امر کړی:**

د مبارزې او دعوت لپاره د کفارو د ژبې پر زده کولو رسول الله صلی الله علیه سلم خپل د وحیې کاتب او نابغه صحابي زید بن ثابت رضی الله عنه ته امر کړی و چې د یهودو ژبه زده کړي.

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینې منورې ته راغی نو ویې لیدل چې په مدینه منوره کې یهود هم اقتصادي تسلط لري او هم فکري او فرهنگي؛ ځکه چې هغوئ اهل کتاب او اهل دین وو، او خلکو به د حق او د باطل په معلوملو کې اکثره دوئ ته رجوع کوله، او یهودو پر عربو یو ډول معنوي او دیني تفوق درلود.

رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینې منورې ته له راتگ سره نوی اسلامي نظام داسې بنا کړ او د هغه لپاره یې داسې یو چوکاټ جوړ کړ چې یهود د مخالفت پر ځای همکارۍ ته وهڅوي، ترڅو رسول الله صلی الله علیه وسلم او مسلمانان د قریشو سره مقابلې ته وزگارشي، او په مدینه منوره کې له مشکلاتو او داخلي جگړو سره مخ نشي. هماغه وو چې په مدینه منوره کې یې د مدینې میثاق رامنځ ته کړ، او د هغه له مخې یهود د مدینې د دولت اتباع

وګڼل شول. خو يهود کله هم له مسلمانانو سره مخلص نه وو، ځکه چې د مسلمانانو دين، پيغمبر، عقايد او تمدن يې نه مانه، او نه يې غوښتل چې د مسلمانانو د تقويې په صورت کې دې د يهودو دين، فکر، معنوي، سياسي او اقتصادي تسلط له منځه لاړ شي، نو ځکه به په هر وخت کې په دې فکر کې وو چې څنګه مسلمانانو ته تاوان ورسوي، دوکه ورسره وکړي، او څنګه د مسلمانانو مخالفين چې قريش او شاوخوا نور قبائل وو د مسلمانانو دښمنۍ ته وهڅوي.

رسول الله صلی الله عليه وسلم هم د يهودو وضيعت درک کړی و چې له ده مبارک سره مخلص نه دي، او اعتماد ورباندې نشي کېدلی، نو ځکه خو يې په مراسلاتو او ليکنه کې هم امين نه ګڼل. هماغه و چې زيد بن ثابت رضی الله عنه ته يې امر وکړ چې د يهودو ژبه زده کړي. زيد بن ثابت رضی الله عنه د رسول الله صلی الله عليه وسلم دغه امر داسې روايت کوي:

«أَمَرَنِي رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهِ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَتَعَلَّمَ كَلِمَاتٍ مِنْ كِتَابِ يَهُوْدٍ، وَ قَالَ إِنِيِّ وَاللهِ مَا آمَنُ يَهُوداً عَلَى كِتَابِي. فَمَا مَرَّ بِي نِصْفُ شَهْرٍ حَتَّى تَعَلَّمْتُه لَه، فَلَمَّا تَعَلَّمْتُه كَان إِذَا كَتَبَ إِلَى الْيَهُوْدِ كَتَبْتُ إِلَيْهِم، وَ إِذَا كَتَبُوْا إِلَيْه قَرَأْتُ لَه كِتَابَهُمْ». [1]

ترجمه: (زيد بن ثابت رضی الله عنه فرمايي چې ما ته رسول الله صلی الله عليه وسلم امر وکړ چې د يهودو د کتاب ژبه زده کړم، نو ويې فرمايل: چې په الله قسم چې زه يهودان په دې کې امين نه ګڼم چې زما ليک به په امانتدارۍ وليکي. پر ما لا نيمه مياشت نه وه تيره شوې چې د يهودو ژبه مې د رسول الله صلی الله عليه وسلم لپاره زده کړه، (د هغو مقاصدو لپاره مې زده کړه چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم مراد وو)، کله مې چې زده کړه، نو بيا به چې

[1]- رواه الترمذي و أبوداود و أورده البخاری في كتاب الأحكام من صحيحه معلقا.

کله رسول الله صلی الله علیه وسلم دوئ ته خط ورلیږه، نو ما ته به یې وویل، او ما به بیا دوئ ته د یهودو په ژبه خط ولیکه، او چې کله به دوئ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته خط راولیږه، نو ما به رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د یهودو خط ولوست.

د حدیث شرح دا ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یهود په دې کې امین نه ګڼل چې دی مبارک دې یهودو ته څه لیکل وغواړي، او کوم یهودي ته ووایي چې زما خبرې یهودو ته د هغوئ په ژبه ولیکه، هسې نه چې ده به ورته یو څه ویلي وي او هغه به بل څه لیکلي وي؛ ځکه یهودانو چې د الله کتاب تورات او د انبیاوو ویناوې تحریف کړې دي، نو د رسول صلی الله علیه وسلم خبرې به ولې نه تحریفوي چې په دښمنۍ کې ورسره اخته دي؟! نو ځکه خو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې زه یهودان امین نه ګڼم چې هغوي به زما خبرې په امانت داری ولیکي او خپل قوم ته به یې ورورسوي.

په قرآن کریم کې هم د ژبو بېلابېلوالی د الله تعالی د قدرت له نښو څخه ګڼل شوي، الله تعالی په سورة روم کې فرمایي:

﴿وَمِنْ آيَاتِهِ خَلْقُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافُ أَلْسِنَتِكُمْ وَأَلْوَانِكُمْ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِلْعَالِمِينَ﴾ [الروم: ٢٢]

ژباړه: (د الله تعالی د قدرت له نښو څخه د آسمانونو او د ځمکې پیدایښت او ستاسې د ژبو او رنګونو بېلابېلوالی دی. یقینا په دې کې د عالمانو لپاره نښې دي).

د هر قوم، ولس او هرې سیمې جلا ژبه ده، او دا ټولې ژبې خپل کلمات، تعبیرونه، ژبنی جوړښت اوقواعد لري، او هره ژبه په خپل ځان کې پوره ژبه ده چې ویونکي یې ورباندې پوره تفاهم کوي. د دومره ډېرو ژبو ایجادول او

خلکو ته ورزده کول د الله تعالی د قدرت له علامو څخه دي، خو دا چې د ژبې، فرهنګ، علم او لغاتو زده کړه، د هغو خپرول، د هغو په اهمیت باندې پوهېدل او نور خلک پرې پوهول د عوامو او سطحي خلکو کار نه دی، نو ځکه الله تعالی عالمان یاد کړي چې په دې کې د عالمانو لپاره عبرت دی.

## ژبې شخصیتونه دي:

ژبې په حقیقت کې د شخصیتونو په معنی دي، که څوک په یوه ژبه پوهېږي هغه یو شخص دی، که څوک په دوه ژبو پوهېږي هغه دوه شخصه دی، او که څوک په لسو ژبو پوهېږي هغه لس شخصه دی. او دا په دې معنی چې په هره بېله ژبه کې دی له جلا قوم، جلا فرهنګ، جلا تمدن او جلا اجتماعي وضیعت سره د تعامل وړتیا پیدا کوي. د مثال په ډول: که یو پښتون فارسي ژبه زده کړي، نو د فارس له تمدن او د افغانستان، ایران او تاجکستان له حالاتو په مستقیم ډول خبرېږي. او که اردو ورسره زده کړي نو د هند او د هغه په شاوخوا کې چې څومره اولسونه دي د هغوي له حالاتو خبریږي. او که عربي زده کړي، نو د عربي نړۍ له تمدن او احوالو خبرېږي. او که انګلېسي ورسره زده کړي، نو د امریکا، اروپا او استرلیا له تمدن او احوالو خبرېږي. او یا په بل عبارت د اوردو له درکه دی هندوستانی کېږي، د فارسي له درکه ایرانی او تاجکی کېږي، د عربۍ له درکه عرب کېږي، او د انګریزۍ له درکه د انګریزي تمدن پېژندونکی کېږي او د ټول غرب پر وضیعت پوهېږي. په دې ډول همدغه یو پښتون د هرې ژبې په زده کړه د جلا جلا شخصیت په حیث تبارز کوي.

ژبې د علم او معلوماتو د رڼا د کړکیو حیثیت هم لري، او څومره چې د چا د ذهن خونې ته د معلوماتو کړکۍ ډېرې راخلاصې وي په هماغه اندازه یې د ذهن خونه ډېره روښانه وي.

**د هېواد پر علمي بډاینه د ژبو د زده کړې تأثیر:**

دا له شکه وتلې خبره ده چې د اسلامي نړۍ په ډېرو هېوادونو کې علمي، تألیفاتي، تحقیقاتي او د کتاب د چاپ او نشر وضعیت تر افغانستانه ډېر پرمختللی دی، ډېر پوهنتونونه لري، علمي فعالیت ته متفرغ په سلکونو زره دیني علماء او نور پوهان لري، او په ډېرو داسې علومو او موضوعاتو کې یې دومره پراخ او ژور کار کړی چې موږ به په لسګونو کلونو وروسته هم ورونشو رسېدلی. خو په اوس وخت علوم داسې څه نه دي چې د کوم خاص هېواد او یا ولس په احتکار کې دې پاتې شي. زموږ دیني علماء که نورې ژبې زده کړي، نو په ډېرې آسانۍ به له عربۍ، اردو، انګلېسي، ترکي او نورو ژبو مفید او زموږ د ضرورت وړ کتابونه ترجمه کړي.

عربي زموږ د دین ژبه ده، او همدا اوس په عربي ژبه کې په تفسیر، حدیث، عقیده، فقه، ادیانو او مذاهبو، ژبې او ادبیاتو، علم الاجتماع، سیاست، نظام او حاکمیت، عسکریت او امنیت، اخلاقو او سلوک، تزکیه او احسان، اسلامي اقتصاد او نورو علومو کې په سلګونو ملیونه د پخوانیو او اوسنیو علماوو کتابونه شته چې زموږ دعلماوو او ولس ورته ضرورت دی. خو دا چې خپلو ژبو ته یې نه ترجمه کوو، نو څکه یې له فائدې محروم یو. له دې محرومیته به هغه وخت وځو چې په مدارسو او علماوو کې مو کې د ژبو د زده کولو فرهنګ رایج شي.

د کومو خلکو چې ډېرې ژبې زده وي هغوي ډېرو علومو ته لاس رسی لري، او د کومو چې لږې ژبې زده دي هغوی لږو علومو ته لاس رسی لري. د کوم ولس چې ډېري ژبې زده وي هغه د نورو ډېرو ولسونو له علومو استفاده کولی شي، او د کوم چې لږ ژبې زده وي هغوي د هماغه خپل علم په دايره کې محدود وي. او کله خو داسې هم وي چې په علمي دنيا کې ډېر پرمختګ شوی وي خو دوئ پرې خبر هم نه وي.

مدرسه او مبارزه

## ژبې څنګه زده کېږي؟

په اوس وخت کې په عصري میتودونو د ژبو د زده کړې لپاره تر ټولو بهترین نصابونه او کتابونه لیکل شوي دي چې تر ټولو کمزوري خلک هم ژبه ترې زده کولی شي.

زموږ د مدرسو د صرف او نحوې په کتابونو کې د عربي ژبې د اسې زده کړه هدف نده چې وینا او لیکل دې پرې وشي، ترجمه دې ورته وشي او یا دې ترجمه ترې وشي، عربو ته دې خپل سیاسي، اجتماعي، اخلاقي، جهادي، فرهنګي، تاریخي او تمدني مفاهیم پرې ورسولی شو.

موږ په کتابونو کې د عربي ژبې قواعد لولو، خو د همدغو قواعدو د تطبیق لپاره نه د عربي ژبې کتابونه لولو او نه پرې خبرې کوو. علت یې دا دی چې زموږ په مدارسو کې قواعد یوازې د دې لپاره لوستل کېږي چې طالبان مو د درسي کتابونو پر متنونو پوه شي، نه د دې لپاره چې د مدارسو طالبان دې په عربي ژبه کې ادیبان، بلیغان، لیکوالان او د ترجمې او تعریب مهارتونه زده کړي.

د هرې ژبې د زده کړې لپاره معاصرو ژبپوهانو څلور اساسي مهارتونه تشخیص کړي دي چې په لاندې ډول دي:

۱ـ خبرې کول چې په انګلیسي کې ورته (Spaeking) وایي.

۲ـ لیکل کول چې په انګلیسي کې ورته (Writing) وایي.

۳ـ لوستل کول چې په انګلیسي کې ورته (Reading) وایي.

۴ـ د ژبې له اصلي ویونکو اورېدل چې په انګلیسي کې ورته (Listening) وایي.

ژبه په صحیح ډول هغه وخت کې زده کېږي چې په زده کولو یې دغه ټول مهارتونه په همزمانه ډول وپالل شي. دا چې په مدارسو کې ژبې سمې نه زده کېږي علت یې دا دی چې دلته یوازې په لوستلو اکتفاء کېږي.

که د ژبو په زده کړه کې د پورتنیو مهارتونو د افادیت د عملي مثال په توګه د انګلیسي د زده کړې د اوسنیو کورسونو طریقې ته وګورو، نو وینو چې یو ځوک چې په هغو کې یو یا دوه کاله انګریزي ووايي سم د انګریزی استاذ شي چې هم ورباندې روان غږېدلی شي، هم لیکل کولی شي، هم لوستل کولی شي، او هم د انګرېزانو له خبرو سم اخذ کولی شي. او دا ځکه چې له یوې خوا هغوئ ته د ژبې داسې عصري نصاب تدریسېږي چې د ژبې مفردات او قواعد په متوازنه، اسانه او دلچسپه طریقه وړاندې کوي، او له بل لوري پورته یاد شوې څلور ګوني مهارتونه په دقت سره کاروي.

په دیني مدارسو کې طالبان تر لسو کلونو زیات وخت عربي کتابونه لولي، خو بیا هم نه په سم او سلیس ډول په عربي ژبه غږېدلی شي، او نه پرې سم لیکل کولی شي. د دې کار علت دا دی چې موږ عربي ژبه د ژبښوونې د مهارتونو مطابق نه تدریسوو.

د ژبې په ښوونه کې بل مهم کار دا دی چې ژبه باید په خپله په هماغې ژبې تدریس شي چې کومه ښووله کېږي، په دې معنی چې فارسي دې په فارسي، عربي دې په عربي، انګلیسي دې په انګلیسي تدریس شي، ځکه چې مدرس د تدریس په جریان کې د کتاب تر الفاظو څو برابره د هماغې ژبې نور الفاظ هم کاروي، چې په دې کار سره هم طالبان له ډېرو الفاظو سره آشنا کېږي، هم د الفاظو د استعمال مناسب ځایونه او معیاري تعبیرونه پېژني، او هم دا زده کوي چې الفاظ پخپلو کې څنګه سره پیېل کېږي. دغه کار به په پیل کې لږ ستونزمن وي، خو څو ورځې وروسته بیا ډېر اسانه کېږي.

مدرسه او مبارزه

زموږ په مدارسو او مکاتبو کې چې عربي او انګلیسي نه زده کېږي علت یې دا دی چې یو خو دلته دغه دواړې ژبې په پښتو یا دري تدریسېږي، او بل دا چې د تدریس په جریان کې د تمثیل، حرکاتو او تطبیق پرځای د الفاظو له ترجمې کار اخیستل کېږي، او درس په یوه (پرځای ولاړ حالت) کې ورکول کېږي. خو د دې حالت برعکس د ژبښونې په کورسونو او یا د ژبښونې په مکتبونو او پوهنتونونو چې ژبې ښې او ژر زده کېږي سبب یې دا دی چې یو خو هلته تدریس د طالب په ژبه نه تر سره کېږي، او بل هلته د طالبانو ترمنځ هم د دوئ په خپلو ژبو په غږېدلو بندیز وي، او په مکمل ډول د زده کېدونکي ژبې په محیط کې اوسي.

د ژبې په زده کړه د کتاب دومره نقش نه وي لکه څومره چې د استاذ وي. او د دې لپاره چې په دیني مدارسو کې په کافي شمیر د ژبو ماهر استاذان ولرو، دېته اشد ضرورت دی چې د خپلو ځوانو علماوو لپاره په پراخ ډول د ژبو د زده کولو فرصتونه او مرکزونه ایجاد کړو. او که خپله د مدارسو لپاره استاذان ونه روزو او د بل چا له لوري روزل شوي استاذان استخدام کړو، نو د دې وېره شته چې د مدرسې محیط او د طالب ذهن ته به نامطلوبه پردي افکار لاره پیدا کړي، چې دا به بیا نورې ستونزې رامنځته کوي.

مدرسه او مبارزه

# شپږم ضروري مضمون ـ تزکیه او اخلاق

**اخلاقي روزنه د انبیاوو علیهم السلام او مصلحینو اساسي وظیفه:**

انسان له دوو شیانو جوړ دی چې یو یې جسد دی او بل یې روح. جسد په مادیاتو او روح په معنویاتو پالل کېږي. په معنویاتو کې تر ټولو مهم یې ایمان، علم او اخلاق دي. په ایمان شخص مؤمن کېږي، په علم هوښیارېږي، او په اخلاقو په انسان کې شرافت راځي. په انسانانو کې د دغو درېواړو مهمو صفاتو راوستل د انبیاوو علیهم السلام، علماوو او مصلحینو کار دی. الله تعالی د خپل تر ټولو ستر او وروستي پیغمبر محمد صلّی الله علیه وسلم په اړه چې د قیامت تر ورځې د ټولو انسانانو لپاره غوره مثال دی فرمایي:

﴿وَ إِنَّكَ لَعَلَى خُلُقٍ عَظِيمٍ﴾ [القلم: ۴]

ترجمه: (او بېشکه چې ته پر سترو خویونو او اخلاقو یې).

رسول الله صلّی الله علیه وسلم هم د خپل بعثت مهم هدف د اخلاقو پوره کول ګڼي، او په هغه حدیث شریف کې ابو هریرة رضي الله عنه روایت کړی فرمایي: «إنما بُعِثْتُ لِأُتَمِّمَ مَكَارِمَ الْأَخْلَاقِ».[1]

ترجمه: (یقیناً زه د دې لپاره رالېږل شوی یم چې غوره اخلاق پوره کړم).

یعني: هغه نیک اخلاق په خپل قول، فعل، او دعوت پوره کړم چې په خلکو کې ناقص شوي دي. الله تعالی د همدې لوی نعمت په اړه فرمایي:

﴿لَقَدْ مَنَّ اللهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِنْ أَنْفُسِهِمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِنْ كَانُوا مِنْ قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ﴾[آل عمران: ۱۶۴]

---

[1]- أخرجه البيهقي و صححه الألباني في سلسلة الأحاديث الصحيحة برقم۴۵۴۲.

ترجمه: بېشکه الله تعالی احسان کړی پر مؤمنانو چې را ويې لېږه په دوئ کې د دوئ له جنسه پيغمبر چې لولي پر دوئ آيتونه د هغه، او پاکوي دوئ (له گناهونو او شرک څخه په توحيد)، او ښيي دوئ ته کتاب (قرآن کريم) او حکمت (نبوي سنت او شرعي احکام) او بې شکه وو دوئ پخوا له دې په ښکاره گمراهۍ کې).

په پورتني آيت کې تلاوة الآيات، تزکيه، تعليم الکتاب او تعليم الحکمة د رسول صلّى الله عليه وسلم کار ښودل شوی دی چې همدغه کار بيا تر رسول صلّى الله عليه وسلّم وروسته د دې امت د علماوو کار دی.

د اسلام ټولو احکامو او لارښوونو ته که په عمومي نظر وگورو، نو پر لاندې درې برخو تقسيمېږي:

۱ـ عقايد

۲ـ اعمال

۳ـ اخلاق

او دغه درېواړه په خپلو کې سره قوي ارتباط لري، او هغه په دې معنې چې د عقيدې اثر بايد په اعمالو او اخلاقو کې ښکاره شي، اعمال بايد د عقيدې پر اساس او د اخلاقو په رعايتولو تر سره شي، او اخلاق بايد له عقيدې نشأت وکړي او په عمل کې پياده شي.

### اخلاق څه شی دي؟

امام جرجاني رحمه الله تعالى په خپل کتاب (التعريفات) کې اخلاق داسې تعريفوي: (اخلاق په نفس کې هغه راسخ کيفيت دی چې پرته له فکر کولو له هغه په آسانۍ افعال صادرېږي. که صادر شوي افعال په عقلي او شرعي لحاظ نېک وي، نو دې کيفيت ته نېک اخلاق ويل کېږي، او که صادر شوي

افعال بد وي، نو دې کيفيت ته بد اخلاق ويل کېږي. او په نفس کې د راسخ کيفيت خبره ځکه کوو چې کوم افعال چې له انسانه په تکلف صادرېږي هغو ته د هغه انسان خُلُق نه ويل کېږي، لکه د بخيل له لوري په ځينې وختونو کې ورکړه چې د هغه په حق کې د سخاوتمندۍ خُلُق نه ګڼل کېږي، او يا په تکلف سره د غضب په وخت کې چوپ پاتې کېدل حِلم نه ګڼل کېږي، لکه څنګه چې د مال نه درلودلو او يا کوم بل مانع له امله د سخي نه ورکړه د هغه په حق کې بخل نه ګڼل کېږي.[1]

د اسلام له نظره اخلاق د انساني سلوک هغه قواعد او اساسات دي چې له الهي وحيې نشأت کوي، او د انسان ژوند په داسې ډول تنظيموي چې له نورو سره د احسن تعامل له لارې د ده د خلقت هدف تر سره شي، او دی د الهي تکريم ممثل وګرځي.

## د ملتونو په بقا او زوال کې د اخلاقي قوت تأثير:

اسلامي اخلاق هغه ستر قوت دی چې د تل لپاره يې اسلامي امت قوي، پاک او متحد ساتلی دی، او په هره سيمه، زمانه او هر ولس کې چې اسلامي اخلاق رعايت شوي، هلته مسلمانان د کفارو په مقابل کې قوي پاتې شوي دي. ځکه خو د عربي نړۍ وروستی امير الشعراء احمد شوقي وايي:

إنّما الأُمَمُ أَخلاقٌ مَا بَقِيَتْ     فَإِنْ هُمُو ذَهَبَتْ أَخلاقُهُمْ ذَهَبُوا[2]

ترجمه: د ملتونو بقاء پر اخلاقو ولاړه ده، که چېرې يې اخلاق له منځه لاړ شي دوئ هم له منځه ځي.

په بل شعر کې وايي:

---

[1]- التعريفات للجرجاني تحقيق إبراهيم الأبياري ص ١٣٦.

[2]- ديوان أحمد شوقي قصيدة: (صحوت واستدركتني شيمتي الأدب).

و إذا أُصِيبَ القومُ في أخلاقِهم فَأَقِم عليهم مَأتَماً و عَوِيلا[1]

ترجمه: کله چې یو ملت په اخلاقي لحاظ کمزوري شي، نو د مرګ ماتم او ژړا پرې وکړئ.

له همدې امله خو کفار په هره زمانه کې کوښښ کوي چې د مسلمانانو د اخلاقو په فاسدولو هغوئ په معنوي لحاظ کمزوري او په سیاسي او عسکري لحاظ پاشلي او پخپلو کې سره په اختلافاتو کې اخته کړي، ترڅو د دوئ مقابله ونه کړای شي.

نن ورځ که د اسلامي نړۍ حالت ته وګورو، نو وینو چې لویه برخه مسلمانان په اخلاقي، فکري، فرهنګي او اجتماعي لحاظ له خپلو اسلامي ارزښتونو او معیارونو لرې شوي او په پردیو پسې روان دي، چې همدا د دې زمانې د مسلمانانو د کمزورۍ تر ټولو لوی عامل دی.

نن په اسلامي نړۍ کې د کفري جهتونو تر ټولو ډېر مصاریف پر دې کیږي چې څنګه په مسلمانانو کې هر ډول بد اخلاقي خپره کړي، او د همدې هدف لپاره یې د فلم جوړولو کمپنۍ، تلویزیونونه، راډیوګانې، انټرنټي او سټلایټي رسنۍ، د فیشن کمپنۍ، فستیوالونه، د ساعت تېرۍ او خوشګذرانۍ پارکونه، ساحلونه، مېله ځایونه، هوټلونه، فلمي سریالونه، موسیقي، تیاترونه، عشقي او جنسي ناولونه، لوڅ ادبیات، د ښځو د آزادۍ او له نارینه وو سره د مساوات او اختلاط غوښتنې تحریکونه، د حجاب مخالفت، غربي ډوله لباسونه، په هر څه کې د ځوانو ښځې دخیلول، د همجنسګرایۍ خپرول او قانوني کول، جنسي تجارت، د شرابو او نورو مخدراتو عامول، په بېلابېلو ډولونو د قمار رواجول، نایټ کلبونه، لوبې، سیمه ییزې او نړیوالې مسابقې او نور په سلګونه ډوله وسائل رامنځته کړي دي، چې د دې هر څه په نتیجه کې

[1]- دیوان أحمد شوقي، قصیدة( قم للمعلم وفّه التبجیلا).

د اسلامي نړۍ ځوان نسلونه له خپلو ارزښتونو او اخلاقو پردي شوي او په غرب پسې روان دي.

افغانان هم له پورتني ياد شوي وضعيت څخه مستثنیٰ نه دي، بلکې همدغه وضعيت په متفاوتو درجو د افغانستان په کليو او ښارونو کې هم دی چې مخنيوی او اصلاح يې بيا هم د اسلامي حکومت، علماوو او د مدرسې د منسوبينو مکلفيت دی چې بايد په ښه ډول يې تر سره کړي.

اسلامي نظام، علماوو او د مدرسې منسوبينو ته د بد اخلاقۍ د دغه طوفان په خلاف هراړخيزه مبارزه او په ولس کې د اسلامي اخلاقو خپراوی او د يوې مهذبې او متمدنې ټولنې رامنځته کول هغه وخت ممکن کېږي چې په جدې، سنجول شوي او دوامداره ډول لاندې دوه کارونه ترسره شي:

۱- نظام بايد په ټولنه کې د اخلاقي ارزښتونو د راوستلو او تقويې په هدف خپل ټول مطبوعاتي او نشراتي وسائل په سيستماتيک او هدفمندانه ډول د ماهرو خلکو په توسط وکاروي، او په جديت سره د هغه اشخاصو او جهتونو مخنيوی وکړي چې په ټولنه کې د فکري او اخلاقي فساد د خپرولو لپاره کار کوي.

۲ـ د مدارسو، مکاتبو او پوهنتونونو په نصاب کې بايد د اخلاقو مضمون په هر صنف کې د داسې يوه لازمي مضمون په حيث چې لوړې نمرې ولري ور داخل او په ښه ډول تدريس شي. او همدارنګه استادان، امامان، خطيبان، طالبان او ديني جهتونو ته منسوب خلک بايد د ټولنې له افرادو سره داسې مثالي اخلاقي تعامل ولري چې په دې مجال کې په واقعي معنی د خلکو لپاره مثال وګرځي.

په تعليمي نصاب کې د اخلاقو د مضمون شاملول او اخلاقي روزنه به هم د مدارسو د منسوبينو اخلاقي وضعيت مثالي وګرځوي، او هم به په هغوئ کې

دا علمي توانايي پيدا کړي چې ولس ته اسلامي اخلاق په عملي او علمي ډول ورتلقين کړي. او که چېرې دا کار ونشي نو ليرې نده چې د مدارسو ځوانان او ځوان علماء به هم په ټولنه کې له موجود اخلاقي انحطاطه متأثره شي چې دغه منفي متأثره کېدل به په ټولنه کې د علم او مدارسو تأثير کمزورى کړي او طالبان او علماء به مو د ټولنې لپاره په ريښتينې معنى د مثاليت په مرتبه کې پاتې نشي او ولسونه به يې د خپل قيادت لپاره وړ ونه بولي، چې دا کار به علم، علماوو او مدارسو ته نه جبرانېدونکى تاوان ورسوي.

## آيا اوس مو په مدارسو کې د اخلاقو کتابونه تدريسېږي؟

په نړۍ او اسلامي هېوادونو د بداخلاقۍ خطرناک توپان ته په پام سره بايد په مدارسو او ټولو تعليمي ادارو کې د اسلامي اخلاقو مضمون په لازمي ډول تدريس شي. د اوس لپاره خو په مدارسو کې د اخلاقو په اړه هېڅ ځانګړى کتاب نه تدريسېږي.

کېدى شي د مدارسو ځينې استاذان ووايي چې موږ اخلاقي موضوعات تدريسوو، ځکه چې موږ قرآن کريم او احاديث تدريسوو او په هغو کې ټول اخلاقي موضوعات شته. دا خبره په عموم کې تر يوه ځايه سمه ده، خو که دغه استدلال درست وګڼو، نو بيا خو په قرآن کريم کې فقهي احکام هم شته، نو فقه ولې په عليحده ډول تدريسوو؟په قرآن کريم کې خو عقيده هم شته، نو د عقيدې کتاب ولې تدريسو؟ په قرآن کريم کې خو د عربي ژبې ښه عالي بلاغي تعبيرونه هم شته، نو بيا د ادبياتو کتابونه ولې تدريسو؟ په قرآن کريم کې خو ښه د تعقل، تدبر او تفکر آيتونه او د عقلي استدلال او مناقشې منهج هم شته چې د انسان عقل صيقل کوي او په استدلال او مناقشه کې

مدرسه او مبارزه

لوستونکي ته پر خصم د غلبې لارې چارې ورښيي، نو بيا منطق ولې تدريسوو؟ موږ دا هر څه ځکه تدريسوو چې هلته اصول او کليات ذکر شوي چې د هغو تطبيق او (تنزيل على الواقع) جلا فهم، جلا کتاب، جلا نهج او عملي مثالونه غواړي.

## د ټولنې خلکو ته د اخلاقي روزنې ډېر ضرورت دی، که د لغوي او عقلي علومو؟

د يوه مثال په ترڅ کې که داسې فرض کړو چې که په يوې ولسوالۍ کې سل زره تنه اوسيږي او د دې سلو زرو تنو له منځه زرو تنو ته يې په مدارسو کې د عربي ژبې د زده کړې لپاره د صرف او نحوې د شپاړسو کتابونو د شاملولو ضرورت ګڼو، نو د دې نورو نهه نوي زرو لپاره د اخلاقي روزنې د ضرورت په مقصد ولې د اخلاقو کتابونه په نصاب کې نه شاملوو؟

دا بايد هېر نه کړو چې هغه علم چې له اخلاقي روزنې پرته حاصل شي هغه په انسان کې غرور پيدا کوي. ابليس هم همدغه ډول علم مغروره کړی و. هغه ته ځان په علم کې دومره پياوړی ښکارېده چې له الله سره يې مناقشه کوله او آدم عليه السلام ته د سجدې د نه کولو په دليل کې يې الله تعالی ته ويل:

﴿أَنَا خَيْرٌ مِنْهُ خَلَقْتَنِي مِنْ نَارٍ وَخَلَقْتَهُ مِنْ طِينٍ﴾ [ص: ٧٦]

ترجمه: (زه تر هغه غوره يم، زه دې له اوره پيدا کړی يم او هغه دې له خټې پيدا کړی).

ابليس همدارنګه په تعجب له الله تعالی پوښتنه کوله چې:

﴿أَأَسْجُدُ لِمَنْ خَلَقْتَ طِينًا﴾ [الإسراء: ٦١]

ترجمه: (آيا داسې چا ته سجده وکړم چې له خټې دې جوړ کړی دی؟!).

شیطان له خپل رب سره علمي مناقشه کوله، او په تعجب يې پوښتنه کوله، ـ نعوذ بالله ـ لکه الله تعالی چې نه پوهیږي او دی یې متوجه کوي چې ای ربه دا کار د کولو نه دی چې ما آدم ته په سجده مأمور کوې! ابلیس ته دغه غرور او د انکار انګېزه له علمه پیدا شوی وه. هغه عالم و، خو له خپل رب سره يې د تخاطب او تعامل اخلاق نه درلودل.

د ابلیس مشکل دا و چې اخلاق یې نه درلودل، او د بد اخلاقۍ له امله کافر شو. هغه غرور درلود، آدم علیه السلام یې سپک ګاڼه، او هغه یې د دې وړ نه ګاڼه چې د ده په اړه دې د الله تعالی حکم نافذ کړي. لکه نن هم چې ځینې خلک وایي: دا څوک دی؟! تر ده خو زه ښه یم.

د ابلیس له حالته معلومه شوه چې له علم سره چې اسلامي اخلاق نه وي په لرونکي کې یې ابلیسي خوی پیدا کېږي، او له همداسې مغرور عالم او طالب څخه د نفرت امله خلک له مسجد، محراب، مدرسې او کتاب څخه فاصله نیسي. او که چېرې عالم او طالب په اخلاقي لحاظ غوره بېلګه او د ښو اخلاقو خاوند وي، له خلکو سره د ښه تعامل عملي مثال وي، او د الله تعالی د دین اخلاق د ده په ژوند، وینا، عمل او صفاتو کې راغلي وي، نو بیا هر څوک وایي چې دی په کومه مدرسه کې روزل شوی چې زه مې هم بچی هلته ورولم؟

**د تزکیې او اخلاقو ځینې پخواني او اوسني کتابونه:**

د اسلام علماوو په هره زمانه کې د نفس د تزکیې او اخلاقو په موضوعاتو کې ډېر مهم کتابونه لیکلي دي چې په هغو کې یې په تفصیل سره د تزکیة النفس طریقې، وسائل او د اسلامي اخلاقو محاسن او د بد اخلاقیو قباحتونه ذکر کړي دي. دغه ډول کتابونه د تزکیة النفس، زهد، رقائقو، آدابو، د اسلامي

تربيې او د اخلاقو د کتابونو په نامه ياد شوي چې ځينې يې د هغو د تأليف له زماني ترتيبه پرته په لاندې ډول يادوو:

**د کتاب نوم: د مؤلف نوم:**

١ـ کتاب الزهد الإمام أحمد بن حنبل.

٢ـ کتاب الزهد الإمام عبد الله بن مبارك.

٣ـ کتاب الزهد الإمام هناد بن السّري الكوفي.

۴ـ الزهد والرقائق الخطيب البغدادي.

۵ـ الفوائد والزهد والرقائق والمراثي الإمام جعفر بن محمد بن نصير (الخلدی).

٦ـ موسوعة الأخلاق والزهد والرقائق ياسر عبد الرحمن.

٧ـ حرمة المسلم وفضل السابقين أبو بصير ناصر الوحيشي.

٨ –البحر الرائق في الزهد والرقائق أحمد فريد.

١٠ـ داء و دواء

خالد أبو شادي.

١١ـ الأخلاق الإسلامية محمود عبدالرحمن عبدالمعطي.

١٢ـ أعمال القلوب خالد بن عثمان السبت.

١٣ـ تحفة الواعظ للخطب والمواعظ السيد مراد سلامة.

١۴ـ نضرة النعيم في مكارم أخلاق الرسول الكريم د متخصصو علماو يوه مجموعه

١۵ـ صيد الخاطر الإمام عبدالرحمن بن الجوزي.

١٦ـ مدارج السالكين الإمام ابن قيم الجوزية.

١٧ـ الداء والدواء الإمام ابن قيم الجوزية.

١٨ـ طب القلوب الإمام ابن قيم الجوزية.

مدرسه او مبارزه

۱۹ـ بحر الدموع الإمام عبد الرحمن بن الجوزي.
۲۰ـ تلبیس إبلیس الإمام عبدالرحمن بن الجوزي.
۲۱ـ کتاب الکبائر الإمام الذهبي.
۲۲ـ مختصر منهاج القاصدین الإمام ابن قدامة المقدسي.
۲۳ـ موسوعة فقه القلوب الشیخ محمد بن إبراهیم التویجري.
۲۴ـ الأخلاق والسیر في مداواة النفوس الإمام ابن حزم الأندلسي.
۲۵ـ الفضیلة والرذیلة الشیخ محمد متولي الشعراوي.
۲۶ـ الأخلاق الإسلامیة للناشئة الدکتور محمد خیر فاطمة.
۲۷ـ الآداب الإسلامیة للناشئة الدکتور محمد خیر فاطمة.
۲۸ أخلاقنا الاجتماعیة الشیخ مصطفی السباعي.
۲۹ـ کتاب الأخلاق الشیخ أحمد أمین.
۳۰ ـ علّم ولدك الأخلاق والآداب أسامة صلاح.
۳۱ـ الأخلاق الإسلامیة و دورها في بناء المجتمع الدکتور جمال نصّار.
۳۲ـ د مؤمن اخلاق عمر خالد. د اسدالله کاښي ژباړه.
۳۳- الفوائد (د زړونو او نفسونو تزکیه) ابن قیم الجوزیة. د مولوي جمال الدین صالح ژباړه

پورته یاد شوي کتابونه او په سلګونو نور د اخلاقو او تزکیة النفس کتابونه له بېلابېلو زاویو پر اسلامي اخلاقو، زهد او تربیې بحث کوي، او په ژوند کې د هغو اهمیت او تأثیر ښکاره کوي. له نېکه بخته چې د دغو کتابونو لویه برخه یې په انترنت کې په اسانه پیداکېږي.

**کوم اخلاقي موضوعات مو باید په نصابونو کې شامل شي؟**

مدرسه او مبارزه

د اسلامي اخلاقو ټولو موضوعاتو ته د اسلامي ټولنو د افرادو ضروت دی، خو په نصابونو کې باید هغو موضوعاتو ته اولویت ورکړ شي چې د رامنځته کېدونکو فسادونو مخنیوی او د ژوند په بېلابېلو مجالاتو کې د موجود فساد اصلاح پرې رامنځته شي.

په دې مجال کې کېدی شي د هرې ټولنې اولویات له بلې توپیر ولري. د اوسنۍ زمانې د عمومي ضروري اخلاقي موضوعاتو په اړه د شام یوه قدرمن عالم استاذ محمود محمد الخازندار (أبو أسامة السوري) رحمه الله تعالی چې د روسانو او کمونستانو په خلاف د افغانانو په جهاد کې یې تر لسو کلونو ډېره موده د شهید عبدالله عزام د یوه نېږدې همکار او د زرګونو افغانو ځوانانو د روزونکي په حیث له افغانانو سره تېره کړې او د (الجهاد) د مجلې له دائمي لیکوالو څخه وو د اخلاقو په اړه د (**هذه أخلاقنا حين نكون مؤمنين حقا**) یعنې (دا به مو اخلاق وي کله چې په ریښتینې ډول مؤمنان شو) په نامه یو ډېر مهم کتاب لیکلی چې د نړۍ په ډېرو مسلمانو ولسونو کې په تربیوي حلقاتو کې د اخلاقي روزنې مشهور کتاب دی او په انټرنټ کې هم موندل کېږي.

استاد محمود محمد الخازندار چې د اسلامي نړۍ په ډېرو هېوادونو کې یې مسلمان ځوانان روزلي وو، او د طاغوتي حکومتونو له لاسه یې ډېر کړاوونه او زندانونه هم ګاللي وو، د خپل علمي او تربیوي ژوند په اوږده بهیر کې له حاصلې کړې تجربې په استفاده د ژوند د بېلابېلو ډګرونو لپاره هغه مهم اسلامي اخلاق تشخیص کړي او په خپل کتاب کې یې په منظم او تفصیلي ډول ذکر کړي چې د اوسنۍ زمانې ځوانان باید پرې وروزل شي. هغه مرحوم د هر خُلُق په اړه د قرآن کریم او نبوي احادیثو کافي دلائل او د امت د لویو علماوو اقوال او تشریحات ذکر کړي دي.

زه په دې مضمون کې د هغه مرحوم له کتابه یوازې د اخلاقي موضوعاتو عنوانونه په دې هدف را اخلم چې هم به مې په یو ډول د هغه د کتاب د موضوعاتو خلاصه راوړې وي، او هم به د هغه مرحوم د علم یوه برخه د هغه افغان ولس طالبانو او عالمانو ته رسولې وي چې هغه مرحوم یې تر لسو کلونو ډېر په جهاد، هجرت، غمونو، خوښیو، روزنې او نصرت کې شریک پاتې شوی و. د اسلامي اخلاقو دغه مهم او معاصر کتاب په عربي ژبه لیکل شوی خو زه یې د عنوانونو ترجمه په لاندې ډول ذکر کووم:

لومړی فصل ـ جهادي اخلاق:
۱- د الله تعالی پر نصرت ټینګ باور.
۲ـ د شهادت لپاره تیاری لرل.
۳ـ د مسلمانانو نصرت کول.
۴ـ ذلت نه منل.
۵ ـ زړورتیا درلودل.
٦ ـ صبر درلودل.

دویم فصل ـ دعوتي اخلاق:
۱ـ خلکو ته په مینه ځان ورنیږدې کول.
۲ ـ په ډېره ښه طریقه مناقشه کول او ځواب ویل.
۳ ـ تشویق او ترغیب او له نفرت پارولو ډډه کول.
۴ـ له حکمته کار اخیستل.
۵ ـ همت درلودل.
٦ ـ آساني کول او له سختۍ کولو ډډه کول.

مدرسه او مبارزه

۷ـ خلکو ته فائده رسول.

دریيم فصل ـ د (اخوت) ورورګلوۍ اخلاق:
۱ـ محبت او ورورګلوي درلودل.
۲ ـ مرسته کول او تکافل او مواسات پالل.
۳ ـ سپينه خبره کول.
۴ ـ مينه ناک اوسېدل.
۵ ـ د خير په کارونو کې يو له بله مخکې کېدل.
۶ ـ خپلمنځي تعاون درلودل.

څلورم فصل ـ د مشرۍ اخلاق:
۱ – مثالي او د تقليد وړ شخصيت درلودل.
۲ ـ عدل کول.
۳ ـ تثبت (د حقيقت معلومول).
۴ ـ انعطاف پذيري درلودل.
۵ ـ ښه مشاورين درلودل.

څلورم فصل ـ د للّهيت (خدای پالنې) اخلاق:
۱ـ ربانيت (په علم او عمل کې د رب رضا غوښتل).
۲ـ آخرت ته ډېر پام کول.
۳ـ د الله تعالی تعظيم او د هغه له هر ډول حرامو څان ساتل.
۴ـ د حلالې روزۍ اهتمام.
۵ ـ له خطا ډېر ژر راګرځېدل.

مدرسه او مبارزه

٦ـ پر حق او هدایت ثابت قدمه پاتې کېدل.

شپږم فصل ـ وجداني اخلاق:

١ـ حیاء درلودل.

٢ـ پاکنفسي درلودل.

٣ـ تواضع درلودل او له غروره لیرې اوسېدل.

۴ـ ژوندی ضمیر او ویښ احساس درلودل.

۵ ـ قناعت او خود داري درلودل.

اووم فصل ـ سلوکي اخلاق:

١ـ له فتنو ځان لیرې ساتل.

٢ـ عفوه کول او عذر قبلول.

٣ـ په تفکیر او سلوک کې اعتدال او توازن درلودل.

۴ـ تصحیح منل او پر غلطۍ ټینگار نه کول.

۵ـ په داسې څه د ځان مصروفولو اهتمام چې په دنیا او آخرت کې فائده من وي.

٦ ـ په دوامداره ډول د خیر کارونه کول.

اتم فصل ـ د ژبې اخلاق:

١ـ ژبه بې ځایه نه کارول.

٢ـ رښتیا ویل.

٣ـ عذر کول او له داسې کارونو ځان ساتل چې انسان عذر کولو ته اړباسي.

۴ـ د خلکو عیبونه نه بیانول.

نهم فصل ـ د ټولنيز تعامل اخلاق:

۱ـ نرمي او ترحم درلودل.

۲ـ پراخه سينه او حوصله درلودل.

۳ـ درناوی او احترام درلودل.

۴ـ احسان کول او په ښه ډول کارونه ترسره کول.

۵ ـ احسان کوونکو ته مکافات ورکول.

٦ـ سخاوتمندي او خلاص لاس درلودل.

۷ ـ امانتداره اوسېدل.

۸ ـ خپلوي پالل او له خپلوانو سره ښه کول.

يوازې همدغو موضوعاتو ته زموږ ضرورت ندی، بلکې سلگونه نور اخلاقي موضوعات هم شته چې زموږ ولس ته بايد ور تدريس او ورتلقين شي. خو دا چې پورتنی ياد شوی کتاب مختصر کتاب دی، او په ډېر ښه مرتب شکل ليکل شوی، او پر هرې موضوع يې کافي شرعي ولائل ذکر کړي دي، نو له همدې امله د مدارسو لپاره يو ښه نصابي کتاب کېدای شي.

د دې مضمون په پای کې يو ځل بيا د خپل هېواد د مدارسو له مسؤولينو په ډېر ټينگار او التماس غوښتنه کووم چې په تعليمي نصاب کې دې دغه تشه په ښې محتوا او مناسب کيفيت ډکه کړي، ترڅو د فتنو په دغه زمانه کې د مهذبو او په اسلامي اخلاقو د ښايسته نسلونو د روزلو لپاره زمينه برابره کړي، او په دې مجال کې خپل ورترغاړې مسؤوليت په ښه ډول ادا کړي.

مدرسه او مبارزه

مدرسه او مبارزه

## اووم ضروري مضمون ـ بدني روزنه او جهادي اعداد

د مدرسې په علمي او روزنيز نصاب کې بايد بل مهم او ضروري مضمون بدني روزنه او جهادي اعداد وي چې متأسفانه اوس دغه دواړه نه يوازې دا چې نشته، بلکې دغه دواړه کاره داسې ګڼل کيږي لکه په ديني مدرسې او د اسلام لپاره د هغې په نقش پورې چې هيڅ اړه نه لري.

## ولې بايد په مدرسه کې د فکري او عسکري اعداد فکر او عمل وپالل شي؟

موږ چې غواړو مدرسه د نظام، نصاب، روحيې او فکر په لحاظ د اسلام لپاره د معاصرې مبارزې د مرکز په حيث عياره کړو، نو بايد ومنو چې دغه مبارزه بايد په فکري او عسکري دواړو ډګرونو کې ترسره شي، ځکه چې د مسلمانانو په خلاف د کفارو يرغلونه او جګړې هم د همدغو دواړه ډوله جګړو د ټولو وسائلو په ماهرانه استعمال په همدې دواړو ډګرونو کې په سنجول شوي او منظم ډول روانې دي.

د اوسنی زمانې کفارو له خپلې ټولې پوځي، صنعتي، معلوماتي او تبليغاتي ټکنالوژۍ د مسلمانانو د کمزوري کولو، تسخيرولو او د هغوئ د هيوادونو د لاندې کولو او شتمنيو د لوټلو لپاره کار اخيستی او په دې کار کې لا نور هم پرمخ ځي.

که موږ په ريښتينې معنی غواړو چې د مدرسې منسوبين مو د اسلام لپاره د معاصرې او متوازنې مبارزې وړتياوې په ځان کې پيدا کړي، نو بايد مدارس مو د علمي او فکرې روزنې تر څنګ خپلو شاګردانو ته په جدي ډول بدني او پوځي روزنه هم ورکړي. او دا کار بايد ځکه وکړي چې مسلمانان او په

خاص ډول د هغوئ قيادي جهتونه شرعاً له دين، امت او خاورې څخه په دفاع مکلف دي، او د همدې ستر مسؤوليت د ښه ادا کولو لپاره الله تعالى هغوئ په اعداد او د هر ډول قوت په حاصلولو مکلف کړي دي.

په افغانستان کې د مدرسې د طالب د فکري او جهادي روزنې لپاره له دې امله هم شديد ضرورت دی چې له تېرو دوو پېړيو راهيسې د ټولو بهرنيو يرغلونو په مقابل کې د ديني فکر خلک درېدلي دي.

پر افغانستان د انګرېزانو د ټولو يرغلونو په مقابل کې ديني علماء او د هغوئ شاګردان او مريدان د جګړې په اول صف کې درېدلي.

د روسانو د يرغل او اشغال په مقابل کې ستر جهاد د ديني علماوو او يا د ديني فکر د لرونکو په قيادت کې تر سره شو.

پر افغانستان د امريکا او ټول غرب د يرغل او اشغال په مقابل کې پوره شل کاله پداسې حال کې يوازې د مدرسې اهل ودرېد چې نورو ټولو سياسي او نظامي جهتونو د اشغالګرو خوا نيولې وه.

په مدرسه کې له دې امله هم بايد د جهادي اعداد فکر وپالل شي چې د مدرسې د اهل له لوري په ټوله اسلامي نړۍ کې د يوازيني اسلامي نظام د رامنځته کولو له امله د نړۍ ټول کفري نظامونه او په اسلامي نړۍ کې اسلام ته منسوب د هغوئ ملګري همدا اوس هم د مدرسې د اهل د مخالفت او جګړې په صف کې ولاړ دي، او نه پرېږدي چې دغه نوی رامنځته شوی اسلامي نظام دې تقويه شي او دوام دې ولري.

د پورته ټولو يادو شوو او نورو دلائلو له امله بايد په مدرسه کې جهادي فکر، جهادي روحيه او جهادي عمل په جدّي ډول وپالل شي او په مؤثر ډول انکشاف وکړي شي.

د علم، اعداد او جهاد د خپلمنځي عملي تړاو د تحقق لپاره تر فتحې وروسته يو ځل بيا د جهادي مدرسو په نامه تشکيلات او علمي ارگانونه رامنځته شول او په زرگونو طالبان ورکې جذب شول چې دا يـو پرځـای کـار او د جهـادي فکر او عمل د پاللو او د هغه د تسلسل د دوام لپاره د اسلامي نړۍ پـه سـطحه يو بې مثاله ستراتېژيک اقدام دی خو په دې شرط چې دغه جهادي مدرسـې په رښتيا هم د واقعي جهادي(عسکري) مدرسو په شکل کې عيارې شي.

د دې لپاره چې د جهادي مدرسو په نامه د دغـو بـې مثالـه تعليمـي ادارو د لا نور مؤثريت او تقويې په هدف مې خپله مشوره د داسې يو چا په حيث چې د ژوند ډېره برخه يې په جهاد، تعليم، دعوت او فکري فعاليت په ډگرونو کـې تېره کړې ده د اسلامي نظام مسؤولينو ته وړاندې کـړې وي پـه لانـدې کرښـو کې جهادي مدرسو ته له يوه متفاوت ليدلوري کتنه کووم هيله چې د هغـوئ د توجه وړ به وگرځي.

## جهادي مدرسو ته له يوه متفاوت ليدلوري کتنه:

د افغانستان د معارف د رسمي احصايې له مخې اوس په هېواد کې د ديني مدارسو شمېر ۱۹۰۰۰ مدرسو ته رسيږي چې د هغو له جملې څخه اته ويشتو ته يې چې په ۲۸ ولاياتو کې دي جهادي مدرسې ويل کېږي.

د جهادي مدرسو نوم ته چې سړی گوري نو سمدستي يې ذهن ته دا خبره ورځي چې دغه مدرسې به داسې مدرسې وي چې د جهاد د قيادي، علمي او فکري امورو د سمبالولو لپاره به د يوه داسې ځانگړي تعليمي نصاب او نظام له مخې چې پوځي او ديني علوم او دسپلين به ورکې په متناسب ډول راوړل شوي وي جهادي قيادتونه روزي، هلته به عسکري ډوله ژوند او پوځي التزامات وي، طالبان او استاذان به يې منظم او ښايسته عسکري لباس

اغونديِ، د شرعي او پوځي علم د حاصلولو تر څنګ به منظم او دوامداره پوځي تمرينات هم اجرا کوي، او هره مدرسه به د يوه اسلامي پوځي پوهنتون حيثيت لري. خو په تأسف سره بايد عرض کړو چې په يادو جهادي مدارسو کې نه پوځي او جهادي فکر او علوم تدريسېږي، او نه هلته دغه ډول پوځي وضعيت وجود لري، بلکې د نورو رسمي او نا رسمي مدارسو په ډول عادي مدرسې دي، او هماغه څه ورکې د ناپوځي علماوو له لوري تدريسېږي چې په نورو عامو مدارسو کې تدريسېږي. له نورو مدارسو سره يې فرق يوازې په دې کې دی چې له نامه سره يې د (جهادي) نوم ليکل کېږي.

موږ د يوه ولس او نظام په حيث د ديني علماوو له فقر سره مخ نه يو چې حتماً دې په جهادي مدرسو کې هم هماغه نصاب تدريس شي چې فارغان يې اکثره د امامت، تدريس، افتاء او تأليف په چارو بوخت وي. د دغو کارونو لپاره نورې ۱۹۰۰۰ مدرسې هم شته چې ښه ډېر علماء ورته روزي.

د دې لپاره چې جهادي مدرسې مو په ريښتيني معنی جهادي مدرسې شي د هغو لپاره بايد لاندې کارونه تر سره شي:

۱ـ جهادي مدرسو او د هغو طالبانو او فارغانو ته دې د يوه مهم ستراتېژيک ځواک په سترګه وکتل شي، او د همداسې يوه مهم هدف لپاره بايد په مسلکي ډول وروزل شي؛ ځکه چې تېرو دوه ويشتو کلونو وښوده چې همدوئ د سختې ورځې خلک دي، او همدوئ له اسلامي نظام سره تر بل هر چا ښه وفاداري او تعهد لري.

د دې لپاره چې د جهادي مدارسو طالبان د عسکري علماوو، عسکري قاضيانو، عسکري قانونپوهانو، عسکري مؤلفينو او مفکرينو، عسکري مديرانو او عسکري ستراتېژستانو په حيث وروزل شي مناسبه ده چې جهادي مدارس په دفاع وزارت پورې وتړل شي او هغو ته داسې نصاب جوړ شي چې د

شرعي علومو تر څنګ په مطلوبه اندازه فکري، حربي، عسکري، امنيتي او استخباراتي علوم هم ورکړې شامل وي.

۲ـ د فکري، حربي، عسکري، امنيتي او استخباراتي علومو د تدريس لپاره دې داسې مسلکي استاذان توظيف شي چې د مسلکيت تر څنګ جهاد او اسلامي نظام ته ريښتينی تعهد ولري.

۳ـ د استاذانو او طالبانو لپاره داسې مناسب عسکري لباس (يونيفارم) وټاکل شي چې هم ورکړې د هغوئ عسکري هويت ښکاره شي، او هم ورکړې د علماوو وقار وساتل شي.

۴ـ هره ورځ بايد د درسونو تر پيل مخکې د ټاکلي وخت لپاره د بدني او عسکري روزنې تمرينات ترسره کړي، ترڅو د علمي او فکري قوت تر څنګ جسماني قوت او عسکري تکتيکونه هم حاصل کړي.

۵- د همدغو جهادي مدرسو فارغان بايد د پوځ، پوليسو، استخباراتو او نورو امنيتي قواوو په صفوفو کې په تعليمي، ديني، فرهنګي، عدلي او حربي بستونو او وظائفو کې جذب شي، ترڅو مو پوځ او نورې امنيتي قواوې په ريښتينې معنی اسلامي روحيه واخلي.

که زموږ نظام له جهادي مدرسو څخه په ريښتينې معنی جهادي مدرسې جوړې کړي او هر کال له هرې مدرسې څخه زر تنه فارغ شي نو په يوه کال کې به تقريباً ۳۰۰۰۰ تنه پوځي علماء فارغېږي چې د څو کلونو په تېرېدو به يې شمېر سلګونو زرو پوځي عالمانو ته ورسېږي. د جهادي مدرسو فارغان چې پوځي او شرعي دواړه ډوله علوم به يې لوستلي وي له دوئ به د اسلامي نظام يو داسې ستراتېژيک ځواک جوړ شي چې په ټوله اسلامي نړۍ کې به يې ساری نه وي او د پوځ به داسې سوق او اداره کوي چې څنګه يې د اسلام دين او اسلامي نظام تقاضا لري.

په ټولو ديني مدارسو او په خاص ډول په جهادي مدارسو کې جهادي روزنه او د عسکري علومو تدريسول کوم داسې کار ندی چې له شرعي علم او د علماوو له حيثيت او وقار سره دې منافات ولري، بلکې موږ بايد همداسې وکړو، ځکه چې که علماء په رېښتني معنی او واقعي شکل د افغانستان اوسنی اسلامي نظام پداسې حال کې اداره کول او پرمخ بيول غواړي چې تقريبا د ټولې نړۍ خلک يې د نظام له سياسي او فکري ماهيت او استمرار سره مخالف دي، نو بايد د دې نظام مسؤولين په خپلو منسوبينو کې هر ډول علمي، فکري او عملي وړتياوې ايجاد کړي.

## د رسول الله صلّي الله عليه وسلم د مدرسې شاګردان هم ټول نظاميان وو:

د رسول الله صلّی الله عليه وسلم اصحابان د چې د هغه مبارک د فکري، سياسي او جهادي مدرسې شاګردان وو هغوئ ټول هم د هغه مبارک علمي شاګردان وو، او هم د اسلام نظامي لښکر. هغوئ په يوه وخت کې دواړه ډوله روزنه ليدله.

د رسول الله صلی لله عليه وسلم اصحابانو او د هغوئ تابعينو رضي الله عنهم د اسلام د خپرولو په لاره کې جهاد او اعداد ته دومره لويه توجه کړې وه چې د مادي وسائلو او د حمل او نقل د قوي او لويو ذرائعو له نشتون سره سره يې بيا هم د اسلام پيغام له جزيرة العرب څخه د اروپا تر غربه او د هند، چين، روسي او قوقاز ترهېوادونو ورساوه.

د رسول الله صلّی الله عليه وسلّم ملګري او د هغوئ تابعين د خپلې زماني بهترين توره وهونکي، غره ختونکي، صحراپيمايان، اسپ سواره، نښه ويشتونکي، لامبو وهونکي او د نورو رزمي استعدادونو لرونکی داسې پوځي

مدرسه او مبارزه

ماهرين وو چې د فارس او روم لښکرې ماتې کړې. هغوئ په اعداد او تمرين کې داسې رالوی شوي وو چې عسکريت او د رزمي وړتياوو درلودل يې د ژوند بنه ګرځېدلي وو.

صحابه کرامو رضي الله عنهم به له جهاد او اعداد څخه کښيناستل هلاکت ګاڼه، ځکه چې الله تعالی په قران کريم کې دې کښيناستلو ته (تهلکه) ويلي وو، او هغوئ يې ورڅخه منع کړی وو لکه چې ورته فرمايلي يې وو:

﴿وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ﴾ [البقرة: ١٩٥]

ترجمه: (د انفاق، جهاد، اعداد او رباط په پرېښودلو او د دنيا په کارونو د پوره مصروفېدلو له امله ځان په هلاکت کې مه غورځوئ).

ابو ايوب انصاري رضي الله عنه هم صحابه وو او تابعينو رضي الله عنهم ته د دې آيت همدغه تفسير کړی وو.

د اسلامي تاريخ په اوله پېړۍ کې مسلمانان په ملکي او نظامي لحاظ نه وو سره وېشل شوي، بلکې ټول يې د جهاد او دفاع لپاره نظاميان او د دعوت او نورو چارو لپاره ملکيان وو. هغوئ ټولو فکري، رواني او قتالي اعداد درلود، او د هر وخت لپاره به جهاد ته تيار وو.

دا چې د اسلام دين د الله تعالی ورستی حق دين دی او مسلمانان يې د نړۍ خلکو ته پر رسولو او د هغه د رسولو پر لاره د پرتو خنډونو پر لرې کولو مکلف دي، نو ځکه خو بايد دا امت د تل لپاره يو قوي، مستعد، متحرک او مسلح عسکري امت وي، او د دين د رسولو او له هغه څخه د هراړخيزې دفاع په لاره کې بايد د هر ډول مادي او معنوي وړتياوو درلودونکی او د هغه لپاره د قربانۍ ورکولو ته تيار وي.

که له يوې خوا مسلمانان انسانانو ته د الله تعالی د دين په ور رسولو مکلف دي او د دې کار لپاره له تېرو څه باندې څوارلس سوه کلونو راهيسې په

مسلسلې مبارزې کې راروان او له ډېرو لوړو او ژورو راتېر شوي او د عروج او تنزل پړاونه يې وهلي دي، نو له بل لوري د شيطان پلويانو او له الله تعالی سره په دښمنۍ اخته خلکو هم د تل لپاره د اسلام د خپرېدو د مخنيوي او د مسلمانانود له منځه وړلو او يا کمزوري کولو لپاره خپلې هر ډول هڅې کړې او په هره زمانه کې يې خپلې ټولې مادي او معنوي وړتياوې او وسايل په کار اچولي، د حق په مقابل کې د قوي جبهې د جوړولو په مقصد يې يو بل ته سره په خپلو کې لاسونه ورکړي او د مسلمانانو په خلاف يې لوبې او اوږدې جګړې کړې دي چې د فارسيانو، روميانو، د اروپا صليبي او استعماري جګړې، د کمونيزم د خپراوي لپاره د شوروي اتحاد او چين جګړې او بالآخره د ديموکراسۍ د کفري نظريې او نظام د خپرولو لپاره د امريکا او ټول غرب اوسنۍ رواني جګړې يې واضح مثالونه دي.

**په اسلامي مبارزه کې اعداد او جهاد تر ټولو غوره عبادت دی:**

په اسلام کې چې د جهاد عبادت ته (ذورة سنام الاسلام) ويل شوي او د لوړې مرتبې عبادت ګڼل شوی، دا له دې امله ده چې په جهاد د اسلام ساتنه کېږي، د جهاد په وسيله هغه خنډونه ليرې کېږي چې د الله تعالی بنده ګانو ته د حق د دعوت د ورسېدلو مخنيوی کوي. د جهاد په وسيله د ظالمانواو مفسدينو د ظلم او فساد مخه نيول کېږي، او د همدې جهاد په وسيله د اسلامي امت معنوي ارزښتونه او زمکني سرحدونه خوندي کېږي.
خو جهاد په هغه وخت کې خپل پوره افاديت ښيي چې په شرعي ډول ترسره شي، او په پوځي، فکري، رواني او شرعي لحاظ د هغه لپاره پوره تياری ونيول شي.

که له یوې خوا الله تعالی مسلمانانو ته د کفر او فتنې په مقابل کې د جهاد دکولو امر کړی او فرمایلي دي:

﴿وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلهِ﴾ [الأنفال: ٣٩]

ترجمه: (تر هغه د کافرانو په خلاف وجنګېږئ چې فتنه (شرک) له منځه ولاړ شي او یوازې د الله دین حاکم شي). نو له بل لوري یې مسلمانانو ته د جهاد لپاره د تیاري د نیولو او د اعداد د فریضې د ادا کولو امر هم کړی او فرمایلي یې دي:

﴿وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللهِ وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِنْ دُونِهِمْ لَا تَعْلَمُونَهُمُ اللهُ يَعْلَمُهُمْ﴾ [الأنفال:٦٠]

ترجمه: (څومره چې کولی شئ د کافرانو د مقابلې لپاره قوت او زین کړي اسونه تیار کړئ چې د الله دښمنان، خپل دښمنان او نور هغه دښمنان پرې وویروئ چې تاسې یې نه پېژنئ الله یې پېژني).

د جهاد لپاره اعداد نه کول په قرآن کریم کې د منافقانو له صفاتو څخه ګڼل شوي دی، الله تعالی د جهاد لپاره د منافقینو د اعداد د نه کولو په اړه فرمایي:

﴿وَلَوْ أَرَادُوا الْخُرُوجَ لَأَعَدُّوا لَهُ عُدَّةً وَلَكِنْ كَرِهَ اللهُ انْبِعَاثَهُمْ فَثَبَّطَهُمْ وَقِيلَ اقْعُدُوا مَعَ الْقَاعِدِينَ﴾ [التوبة:٤٦]

ترجمه: (که هغوئ (منافقانو جهاد) ته د وتلو اراده درلودی، نو تیاری به یې ورته نیولی وو، خو د هغوئ راپورته کېدل د الله خوښ نه وو، نو ځکه یې سست کړل، او ورته وویل شول چې له کښېناستونکو سره کښېنئ).

رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپلو احادیثو کې مسلمانان د جهادي اعداد بېلابېلو ډولونو ته تشویق کړي دي او هغوئ یې اسپ سواری، نښه ویشتلو، لامبو زده کولو او د پوځي وسائلو جوړولو ته هڅولي دي.

نن چې په نړۍ کې کافران د جنګ، سیاست، تعلیم او اقتصاد په ډګرونو کې برلاسي شوي او هره خوا یې په اسلامي نړۍ کې پر مسلمانانو او نورو ولسونو او مجاهدینو حملې دي، سبب یې دا نـدی چې هغـوئ پرحقـه دي، او یـا دا چې د الله توفیق او نصرت یې په برخه دی، بلکې اصلي سبب یې دا دی چې هغوئ د جګړو لپاره پوره اعداد او منظم پلانونه لري، او د جګړه ییزو مهـارتو او پوځي صنعت په ډګرونو کې یې پوره کار کړی دی او لوی زمکني، هوایي او سمندري پوځونه او پوځي وسائل یـې جـوړ کـړي دي. او هـم هغـوئ پـه رواني او فکري لحاظ خپلو پوځیانو ته پوره روزنه ورکوي.

کفار نه یوازې دا چې د بدني او فکري اعداد او د پوځي وسائلو او وسلو پـه جوړولو کې د خپلې برلاسـۍ لپـاره مسلسـلې او پـه خپلـو منځونـو کـې سره همغږې هلې ځلې کوي، بلکې په ټول توان او د هر ډول توطیو او فشارونو په استعمال د دې لپاره هم په سیمه ییزه او هم په نړیواله سـطحه کوښـښ کـوي چې مسلمانان له عسـکري وړتیـاوو او د پـوځي صـنعت لـه درلودلـو محـروم کړي، ترڅو یا د خپلې کمزورۍ له امله له منځه ولاړ شي، او یـا هـم د کفـارو قوت او د هغوئ شرطونو ته غاړه کېږدي.

د اسلام دښمنان او له مسلمانانو سره په جګړه کې اخته اوسني کفري دولتونـه او د هغو فکري او اقتصادي ملګري او پر اسلامي نړۍ د هغوئ له لوري تپـل شوي حکومتونه او سیاسي احزاب ټول له یوې مخې د خپلې زورورې مېډیا، تعلیمي نصابونو، فرهنګ او ادبیاتو، ټولنیزو رسنیو او نورو اجتماعي او فکري سازمانونو له لارې کوښښ کوي چې د اسـلامي امـت ځوانـان او راتلـونکي نسلونه له جهادي اعداد او د وسلې له استعمال څخه متنفر کـړي، او د هـنر، د عدم تشدد د مبارزې، نړیوالتوب او نورو راصادرو شویو فکـري ګمراهیـو لـه

لارې یې د ذلت او بې غیرتۍ په ژوند او د کفارو د اهدافو لپاره په کار کولو قانع او مصروف کړي.

د دې لپاره چې له اسلام سره په جګړه کې اخته اوسني استعماري دولتونه او په اسلامي نړۍ کې د هغو ملګري د اسلامي نړۍ ځوانان د جهاد او دفاع له میدانونو لیرې وساتي، او په بېهوده مصروفیتونو یې مصروف کړي، نو په منظم شکل یې هغوئ د جنون تر حده په بېلابېلو سپورټونو لکه کرکټ، فوټبال، د میراتون په منډو، د باډۍ د ښکلا په کلپونو، موسیقۍ، ګډاوو، د ښځو او نرو په اختلاط، په رومانټیکې شاعرۍ، عشق او عاشقۍ، غربي ډوله فیشنونو او نورو بېهوده مصروفیتونو اخته کړي دي، او غربي دولتونه او موسسې د هغوئ لپاره د ځوانانو کلپونه، د لوبو میدانونه، تیاترونه، خارجي سفرونه، تش په نامه د ځوانانو پارلمانونه او کنفرانسونه، ادبي بهیرونه، د خوشګذرانۍ بنډارونه او د ماډلنګ نندارتونونه، په پوهنتونونو کې د نجونو او هلکانو تر منځ د ساعت تېرۍ ګډ پروګرامونه جوړوي او په ملیونونو ډالر وربانددې په دې مقصد مصرفوي چې د امت ځوانان له علم، دعوت، جهاد، صنعت، زراعت، مسؤولیت پېژندنې او له دین او وطن څخه د دفاع له کاره راوګرځوي، او د ریښتنې اتلولۍ له ګټلو څخه یې د کرکټ، ګډاوو، سندرو، او فلمونو په اتلولۍ تېرباسي.

د دې لپاره چې د پردیو لخوا تپل شویو حکومتونو له یوې خوا نور ځوانان هم د جهاد او دفاع له سنګرونو او اسلامي مبارزې لپاره د قیادي تربیې له ډګرونو لیرې ساتلي وي، اود پردیو فرهنګونو په خپلولو یې مصروف کړي وي، او له بلې خوا یې له لویو ستونزو د ولسونو پام بل لوري ته اړولی وي په لویه پیمانه بېهوده مصروفیتونو ته د ځوانانو د ورتشویقولو پر پروګرامونو درانه مصارف کوي، او د داسې لوبغاړو او سندرغاړو استقبال ته ساده ولسي خلک

له ډولونو او سورنيو سره لويو لارو او بازارونو ته راوباسي چې له لهو او لعب پرته يې بل څه نه وي تر سره کړي، خو د غرب پلوې مېډيا له لوري ولسونو ته همدوئ د اتلانو په حيث معرفي کيږي.

د تأسف ځای خو دا دی ځينې وختونه له اسلامي او جهادي جهتونو څخه هم د اتلولۍ معيار غلط شي او پر ځای د دې چې دغه خلک مسلکي لوبغاړي و بولي دوئ هم له غربي مېډيا څخه په تأثر د ريښتينيو اتلانو پر ځای لوبغاړو ته د ولس اتلان وايي، پداسې حال کې چې ريښتيني اتلان اوس هم په پوره مېړانه د حقيقي اتلولۍ په ډګرونو کې له دين او هېواد څخه د دفاع لپاره د قربانيو په ډګرونو کې ولاړ دي.

# نهم فصل

## د دین د بیا حاکمولو پر لاره د مدرسې د اهل مزل، خنډونه او څو کامیاب مثالونه

مدرسه او مبارزه

**سیاسي، عسکري او اجتماعي قیادت ته د دیني علماوو له راګرځېدلو د غرب او غرب پلوو وېره:**

په افغانستان کې د قیادت او تأثیر په مجال له اوږده غیابه وروسته الله تعالی بیا د جهاد او اسلامي انقلابیت له برکته هغه وخت راووست چې دیني علماء دې یوځل بیا له دین، خاورې او ټولنې څخه د دفاع د لښکر قیادت په لاس کې واخلي او بېرته دې د سیاست، منبر، دفتر او سنګر چارې د اسلام د لومړۍ پېړۍ د مشرانو په څېر له مسجده سنبال کړي، او نړۍ ته دې بیا دا ورپه یاد کړي چې د نبوي عهد د فتوحاتو لښکرې به د مدینې له مسجده رخصتېدلې، او په نړۍ کې د اسلامي تمدن د بنیاد جوړولو پر نقشه به پیغمبر صلّی الله علیه وسلّم او د هغه اصحابو په ماڼیو کې نه، بلکې په مسجد کې کار کاوه.

په تېرو دوه درې پېړیو کې د مسلمانانو او هم د نړیوالو له حافظې دا خبره وتلې وه چې په اسلام کې د دیني او سیاسي قیادت اصلي وارثان او حقدار دیني عالمان دي، او دا ځکه چې له یوې خوا د مدارسو او علماوو په نصابونو کې علمي او فکري اولویتونه مختل شوي وو، او د دین د عقیدوي، شرعي، سیاسي، اجتماعي، اخلاقي او فرهنګي مفاهیمو ځای منطقو، بې عربۍ صرف او نحوې او زړو کلامي ابحاثو نیولی و، او له بلې خوا په اسلامي هېوادونو کې حاکمو قیادتونو علماء د نظام او ټولنې له سیاسي، اجتماعي او نظامي جریاناتو تجرید کړي، محروم کړي او تر هر ډول فشارونو لاندې نیولي وو چې د دې حالاتو په نتیجه کې د دین علماء هم د تأثیر او قیادت له ځایونو ګوښې شوي وو.

د اسلامي نړۍ پر هېوادونو د غربي او روسي مستعمرینو تر حاکمېدلو او بیا د هغوئ تر پالنې او څارنې لاندې په اسلامي نړۍ کې د سیکولر افکارو، احزابو

او نظامونو تر رامنځته کېدلو وروسته د سیکولر او غرب پلوي نسل سخته وېره له دې وه چې اسلامي فکر یو ځل بیا د سیاسي او نظامي حاکمیت په ډګرونو کې حاکمیت ته ونه رسېږي. له همدې وېرې یې د اسلام د دین او د هغه د حاکمیت لپاره د کارکوونکو علماوو او مجاهدینو په خلاف سخته او هر اړخیزه جګړه پیل کړه، او همدارنګه یې د ولسونو له ژوند څخه د اسلامي ارزښتونو د له منځه وړلو پراخ، دوامداره او سیستماتیک پلانونه عملي کړل.

دین دښمنو او سیکولرو حکامو، نظامونو او غرب پلوو فکري او اکاډیمیکو مراکزو خپل ټول قوت او وسائل پکار واچول چې په اسلامي نړۍ کې د اسلام عقیده او شریعت له حاکمیت، نظام، سیاست، فکر، فرهنګ، اخلاقو، او د ټولنې له اجتماعي تعاملاتو وباسي، او د هغو پر ځای مسلمان ولسونه د زور او تزویر له لارې د پردیو راصادرو شویو نظامونو، قوانینیو او ارزښتونو منلو ته اړباسي. او دا ځکه چې د غرب او روسانو د استعماري نظامونو سیکولر او ملحد ځایناستي په دې پوهېدل چې ترڅو (دین) او (دینپالي) د مسلمانو ولسونو په تنظیم، توجیه او قیادت کې نقش لري تر هغه وخته اسلامي نړۍ له استعماري دولتونو او د هغو له سیکولرو او الحادي افکارو سره نه پیوند اخلي، نه به مسلمانان د غربیانو پر لاره ځي، او نه به هم دلته د غرب پوځي، سیاسي، تعلیمي، فرهنګي، اقتصادي او د پراختیا غوښتنې پلانونه او پروژې عملي کېږي.

دا چې د غرب د پلانونو د پلي کېدلو د مخنیوي په مېدان کې حکومتونه، سیاسي احزاب او خوب وړي ولسونه نه، بلکې دین، د دین پر ریښتني مقصد پوه علماء او د جهادي فکر مبارزین ولاړ ول، نو ځکه خو پردیپالو سیکولرو او ملحدو نظامونو، احزابو او فکري مراکزو خپله خطرناکه او هر اړخیزه جګړه په بېلابېلو شکلونو او ډګرونو کې د همدوئ په خلاف پیل کړه چې تر اوسه

روانه ده، او لا نوره به هم په ټول شدت سره روانه وي، که څه هم چې تر اوسه لا ډېرو مسلمانانو نه د دې جګړې خطر درک کړی، او نه يې هم د دې جګړې بېلابېل ابعاد پېژندلي دي.

د نورو اسلامي هېوادونو په څېر په افغانستان کې هم په تېرې تقريباً يوې نيمې پېړۍ کې حاکمو نظامونو په بېلابېلو شکلونو ټولې هغه لارې تر ځار لاندې نيولې وې او ټولې هغه لويې دروازې يې تړلې وې چې کېدی شول اسلامي فکر او د دې فکر لرونکو علماوو به ورځخه د ټولنې او نظام د اسلامي کولو او د غربيانو له تأثير څخه په خلاصولو کې کار اخيستی وای.

حاکمو نظامونو په سيستماتيک ډول زړور علماء، مصلحين او جهادي مبارزين په ټولنه او نظام کې له تأثيرګذارۍ څخه لېرې او تر سختو فشارونو لاندې وساتل، او د هغوئ د مقابلې په مقصد يې دين او معنويت ته يو څه منسوب خلک د مادي امتيازاتو او سياسي رشوتونو په ورکولو د حکومتونو تر څنګ ودرول چې د ريښتيني اسلام د حاکميت او د آزادۍ غوښتنې په لاره کې همدوئ تر ټولو د بد خنډ په حيث خپل منافقانه نقش ادا کړ.

که له يوې خوا سيکولرو او کمونستو حاکمو نظامونو په ټولنه او نظام کې د اسلام د حاکميت جدي مخنيوی وکړ، نو له بلې خوا په تېرو دوو پېړيو کې علماء او د هغوئ ديني فکر هم د يو ډول جمود، سياسي او فکري بې پروايۍ او په غير ارادي ډول د (دين) او (سياست) تر منځ د بېلتون د نظريې ښکار شوي وو، او په ټولنه کې د نبوت د ريښتيني وراثت چې (د دعوت او قيادت مسؤوليت ته اوړه ورکول دي) د پاللو پر ځای د يو ډول سطحي روحانيت په پاللو، د ديني نصوصو په بې روحه او بې تأثيره تدريس، او يوازې د مساجدو په امامت مصروف شول چې د دې وضعيت منفي نتيجه د سيکولر او الحادي فکر د پلويانو له لوري د ټولنې او نظام د يرغمال کولو په شکل کې راووته.

**د انقلابي علماوو ظهور او د مستعمرینو زوال:**

د نولسمې پېړۍ په پای او په شلمه پېړۍ کې که له یوې خوا د مسلمانانو د اجتماعي غفلت له امله استعماري دولتونو په اسلامي هېوادونو کې خپل عسکري، سیاسي، اقتصادي او فکري تسلط ټینګاوه او د خپل استعماري حاکمیت د بقا او له اسلام څخه د مسلمانانو د نوي نسل د پردي کولو لپاره یې خپلې طرحې او پلانونونه عملي کول، نو له بلې خوا الله تعالی په محکومو ولسونو کې څو داسې انقلابي علماء راپیدا کړل چې هم د دین په روح او مقصد ښه پوهېدل، هم د دښمن عزائم او پلانونه ورمعلوم وو، هم د حاکمو استعماري قوتونو په خلاف د مؤثرې مبارزې له وړتیا برخمن وو، او هم یې د ولسونو د دیني تنویر او د دښمنانو په خلاف د مسلمانانو د راپاڅولو او رهبري کولو استعدادونه درلودل.

په دغو علماوو کې (شیخ سعید کردي) په ترکیه کې، (شیخ عزّالدین القسام) په فلسطین کې (شیخ حسن البنّاء) په مصر کې، (شیخ عمر المختار) په لیبیا کې، (شیخ عبدالحمید بن بادیس او شیخ بشیر الابراهیمي) په الجزائر کې، (شیخ عبدالکریم الخطابي) په مراکش کې، (شیخ الهند محمود الحسن او مولانا حسین احمد مدني) په هندوستان کې او ځینې نور علماء او مسلمان مبارزین د اسلامي نړۍ په نورو سیمو کې راپورته شول، او په مسلمانو ولسونو کې یې د حریت احساس را ویښ او د اسلام د حاکمولو لپاره د کار کولو عزم او روحیه قوي کړه. دې علماوو پداسې حالاتو کې د دیني مبارزې او مسلحو مقاومتونو بار پر اوږو واخیست چې سیاسي او دنیاپالو مشرانو له اشغالګرو سره لاره نیولې وه.

که له اسلامي نړۍ څخه د استعماري قوتونو د شړلو د تحریکونو او جریانونو تاریخ ته په ژور ډول وکتل شي، نو و به لیدل شي چې د ټولو تر شا انقلابي

علماء ولاړ ول، او همدې علماوو ولسونو ته د آزادۍ روحیه او د مستعمرینو په خلاف د مقاومت تګلاره ورښودلې ده. خو د آزادۍ تر خپلولو وروسته بیا له دوئ ټولو سره د هغو خلکو لخوا غدر شوی چې د غربیانو په فکر روزل شوي وو خو دوئ وربانديې د خپلو ګومان کړی وو.

په اسلامي نړۍ کې د تېرې یوې پېړۍ جګړو ته که په دقت وګورو نو وینو چې ټولې یې د (ملا) او (کمونست) او یا هم د (ملا) او (سیکولر) تر منځ وې چې لا تر اوسه روانې دي. د دې جګړو یوې خوا ته ملا او د دیني فکر خلک او عام مسلمان ولسونه وو چې هدف یې د هېوادونو آزادي، د ولسونو استقلال او د ژوند په ټولو چارو کې د دین حاکمیت وو، او بلې خوا ته کمونستان او سیکولران وو چې هدف یې د اسلامي هېوادونو په غربیانو او یا روسانو پورې تړل، مسلمان ولسونه د پردیو لپاره تسخیرول، او په ټولنه او نظام کې د کمونیزم او سیکولریزم حاکمول وو.

**په افغانستان کې د اسلامي او غربي فکر تر منځ د جګړې شالید:**

په افغانستان کې هم له ډېرې پخوا راهیسې د مستبدو او پردیپالو حکامو او د دین د انقلابي علماوو تر منځ مخالفتونه راروان وو چې دغو مخالفتونو د امان الله خان په وخت کې ـ چې د غربي فکر استازولي او د هغو د تطبیق لپاره یې جدي کار کاوه ـ د (ملا) او د دیني فکر په خلاف د دولت د (رسمي جګړې) بڼه خپله کړه.

امان الله خان د اروپا له تقریباً اوه میاشتنۍ دورې له راستنېدو سمدستي وروسته په پغمان کې د (ملا) او په دولت کې د دین د حاکمیت په خلاف خپله جګړه اعلان کړه، او د روسانو او انګرېزانو او د هغوئ د پیروانو پر ځای یې (ملا او (دین) په دښمنۍ ونیول.

د امان الله خان د فکري خط پلویان وروسته په سیکولرو او کمونیستو جریانونو کې یو په بل پسې رامخته شول، او په ټولنه او نظام کې د دیني فکر په خلاف د جګړې په سنګر کې ودرېدل.

د بې دینو او پردیپالو فکري او سیاسي جریانونو او حکومتونو په مقابل کې عالمان او د اسلامي فکر خاوندان هم د سیاسي او جهادي مقابلې ډګر ته راووتل، چې دغو راوتلو علماوو په عام ولس کې د اسلامپالنې، جهاد او د اسلامي سیاسي شعور پر لوري پراخ تحول رامنځته کړ، او دیني علماء یو ځل بیا له سیاسي او اجتماعي انزوا د ټولنې لارښوونې او د روسانو او ورپسې د امریکایانو په خلاف د سیاسي او عسکري قیادت صحنې ته راووتل.

په افغانستان کې د سیاست او جهادي مبارزې ډګر ته ډېر دیني علماء او جهادي شخصیتونه راووتل، او هر یوه یې په خپل وخت او خپل ځای کې ډېر مهم نقش درلود، خو د دغو راوتلیو علماوو له ډلې یو څو پداسې حیثیت کې راغلل چې د روسانو او امریکایانو په خلاف په دواړو جهادونو کې یې عملاً د جهاد قیادت وکړ، او پر افغانستان، سیمه او نړۍ یې د اسلامي مبارزې ژور اثر پاتې شو. د دغو جهادي قیادتونو له ډلې د درېو په اړه یې په لاندې کرښو کې په دې مقصد مختصر معلومات وړاندې کوو چې د مدرسې اهل او عام مسلمان ولس ته دا جوته کړو چې کله چې علماء د دیني، فکري، سیاسي او اجتماعي قیادت ډګرونو ته راووځي پر ټولنو یې څومره لوی اثر پرېووځي.

البته دا خبره ضرور د یادولو ده چې د دغو دریو تنو علماوو د نمونې په ډول یادول هېڅکله په دې معنی نه دي چې زموږ د جهادي مبارزې په بهیر کې تر دوئ مهم علماء او اسلامي قیادتونه موجود نه وو، بلکې نورو علماوو هم د اسلامي مبارزې د کاروان د بېلابېلو لیکو قیادت کړی، او د دین د حاکمیت، د وطن د آزادولو او د ولس د دیني تنویر او رهبرۍ په لاره کې ستر خدمتونه کړي دي. دغه درې تنه مو

له دې امله یاد کړل چې د معاصر لوی صلیبي اشغالګر ائتلاف په مقابل کې چې الله تعالی د دوئ پر فکر او عمل څومره مهم نتائج مرتب کړل هغه زموږ اوسني نسل پخپلو سترګو ولیدل. دغه درې شخصیتونه مرحوم مولوي جلال الدین حقاني، مرحوم ملا محمد عمر مجاهد او د جهادي فکر ستر دعوتګر استاد محمد یاسر دي چې په لاندې کرښو کې به د دوئ د هر یوه د شخصیت، فکر او پر افغاني ټولنه یې د تأثیر په اړه څو کرښې ولیکم.

مدرسه او مبارزه

## په افغانستان کې د اسلامي مبارزې درې نومیالي شخصیتونه

### ۱- مولوي جلال الدین (حقاني) رحمه الله د دوو لویو جهادونو مبارز سرلاری:

مرحوم مولوي جلال الدین حقاني هغه مجاهد عالم او ملي شخصیت و چې په ملي او بین المللي سطحه ټولې نړۍ د جهاد او اسلامي مبارزې له آدرسه وپېژاند. او دا ځکه چې هغه ته الله تعالی دا توفیق ورکړ چې د دیني تنویر، جهاد، تعلیم، فرهنګ، ټولنېز قیادت، مثبت سیاست او د لویو اشغالګرو امپراتوریو د یرغلونو په خلاف د قوي او مؤثرې مبارزې په ډګرونو کې یې داسې اقدامات وکړل چې تاریخ ترې جوړ شو.

که څه هم چې د جلال الدین حقاني رحمةالله علیه د شخصیت پېژندنې په اړه په دریو ضخیمو جلدونو کې د (لوی مصلح، ستر غازي) په نامه کتاب لیکل شوی، خو د هغه د ستر شخصیت لا ډېرې او هر اړخیزې پېژندنې او پر معاصر جهادي بهیر د هغه د فکر، شخصیت او لویو اقداماتو د تأثیر د معلوملو او څېړلو لپاره باید یوه ځانګړې تحقیقاتي اداره کار وکړي.

د دې لپاره چې په دې کتاب کې مې هغه مرحوم د یوه مبارز عالم په حیث لوستونکو ته معرفي کړی وي د هغه د شخصیت د بېلابېلو اړخونو په اړه څو کرښې لیکم، هیله ده چې د دغه ستر شخصیت د فکر او عمل په اړه لا نورې ډېرې څېړنې تر سره شي.

#### حقاني د غرب له فکري تأثیراتو لیرې یو ریښتینی عالم او زړور مجاهد:

مرحوم جلال الدین حقاني د ښارونو له فتنو څېلي محیطه لیرې د کلي او ولس په فطري، اسلامي او خالص متدین افغاني محیط کې رالوی شوی و، په دیني مدارسو کې یې درس ویلی و، د عبادت، ذکر، زهد، للّهیت په ژوند کې یې نشأت کړی و، او د یوه شرعي ژوند د تقاضاوو په چاپېریال کې یې د شخصیت فکري، علمي، اخلاقي او اجتماعي ابعادو تشکل موندلی و. هغه دین په خالصه او اصلي بڼه د دین له کتابونو او علماوو زده کړی و، او د دین عملي تطبیق یې د خپلو استاذانو په عمل او ژوند کې لیدلی و.

حقاني مرحوم په خپل شخصي او اجتماعي ژوند کې له ځان ښودنې، تصنع، تکلفاتو او څو رنګۍ لیرې یو رنګی عالم و. د زهد او عبادت تر څنګ یې لوی خاصیت پر الله تعالی هغه لوی توکل و چې هر څومره به چې حالات بحراني او د مصائبو کړۍ پرې راتنګې شوې دی به بیا هم د الله په نصرت دومره ډاډه و چې هېڅ مصیبت او فشار به له خپل حق دریځه نشو اړولی.

له تېرې یوې پېړۍ راهیسې غربي افکارو او نظریاتو په اسلامي نړۍ کې پر ټولو لوستو خلکو خپل منفي تأثیرات پرې ایښي دي. دغه تأثیرات دومره پراخ او ژور وو چې د سیکولرو او عامو خلکو تر څنګ یې د ډېرو دیني علماوو پر افکارو او شخصیتونو هم داسې منفي تأثیر وکړ چې هغوئ هم په خپلو ځینې نظریاتو او اقداماتو کې د دغو افکارو له اغېزې ځان خلاص نه کړای شو. ځینو یې ځان په ډېموکراسۍ کې لټاړ کړ، ځینې یې له غرب سره د فکري پیوندکارۍ په مرض اخته شول، او ځینې نورو یې بیا په غیر ارادي ډول د اصلاح او تغییر لپاره هغه منهجونه او تګلارې ونیولې چې که دوئ نه غوښتل هم د ویالې اوبه یې د غرب پر ژرنده ور سپرې وې. خو مولوي جلال الدین حقاني مرحوم د دې زمانې د یو قیادي او انقلابي شخصیت په حیث د دغه ډول پیوندي افکارو له تأثیره خلاص و، او مواقف یې ټول پر

خالصو ديني بنسټونو او مصالحو ولاړ وو، او له همدې سببه يې له غربي افکارو متأثر خلک تر څنګ نشو اوسېدی.

د حقاني مرحوم ديني تفکر او سياسي شعور هم پرته له دې چې له کوم سياسي شخص او يا د کوم ديني جريان له افکارو څخه تأثر واخلي د دين له مستقيم فهمه منځته راغلی و. هغه جهاد ته هم پرته له دې چې د چا له لوري دې مبارزې او انقلابيت ته وهڅېږي راوتلی و. پخپله يې مستقيما د دين له تعليماتو تأثر اخيستی و، او د ديني تعليماتو په رڼا کې يې له دين څخه د دفاع لپاره وسله پورته کړې وه، او همدغه د دين خالص او بې شائبې فهم وو چې کله هم په سياسي لوبو کې ورګډ نشو، او تل يوازې اسلامي او جهادي اهدافو ته متعهد پاتې شو.

که حقاني له جهاد او د شريعت له تطبيقه پرته نور سياسي اهداف درلودای، نو د دومره لويو نظامي امکاناتو او پراخ نړيوال شهرت په درلودلو به د نورو سياسي او پخوانيو جهادي رهبرانو په څېر ډېرو لويو سياسي لوبو ته ورګډ شوی وای، قدرت ته د رسېدلو لپاره به يې له ډېرو لارو چارو کار اخيستی وای، د مال د جمع کولو په مقصد به يې لويې کمپنۍ او پراخ اقتصادي فعاليتونه پيل کړي وو او له طاغوتانو سره به يې د جوړجاړي لاره نيولې وه لکه د ده ځينو پخوانيو سياسي ملګرو چې همدا کارونه وکړل.

### حقاني مرحوم د لوی فکر او پراخ اجتماعي افق خاوند مولوي:

حقاني رحمةالله عليه که د معاصرو فکري او عقائدي فتنو له تأثيره يو لېرې اوسېدلی عالم و، نو دا په دې معنی نه وه چې هغه د دې زمانې له فکري، سياسي او اجتماعي جريانونو ناخبره و، بلکې هغه د يوه پراخ فکري او اجتماعي افق او عصري نړۍ ليد خاوند و. حقاني هم د دې زمانې د کفر انواع او اشکال او په امت کې د کفارو ملګري او د هغوئ نظريات پېژندل، او

هم يې اسلام د يو داسې جامع هراړخيز دين په حيث پېژاند چې د بشر د ژوند ټول اړخونه احتوا کوي او چارې يې ورتنظيموي.

حقاني صاحب مرحوم په دې هم پوهېده چې کمونستان او سيکولران که هرڅومره د مسلمانۍ دعواوې وکړي خو بيا هم د خپلو افکارو او اعتقاداتو له مخې له اسلامه وتلي ګڼل کېږي، نو ځکه خو يې د دې دواړو په خلاف د جهاد په فرضيت کې شک نه درلود.

مولوي حقاني د شرعي دلائلو او د خپل سياسي بصيرت له مخې هم کمونستان او سيکولران ښه پېژندل، او هم يې د افغانې مسلمانې ټولنې اعتقادي او اجتماعي وجود ته د دې دواړو له لوري ورپېښ خطرونه او ګواښونه ښه درک کړي وو، ځکه خو هغه د دې دواړو په مقابل کې يوازې د يوه مقاتل نه، بلکې د يوه فعال دعوتګر، خطيب او د يوه استراتېژست پوځي قومندان په حيث مبارزه وکړه، او په ډېر مؤثر او حيرانوونکي ډول يې د لويو پوځي ځواکونو په خلاف جګړه وکړه.

که د حقاني رحمةالله عليه د ديني او پوځي مبارزې ټول ډګرونه او مراحل په غور وڅېړل شي، نو ټولو ته به دا ښه په وضاحت ورمعلوم شي چې هغه يوازې يو ساده ملا او د مدرسې يو عادي مدرس نه وو چې د خپل کتاب له متن او شرحې سره يې کار وي او بس، بلکې هغه له غرب او شوروي اتحاده د راصادرو شويو افکارو، نظرياتو، نظامونو، قوانينو او سياسي پديدو په خلاف يو داسې فعال، سترګور او د پاخه اسلامي دريځ درلودونکی مبارز وو چې د اسلام او کفر ترمنځ د تعامل په اړه يې هم واضح تصور درلود، او هم يې د کفارو او د هغوئ د ملګرو په خلاف د قتال او مبارزې د پرمخ بيولو لپاره روښانه منهج درلود چې له برکته يې کله هم پداسې مواقفو کې ونه درېد چې دين، وطن، جهاد او ملت ته يې څه شرم او پېغور پرې ايښی وي. دا

هرڅه په دې دلالت کوي چې مولوي جلال الدين حقاني مرحوم د يوه پراخ فکري افق او پاخه اسلامي تصور او تګلارې خاوند و.

**حقاني د لويو امپراتوريو او زبرځواکونو په خلاف جنګېدونکی مولوي:**

حقاني چې کله د کمونيزم او کمونستانو او بيا ورپسې د روسانو په خلاف جهاد کاوه دا ورمعلومه وه چې نه کمونيزم کومه د محدودو پيروانو درلودونکې محلي نظريه ده، او نه هم شوروي اتحاد کوم وړوکی او کمزوری محلي پوځي ځواک دی، بلکې په دې ښه پوهېده چې هم کمونيزم په نړۍ کې سلګونه ميليونه پيروان لري، او هم شوروي اتحاد د نړۍ داسې يو سياسي، اقتصادي، صنعتي او پوځي زبرځواک دی چې په نړۍ کې د امريکا او اروپا په څېر لوی ځواکونه ورڅخه په وېره کې دي. هغه په دې پوهېده چې شوروي اتحاد د خپل بې ساري پوځ او حيرانوونکې مادي او صنعتي پرمختګ په زور د ځمکې پر مخ تر ټولو لويه امپراتوري قائمه کړې او د وچې ترڅنګ يې فضا او سمندرونه هم تسخير کړي وو.

او همدارنګه کله چې مولوي حقاني د امريکا په خلاف د جهاد په ډګر کې ودرېد، دا ورمعلومه وه چې د دې ترڅنګ چې امريکا پخپله په يوازې ځان هم د اوسنۍ مادي نړۍ تر ټولو لوی زبرځواک دی، او تقريبا ۵۰ نور هېوادونه يې هم د افغانانو په خلاف له ځان سره د جګړې په ميدان کې درولي دي، او خپل هر ډول مادي او معنوي وسائل يې د دې جګړې د ګټلو لپاره په کار اچولي، او د بهرنيو ځواکونو ترڅنګ يې د خپلو داخلي ملګرو پراخ تشکيلات هم جګړې ته سوق کړي دي. خو د دښمنانو دې ټول پوځي، استخباراتي او اقتصادي ځواک او پراخ سياسي نفوذ او له رعبه ډکو سنجول شويو او منظمو تبليغاتو د حقاني په عزم او ايمان هېڅ منفي اثر ونه

کړې. او لکه څنګه يې چې د کمونيزم او شوري اتحاد په خلاف مؤثره جګړه وکړه، هماغه ډول يې د سيکولريزم او نړيوال غربي پوځي تړون په خلاف هم داسې جګړه وکړه چې دښمن ته د جګړې په ميدان کې تر ټولو خطرناکه او لړزوونکې جبهه د همده جبهه ښکارېده، او تر ټولو ډېر تمرکز يې هم د همده د جبهې په له منځه وړلو و.

د پوځي او جنګي معادلې له مخې د دومره سترو او زورورو دښمنانو مقابله يا د پوځي قوت د برابرۍ او تفوق په صورت کې کېږي، او يا هم د لويو عزيمتونو د خاوندانو له لوري د الله تعالى پر نصرت د داسې قوي ايمان په نتيجه کې کېږي چې په دې سيمه او دې زمانه کې يې عملي مثال يوازې مرحوم ملا محمد عمر مجاهد او مرحوم مولوي جلال الدين حقاني وړاندې کړای شو. په يويشتمه ميلادي پېړۍ کې د نړۍ د ستر مادي او پوځي ځواک په مقابل کې د قتال او د دې ستر عزيمت لاره دې دوو مجاهدو شخصيوتونو پداسې حال کې غوره کړه چې له هېڅ لوري د کوم مالي، تسليحاتي او سياسي ملاتړ څرک نه لګېده، بلکې د دنيا ټول نظامونه يا د امريکا تر څنګ د جګړې په صف کې ولاړ وو، او يا يې د هغې مادي او سياسي ملاتړ کاوه.

## حقاني د خپل ولس په فکري، سياسي او اجتماعي نبض پوه مولوي:

مولوي جلال الدين حقاني په خپل ولس کې لوی شوی و، له خپل ولس سره يې ټول ژوند تېر کړی و، د خپل ولس له سايکالوژۍ او اجتماعي جوړښته د يو با خبره عالم په حيث يې خپله ديني او پوځي مبارزه پداسې شکل پرمخ بوتله چې د ولس له کوم قوم او يا کوم ټولنيز تشکل سره په کوم پوځي يا سياسي تقابل کې واقع نشو.

د کمونستانو او روسانو په خلاف د جهاد په وروستیو کلونو کې چې کله جهادي تنظیمونه د عبوري حکومت د جوړولو په هدف د پاکستان د راولپنډۍ په مدینةالحجاج کې سره جرګه شول، او د حکومت د ترکیب پر سر د بېلابېلو اختلافونو او نزاکتونو له امله د بن بست مرحلې ته ورسېدل، نو په هغه وخت کې داسې یو چا ته ضرورت و چې سره راټول شوي سیاسي او ولسي مشران له دې ابتلاء وباسي، هماغه وو د حقاني په څېر د ولس او جهادي تنظیمونو په نبض پوه عالم رامخته شو او په یو معقوله فیصله یې بحران ته د پای ټکی کېښود.

کله چې د خوست په فتحه کې په زرګونوو د دوستم ګلم جم ملېشه ورسره اسیران شول، نو نه یوازې دا چې له هغو سره یې نا مناسب چلند ونه کړ، بلکې هغوئ یې په ښه ډول له ځان سره وساتل، په دین یې پوه کړل، د جهاد او اسلام له محاسنو یې خبر کړل، د لارې خرڅ یې ورکړ او مرستې یې ورسره وکړې چې بېرته خپل عادي ژوند ته ور وګرځي. هغه دا هر څه ځکه وکړل چې په دې پوهېده چې د دغه قوم ځوانان چې د مسلمانو کورنیو بچیان دي د ځینې کمونستو او جنایتکارو مشرانو لخوا تېر اېستل شوي او د مجاهدینو په خلاف استعمال شوي دي. هغه په جنګي حالاتو کې هم د دښمن د ملېشو په اړه داسې اقدامات ونه کول چې قومي، سمتي، لساني او نور اختلافات او نزاکتونه ورڅخه رامنځته شي، او دښمن ور څخه د ولس د قومونو ترمنځ د اختلاف د اور د لګولو لپاره کار واخلي.

د کمونستانو د حکومت تر سقوط وروسته ډېر تنظیمونه هم پخپله یو د بل په خلاف وجنګېدل، او هم یې د ولس بېلابېل قومونه یو د بل په خلاف د جګړو او قومي، لساني، سمتي او مذهبي تعصباتو ډګرونو ته راکاږل، او د ولس او هېواد اجتماعي وضعیت یې داسې متشنج کړ چې نیږدې وو د یو

خطرناک سیاسي او اجتماعي انفجار حد ته ورسېږي. خو حقاني او سترې جبهې یې نه یوازې دا چې قومي او سمتي رنګ خپل نه کړ، بلکې په هماغه تاوجنو حالاتو کې یې د ولس د قومونو او سیاسي جهتونو تر منځ د تفاهم او پیوندونو د رامنځته کولو په لاره کې هڅې وکړې.

کله چې د طالبانو اسلامي تحریک رامنځته شو او له ډېرو سیاسي او نظامي جهتونو سره خبره پوځي ټکر ته ورسېده، بیا هم حقاني هغه د شرعي او سیاسي درایت خاوند عالم و چې د دین، ولس او د هېواد مصلحت یې په صحیح شکل درک کړ، او د طالبانو له اسلامي تحریک سره په خپلو یو ځای کېدو یې د دوو سترو جهادي جهتونو ترمنځ د تصادم مخه ونیوله، او ولس د جکړې له شره وژغورل شو.

حقاني مرحوم ته لکه څنګه چې جهاد د یوې داسې فریضې په حیث مطرح و چې باید له انحراف او خرڅېدلو وساتل شي، همدارنګه ورته افغانستان او افغان ولس په مجموعي ډول په دې حیثیت مطرح وو چې باید وپالل شي او د ټولو هغو سیاسي او اجتماعي عواملو مخه ونیول شي چې د ولس د پرګنو تر منځ تشنج رامنځته کوي او هېواد د تباهۍ خواته بیایي.

د مرحوم حقاني صاحب په شخصیت کې د خپل هېواد او ولس په اړه اجتماعي پوهه، د ولس له نخبه ګانو سره وړ تعامل، د ملي اقداماتو او تصامیمو په هکله دوراندېشي او د عواقبو سنجول، او له بې ځایه ټکرونو خپل ځان او ځواک ساتل ټول هغه صفات او ځانګړتیاوې وې چې پر دې یې دلالت کاوه چې په معاصر تاریخ کې د مدرسې دغه عالم د خپل ولس په دیني، سیاسي او اجتماعي نبض پوه مشر و.

**حقاني د پخواني جهاد امین:**

د پښتوني جهاد د ډېرو تنظېمونو د مشرانو او لويو قومندانانو له جهاد سره تر ټولو لوی خيانت او جفا دا نه وه چې د جهاد له عقيدې او اهدافو يې انحراف وکړ او په ډېرې بې شرمۍ او سپين سترګۍ لاړل د نشنلېزم، سيکولرزم او ديموکراسۍ عقائد او نظريات يې ومنل او د مجاهدينو په خلاف د کفارو د ملاتړو په حيث د هغوئ تر څنګ ودرېدل، او د غربي يرغلګرو سياسي، پوځي، اجتماعي او فکري پلانونه او پروګرامونه يې عملي کړل، بلکې ستر جرم او خيانت يې دا هم وکړ چې د جهاد په نامه په سلګونو ميليونو په لاس ورغلي ډالر او په لسګونو زره ميله د جهاد وسلې، جنګي وسائل او په زرګونو ټنه جنګي مهمات يې هم يا خرڅ کړل، يا يې د (ډي، ډي،آر) او (ډاياک) د برنامو له مخې دښمن ته وسپارل، او يا يې هم د اشغالګرو په ګټه د ملېشو، اربکيو او شخصي امنيتي کمپنيو د جوړولو په شکل کې استعمال کړل، او له دې ټولو جناياتو سره سره يې بيا هم ځانونو ته مجاهدين او د ملت ممثل مشران ويل، که څه هم چې عملا د کفارو په خدمت کې اخته وو.

خو مولوي جلال الدين حقاني نه يوازې دا چې د پښتونۍ جهادي د قافلې د يوازيني لاروي په حيث د هدف پر لوري خپل سفر ته په مېړانې دوام ورکړ، او د جهاد له عقيدې او فرهنګ سره يې خپله عملي وفا وښوده، او د دښمن په خپرو کړو دامونو کې ښکار نه شو، بلکې د پښتوني جهاد ورسره ټول وسائل او امکانات يې د صليبي يرغل په خلاف په جهاد کې وکارول، او د جهاد د يوه ستر امين په حيث د جهاد په ميدان کې ودرېد، چې په دې ډول د پښتونيو مشرانو له ډلې تقريبا يوازې همدی و چې بيت المال يې په ټولې امانتدارۍ وساته او په امانتدارۍ يې د لوی دښمن په مقابل کې وکاراوه.

**حقاني د جګړې، سياست او ټولنيز فعاليت تر څنګ د علم، فکر او فرهنګ سړی هم و:**

مولوي جلال الدين حقاني رحمةالله عليه يوازې د جګړې، سياست او ټولنيز فعاليت د ډګرونو سړی نه و، بلکې هغه يو ښه واعظ، مدرس، د مطبوعاتي ذوق درلودونکی او د علم، فکر او فرهنګ د ډګرونو سړی هم و. هغه په خپل مهجر کې هم د شرعي علم د خپرولو په مقصد د (منبع العلوم) ستره مدرسه جوړه کړه، او هم يې د عسکري علومو د زده کړې او د مجاهدو نظامي افسرانو د روزلو لپاره نظامي فاکولته تأسيس کړې وه.

جلال الدين حقاني مرحوم د ولس د فکري تنوير په مقصد هم راډيو فعاله ساتلې وه، او هم يې د (د جهاد هنداره) هفته نامه او د (منبع الجهاد) په نامه پښتو او عربي مجلې خپرولې او مجاهدو مطبوعاتيانو ته يې د فکري او قلمي جهاد او ديني تنوير زمينې برابرې کړې وې.

مرحوم حقاني صاحب د امريکايي اشغال په مقابل کې هم د فکري او مطبوعاتي جهاد سنګر ښه تود وساته، او د اسلامي امارت د فرهنګي کميسيون په تشکيل کې يې د (منبع الجهاد) په نامه خورا قوي او مؤثره اعلامي سټوډيو رامنځته کړه چې په بېلابېلو ژبو يې د معياري مستندو جهادي او دعوتي فلمونو په وړاندې کولو هم له يوې خوا نړۍ ته د غرب د ماتې شواهد وړاندې کړل، او د مليونونو مسلمانانو په ذهنسازۍ او فکري تنوير کې مهمه ونډه واخيسته، او له بلې خوا يې د روان جهادي تاريخ د ښپنو او شواهدو ارزښتمن ويډيويي آرشيف خوندي کړ چې دا د دې مولوي له سترو کارنامو ګڼل کيږي.

**د حقاني کورنۍ د مجاهد پلار مجاهد زامن:**

په عربي ژبه کې يوه ډېره خوږه مقوله ده چې وايي: (هذا الشبل من ذاك الأسد) يعني (دا زمرکی له هاغه زمري دی).دا مقوله هغه زوی ته کارول کيږي چې په مېړانې، زړورتيا او نورو ښو صفاتو کې کټ مټ د پلار په څېر

وي. همدغه مقوله په ټوله معنی د حقاني رحمةالله علیه پر زامنو صدق وکړ. لکه څنګه چې د روسانو او کمونستانو په مقابل کې حقاني د مخلصانه جهاد د ډګر یو بېساری اتل و، هماغه ډول یې زامن هم د پلار په څېر د امریکایي اشغال په خلاف د جهاد د ډګر اتلان او له دین څخه د دفاع د لارې شهیدان شول.

د پخواني جهاد په مشرانو کې له مرحوم مولوي صاحب محمد یونس خالص، مولوي صاحب نصر الله منصور او مرحوم حقاني رحمةالله علیهم پرته د بل هېڅ مشر زامن د جهاد میدان ته راونه وتل. نه یوازې دا چې د جهاد لار یې ونه نیوله، بلکې اکثره یې په بېلابېلو ډولونو او نقشونو کې د صلیبي اشغالګرو تر څنګ ودرېدل، او د افغانستان او افغانانو په تسخیرولو کې یې د اشغالګرو داسې مرسته وکړه چې ښکاره کمونستان او سیکولران هم ترې عاجز وو.

دا چې ولې د حقاني زامنو د جهاد، استشهاد او زندانونو لاره ونیوه او پر دښمن یې رنې ورځې تیاره کړې، او د نورو مشرانو زامن د دښمن تر څنګ ودرېدل، علت یې دا و چې حقاني ته دین تطبیقول او له هغه څخه د دفاع په لاره کې جهاد کول، د الله د توحید عملي کول ستر عبادت او تر ټولو مهم اولویت ښکارېده، نو څکه خو یې خپل اولادونه په همدې عقیده او د همدې هدف لپاره وروزل، او ډېر یې په همدې لار کې قربان هم شول. خو نورو ته بیا تر ډېره د دین او جهاد شعار پورته کول یو داسې فرصت او غنیمت ښکارېده چې باید د شهرت، مال او مناصبو د ګټلو او خپلو اولادونو ته د ښه مادي مستقبل د مهیا کولو لپاره ورڅخه د وسیلې په حیث کار واخلي لکه چې وایې خیست. نو څکه خو یې نه خپله له جهاد سره وفا وکړه، او نه یې هم اولادونه په جهادي فکر او نظر تربیه کړل.

مدرسه او مبارزه

که د مولوي جلال الدين حقاني په اړه خبره رالنډه کړو، نو حقیقت به دا وي چې وویل شي چې حقاني د یوه شخص نوم نه، بلکې د یوې سترې جهادي، اخلاقي او ملي پدیدې نوم دی چې په ځان کې د یوه معاصر جهادي فهم، د یوې سترې جهادي قضیې، د یوه با عزیمته ولس د قربانیو او انقلابیت، د نړۍ د دوو لویو امپراتوریو د ماتې او د کفر په خلاف د یوه ستر او مؤثر مقاومت تاریخ جوړوونکی روایت رانغاړي.

حقاني په ریښتینې معنی د حقانیت د مبارزې هغه مثال وو چې له مدرسې یې نشأت کړی وو او په ریښتینې معنی یې د مدرسې اهل د مبارزې پر لار روان وساته. رحمه الله تعالی و أسکنه فسیح جنانه. آمین.

## ۲- ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله د مدرسې هغه طالب چې نړۍ ته یې د اسلامي قیادت مثال وړاندې کړ

ملا محمد عمر مجاهد هغه شخصیت وو چې د ده د اسلامي فکر، جهادي فعالیت او سیاسي نظام او قیادت له امله تقریباً د نړۍ ټولو خلکو وپېژاند. د دغه تاریخ جوړوونکی شخصیت فکر او عمل په اسلامي نړۍ کې د تديُّن، فکر، جهاد، سیاست، نظامدارۍ، قیادت او له نړیوالو سره د تعامل په مجالونو کې داسې تحول رامنځته کړ چې په تېرو څو پېړیو کې یې مثال نه و لیدل شوی.

ملا محمد عمر مجاهد په خپل عمل اسلامي نړۍ ته دا درس ورکړ چې مسلمانان یو جلا امت دي چې د ژوند په هر ډګر کې باید خپل اصول او خپل معیارونه ولري. دغه بېساري شخصیت دا هر څه ځکه وکړای شول چې نه یې د غرب او غرب پلوو په مکتب او پوهنتون کې درس ویلی و، نه یې د غرب له فکري، سیاسي، اجتماعي او فرهنګي مفاهیمو تأثر اخیستی و، نه د

اسلامي او غربي مفاهيمو او سياستونو په پيوندكارۍ قانع و، او نه يې پر اسلامي نړۍ د مسلطو حكامو او سياسيونو په څېر ذهن د ماديت او غربپالنې افكارو نيولى و چې د آزادۍ، خپلواكۍ، پر الله تعالى توكل، د الله تعالى پر نصرت ايمان، د اسلام د حاكميت او د شريعت د تطبيق افكارو ته دې وركې هېڅ ځاى نه وي. هغه د مدرسې بچى و، دين يې د دين له علماوو زده كړى و، له دين څخه د دفاع او د هغه د حاكميت لپاره يې جهاد كړى و، او له هېڅ نا اسلامي جهت سره يې د دين پر سر سودا ونه كړه.

دا چې ملا محمد عمر مجاهد څنګه د اسلام لپاره د مدرسې مبارزه پرمخ يوووړه؟ او د ده پر مبارزه كوم آثار مرتب شول؟ په دې مقصد يې په اړه لاندې څو ټكي ليكم چې د مدرسې عالم او طالب ته د مدرسې د مبارزې يو كامياب مثال ور معرفي كړم:

**ملا محمد عمر په عمل كې امت ته ور وښووده چې په اسلام كې د دين او سياست تر منځ بېلتون ځاى نه لري:**

ملا محمد عمر مسلمانانو ته په عمل كې ثابته كړه چې د اسلام مبارك دين د (دين) او (سياست) تر منځ بېلتون نه مني. د اسلام دين د الله تعالى له لوري د انسانانو په ټولو مادي او معنوي چارو كې د لارښوونې لپاره راغلى دى، او پيغمبر صلى الله عليه وسلّم همدغه كار په خپل مبارك ژوند كې عملي كړى دى.

په اسلام كې دا عقيده او تصور دخيل او پردى دى چې د دين روحاني او معنوي پالنه دې يو جهت كوي، او د سياست، نظام او د ټولنې چارې دې بل جهت سمبالوي، بلكې دا دواړه د يوه قيادت كار او سره نه بېلېدونكې وظيفې دي، ځكه خو پيغمبر صلى الله عليه وسلّم او تر هغه مبارك وروسته راشده

خلفاء هم د مسلمانانو د (دولت) او (نظام) مشران وو، او هم د هغوئ ديني لارښوونکي او (د مسجد امامان).

د اسلام په سياسي تاريخ کې چې کله هم اسلامي ټولنه په سياسي لحاظ له (مسجد او محرابه) رهبري شوې، مسلمانان په قوت، سرلوړۍ او فتوحاتو کې اوسېدلي دي، خو چې کله هم د سياسي قيادت چارې د (مسجد او محراب) پر ځای د (ماڼيو) او (خېلونو) له لوري ترسره شوي، نو په حتمي ډول مسلمانان د قوت او فتوحاتو پر ځای له ذلتونو، انحرافاتو، خپلمنځي جګړو او يا هم د دولتونو او نظامونو له سقوط سره مخ شوي دي.

د دين او د سياست د بېلتون نظريه چې په غربي اصطلاح کې ورته (سيکولريزم) ويل کېږي د (کليسا) د منحرف دين په خلاف د اروپا د (الحاد) د بغاوت زېږنده ده. دغې نظريې که له يوې خوا اروپايان د کليسا د استبداد په خلاف ودرول، نو له بلې خوا اروپايي مستعمرينو اسلامي نړۍ ته د دې نظريې په راصادرولو په مليونونو مسلمانان هم د اسلامي شريعت له حاکميته محروم کړل.

**د دين او سياست د بېلتون نظريې له اسلامي نړۍ څه واخيستل؟**

د عثماني خلافت په آخرو وختونو کې ـ د سلطان عبدالحميد خان له شخص او ځينو ملګرو په استثناءـ چې کله د نظام او پوځي قيادت چارې د داسې سياسي او پوځي مسؤولينو لاسته ورلوېدې چې د (سيکولر) غرب له نظرياتو متأثر شوي وو، نو په اسلامي نړۍ کې يې هم د دغې اروپايي نظريې خپرېدو ته لاره هواره کړه، چې په نتيجه کې يې د شريعت حاکميت او د خلافت نظام له منځه لاړ، اسلامي نړۍ اروپايي دولتونو اشغال کړه، او په پای کې په ټوله اسلامي نړۍ کې داسې غرب پلوي سياسي نظامونه منځته راغلل

چې د شریعت د حاکمیت د مخنیوي او د دین او د سیاست په بېلولو کې ټول سره شریک وو.

پر اسلامي نړۍ غرب پلوو مسلطو نظامونو نه یوازې دا چې په اسلامي نړۍ کې د شریعت د عملي کېدلو مخه ونیوله، بلکې دلته یې پر مسلمانو ولسونو د شوروي د (کمونیزم)، د غرب د (فاشیست لیبرالیزم)، د امریکا د (توسعه غوښتنې)، (نړیوالتوب)، (صلیبیت) او د معاصرې اروپا د سیاسي منافقت (ماکیاولیزم) د ټولو جنایاتو تمرینونه وکړل، د اسلامي نړۍ د هېوادونو استقلالیت یې له منځه یووړ، او دغه هېوادونه یې ټول په سیاسي، نظامي، اقتصادي، فرهنګي او اجتماعي لحاظ په روسانو، اروپایانو او امریکایانو پورې وتړل.

د دین او د سیاست د بېلتون له (فتنې) افغانستان هم په امان کې پاتې نه شو، او د اول ځل لپاره د دغه پردي فکر او نظام تیوري (محمود طرزي) چې له (سیکولر کمالیزم) او اروپایي نظریاتو متأثره و راوارده کړه، او بیا امان الله خان په افغانستان کې د زور، زندان، فکري ارعاب او استبدادي حکومت په ولس او نظام کې په زور د دغې پردۍ نظري د عملي کولو هڅې شروع کړې.

د محمود طرزي ــ چې غربیان یې په افغانستان کې د سیکولریزم پلار بولي ــ دغه مردار بوټي کرار کرار په افغانستان کې هم وده وکړه، چې نتیجه یې د امان الله خان د هغو (افساداتو) چې ده (اصلاحات) بلل او خلکو دی د هغو له امله (له دینه وتلی) وباله، د ظاهرشاه د مفسد نظام، د داوودخان د (جمهوریت)، د کمونستانو (د ثور د کمونستي کودتا) او د امریکا پلوو (دیموکراتانو) د دیموکراسۍ په شکل کې راووته.

په افغانستان کې د دین او د سیاست د بېلتون نظریې او اسلامي شریعت ته ناملتزم حاکمیت دلته داسې وضعیتونه، نظامونه او قوانین رامنځته کړل چې یو

ځل يې په افغانستان کې د امان الله خان په شکل کې د ترکيې د مصطفی کمال د (دين دښمنۍ) نخرې وکړې، بل ځل يې دا هېواد او ولس روسانو ته وروسپاره، او په دريم ځل يې بيا دا هېواد د امريکا په مشرۍ د غرب د صليبي ائتلاف په واک کې ورکړ.

افغانانو د غرب پلوو سيکولرانو د جناياتو کفاره هر ځل د لکونو شهيدان په ورکولو ادا کړه، او لا يې تر اوسه هم خپله ټولنه د سيکولريزم د بې دينې مفکورې له جناياتو او منفي تأثيراتو نده پاکه کړې.

په اسلامي نړۍ کې د سيکولرو واکمنو له لوري د (سيکولريزم) خپرېدو نه يوازې دا چې (پر دين نه ولاړ) نظامونه رامنځته کړل، بلکې په اسلامي نړۍ کې يې په مليونونو اسلام ته منسوب داسې خلک هم وروزل چې يوازې نومونه يې اسلامي دي او نور يې د ژوند تقريبا ټولې چارې له ديني ارشاداتو څخه د باندې د سيکولريزم، کمونيزم، ليبراليزم او وضعي قوانينو مطابق عيارې کړې او رواني کړې دي.

د سيکولر فکر خاوندانو هر وخت ځان د اسلامي امت له افرادو ګڼلی، خو کار يې تل د غرب لپاره کړی، او د اسلام پر ځای يې خپله وفاداري له غربيانو او غربي نظرياتو سره ښکاره کړې ده، او هم عملا د هغوئ په صف کې درېدلي دي.

په تېرې يوې پېړۍ کې د اسلامي نړۍ په ډېرو هېوادونو لکه د هند په نيمه وچه، ترکيې، عربي نړۍ او افغانستان کې ډېرو اسلامي شخصيتونو، اسلامي احزابو او سياسي جهتونو د سيکولريزم د مخنيوي او د اسلامي نظام د رامنځته کولو لپاره نظريات وړاندې کړي، طرحې او کتابونه يې تأليف کړي او د اسلامي سياست او نظام دعواوې او شعارونه يې پورته کړي دي، خو کله چې په عملي ډول د سياست او نظام ډګر ته ورداخل شوي، او يا د حکومتونو

برخه ګرځېدلي دي، نو بيا دوئ هم د سيکولرانو ملګرتيا کړې ده، او عملي سياست او حکومتونه يې د سيکولريزم د اصولو، تګلارو او قوانينو مطابق چلولي دي، او د خپلو سياسي او فکري انحرافاتو د توجيه لپاره يې اسلامي احکام تحريف کړي، او يا يې بېلابېل تأويلونه ورکې کړي دي.

خو د پورتني وضعيت په خلاف ملا محمد عمر مجاهد هغه يوازينی مسلمان رهبر وو چې هم د منبر او محراب له ډګره راپورته شو، او هم يې خپل نظام د خالصو اسلامي اصولو مطابق جوړ کړ.

ملا محمد عمر رحمه الله تعالی سياست بېرته اسلامي کړ، په سياست او نظام کې يې له سيکولريزم او نورو پرديو نظرياتو سره پيوندکاري ونه منله. هغه يو ځل بيا ثابته کړه چې مسلمان هم په خپل شخصي ژوند کې مسلمان کېدی شي، او هم له معاصرو کفري نظرياتو او اصولو ليري خپل نظام اسلامي کولی شي.

ملا محمدعمر مجاهد مرحوم د يوه رښتيني مسلمان رهبر په حيث نه د کفري نړۍ له لويو ځواکونو مرعوب شو، نه يې له نوي نړيوال نظامه سترګې وسوې، نه يې د ملګرو ملتو او د امنيت د شورى د کفري قوانينو بنده ګۍ ومنله، نه له چا سره په کوم کفري نظامي او يا سياسي تړون کې شامل شو، نه يې د غرب او يا شرق په نزد د منل کېدلو په مقصد په خپل نظام کې پردي معيارونه مراعت کړل، او نه هم د چا سياسي، اقتصادي او نظامي بنديزونو او تهديدونو ته ورتسليم شو. هغه دا هرڅه ځکه وکړل چې هغه مسلمان وو، او پر دې يې عقيده درلوده چې لکه څنګه چې د مسلمان دين او عقيده اسلامي ده، همداسې بايد د هغه سياست او نظام هم اسلامي وي.

ځينې پرديپالو او لنډ فکره خلکو ته به کېدی شي د ملا محمد عمر مجاهد له لوري د پورته ياد شوي دريځ خپلول د هغه ساده ګي او د معاصرې نړۍ له

سیاسي وضعیت او حالاتو ناخبري ښکاره شي، خو حقیقت دا دی چې هغه ساده او ناخبره نه وو، بلکې هغه یو رښتینی مسلمان رهبر وو چې د اسلام په حقیقي روحیه سمبال او یو کلک مسلمان وو چې په هېڅ صورت یې په اسلام او اسلامي سیاست کې پیوندکاري نه منله. زه د داسې یو چا په حیث دا ځو کرښې نه لیکم چې هغه یې نه وي لیدلی او نه یې وي پېژندلی. ما هغه مرحوم له نیږدې لیدلی وو، او د هغه له فکر او نظریاتو مې له ډېرې نیږدې ځان خبرکړی وو.

د ملا محمد عمر مجاهد د فکر او د اسلامي سیاست د خالصتوب راز په دې کې وو چې هغه د اوسنیو نورو سیاستمدارانو په څېر د معاصر غرب د سیاسي فلسفې د فیلسوفانو نظریات نه لوستي وو، او نه یې باور پرې ورلود. د هغه د عقیدې او سیاسي تفکر سرچینه د (جان جاک روسو)، (مونتسکیو)، (هوبز)، (جان لاک)، (سپینوزا)، (میرابو)، (کانت)، (سارتر)، (ماکیاولي)، (مارکس)، (نیچه)، (چرچل) او د (فوکویاما) له نظریاتو نه وه، بلکې هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلّم او د صدیّق، فاروق، علي، عثمان، سلمان، ابوذر، بلال، خالد او عمر بن عبدالعزیز رضي الله تعالی عنهم کیسې او رېدلې وې، او د هغوئ ساده خو پوخ او اصیل فکر یې خپله تګلاره ګرځولي وه. او له همدې امله یې تر وروستۍ سا د شریعت التزام ته د د نیا د خلکو پر توصیو او فرمایشاتو ترجیح ورکړه.

**د افغانستان، اسلامي فکر، او اسلامي سیاست لپاره د ملا محمد عمر مجاهد مرحوم ځو لوی کارونه:**

ملا محمد عمر مجاهد د یوه مسلمان سیاسي رهبر په حیث په خاص ډول په افغانستان او په عام ډول په ټولې اسلامي نړۍ کې پر اسلامي فکر او سیاست

لوی او ژور تأثیرات پرېښودل چې اغېزې به یې په ټولې نړۍ کې د وخت له تېرېدلو سره نورې هم راښکاره شي.

ځینې خلک ښایي زما دې تحلیل ته د یوې فکري مبالغې او لویې ښکاروونې په نظر وګوري او داسې فکر وکړي چې زه به د مرحوم ملا محمد عمر مجاهد د فکر او اقداماتو تأثیر د هغو تر حقیقي اندازې د پورته ښکاره کولو هڅه کووم، خو دغو خلکو ته باید ورپه یاد کړم چې یو وخت دغه ډول خلکو (عز الدین القسام)، (سید قطب)، (عبدالله عزّام) او (اسامه بن لادن) هم یوازې افراد ګڼل، او د هغوئ افکار او سیاسي او نظامي اقدامات یې سطحي ګڼل، او د هغو د تأثیر ساحه یې هم محدوده ګڼله، خو وروسته بیا نړۍ ولیدل چې د همدې (محدودو افرادو) د افکارو او اقداماتو په نتیجه کې په ټولې نړۍ کې داسې مجاهد نسلونه او سیاسي او جهادي تیورۍ رامنځته شوې چې ټوله کفري نړۍ یې ستومانه کړه، ستر پوځې ځواکونه یې وننګول، او په داسې یوه ځواک بدل شول چې ټوله نړۍ یې له حذفولو عاجزه ده.

هغه لوی کارونه چې ملا محمد عمر مجاهد په افغانستان کې د اسلامي سیاست او د اسلامي فکر په مجال کې تر سره کړل ځینې په لاندې ډول یادولی شو:

**۱- د روسانو او کمونیزم په خلاف د افغانانو د ستر جهاد د نتیجې له ضائع کېدلو ژغورل:**

د روسانو او کمونستانو په خلاف د افغانانو ستر جهاد چې د اسلامي نړۍ په زرګونو نورو مسلمانانو هم ورکې قربانۍ ورکړې وې د دې لپاره وو چې افغانستان د روسانو او کمونستانو له تسلّطه آزاد شي او په دې خاوره کې اسلامي نظام جوړ او شریعت حاکم شي. خو د بېلابېلو نړیوالو او سیمه ییزو توطیو او د ډېرو جهادي تنظیمونو د رهبرانو د انحراف او غلطو تصامیمو او

اقداماتو له امله نه یوازې دا چې په هغه وخت کې دغه ارمان پوره نشو، بلکې نیږدې وه چې ټولې قربانۍ ضائع او د افغانستان ارضي تمامیت هم له منځه لاړ شي.

په هغه وخت کې د داخلي شخړو او د جهادي قیادت د انحراف له امله پر افغانستان داسې یو وحشت حاکم وو چې خلکو ته یې د چنګیز د وخت وراني او وحشتونه وریادول. د هماغو وحشتونو او خپلمنځي بې رحمو جګړو له امله افغانان او افغانستان د لویې تباهۍ مرحلې ته ور رسېدلي وو، مجاهدین بدنامه شوي وو، اسلامي تنظیمونو خپل جهادي او سیاسي مصداقیت له لاسه ورکړی وو، او د جهاد بیرغ لوېدلی وو.

له پورتنیو ټولو ناخوالو سره د مقابلې په مقصد مرحوم ملا محمد عمر مجاهد په خپل جهادي او اصلاحي پاڅون سره نه یوازې دا چې افغانستان له لویې تباهۍ د خلاصون لوري ته سوق کړ، بلکې یو ښه نظام یې هم جوړ او شریعت یې ورکې تر خپلې وسعې تطبیق کړ، او د جهاد لوېدلی بیرغ یې هم ښه لوړ بېرته راپورته کړ.

د هغه له لاسه دا هر څه په تصادفي ډول نه دي تر سره شوي، بلکې د دې هر څه لپاره یې همداسې عزم درلود. ما (د دې کرښو لیکوال) ته د ۲۰۰۱م میلادي په اولو میاشتو کې یوه ورځ د اسلامي امارت د (امربالمعروف او نهي عن المنکر) د وزارت وزیر شهید مولوي صاحب محمد ولي چې د کندهار په قول اردو کې مو کورونه سره یوځای وو د ملا محمد عمر مجاهد د عزم د هغو ورځو کیسه کوله چې دی د خپلې نوې پیل کړې مبارزې په دویمه او یا دریمه هفته کې و، او په هغه وخت کې لا نه رهبر او نه هم امیر المومنین وو.

مولوي محمد ولي مرحوم راته وویل: « ما د ملا محمد عمر له مدرسې لږ لیرې په یوه مسجد کې طالبانو ته درس وایه چې د کندهار ـ هرات پر سړک

مې د ټوپکیانو پر یوه ځنځیر د جګړې د ټکانو آوازونه واورېدل، چې پوښتنه مې وکړه نو راته وویل شول چې ملا محمد عمر د ظالمو او مفسدو ټوپکیانو په خلاف جګړه شروع کړې ده. ما هم کتاب بند کړ او له خپلو څو طالبانو سره له هغه سره یوځای شوم. کله چې زموږ جګړه د کندهار ښار ته د غرب له لوري ورنیږدې شوه یوه ورځ مو تر مازدیګره له ټوپکیانو سره پداسې ځای کې سخته جګړه وشوه چې زموږ او هغوئ تر منځ پول وو، ماښام چې جګړه ودرېده نو زه او ملا محمد عمرآخوند په یوه خزه کې وو. ما دا تشویش درلود چې موږ دا دوه کسه به تر سهاره دلته مقاومت وکړای شو؟ او که په شپه کې به مو الله مه کړه دښمن ونیسي، او یا به بل څه راپېښ شي. زما په ذهن کې همدا فکرونه وو، خو د ملامحمد عمر آخوند د عزم او فکر دنیا بیا جلا وه. ملا محمد عمر آخوند په همدې له وېرې او تشویش ډکې شپې کې راته ویل: « مولوي صاحب! دا جګړه مو لنډه او د یو څو ورځو جګړه نه ده، او نه به یې د کندهار پر نیولو بس کوو. موږ به ان شاء الله تعالی دوامداره جهاد کوو، کندهار به نیسو، بیا به ټول افغانستان له دې مفسدینو آزادوو، اسلامې حکومت به جوړوو، او بیا به شریعت ورکې نافذوو، دا ډېره اوږده لار ده، وېرې او ستومانۍ ته به په زړه کې ځای نه ورکوو».

مولوي محمد ولي صاحب راته ویل: «ما چې په هغې سختې او له وېرې ډکې شپې کې د ملا محمد عمر آخوند دا خبرې او په ظاهره ډېر سخت او نه ترسره کېدونکي عزائم اورېدل داسې راته ښکارېدل لکه دي چې راته وايي چې اسمان ته به پورته کېږو او. . . خو دا دی زه اوس وینم چې ملا صاحب د الله تعالی په فضل او نصرت خپل ټول عزائم ترسره کړل. د فساد ټغر ټول شو، اسلامي حکومت قائم شو، او شریعت هم ورکې نافذ شو».

حقيقت د ادی که د الله تعالی فضل او احسان او بيا د ملا محمد عمر مجاهد پاڅون نه وای، نو نن به نه واحد افغانستان و، نه به دلته دغه ډول مجاهدين وو، نه به امريکا او ناټو ماتې خوړلې وه، نه به مو ولس د آزادۍ دغه ډول روحيه درلوده، او نه به مو په نړۍ کې د جهاد او سر لوړۍ بېرغ رپېده، بلکې د کمونستانو هغې دعوی به د ټولو مجاهدينو په هکله صدق کړی وو چې د څو غدّارو تنظيمي رهبرانو په حق کې يې وکاوه، هغه چې ويل به يې جهاد او مجاهدين يوه امريکايي پروژه ده چې د (ثور د انقلاب!!؟) په خلاف يې په کار اچولې ده.

که ملا محمد عمر مجاهد د امريکا او د هغې د ملگرو په خلاف د جهاد بيرغ نه وای پورته کړی، او د سيکولريزم په خلاف يې هم داسې جهاد نه وای کړی لکه د کمونيزم په خلاف يې چې وکړ، نو خامخا به مو د کمونستانو پيغور پر غاړه ووړ.

## ۲- د (ملا) سياسي کول او حاکميت ته رسول:

له تېرې اوږدې زمانې راهيسې په اسلامي نړۍ او په افغانستان کې عالمان او متدين خلک د سياست، نظام او حاکميت له صحنې وېستل شوي وو، او د ټولنو د سياسي، عسکري او اجتماعي قيادت چارې له دين څخه ناخبرو او يا له دين څخه ياغي سياستوالو، مستبدو بادشاهانو، په روسانو پورې تړلو کودتايي انقلابيانو او يا غرب پلوو ليبرال فاشستانو په لاس کې نيولې وې. دغه ډول حکامو نه يوازې دا چې د اسلامي نړۍ په هېوادونو کې داسې نظامونه او قوانين رامنځته کړل چې د هغو په توسط يې مسلمان ولسونه د ذلت، اختناق، سياسي استبداد او اجتماعي فساد په وضعيت کې وساتل، بلکې له دې وېرې چې نظامونه او قوانين يې له زوال سره مخ نشي په ټولنو

کې یې د مصلحینو، علماوو، قومي مخورو، مسلمانو دعوتګرو، مسلمانو مفکرینو او د جهادي فکر او تګلارې د خاوندانو په خلاف بې رحمه جګړې او سیاستونه هم په کار واچول.

دغو له دین څخه یاغي او پردي پالو حکامو د اسلام د حاکمیت لپاره د کارکوونکو په خلاف د جګړې، تهدیدونو، فشارونو او د هغوئ د کار او تأثیر د مخنیوي ټول وسائل لکه پټې وژنې، سیاسي اعدامونه، زندانونه، تبعیدونه، منفي تبلیغات، فکري او رواني جګړې او نور ډېر میتودونه په کار واچول، چې د هغو په نتیجه کې یې نه یوازې دا چې علماء او د دین د حاکمیت لپاره کار کوونکي له نظام او حاکمیته ووېستل، بلکې تر ډېره حده یې له ټولنې او سیاسي جریانونو هم تجرید کړل، او د هغوئ ځای یې د کمونیزم، سیکولریزم، نشنلیزم، او د هوی او هوس بنده ګانو ته خالي کړ.

پورتنی وضعیت د افغانستان په شمول پر ټولې اسلامي نړۍ حاکم وو، او د دې پر ځای چې اسلام ته منسوب سیاسي احزاب او جریانونه د خالصو اسلامي انقلابي اقداماتو او جهادي ستراتیژۍ له لارې د دې وضعیت د بدلون په مقصد د جدّي کار لپاره خلک وروزي او له معاصر جاهلیت څخه فاصله ونیسي، متأسفانه چې هغوئ هم په بېلابېلو شکلونو د معاصر جاهلیت (دیموکراسۍ) له بهیرونو سره پیوند واخیست، او د دې پرځای چې د مجاهدینو او مسلمانو انقلابیانو ملاتړ وکړي د پردیپالو حکومتونو، پارلمانونو، او نورو سیکولرو جوړښتونو او مؤسساتو په چوکاټ کې یې د ځان لپاره ځایونه ولټول.

خو مرحوم ملا محمد عمر مجاهد د خپل وخت د اسلامي سیاسي احزابو او جریانونو برعکس له حاکم وضعیت سره جوړه ونه کړه، بلکې د سیکولرې نړۍ ټول پر دین نه ولاړ موازین او معیارونه یې له پامه وغورځول، او د

مدرسه او مبارزه

جهادي فعالیت په نتیجه کې یې د نظام او سیاست د چارو واګې بېرته علماوو او مجاهدینو ته وروسپارل.

مرحوم ملا محمد عمر مجاهد (ملا) بېرته سیاسي کړ، او له ډېرې لویې دروازې یې بېرته د سیاست او حاکمیت ډګر ته ور دننه کړ، چې په خلاص لاس په ټولنه کې د الله تعالی دین نافذ کړي.

مرحوم ملا محمد عمر نظام او ادارې له کمونستو او سیکولرو عناصرو پاکې کړې. هغه له ملا او مجاهد څخه بیا امیر، وزیر، ډیپلومات، والي، پوځي او امنیتي قومندان، مدیر، قاضي، څارنوال، ولسوال، استاذ، سیاستوال، لیکوال، ادیب او مبصر جوړ کړ. هغه د ملا او ټولنې تر منځ پرې شوې رابطه بېرته داسې محکمه کړه چې بېرته پر پرېکولو یې د سیکولریزم د پلویانو زور ونه رسېد، که هر څو یې بېلابېل وسائل په کار واچول.

ملا محمد عمر مجاهد (ملا) ته د سیاست او نظامدارۍ عملي تمرین ورکړ، او په سیاسي، فکري، او پوځي لحاظ د امریکا په ګټه (یوقطبه) شوې نړۍ یې بېرته داسې (دوه قطبه) کړه چې یو قطب یې د (سیکولرو نظریاتو) له خاوندانو جوړ دی، او بل قطب (ملا) او د هغه (اسلامي سیاسي او جهادي نظریه) تشکیلوي.

البته د مرحوم ملا محمد عمر مجاهد له لوري د (ملا) او (طالب) د سیاسي کولو په اړه د دې یوې ملاحظې یادول ضروري دي او هغه دا چې د طالبانو په بهیر کې خو (ملا) په عملي ډول د سیاست ډګر ته ورننووت خو افسوس چې د اسلامي سیاست معاصرو علومو، د کفر او ګمراهۍ د معاصرو ډولونو پېژندنې، د اسلامي عقیدې د معاصرو فکري مفرداتو او معارفو، او د نړیوالو د مخاطبولو معاصرو ادبیاتو لا تر اوسه د ملا او طالب تعلیمي نصاب او د هغه د مدرسې ماحول ته په پراخ ډول لاره نه ده پیدا کړې.

که زموږ د تعلیم، نصاب او د مدرسې محیط همداسې پاتې شي لکه چې اوس دی، نو دا وېره شته چې د مرحوم ملا محمد عمر مجاهد فکر او تګلاره به د راتلونکو نسلونو لپاره یو (فکري مکتب) نشي، بلکې د افغاني تاریخ په پاڼو کې به یوازې د (یوې زرینې حادثې) په شکل کې پاتې شي او بس. نو په کار ده چې د هغه د صف د سیاسي او جهادي بهیر فکري او تعلیمي مسؤولین د دغه ارزښتمن سیاسي او فکري میراث د خوندي کولو او تلپاتې کولو لپاره په دې ډګر کې له سطحیت او بې غورۍ راووځي او مطلوب اقدامات تر سره کړي.

**۳- طالب او مکتبي ته جهادي روحیه ورکول او له دین څخه د دفاع په صف کې د هغوئ درول:**

غربي ډوله تعلیم او تعلیمي نظام په اسلامي نړۍ کې خلک له معلوماتو سره آشنا کړل، خو له (تدین) او (معنویت) څخه یې محروم کړل. دې ډول تعلیم خلکو ته د دنیا د جوړولو او د آخرت خرابولو فارمولې ورزده کړې. غربي ډوله تعلیمي نظام او نصاب د مسلمانانو نویو نسلونو ته د وسلو او وسائلو د جوړولو هنر ورزده کړ، خو له اسلام او خپلې خاورې څخه د دفاع په لار کې یې د خپلو جوړو کړو وسلو د استعمال روحیه او اراده ورڅخه سلب کړه.

غربي ډوله تعلیمي نظام او روحیې په اسلامي نړۍ کې د غرب لپاره په ملیونونو داسې وفاداره ماهر او چالاک غلامان وروزل چې تر غربیانو دوئ ډېر د غرب د ګټو لپار مخلص او د غربیانو د پلانونو عملي کوونکي دي، څکه خو د شرق فیلسوف او ستر غرب پېژندونکی شخصیت علامه محمد اقبال هم د غربي ډوله (مکتب) او د هغه د شاګردانو رول په اسلامي نړۍ کې داسې تشخیصوي:

مکتب از تدبیر او ګیرد نظام تا به کام خواجه اندیشد غلام

انګرېز د مکتب نظام ته داسې یو تدبیر نیولی چې له هغه څخه فارغېدونکي فکري غلامان تر خپله انګرېزانو هم د انګرېزانو کارونه ښه ترسره کوي.

د غربي ډوله تعلیم اثر پر اسلامي نړۍ دا وشو چې څومره چې د دې ډول تعلیم مکتبونه او پوهنتونونه ډېر شول په هماغه اندازه له اسلامه د نوي نسل بې خبري هم زیاته شوه. په اسلامي نړۍ کې که دغه ډول تعلیم یافته خلک هر څومره ډېر شول، خو اسلام او آزادۍ ساتنې ته یې هېڅ ګټه ونه کړه، او دا ځکه چې دغه خلک تل کله د (روښانفکرانو!!؟)، کله د (کمونستانو)، کله د (لېبرالانو) او کله هم د (منځلارو) په شکل کې د دښمن په صف کې درېدلي دي. غربي ډوله تعلیم دوئ د غیرت او دفاع له فطري حسه بې برخې کړي، ځکه خو علامه اقبال دې تعلیم ته په لاندې نظر ګوري:

من آن علم و فراست با پر کاهی نه می گیرم

که از تیغ و سپر بیگانه سازد مرد غازی را

زه هغه پوهه او هوښیاري د بوسو په یوې خځلې هم نه اخلم چې غازي سړی له تورې او سپره پردی کوي.

ملا محمد عمر په دغه ډول یوه (وبا وهلي) سیاسي، فکري او فرهنګي وضعیت کې حاکمیت ته ورسېد، خو هغه او د هغه ملګرو له دغه وضعیت سره جوړه ونه کړه، بلکې په پراخه پیمانه یې د مکتب، مدرسې، پوهنتون او دارالحفاظ شاګردان داسې د ایمان، جهاد، قربانۍ او فداکارۍ له روحیې سرشاره کړل چې له هېچا یې وېره ونه شوه، او د داسې یوه نړیوال پوځي ائتلاف په مقابل کې یې لویه جګړه ورباندې وګټله چې تر پنځوسو د زیاتو هېوادونو پوځونه ورکې شامل وو. هغه په خپل قول او عمل د اسلامي نړۍ د ځوانانو په نفسونو کې د جهاد او آزادۍ غوښتنې داسې سا ورپو کړه چې

اوس یې د نړۍ ټول سیاسي او فکري جادوګر له آرامولو عاجز دي، او دا سلسله به لا نوره هم ان شاء الله اوږدېږي او پراخیږي.

**۴- په فکر او عمل د یوه رښتیني مسلمان حاکم نمونه وړاندې کول:**

مسلمانانو له اوږدې مودې راهیسې د یوه واقعي او رښتیني مسلمان حاکم نمونه نه وه لیدلې. او دا ځکه چې د اسلامي نړۍ د شلمې او یو ویشتمې پېړۍ تقریبا ټول حاکمان هغه خلک وو او دي چې یا یې د اروپا، روسیې او امریکا په مکتبونو او پوهنتونونو کې درس ویلی، یا په اسلامي هېوادونو کې د غربیانو او مسیحي منصّرینو له لوري له جوړو شویو تعلیمي مؤسسو فارغ شوي دي، او یا هم هغه خلک دي چې په غربپالو او سیکولرو کورنیو او چاپېریالونو کې را لوی شوي دي، دین ته هېڅ التزام نه لري، او د دینداری هم یوازې دومره تظاهر کوي چې خپل محکوم ولسونه ورباندې تېرباسي.

د اسلامي نړۍ اوسني حاکمان په فکري لحاظ (سیکولران)، په سیاسي لحاظ د (ماکیاولیزم) د مکتب پیروان چې د خپلو ګټو لپاره هر کار روا ګڼي، د عزائمو او ارادو په لحاظ د لویو کفري دولتونو ملګري او تابع، د شکل او صورت په لحاظ د غربیانو فوټوکاپي، له خپلو ولسونو سره د تعامل په لحاظ غله، مستبد او درواغجن او د فرهنګ په لحاظ د خپل فرهنګ دښمنان او د پردیو فرهنګونو تمثیلوونکي دي.

دغه حاکمان واک ته هم یا د خانداني موروثیت، یا د کودتاګانو، یا د پردیو لخوا په تحمیلي شکل او یا هم د غربي دیموکراسۍ د هغو انتخاباتو له لارې رسېږي چې په هغه کې د رأیې ورکوونکو دین، پوهې، عقل، تجربې او نورو استعدادونو ته نه کتل کېږي، بلکې یوازې یې د حېواناتو په څېر سرونه شمېرل کېږي، او هر چا چې ډېرې رأیې حاصلې کړې که یې په هر شکل

حاصلې کړې وي هماغه د حاکمیت مستحق ګڼل کېږي. په دې ډول د اسلامي نړۍ تقریبا ټول حکام له نا اسلامي لارو واک ته رسېږي.

خو ملا محمد عمر مجاهد د اوسنۍ زمانې د حکامو برعکس د یوه رښتیني مسلمان حاکم نمونه وو. هغه د ملت په منځ کې له مسجد او محرابه راپورته شوی متدین او متشرع شخص او د دین په تقاضا او روحیه پوه رهبر وو. هغه هم په شریعت پوهېده او هم یې نافذاوه. د مظهر او صورت په لحاظ له شریعت او افغاني اصیل دود سره برابر وو، تل یې افغاني لباس اغوست او پګړۍ یې پر سر کوله، ډېر وخت به یې داسې پګړۍ پر سر او جامې پر تن وې چې له ډېرو وینځلو او اغوستلو به یې رنګ بدل شوی وو. نه یې تر پایه خپل کور پیدا کړ او نه یې زمکې او شتمنۍ.

هغه سره له دې چې یو قوي رهبر وو، خو هر وخت یې خپل تصامیم د شریعت له علماوو څخه د پوښتنې او له خپلو ملګرو سره د مشورې په نتیجه کې نیول، او د خپل حاکمیت په وخت کې به یې هره چهارشنبه له مشرانو او مسؤولینو سره مشوره درلوده.

ملا محمد عمر مجاهد قوي حاکم و، خو ژوند یې د مترفینو نه وو. هغه په ماڼیو کې نه اوسېده، تل له مجاهدینو، علماوو او د نظام له مسؤولینو سره په طبیعي ژوند کې اوسېده. هغه د خپل نظام قوت د اسلامي شریعت په تطبیق او د خپل ولس په پاللو کې لیده. هغه کله هم نه د خپل نظام د تقویې لپاره کفري هېوادونو ته د نېږدې کېدلو کوښښ وکړ، او نه یې هم له هغوئ سره د امنیتي او ستراتېژیکو تړونونو د امضاء کولو هڅه وکړه.

مرحوم امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد په فکري لحاظ په اسلامي معنی د امت پر وحدت باور درلود، او د خپل توان تر حده یې د امت د عملي یو کولو هڅه وکړه. هغه د نړۍ ډېرو جهادي ډلو او لویو شخصیتونو ته د خپل

نظام په غېږ کې نه یوازې دا چې ځای ورکړ، بلکې هغوئ ته یې وسلې وسائل او د هغوئ د مهاجرینو لپار د عزتمن ژوند امکانات هم برابر کړل، په دې ډګر کې هغه د «لَا يَخَافُونَ فِي اللهِ لَوۡمَةَ لَائِمٍ» عملي مصداق و، او په دې اړه یې د شرعي حکم او دیني مسؤولیت په مقابل کې د هېچا خاطرداري ونه کړه، که هر څومره ورته دا کار په درانه قیمت هم تمام شو.

د دې لپاره چې هغه او د هغه نظام د امت د وحدت عملي دلیل وړاندې کړی وي کله یې هم نظام له مسلمانو مجاهدینو او مهاجرینو د ویزې او پاسپورټ غوښتنه ونه کړه، او دا ځکه چې د اسلامي امت د وحدت او د مسلمانانو د ورورلۍ د عقیدې په تله کې دې شیانو ارزښت نه درلود، او همدا دلیل و چې د نورې نړۍ ډېرو مخلصو مسلمانانو هم همدی خپل امیر او رهبر ګاڼه. د ده په خپله اصطلاح: «که یې پښه په خپله پایڅه کې نه وای نښتې» نو په دې مجال کې به یې مسلمانانو ته نور هم ډېر څه کړي وو.

دا چې هغه د نورو انسانانو په څېر یو انسان وو، او له ډول ډول داخلي او خارجي مشکلاتو سره هم مخ وو، نو طبیعي ده چې د خپلو ډېرو ښېګڼو تر څنګ به یې ډېرې نیمګړتیاوې هم درلودې. خو په یقیني ډول هغه د اسلامي نړۍ تر ټولو مشرانو شریعت ته ډېر ملتزم او ښه مدبر رهبر وو. ملا محمد عمر مجاهد په خپل فکر، عمل او سیاسي تعامل د مدرسې له آدرسه اسلامي مبارزه په ډېر ښه شکل رهبري کړه او په دې مجال کې یې ښه مثال قائم کړ. غفور او کریم رب دې هغه ته مغفرت وکړي، او الله تعالی دې یې د نبیینو، صدیقینو، شهداوو او صالحینو په ډله کې راپورته کړي.

زه د اسلامي فکر او د جهاد د فکري او فرهنګي سنګر له ساتونکو په ټول احترام او جدّیت هیله کووم چې د مدرسې له انګړه د راوتلي دغه ستر مبارز او عظیم انسان د ژوند د بیلابیلو اړخونو په راسپړلو او پر اسلامي فکر او

سیاست د هغه د تأثیر په جوتولو خپل فرهنګي مسؤولیت اداکړي، او د دې لوی شخصیت تفصیلي تاریخ مخکې له هغې تدوین او توثیق کړي چې د کینه ګرو غربي لیکوالو او مفکرینو له لوري په مسخ شوې او تحریف شوې بڼه نړۍ او راتلونکو نسلونو ته وړاندې شي. (رحمه الله تعالی رحمة واسعة، و تغمّده في واسع جنانه) آمین.

### ۳- استاذ محمد یاسر د سنګر او منبر اتل او د مبارزې شیخ

جهادي حرکتونه په هره مرحله کې مؤمنو، پوهو، باعزمه، فعالو او د نړۍ له حالاتو باخبره قیادتونو ته ضرورت لري. داسې قیادتونو ته چې د ټولې نړۍ په سطحه د دښمن له حرکاتو، توطیو، جنګي تګلارو او سیاسي دسیسوآګاهي ولري، ترڅو د اسلامي امت بېړیان په هر وخت او هر موقف کې د دښمن د مقابلې لپاره په خوځښت راولي، او د مقاومت بهیر په زړورتیا، درایت او سمه لاره د هدف پر لور روان کړي.

سازشي او فرصت طلبه قیادتونه له یو څو ورځو نمایشي مقاومت او درواغجنو شعارونو وروسته د دښمن په دامونو کې ښکېل کیږي، مبارزه او اهداف ترخپلو هوسونو قربانوي، او د خپل ملت په خلاف د دښمن په صف کې دریږي. دغه ترخه تجربه په تکراري ډول د روسانو په خلاف د ډېرو جهادي تنظیمونو په قیادتونو کې ولیدل شوه چې ځینو یې پرون خپل ځان او اهداف په روسانو خرځ کړل، او ځینې نور یې د امریکایي اشغال په وخت کې د صلیبیانو تر بیرغ لاندې ودرېدل. او ډېر لږ یې له دغې خطرناکې ابتلاء روغ ووتل.

د پخوانیو جهادي قیادتونو له ډلې څخه چې په دې امتحان کې کامیاب شوي یو یې هم استاذ (محمد یاسر) و، چې د کمونیزم په خلاف د جهاد د

افتخار تر څنګ الله تعالیﷻ د صلیبي لښکرو په خلاف د جهاد او د ولس د راویښولو افتخارهم ورپه برخه کړ.

استاذ محمد یاسر دین زده کړ، او د دین لپاره د مبارزې او له هغه څخه د دفاع لپاره یې خپل ټول ژوند وقف کړ. جهاد او مبارزې له استاذ محمدیاسر څخه داسې قوي او مؤثر شخصیت جوړ کړی وو چې هم یې د دښمنانو سیاسي هویت او د هغوئ فکري او عقائدي ماهیت پېژاند، او هم یې د هغوئ په خلاف په ډېر کامیاب ډول خپل ملت ته د مقامت ستراتېژي او روحیه ورکوله.

استاذ محمد یاسر هم په سیمه ییز او نړیوال سیاست پوهېده، هم ورته د سیمه ییزو او نړیوالو دښمنانو د توطیو بېلابېل اړخونه ورمعلوم وو، هم د جهاد او مبارزې په اولویاتو پوهېده، او هم یې له اسلامي احکامو سره پوره التزام درلود او اسلام یې له سیاسته نه قرباناوه.

استاذ د یوه وتلي او ازمایل شوي رهبر او د ولس د یوه مهربانه معلم او زړه سواند داعي په حیث پداسې وخت کې د امتحان او قربانۍ په ډګر کې د خپل ملت تر څنګ ودرېده چې ډېرو پخوانیو یارانو یې د (کعبې) پر ځای د (ترکستان) لاره نیولې وه. یاسر د ډالرو، وزارتونو، ریاستونو، تجارتونو، ماڼیو او خوندونو په زمانه کې د(یاسرؓ ) په څېر د محرومیتونو، خو له هدف سره د وفادارۍلار ونیوه.

داسې ښکاري چې استاد یاسر لا له هغه وخته دغه لاره انتخاب کړې وه چې د وردګو د ولایت د (چك) د ولسوالی د مخورې کورنۍ تنکي ګلالي (زمرك) ځان د کابل د عشیونو او فیشنونو په ښار کې (یاسر) کړ. هغه ته ورمعلومه وه چې د مکې د (یاسر ؓ) کورنۍ له هدف سره د وفا په لاره کې څومره کړاوونه ګاللي وو.

مدرسه او مبارزه

(زمرك) هغه وخت نور هم د(یاسر ﷺ)کورنۍ ته د معنوي انتساب په عهد کې پوخ شو چې په تنکۍ ځوانۍ کې د امریکا د مادي او په دین د نه ولاړ ژوندانه د بحر له طوفاني څپو روغ رمټ د مدینې ساحل ته ور ووت، او له هغه ځایه دې افغان (زمرك) یو ځل بیا د اسلامي مبارزې په لومړي ډگر (مکه مکرمه) د (یاسر ﷺ) په کور کې د هغه له کورنۍ سره خپل عهد تازه کړ چې د الله تعالی په فضل تر پایه په خپل هماغه عهد ټینگ ودرېد، او هېڅ تنازل یې ونکړ. هغه نه وزارتونو له خپل عهد څخه واړولی شو، او نه هم زندانونو.

د جهاد کړاوونو او د مبارزې د لارې لوړو ژورو یاسر سپینږیری کړ، د غرونو او زندانونو تکلیفونو او مشقتونو امساپه لاس ورکړه، خو د ځوانۍ عزم، سرشاره روحیه او لوړ همت یې ورڅخه وانخیستی شو. د ولچکو او زولنو شرنگهار په یاسر کې نوره هم مستي پیداکړه. تورو غرونو او د زندان تورتمونو یاسر له خپل ولس څخه ورك نه کړ، بلکې هغه یې دومره وځلاوه چې د راتلونکو نسلونو لپاره به د مبارزې د(شیخ) په حیث پېژندل کیږي.

د دې لپاره چې د مبارزې لارویان او د سنگرونو ځوانان د دغه مبارز شخصیت د ژوند او مبارزې له بېلابېلو اړخونو یو څه نور هم ښه خبر شي د استاذ د شخصیت او ژوند په اړه ورته دا څو کرښې وړاندې کووم.

## د استاد محمد یاسر شخصیت:

استاذ محمد یاسر چې اصلي نوم یې(زمرك) و د (عصمت الله) زوی و چې په ۱۹۵۴م کال کې د وردگو د ولایت د (چك) دولسوالۍ د (بومبیو) په کلي کې زېږیدلی و. په کوچنیوالي کې یې پلار وفات شوی و، او د پلار له مرگه وروسته له خپل مشر ورور سره چې پوځي افسر و په کابل کې اوسیدلی او په همدې ښار کې یې د حبیبې لیسه ویلې وه. د ښه استعداد او عالي ذکاوت له

برکته يې څو ځلې د سوېې امتحان ورکړی و، او له دولسم صنفه اول نمره فارغ شوی و.

دا چې د وخت نظام به اول نمره فارغان د یو کال لپاره امریکا ته لیږل ترڅو هلته د غرب رنګ او فرهنګ واخلي او انګليسي ژبه هم زده کړي، نو استاذ يې هم د يوه کال لپاره امریکا ته ولیږه. کله چې استاذ په امریکا کې ولیدل چې د اسلامي هېوادونو ممتاز شاګردان د امریکایې تربیې د اخیستلو لپاره امریکا ته لیږل کیږي ترڅو سبا خپل هېوادونه د امریکا په پله روان کړي، نو په هماغه ځای کې يې تصمیم ونیو چې باید نور د یوه ریښتیني مسلمان په حیث خپل ژوند د خپل دين په خدمت کې تېر کړي.

له امریکا څخه تر راستنېدو وروسته يې په کابل کې د شرعیاتو د فاکولتې د ویلو هڅه وکړه، خو د نظام لخوا يې ممانعت وشو. نو ځکه په کابل پوهنتون کې د حقوقو په فاکولته کې شامل شو. دی لا په فاکولته کې و چې په وطن کې د کمونیزم نفوذ خپور شو. استاذ پوهنتون پرېښود، او د مبارزې، هجرت او جهاد لار يې ونیوله. تر څه مودې وروسته د عالي تحصیلاتو لپاره سعودي عربستان ته ولاړ، او هلته يې د مدینې منورې په پوهنتون کې له خپل رب سره خپله د شریعت د زده کړې وعده ترسره کړه.

له پوهنتون څخه د ده له فراغت سره سم په افغانستان کې د ثورکودتاه وشوه، هماغه وو چې استاذ نور په سعودي کې پاتې نه شو، او د جهاد لپاره بېرته راستون شو.

استاذ یو حساس، غیرتي، زړور او د نړۍ په حالاتو پوه مبارز شرعي عالم وو. د اسلامي امت تاریخ ښه ور معلوم وو. د اسلام او مسلمانانو د عروج او زوال عوامل يې لوستلي او تشخیص کړي وو. جهاد او مبارزه يې په قناعت، بصیرت او شعوري ډول شروع کړې وه. استاذ ته هم د پروني کمونیزم فلسفه

او تاريخ ورمعلوم و، او هم د غرب د ډيموكراسۍ او ليبراليزم فلسفه او تاريخ. همدا وجه وه چې نه له پرونيو كمونستانو سره يوځای شو، او نه د ډيمواكراتانو اوليبرالانو په دامونو كې پرېوت.

استاذ ته د اسلامي هېوادونو او اسلامي تحريكونو د لوړ او ځوړ مراحل ټول ورمعلوم وو، او د هغو له خوږو او ترخو تجربو يې استفاده كړې وه. ژوند يې د هدف لپاره وو، نه دا چې هدف دې له ژونده قربان كړي. هغه په منصبونو پسې منډې نه وهلې، بلكې منصبونو په هغه پسې منډې وهلې او دی ترې په منډو و.

استاد ياسر په شرعي او سياسي علومو كې پراخه مطالعه لرله. په پنځه ديرش كلنۍ يې د قرآن حفظ پيل كړ، او له زرګونو جهادي، تدريسي او دعوتي مصروفيتونو سره سره يې حفظ پوره كړ، چې دې كار د استاذ په پخې ارادې او ناتمامه صبر دلالت كاوه.

استاد نهايت سخي او مېلمه پال شخص وو. خوش اخلاقه، حاضر جوابه او نكته فهم انسان وو. ټوكه يې خوښېده او له خپلو ملګروسره يې ښې ډېرې ټوكې هم كولې. الله تعالی هغه ته قيادي روح وركړی وو، په هر مجلس كې به چې شامل وو نو داسې به وو لكه چې د مجلس مشر هم همدی وي.

استاد محمد ياسر د دنيا ډېر هېوادونه او قومونه ليدلي وو. د شرق او غرب له فرهنګ سره آشنا وو. د نړۍ د اسلامي تحريكونو له مشرانو سره يې خواله كړي وو، استفاده يې ترې كړې او مشورې يې وركړې وې . د حلال رزق يې پوره اهتمام كاوه، ځكه خو كله هم د خپلو نورو يارانو په څېر د ډېرو پيسو خاوند نه شو. د حق خبره يې تل په زغرده كوله، د چا تر رعب لاندې نه راتلو. په حق كې يې مداهنت نه خوښېده. استاد درې ودونه كړي وو. چې الله تعالی دولس زامن او نولس لوڼې وركړې وې.

**د استاذ محمد یاسر سیاسي ژوند:**

استاذ محمد یاسر له وړکتوبه د کابل په سیاسي ماحول کې رالوی شوی و. د کمونستانو او اسلامي نهضت نشأت یې په افغانستان کې په سترګولیدلی و، د وروستیو څلوېښتو کلونو سیاسي جریانونه یې له نږدې مشاهده کړي وو، په نوې ځوانۍ کې یې چې سیاسي حس یې حساس و امریکا لیدلې او د امریکا سیاستونه یې له نږدې مطالعه کړې وو. د عربي نړۍ سیاسي جریانونه یې هلته له نږدې څارلي وو. تر فراغت وروسته د جهاد په کلونو کې په بېلابېلو سیاسي جریانونو کې دخیل پاتې شوی و، او د جهاد په ملي او بین المللي تصامیمو کې یې شرکت کړی و، او هم یې ریاستونه او وزارتونه کړي وو.

استاذ محمد یاسر په پیل کې د جمعیت اسلامي د فرهنګي کمیټې رئیس پاتې شوی و. په اوه ګوني اتحاد کې د مهاجرینو د چارو رئیس و، او وروسته یی بیا په اتحاد اسلامي کې د سیاسي چارو د کمیټې ریاست کړی و. په عبوري حکومت کې د حج او اوقافو وزیر و. او د انجینر احمد شاه په مشرۍ په مؤقت حکومت کې د بیا ودانولو د وزارت چارې ورپه غاړه وې.

د کمونستانو ترسقوط وروسته د رباني په حکومت کې د افغانستان د فوائد عامې وزیر و. کله چې پوه شو چې د رباني اداره یو فاسده اداره ده، دین او وطن ته ورکې خدمت ناشونی دی، تر درې میاشتې کار وروسته ئې وزارت پرېښود، او په تدریس او دعوت مصروف شو. د طالبانو د اسلامي تحریك په اوایلو کې یې د هغوئ او د پخوانیو جهادي تنظیمونو ترمنځ د نږدې کولو هڅې هم وکړې.

د طالبانو د حکومت په کلونو کې په کوم سیاسي پوست کې نه و، خو چې کله په طالبانو بده ورځ راغله او ان ځینو خپلو فرصت طلبه ملګرو یې چا د

امریکا لمن ونیوه او ځینو یې انشعاب وکړ او په اسلام آباد کې یې ځانته نوی تشکل اعلان کړ، یاسر په هماغه سخته ورځ د امریکا د حملې پر مهال کابل ته راغی او د طالبانو تر څنګ یې د امریکا په خلاف خپل جهاد اعلان کړ. او د بېلابېلو رسنیو له لارې یې دنیا ته د امریکا بربریت او د افغانانو مظلومیت او د قضیې حقانیت اعلان کړ.

د امریکا تر حملې وروسته استاذ محمد یاسر پر مجاهدینو وګرځېد، د ملت په ځوانانو کې یې د مقاومت احساس راویښ کړ، او د امریکا په خلاف یې د مقاومت د منظمولو زمینه برابره کړه. په دغو حالاتوکې استاد یاسر ته دا فرصت ښه په لاس ورغلی و چې د یو نوي جهادي تشکل په شکل کې تبارز وکړي، خو هغه ته د اختلاف خطرناک عواقب ورمعلوم وو، ځکه یې خپل ټول کوښښونه له اسلامي امارت سره چې د مسلمانانو د غوڅ اکثریت تایید اوحمایت ورته حاصل و ملګري کړل، او له هغه سره یې دیو فرد په حیث کار پیل کړ.

وروسته بیا د طالبانو په نوي تشکیل کې لومړی د فرهنګي کمیسون او وروسته د دعوت او ارشاد د کمیسون رئیس وټاکل شو. په دغو دواړو ریاستونوکې د استاذ یاسر فعالیتونو د اسلامي امارت په فعالیتونوکې نوې سا پو کړه. حرکت یې دومره فعال شو چې نور هېچا ته د زغملو نه و. هماغه و چې استاذ د جهاد او آزادۍ په جرم د پاکستان له لوري ونیول شو او په کابل کې د امریکایانو په لاس جوړ حکومت ته وسپارل شو.

ترڅو کاله زندان تېرولو وروسته استاد محمد یاسر د یوې تبادلې په ترځ کې راخلاص شو او بیا یې تر پخوا په ډېر پراخه شکل جهادي فعالیت ته دوام ورکړ. دا ځل د هغه جهادي دعوت او فعالیت په ټوله سیمه پراخ تأثیرات

ودرلودل چې په نتیجه کې یې په لسګونو زره ځوانانو جهادي سنګرونو ته مخه کړه.

تر آزادۍ وروسته استاذ د اسلامي امارت د سیاسې چارو د ریاست معاون وټاکل شو. خو دا چې استاذ د سیاست په ډګر کې هم لکه د جنګ د ډګر له اسلام سره پوره التزام درلود او معاملوته نه تیارېده، نو د پاکستان له لوري بیا د زندان تیاروته ولوید چې تر اوسه یې په رسمي ډول د ژوند او مرګ هېڅ اطلاع نشته.

استاذ محمد یاسر زندانونو ته وغورځول شو، خو زندانونو یې غبږ چوپ نه کړای شو. د زندان له تروږمیو یې خپلو مجاهدو ورونو او مسلمان ولس ته داسې لارښونه وکړه چې د جهاد په صف کې چا د هغه تشه احساس نه کړه. زندانونو، ثبات او له هدف سره وفا له استاذ محمد یاسر څخه د جهاد معلم او د ملت استاذ جوړکړی و.

د افغان ولس په معاصر جهادي تاریخ کې د استاد محمد یاسر فکر، د دعوت تأثیر او د هغه اوږده او مؤثر جهادي فعالیت ته په پام سره یاسر اوس د یو فرد نوم ندی، بلکې هغه اوس د یوه ملت او د لسګونو زره مسلحو مجاهدینو نوم دی. په ولس او قضیه کې اوس د هغه شخص دومره مهم ندی لکه څومره یې چې فکر او نظریه مهمه ده. که نن یاسر د شخص په حیث نشته خو فکر او نظریه یې د لکونو ځوانانو په ذهن کې ځای نیولی، او د اسلام او جهاد پر لار په هغه فهم روان دي چې هغه تر شا برې ایښی دی.

## د استاد محمد یاسر جهادي ژوند:

استاذ محمد یاسر یوازې سیاستمدار، رئیس او وزیر نه و، بلکې هغه له هماغه پیل څخه یوازې د دفتر مجاهد نه، بلکې د سنګر او قتال مجاهد هم و. په جګړو کې یې برخه اخسته، مجاهدین یې رهبري کول. هغه د روسانو او

کمونستانو په خلاف په جهاد کې د میدان وردګو، پکتیا، جلال آباد، سپین غره، تورغره، کنړ او بدخشان غرونه لاندې کړي وو. د الله ﷻ په لاره کې یې وینه توی شوې او زخم یې لیدلی و. خپل سرنوشت یې په جهاد پورې تړلی و. د وسلې له پورته کولو او د غرونو او کړاوونو له ژوند سره یې دومره مینه وه چې په سپینه ږیره یې هم مخ ترې و نه ګرځاوه.

د استاد محمد یاسر جهاد د نورو خلکو له جهاد سره ډېر فرق درلود. نور خلکو به په جهاد کې یوازې خپل فردي مسؤولیت ادا کاوه، خو استاد محمد یاسر د مجاهدینو د روزلو او جنګ ته دآماده کولو استاذ هم و. هغه د مجاهدینو د روزلو لپاره په لسګونو غونډونه او مرکزونه تأسیس کړي وو. په سلګونو غونډو، سیمنارونو، کنفرانسونو، مساجدو، حجرو او مجالسوکې یې خلکو ته دجهاد فلسفه او پیغام تشریح کړی و. په منطق او استدلال یې د جهاد حقانیت ثابت کړی و او د دښمنانو او منافقو جهتونو او اشخاصو، شکونو او شبهاتوته یې مستدلل ځوابونه ویلي وو. که سړی استاذ محمد یاسر د جهاد عالم وبولي نو بیځایه به نه وي.

استاذ محمد یاسر تل مجاهدین د دښمن له سیمه ییزو او بین المللي دسیسو او توطیو باخبره ساتل. د دې ټولو ترڅنګ استاذ محمد یاسر د روسانو او امریکایانو په خلاف د جهاد د زرګونو پېښو، جریانونو، تحولاتو او تاریخونو امین او یوه پراخه انسایکلوپیډیا (معلوماتي موسوعه) وه.

د استاذ محمد یاسر په دردمن زړه کې د جهاد دومره معلومات پراته وو چې که د کاغذ مخې ته راوتلي وای په لسګونو زره صفحې به ورباندې ډکې شوې وای، خو افسوس چې هغه تر پایه آرام ژوند ونه لید چې دغه کار یې کړی وای.

**د استاد محمد یاسر علمي ژوند:**

ځینې خلک فکر کوي چې جهاد هغه څوک کوي چې له رسمي او اکاډیمیک تعلیمي بهیر څخه لیرې پاتې شوی وي. خو استاد محمد یاسر دغه مفروضه غلطه ثابته کړه. استاذ یاسر د عالي تحصیلاتو درلودونکی او د پوهنتون استاذ و، هغه د کابل په ښار کې د حبیبیې په لیسه چې د افغانستان د معاصر تاریخ مشهورې سیاسي ځېرې ورڅخه فارغې شوې دي درس لوستی و. وروسته یې یو کال په امریکا کې درس ویلی و. د پیغمبرﷺ په کلي مدینه منوره کې یې په اسلامي پوهنتون کې د شرعیاتو لیسانس اخیستی و. په هغه وخت کې چې د دعوت او جهاد په پوهنتون کې استاذ و، د سوډان په پوهنتون کې یې د ماسترۍ نصاب هم تعقیباوه چې بالآخره یې له نوموړي پوهنتون څخه په اسلامي دعوت کې ماستري هم واخسته.

هغه د (دعوت اوجهاد) په پوهنتون کې د زرگونو ځوانانو روزنه کړې وه. پراخه مطالعه یې درلوده او په کور کې د خورا غني شخصي کتابخانې خاوند و. استاذ کولای شول د نړۍ په مشهورو علمي اداروکې کار وکړي، خو هغه د مبارزې اولویات پېژندلي وو، ځکه یې پر تعلیمي او سیاسي فعالیتونو جهاد ته ترجیح ورکړې وه. او د زندانونو او کړاوونو، ژوند یې غوره کړی و. استاد محمد یاسر د شهادتنامو په تلاش کې نه، بلکې په شهادت پسې سرگردانه گرځېده.

**استاد محمد یاسر د یو قانع کوونکي داعي په حیث:**

د یوه کامیابه دعوتگر لپاره د څو صفاتو شتون ضروري دی چې عبارت له پراخه شرعي علم، قوي شخصیت، مؤثرې ژبې، زورور آواز، قوي او قانع کوونکي استدلال او د بیان له جرأت څخه دي. پر استاذ محمد یاسر الله تعالی جل جلاله د دې ټولو ضروري صفاتو او استعدادونو لورینه کړې وه.

هغه هم دنیاوي علم حاصل کړی و، او هم شرعي علم. هم له ملي او محلي فرهنگ سره بلد و، او هم له نړیوالو فرهنگونو سره.

استاذ محمد یاسر د قوي هیبتناکه شخصیت خاوند و. د یوې پر ځای یې څو ژبې زده وې. هغه په عربي، انگریزي، پښتو او فارسي ژبو خبرې او لیکل کول. د خطابت په طریقو او فني اسالیبو ښه مسلط و. دومره مؤثر آواز یې و چې د آواز زیروبم یې سړی له ځانه سره په څپوکې اخیست. مفاهیم او مسائل یې په داسې منطقي او مستدلل شکل مطرح کول چې دښمن هم پرې قانع کېده. د حق په ویناکې تر هر چا جرأتمن و. له دې نه وېرېده چې څوک به یې تهدید یا بندي کړي. هغه له زندانه هم د مجاهدینو د تربیت مدرسه او له اسلامه د د دفاع سنگر جوړ کړی و، او پداسې حال کې چې پخپله بندي و، خو له هماغه ځایه یې آزادو خلکو ته د جهاد او مبارزې روحیه ورکوله. دغو ټولو صفاتو له استاذ محمد یاسرڅخه یومؤثر داعي او جذاب ویناوال جوړکړی و.

د استاذ محمد یاسر د مؤثرې ویناوالۍ او کامیاب دعوت اثر یوازې له دې هم معلومېده چې د ده یوازې د (زندان) په نوم کیسټ تریو میلون نسخو پورې خرڅه شوه او لا تر ډېرو وختو پورې به په هر کور، هر دوکان، هر موټر او هر موبایل او کمپیوټر کې د ده وینا اورېدل کېږي.

استاذ محمد یاسر هم د منبر او محراب خطیب و، او هم د سیمینار او کنفرانس. هم د راډیو ویناوال و، او هم د تلویزون. هم د ملي محافلو نطاق و، او هم دبین المللي. هم د اسلام په مزاج پوهېده او هم د خلکو په سایکالوژۍ.

د استاذ محمد یاسر په ژوند کې تر ټولو اړخونو د دعوت او بیان اړخ ډېر ښکاره و. د حق په وینا کې دومره جرأتمن و چې په زندان کې له ده څخه

تحقیق کوونکي يې هم تر تاثير لاندې راوستل. يوځل د تحقيقاتوپه جريان کی يو ډېر لوی پاکستانی پوځي افسر چې دی يې په ټوله معنی له پخوا څخه پيژانده، خو ده هغه نه پيژاند، دغه افسر له استاده څخه پداسې حال کې تحقيق کاوه، چی د استاذ لاسونه په ولچکو تړلي وو، د دې لپاره چې پوځي افسر استاذ ته خپله بې وسي او مجبوري بيان کړې وي ورته يې وويل: استاذه موږ مجبور يو، د سوپر پاور په مخ کې نشو درېدلی. استاذ ورته وويل چې تاسوخو روسان هم سوپر پاور ګڼل. څنګه افغانانو هم خپل ځان ترې خلاص کړ او هم يې تاسې ترې خلاص کړئ. خو فرق دا دی چې په هغه وخت کې تاسو زموږ لاسونه نه وو تړلي، او اوس مو امريکا ته زموږ لاسونه تړلي دي. د دې خبرې په اورېدلو پاکستانی افسر په ژړاشو، او له سترګو يې د بي غيرتی مړې مړې اوښکې روانې شوې او خپل يوه عسکر ته يې وويل: د استاذ لاسونه خلاص کړه. او بيا يې استاذ ته مخ کړ او ورته ويې ويل: زه همدومره کولی شم او بس.

داعي استاذ محمد ياسر د خپل بند په موده کې د پلچرخي له زندانه د مجاهدينو تربيت ګاه جوړه کړې وه، بنديانو ته به يې درسونه ورکول، او چې څوک به يې ملاقات ته ورتلل په ډېر کم فرصت کې به يې هغوئ ته هم د جهاد او مبارزې دعوت ورکاوه او له زندانه د باندې خلکو او مجاهدينو ته به يې د کسټو له لارې خپل ايمان تازه کونکي جهادي بيانونه ورلېږل چې د (پلچرخي زندان) نومی بيان يې له هغو مشهورو بيانونو څخه و چې په زندان کې ثبت کړي وو.

استاذ محمد ياسر د حقائقو او واقعيتونو په مؤثر ډول بيانولو کې دومره موفق و چې د ده ويناوو او جملو د افغانانو لپاره د متلونو حيثيت غوره کړ چې

افغانان اوس پرې استدلال کوي، او په ډېرو موضوعاتو کې خلک وايي: هغه د استاذ ياسر خبره ده چې...).

استاد محمد ياسر يوازې يو اور ژبی خطيب نه و، بلکې هغه يو مهربانه دعوتگر او د اسلامي دعوت يو مشفق او زړه سواندی رهبر هم و، چې د وسلې ترڅنګ يې د حق د دعوت آواز هم پورته کړی و.

**استاد محمد ياسر د ولس مصلح او د مبارزی شيخ:**

استاذ محمد ياسر خپل ټول ژوند د خپل دين او لس، جهاد او اصيل اسلامي فرهنگ په خدمت کې تېر کړ. تل يې د يو ملي مشر او مخور شخصيت په حيث د خلکو د کشالو په حل کولو کې تر هر چا مخکې قدم اخيست. هغه هم په سياسي مجالسو کې شريکېده، او هم په ولسي غونډو، فاتحو، جنازو او اجتماعي مناسباتو کې حاضرېده. هم يې د ولس په وير ژړل، او هم يې په زرگونو خلك له ځانه سره ژړول.

استاد محمد ياسر او مرحوم جلال الدين حقاني صاحب د پخواني جهاد له کاروانه هغه دوه پاتې مشران وو چې په ټول اخلاص او ديانت يې نوي نسل ته د جهاد امانت وروسپاره، او په ډېر مؤثر ډول يې د مجاهدينو نوی نسل ته د هدف په لوري چې د اسلامي نظام اقامه وه لارښوونه وکړه، او په دې لاره کې يې يادونه تلپاتې شول.

استاذ محمد ياسر چې د خپلو مجاهدو ورونو تر څنګ يې په خپل قول او عمل له خپل دين سره خپله وفا ثابته کړه د دې وړ دی چې په حقه (د ولس استاذ او د مبارزې شيخ) وبلل شي.

# لسم فصل

# مساجد او تربيوي حلقات د مبارزې سنګرونه

مدرسه او مبارزه

**په ټولنه کې د مسجد تعلیمي، اصلاحي او اجتماعي نقش:**

مسجد د ځمکې پر مخ الله ته تر ټولو محبوب ځای دي لکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

عن أبي هريرة رضي الله عنه: أنّ رسول الله صلّى الله عليه وسلم قال: «أَحَبُّ الْبِلَادِ إِلَى الله تَعَالَى مَسَاجِدُهَا وَ أَبْغَضُ الْبِلَادِ إِلَى الله أَسْوَاقُهَا». [1]

ژباړه: (له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: الله تعالی ته تر ټولو محبوب ځايونه مساجد دي او تر ټولو ناخوښه ځايونه بازارونه دي).

مسجد الله تعالی ته د عبوديت مرکز دی، الله تعالی فرمايي:

﴿وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَدًا﴾ [الجن:١٨]

ژباړه: (او دا چې ټول مساجد د الله دي، نو له الله سره بل څوک مه رابلئ).

مسجد په اسلام کې د اسلامي امت تر ټولو لومړنی تعبدي، تعليمي، سياسي، اجتماعي او عسکري مرکز دی، او له همدې مرکزه اسلام په نړۍ کې خپور شوی دی.

رسول الله صلّى الله عليه وسلّم به په مسجد کې هم خلک عبادت ته وربلل، هم به يې په مسجد کې د الله تعالی دين ورښود، هم به يې په مسجد کې د نظام او حکومت په اړه سياسي فيصلې کولې، له وفدونو سره به يې مجلسونه کول او له همدې ځايه به يې واليان ليږل، هم به يې د ټولنې اجتماعي چارې له مسجده ترسره کولې، او هم به يې له مسجده د اسلام د عدلي نظام او دعوت د خپراوي او د فتوحاتو لپاره قاضيان، دعوتگران او لښکرې ليږلې. د همدې اهميت له امله يې مدينې منورې ته له راسېدلو سره سم اول په قباء کې مسجد جوړ کړ او بيا يې د مدينې منورې په منځ کې نبوي مسجد جوړ کړ. د

---

1- أخرجه مسلم: (١٤٧٣).

رسول الله صلّى الله عليه وسلم په مبارک ژوند کې د هغه معمول داوو چې په هر ځای کې به يې يو څه وخت تېراوه، نو هلته به يې د مسجد ډېره ايښوده.

مسجد په اسلام کې يوازې د جماعت د لمانځه ځای نه دي ، بلکې هغه د اسلام لپاره د هر اړخيزې مبارزې مرکز دی، او د اسلام ستر شخصيتونه ټول په مسجد کې کې روزل شوي دي، او له همدې ځايه يې په نړۍ کې ستر بدلونونه راوستلي دي.

که د اسلامي امت علمي تاريخ ته وگورو ، نو وينو چې په تېرو څوارلس سوه کلونو کې چې په اسلامي نړۍ کې انسانيت ته د بېلابېلو ديني، اجتماعي، فکري او عقلي علومو لکه د قرآني علومو، احاديثو، فقهې، عقيدې، تاريخ، ادب، طب، رياضياتو، فلکياتو، فلسفې او نورو مفيدو علومو په ډگرونو کې څومره استادان او ستر علماء راوتلي دي او په بېلابېلو علومو کې يې ستر تأليفات کړي دي دوئ ټول په مسجد او له مسجده په راټوکېدلې مدرسه کې روزل شوي او نور يې روزلي دي.

مسجد ته د نافعو علومو د زده کړې په مقصد ورتلل په اسلام کې ستر عبادت گڼل شوی چې هر ځل ورتگ د يوه پوره او قبول شوي حج په اندازه اجر لري، لکه چې رسول الله صلّى الله عليه و سلّم فرمايي:

عن أبي أمامة قال: قال رسول الله صلّى الله عليه و سلّم: «مَنْ غَدَا إِلَى الْمَسْجِدِ لَا يُرِيْدُ إِلَّا لِيَتَعَلَّمَ خَيْرًا أَو يُعَلِّمَه كَانَ لَه أَجْرُ مُعْتَمِرٍ تَامِّ الْعُمْرَةِ، فَمَنْ رَاحَ إِلَى الْمَسْجِدِ لَا يُرِيْدُ إِلَّا لِيَتَعَلَّمَ خَيْرًا أو يُعَلِّمَه كَانَ لَه أَجْرُ مُعْتَمِرٍ تَامِّ الحِجَّةِ». [1]

ژباړه: (څوک چې د سهار لخوا مسجد ته يوازې په دې اراده لاړ شي د خير علم زده کړي او يا يې بل چا ته وروښيي نو هغه ته به د هغه عمره کوونکي د داسې عمرې په اندازه اجر ورکړای شي چې د هغې يې ټول واجبات او سنن

[1]- حديث حسن ، رواه الحاكم.

مدرسه او مبارزه

يې پرځای کړي وي، او څوک چې د ماسپښين لخوا مسجد ته يوازې په دې اراده لاړ شي د خير علم زده کړي او يا يې بل چا ته وروښيي، نو هغه ته به د هغه حج کوونکي د داسې حج په اندازه اجر ورکړای شي چې د هغه ټول واجبات او سنن يې پرځای کړي وي).

له پورتني مبارک حديث څخه ښکاري چې په مسجد کې د دين او خير زده کړه پخپله ستر عبادت دی، او مسجد د عبادت تر څنګ د زده کړې اساسي ځای هم دی چې بايد په سم ډول د دين د تعليم لپاره وکارول شي.

**د مساجدو فعال ساتل د امت د قوت ستره نقطه:**

مسجد په حقيقت کې د امت د صُغریٰ او کُبریٰ امامت لپاره د قيادت جوړونې ځای، د تعليم او تزکيې مرکز، او د انسان جوړونې ډګر دی، خو په تأسف سره چې په اوس وخت کې په ډېرو ځايونو کې يوازې د جماعت د لمانځه د ادا کولو لپاره کارېږي.

تر کومه وخته چې په مسجد کې د عبادت تر څنګ پورته ياد شوي نور فعاليتونه هم ترسره کېدل په هغه وخت کې امت د قوت او اسلام د خپرېدو په حالت کې وو، خو له کله راهيسې چې هغه کارونه په مسجد کې پرېښودل شوي، امت د کمزورۍ او اسلام د راټولېدو په حالت کې راغلی دی.

په افغانستان کې د حج او اوقافو د وزارت په احصايه کې ۱۱۸۰۰۰ (يو سل او اته لس زره) مسجونه ثبت دي، او هغه چې ثبت نه دي او په ليرې پرتو او غرنيو سيمو کې واقع دي او يا تر دغې احصايې وروسته جوړ شوي دي شمېر کې شامل نه دي. له دغه لوی شمېر مساجدو که په سم ډول د دين د خپراوي او د اسلامي مبارزې لپاره فعال وساتلی شي او په هغو کې د اسلامي نظام تر نظارت لاندې په منظم ډول علمي، تربيوي او دعوتي فعاليتونه تر سره شي نو

موږ به د مدارسو او حکومتي ديني ادارو تر څنګ د ۱۵۰۰۰۰یونیم سل زرو په شاوخوا کې د مساجدو په شکل کې داسې د ديني مبارزې مراکز ولرو چې د هر وخت لپاره به يې علمي، فکري او اصلاحي تأثير مستقيما د کليو پر خلکو واقع کيږي، او په خلکو کې به ديني تنوير او د دين د دښمنانو د دسيسو او او تبليغاتو په خلاف آګاهي پيدا کيږي.

د دې لپاره چې په مساجدو کې ديني فعاليت منظم پر مخ ولاړ شي اسلامي نظام بايد په په هغو کې لاندې فعاليتونه تنظيم کړي:

۱ـ په ټولو مساجدو کې بايد د يوه خاص رسمي ميکانيزم له لارې د داسې امامانو شتون لازمي کړي چې کافي اندازه شرعي علم ولري، پر ديني مسائلو د خلکو د پوهولو وړتيا ولري، دعوتي او قيادي روحيه او پخپل ولس کې وجاهت او مقبوليت ولري، د اسلام او اسلامي نظام د دښمنانو د دسيسو په اړه آګاهي او د هغوئ د تبليغاتو او فکري فعاليتونو د تحليل او ردولو توانايي ولري.

۲ـ د کليو خلک دې د يوه منظم سنجول شوي ملي پروګرام له لارې دېته وهڅوي چې له امامانو سره کافي مادي او معنوي مرسته وکړي چې د دوئ اولادونو ته په مساجدو کې د سهار يا ماښام په وخت کې د يوه يا يو نيم ساعت لپاره په منظم ډول د صنفونو په شکل کې درس ورکړي. که دا کار په کامياب شکل تر سره شي، نو موږ به يوه وخت کې د هېواد د ماشومانو لپاره يونيم سل زره د ابتدايي ديني تعليم نيمه رسمي صنفونه ولرو. او د کليو ماشومان به مو مکتب او مدرسې ته تر تللو مخکې له ابتدايي ديني زده کړو او ليک لوست سره آشنا شوي وي.

۳ـ د دې لپاره چې په مساجدو کې تعليم په مثمر او منظم شکل ترسره شوی وي د اوقافو وزارت او يا د معارف وزارت دې د دغه ډول تعليم د اجرا، تنظيم او نظارت لپاره يوه هېواد شموله اداره او تعليمي نصاب جوړ کړي.
۴ـ د هېواد د ټولو مساجدو امامان دې د ارتباطي ټکنالوژي د يوې شبکې له لارې له مرکز سره په تماس کې کړای شي ترڅو د هرې جمعې لپاره د موعظې موضوع او نور ضروري هدايات او معلومات تر لاسه کړای شي.
۵ـ د دې لپاره چې امامان په مساجدو کې د تعليم عمليه په ښه ډول پر مخ يوسي هغوئ ته د دغه کار د ښه اجراء کولو په مقصد د ولسواليو په مراکزو کې په مناسبو وختونو کې ښوونيز سيمينارونه ورکړل شي.
٦ـ په هره هفته کې دې د جمعې په شپه کليوالو ماشومانو او زلمکيو ته د يوه مسؤول او يا مشر شخص تر نگرانۍ لاندې د انجمن په ډول پروگرامونه اجراء شي چې تلاوتونه، احاديث، ديني ويناوې، نعتونه او اسلامي ترانې ورکې ووايي. په دې ډول به په نوي نسل کې اسلامي روحيه قوي شي او شخصيتونه به يې له دين او علم سره په تړاو کې وده وکړي.
د دغه کار تنظيمول او اجراء کول به په ابتداء کې يو څه خواري وغواړي، خو د وخت په تېرېدلو هم ماشومان او هم د ولسونو خلک ورسره عادت اخلي، او هره کورني چې د مسجد له لاوډسپيکره د خپل بچي غږ اوري د خوښۍ احساس به کوي چې په بچي کې يې د وينا استعداد پيدا شوی دی.که دغه کار په موفقيت سره او به دوامداره شکل په کليو او مساجدو کې اجراء شي، نو په مليونونو ماشومان او تنکي زلميان به مو ښه اسلامي تربيه واخلي او په راتلونکي کې به صالح ځوانان ترې جوړ شي.
که د پورته يادو شوو تربيوي حلقاتو په ترڅ کې د رمضان په مياشت او يا د کال په نورو وختونو کې د قرآن کريم د ځينې سورتونو، محدود شمېر

احادیثو، د ژوند په بېلابېلو وختونو کې د مسنونو دعاګانو او نورو ضروري احکامو او مفاهیمو د حفظولو مسابقې اجراء شي او د کلیو د مشرانو له لوري جائزې ورته وټاکل شي، نو دغه کار برخه وال ماشول د ډېر څه زده کړې ته وهڅوي.

۷- د رمضان په میاشت کې دې په قرآن کریم د پوهو شیوخو له لوري په مساجدو کې د قرآن کریم د ترجمې او تفسیر درسونه شروع شي، او کوښښ دې وشي چې دغه په ټولو جامع مسجدونو کې وشي.

**د مسجد له لارې په ټولنه کې د اشغال د فکري تأثیراتو له منځه وړل:**

تر فتحې وروسته د دښمن د فکري اشغال د تأثیراتو له منځه وړل تر ټولو مهم کار دی؛ ځکه چې د پردیو له لوري د ولس فکري اشغال د هغه په سیاسي، اجتماعي عسکري، فکري او فرهنګي وضعیت پورې قوي تړاو او پر راتلونکي ژوند یې خطرناک تأثیرات لري.

کوم نظامونه او ولسونه چې له اشغاله د جهادونو، انقلابونو او پاڅونونو په نتیجه کې آزاد شوي وي، خو د اشغالګرو له اغېزو یې ځان نه وي خلاص کړی، هغوئ د اوږدې مودې لپاره په اشغالګرو پورې تړلي او د هغوئ تر فکري او سیاسي تأثیر لاندې پاتې کیږي.

زموږ د ولس یوه لویه برخه خلک هم له اوږدې مودې راهیسې د انګرېزي، روسي او امریکایي اشغالګرو تر فکري تأثیر لاندې پاتې شوي دي، او که چېرې موږ دغه خلک د یوې هراړخیزې فکري مبارزې له لارې د پردي فکر له تأثیراتو خلاص نکړای شو، نو دا وېره شته چې موږ به هم له اوږدې مبارزې، جهاد او قربانۍ وروسته په فکري لحاظ په راتلونکي کې په پردیو

پورې تړلي پاتې شو، او په نتیجه کې به يې زموږ د ولس راتلونکي نسلونه هم د اسلامي نظام، اسلامي فکر او فکري آزادۍ له نعمته محروم شي.

د دښمن د پوځي اشغال له تأثیراتو د هېواد او ولس خلاصول اسانه وي او په لږو کلونو کې ترسره کېږي. په دې معنی چې په کومه ورځ چې اشغالگر له خاورې ووځي په هماغه ورځ ولس د هغوئ له جګړې، زندان او سیاسي تسلطه آزادېږي، خو په فکري، سیاسي، اجتماعي، شعوري او سایکالوژیک لحاظ د هغوئ له اثارو خلاصېدل ډېر وخت، اوږده مبارزه، پوهاوی او مسلسل کوښښونه غواړي؛ ځکه چې دغه تأثیرات د ولس د خلکو په رواني وضعیت او ذهن کې پاتې وي، او تر څو چې دغه تأثیرات د هغوئ له ذهنه د یوه غوره بدیل فکر د ورکولو په نتیجه کې ونه ویستل شي، او د اشغال د زمانې تر حالته یو ښه حالت کې ونه اوسول شي ورنه کړی شي، نو خلک به په رواني، فکري او اخلاقي لحاظ د دښمن په فکر پورې تړلي پاتې کېږي.

د دښمن له فکري تأثیراتو خلاصون ډېره حده په انفرادي کوښښونو نه ترسره کېږي. د دغه لوی کار لپاره باید حکومتونه، ټولنې او په ټولنه کې اجتماعي تشکلات راپورته شي او دغه مسؤولیت په غاړه واخلي.

د اشغال له تأثیراتو د ځان خلاصولو په مجال کې باید په مشخص ډول په لاندې دوو خبرو پوه شو:

۱ـ د اشغال اثار کوم او د زموږ د ولس د ژوند په کومو ابعادو کې دي؟

۲ـ څنګه د اشغال له تأثیراتو ځان خلاص کړو؟

## د اشغال تأثیرات:

۱ـ موږ باید په دې ځان پوه کړو چې امریکایي اشغال په افغانستان کې څه ډول اشغال و؟ آیا دا یوازې یو عسکري او سیاسي اشغال و؟ او که سیاسي،

فکري، عسکري، فرهنګي، تعليمي، اقتصادي، ټولنيز او سيکالوژيک اشغال هم و؟ حقيقت دا دی چې اشغال دغه ټول ابعاد درلودل، او په دغو ټولو ابعادو کې يې زموږ د ولس خلک متأثره کړي او د ولس پر ژوند يې ژور تأثيرات پرايښي دي.

۲- غربيانو دلته د دغه اشغال لپاره په سيستماتيک ډول په مختلفو ساحو کې کار وکړ، د دې اشغال لپاره يې ژورې استراتيژۍ درلودې، ماهر خلک يې په کار ګمارلي وو، لويې دولتي او نادولتي مؤسسې او ډېر وسائل يې په کار اچولي او په سلګونو مليونه ډالر يې مصرف کړل ترڅو افغانان په ځان پورې وتړي، او د ژوند په ټولو ډګرونو کې يې د اسلام له حاکميته داسې محروم کړي لکه د نورې اسلامي نړۍ خلک يې چې محروم کړي دي، او يوازې يې د ټولنې او نظام په نامه کې د اسلام لفظ ليکلی وي، خو په عمل کې د نظام، حکومت، عسکريت، اقتصاد، تعليم او تمدن په ساحو کې يې هر څه د پرديو معيارونو فکر مطابق روان وي.

**د اشغال فکري او فرهنګي تأثيرات:**

د فکري او فرهنګي اشغال ډېر خطرناک تأثير وي، او دا ځکه چې که د يوه ملت يوه لويه برخه خلک د قناعت په نتيجه کې پردی فکر ومني، دغه خلک بيا د پرديو حاکميت، سياست، قانون، پوځي تسلط، فرهنګ او د هغوئ اخلاقي ارزښتونه هم مني.

زموږ د ولس يوه لويه برخه خلک د اشغال په وخت کې ځکه د اشغالګرو تر څنګ ودرېدل چې دوئ ته په سم ډول اسلامي ارزښتونه نه وو ورښوول شوي، بلکې پرديو خپل افکار، ادبيات، ارزښتونه، لباس، ژوندبڼه او مثالي شخصيتونه د راډيوګانو، تلويزيونونو، اخبارونو، مجلو، ناولونو، تعليمي

نصابونو او نورو وسائلو له لارې ورتلیقن کړي وو، او دغه تلقین زموږ د ولس پر ژوند ډېر ژور اثر پرایښی و او د خلکو افکار، د ژوند تېرولو معیارونه، اولویات، ارزښتونه، رواجونه، او حتی د حِل او حُرمت معیارونه یې د خلکو په ذهن او ژوند کې وربدل کړي وو.

په فرهنګي لحاظ یې زموږ د ښارونو یوه برخه خلک داسې ګرځولي وو لکه دوئ هم چې د اروپایانو یوه برخه وي، او یا دې دوئ هم له اشغالګرو سره دینې، فکري، ژبني او حتی قومي او د وینې تړاونه لري. دا یو ډېر خطر ناک وضیعت و، متأسفانه چې د دغه فرهنګي وضیعت د بدلولو لپاره په متقابل ډول زموږ له لوري په منظم ډول کار نه و شوی، او ښایي تر یوه ځایه به یې علت هم دا و چې کومو خلکو چې باید کار کړې وای هغوئ د کار له ساحې وېستل شوي وو، یا یې دا وړتیا نه درلوده چې د دغه ډول یو فرهنګي طوفان او سیلاب په مقابل کې دې ودریدلی شي، ځکه چې هغوئ د فکري او فرهنګي مقابلې لپاره نه تجربه، نه وسائل او هم نظام درلود، او که یې د یو څه کولو اراده درلوده هم د حکومتونوله لوري یې د تأثیر مخه یې نیول شوې وه، له بندیزونو سره مخ وو، او په اړه یې په ولس کې د حکامو له لوري بد ګمانۍ هم خپرې شوې وې.

فکري او فرهنګي مجال د غربي تأثیر ګذارۍ لپاره د امان الله خان د واکمنۍ له وخته خالي و او په مسلسل ډول په دغه مجال کې د غربیانو په ګټه د فرهنګ خپرونې پروسه په پوره زور او تسلسل روانه وه او لا تر اوسه پورې روانه ده، دا چې اوس له دغه وضعیته څنګه راووځو؟ دلته باید موږ په پوره پیمانه خپل وسائل او توانایي په کار واچوو او له اوسني رامنځته شوي فرصته پوره استفاده وکړو.

د اشغال د فکري او فرهنګي تأثیراتو د له منځه وړلو په کار کې د هېواد د فرهنګ وزارت ته دروند مسؤولیت ورله غاړې دی، ځکه چې دغه وزارت د اسلامي فکر او فرهنګ د خپرولو او د پردیو افکارو د خپرېدو د مخنیوي په مقصد له نظامه خپله بودیجه اخلي، خپل پراخ تشکیلات او وسائل لري، ځوان نسل ته د اسلامي فکر د ورکولو او د اسلامي مبارزې لپاره د هغوئ د روزلو په مقصد د ځوانانو د معینیت په نامه ځانګړی ارګان لری، همدغه وزارت د پیغام رسونې پراخ وسائل، تلویزونونه، راډیوګانې، اخبارونه، مجلې، کتابخانې او نور داسې منابر لري چې دغه ټول باید ولس ته د اسلامي فکر او اسلامي پیغام د رسونې لپاره په مؤثر ډول وکاروي.

داسې ښکاري چې په افغانستان کې په مسلسل ډول تېرو حکومتونو د فرهنګ وزارت د پردیو افکارو او ارزښتونو د خپرولو، د ځوان نسل د بې لارې کولو، د دیني ژوند پر ځای رواجي ژوند ته د خلکو د تشویقولو، مېلو، رقصونو، اتڼونو، موسیقی، نشنلستي افکارو ته د خلکو د وربللو او د یو څه شړېدلو تاریخي آبداتو د ساتلو او پاللو لپاره کارولی دی.

د فرهنګ وزارت دلته فرهنګ د یوه دیني ثقافت، اسلامي فکر، معنوي او اخلاقي ارزښتونو او د باطل په خلاف د مبارزې د فکري ادبیاتو په حیث ولس ته ندی ورتلقین کړی. د دې لپاره چې دغه وزارت په ریښتینې معنی د ولس روزنې، په ولس کې د اسلامي ارزښتونو د خپرولو، د معاصرو باطلو نظریاتو او باطلو فکري مذاهبو په خلاف د اسلامي مبارزې د فرهنګ د رامنځته کولو او د دې ولس له ټولنیز ذهنیته د پردیو د فکري تأثیراتو د لیرې کولو لپاره مؤثر کار ولولی شي، نظام باید د فرهنګ په وزارت کې داسې خلک توظیف کړي چې د لاندې یادو شوو صفاتو خاوندان وي:

۱ـ د دین په اړه کافي او سمه پوهه ولري، ځکه چې هغه خلک چې خپله پر دین پوه نه وي او یا پر پردیو افکارو روزل شوي وي هغوئ به ولس ته څنګه اسلامي فرهنګ ورکړي؟

۲ـ باید د خپل ولس پر نبض پوه وي، د افغان مسلمان ولس سیکالوژي او روحیه ور معلومه وي، او له ولس سره د فکري تعامل مهارت او وړتیا ولري.

۳- باید دښمن پېژندونکي وي، دښمنان وپيژنې او د هغوئ د فکري او فرهنګي جګړې میتودونه ورمعلوم وي او د فکري مقابلې توان ولري. د فرهنګ د وزارت وظیفې باید داسې نه وي چې یو څو کسان دې ورکې توظیف شي او بستونه دې ورباندې اشغال شي او بس، بلکې د فرهنګ وزارت باید د خطر ناکې فکري جګړې فعال سنګر وي، او لکه څنګه چې دښمن په خپل ټول زرو دغه میدان ته داخل شوی، خپل تلویزیونونه، سټیلایټونه، ویبسایټونه، انټرنیټ او نور د تأثیر وسائل یې په کار اچولي دي، د اسلامي نظام د فرهنګ وزارت هم باید متقابلاً همدغه ډول فعال شي، د کار خلک د کار میدان ته وروليږي، تر څو هغوئ هره ورځ او ټول کال په مؤثر او کامیاب ډول د دې ولس ثقافت او دیني، معنوي او اخلاقي ارزښتونه په پراخه پیمانه او د ولس په ژبه د مؤثرو طریقو او میکانیزمونو له لارې د ولایاتو، ولسوالیو او کلیو خلکو ته د یوه فکري تربیوي تسلسل په شکل کې د همدې وزارت د تشکیلاتو او وسائلو له لارې ورسوي. دا ولس یوازې څو ذوقي او شوقي مشاعرو او ادبي مجالسو ته ضرورت نه لري، بلکې د دې ټولنې د خلکو پر ذهنونو د کمونیزم، لیبرالیزم، سیکولرزم، نشنلیزم، رشنلیزم، هیومنیزم فلسفو ژور فکري تأثیرات پرې ایښي دي چې په پراخ ډول د اسلامي فکر او فرهنګ د خپرولو له لارې باید د خلکو له ذهنونو وتوړل شي.

۴ـ د فرهنگ وزارت د ځوانانو معنیت باید په ولایاتو، ولسوالیو او کلیو کې د ځوانانو داسې ټولنې جوړې کړي چې په هغو کې د مکتبونو، پوهنتونونو، مدارسو او د کلیو باسواده او حتی بې سواده ځوانان بسیج کړې او په ټاکلې ورځ د یو ټاکلي نصاب له مخې د فکري او شرعي درس د اخیستلو لپاره سره راټول شي، او دا کار باید همداسې مسلسل روان وي. په دغو حلقاتو کې دې ځوانانو ته دینې، فرهنگي، تمدني او اخلاقي مفاهیم ورتلقین شي، ترڅو هغوئ بېرته له خپل اسلامي فکر او فرهنگ سره اشنا شي او خپل اولویتونه او ارزښتونه ورمعلوم شي.

پورته یاد شوي هدف ته ر سېدلو لپاره اوس الحمد لله تعالی د پیغام رسونې ښه ډېر وسائل شته. انترنیټ، راډیوګانې، تلویزیونونه، ټولنې، کتابخانې، په ټول هېواد کې د فرهنگ د وزارت ولایتي څانګې او په ولس کې وړ اشخاص شته، خو یوې داسې نوې انقلابي استراتیژۍ او تطبیقي پلان ته ضرورت دی چې د ځوانانو نوي نسلونه مو له دغه لوېدلي او پردیپال حالته را وباسي، د خپل دین، اسلامي تمدن او فرهنگ مفاهیم ورورسوي او د اسلامي تاریخ له زرینو بابونو سره یې اشنا کړي، او د غربي مشاهیرو پر ځای له اسلامې مشاهیرو او مصلحینو تأثر واخلي.

که د فرهنگ وزارت او د ځوانانو معینت په دغه روحیه او استراتیژۍ کار وکولی شي، نو په هغه صورت کې به دوئ د خپلو رسمي مامورینو تر څنګ ډېر رضا کاره ځوانان هم د دوئ د تشکیلاتو تر څنګ فعالیت ته حاضر شي، خپله به مصاریف کوي، خپل کورونه، دېرې، حجرې او خپل کورسونه به د دوئ د فعالیت لپاره ډګر وګرځوي او د دوئ په اختیار کې به یې ورکړي، چې د دې کار په نتیجه کې به د دښمن د فرهنگي تأثیراتو د مخنیوي او له منځه وړلو یوه ښه زمینه برابره شي. دې کار ته ځکه ډېر شدید ضرورت دی

چې نن ورځ په افغانستان او نورې اسلامي نړۍ کې کشرانو او ځوانانو ته چې د فساد کوم تهديدونه متوجه دي او د دوئ پر ژوند، عقيدې، اخلاقو او شخصيت يې خطرناک منفي نتائج پرې ايښي دي په هغو کې تر ټولو خطرناک يې د ټولنيزو رسنيو تهديد دی، ځکه چې په دې رسنيو کې هر ډول اخلاق ويجاړوونکی او تدين خرابوونکی فساد په پراخه پيمانه خپرېږي او نوي نسل ته پرته له کومې ځارنې رسېږي، چې دغې خطرناکې پديدې زموږ د ولس ځوان نسل هم له لوی ديني، فکري، اخلاقي او اجتماعي فساد سره مخ کړی دی.

له پورته ياد شوي فساد څخه د نوي نسل ساتل او ورکې واقع شوي خلک بېرته ورڅخه راوېستل له نظام او همدارنګه د ولس له مصلحينو ښه تدابير او مؤثر اقدامات غواړي چې کېدی شي يو مهم اقدام يې په کليو او ښارونو کې دغه ډول منظم فکري او فرهنګي فعاليت وي.

تربيوي حلقات کېدی شي د ځوانانو د معينيت او د دعوت او ارشاد د وزارت په مشترکو هڅو تنظيم شي، نصاب ورته وټاکلی شي او د هېواد په کليو او ښارونو کې په هره هفته کې يوه ورځ دائر شي.

په نصاب کې يې که لاندې مضامين راوړل شي، نو د نوي نسل پر اسلامي روزنه او له فساده د هغوئ پر ژغورنه به يې ښه اثر وي:

۱ـ د قرآن کريم د ځينې سورتونو حفظ، ترجمه او تفسير.

۲ـ په احاديثو شريفو کې د رياض الصالحين کتاب.

۳ـ د فقهې شريفې د الفقه الميسر (پښتو او دري) کتاب.

۴ـ نبوي سيرت.

۵ـ د افغان عالم دکتور مولانا عنايت الله عادل (د ژوند لارښود) کتاب. او يا نور هغه مضامين او کتابونه چې ذيدخل جهتونه يې مناسب وبولي.

که دغه حلقات د جمعو په ورځو کې په سهار کې تنظیم شي او پداسې شکل اجراء شي چې تر دوو ساعتونو ډېر وخت ونه نیسي، نو د مکتبونو او پوهنتونونو شاګردانو او نورو لوستو خلکو ته به یې ډېره فایده ورسېږي.

مدرسه او مبارزه

## یوولسم فصل

## ښځو ته به د الله تعالی دین څوک او څنگه ور زده کوي؟

مدرسه او مبارزه

**ښځو ته د ديني زده کړو ضرورت:**

اسلامي ټولنه له نارينه او ښځينه دواړو جوړه ده، او دواړه د الله تعالی د دين پر منلو مکلف دي. د دين د منلو مکلفيت هغه وخت په مطلوب ډول ترسره کېدی شي چې دواړه د مکلفيت په خپلو خپلو ساحو کې د الله تعالی د دين په احکامو او غوښتنو پوه شي.

زموږ په ټولنه کې د ښځينه وو په نسبت نارينه وو ته د دين د زده کړې فرصتونه ډېر دي او کولی شي چې په مسجد، مدرسه، مکتب، پوهنتون، خانقاه او نورو ځايونو او مناسباتو کې له نصابونو او علماوو ديني علم حاصل کړي، خو ښځينه د ديني زده کړو لپاره نه دغو ځايونو ته ورتللی شي، او نه هم ديني علماء د هغوئ کورونو ته ورتللی شي.

د دې لپاره چې دغه ديني وجيبه په ښه ډول ادا شي اسلامي نظام مکلفيت لري چې داسې يو شرعي، معقول، د تطبيق وړ اسانه ميکانيزم رامنځته کړي چې هم ورکې اسلامي حجاب مراعت شي، هم له نارينه وو سره د ښځينه وو د اختلاط مخنيوی ورکې شوی وي، او هم ښځينه وو ته د الله تعالی د دين د زده کړې فرصتونه ايجاد شوي وي.

په ښځينه وو کې دينداري راوستل او د کفارو او په اسلامي نړۍ کې د سيکولرو جهتونو له لوري هغوئ ته له متوجه فتنو او فسادونو د هغوئ ژغورل يو شرعي مقصد او اشد ضرورت دی، ځکه چې غرب په خپلې ټولې مکارۍ، شيطانيت او ټول توان د زرګونو فکري، فرهنګي، تعليمي، اقتصادي، مطبوعاتي او مېډيايي ادارو او مؤسساتو له لارې د خطرناکو پروګرامونو، کنفرانسونو، نړيوالو جائزو د په کار اچولو، د قوانينو د وضع کولو او سياسي فشارونو د کارولو له لارې په اسلامي نړۍ کې د ښځو د بېلارې کولو، د کورني نظام د له منځه وړلو، د فحشاوو د خپرولو، د اسلامي ټولنو له لوري د

منل شوو عرفونو او اجتماعي آدابو او اخلاقو په خلاف د ښځو د لمسولو او پر ښځو د نارينه د قيمومیت د له منځه وړلو لپاره مسلسل او نه ستړي کېدونکي فعاليتونه کوي.

په ښځينه مجال کې د کفارو او په اسلامي نړۍ کې د هغوئ د سيکولرو ملګرو د فساد خپروونکو او بېلارې کوونکو فعاليتونو په خلاف که مسلمانې ښځې ته اسلامي علوم ورزده نکړل شي، په اسلامي تربيه ونه روزل شي او په دې مجال کې د یوه منظم ديني او فکري مقاومت د دعوتي او علمي ځواک په حيث د مقابلې په مجال کې و نه درول شي، ښايي ښځينه مجال هر وخت د غربي جهتونو لپاره د تأثيرګزارۍ يوه زيان منونکې ساحه پاتې شي. د اسلامي مبارزې دغه ساحه تر نارينه عالمانو او مصلحينو ښځينه عالمانې او مصلحينې ښه ډکولی شي، ځکه چې شرعي او طبيعي خبره ده چې په ښځينه مجال کې ښځينه عالمانې، دعوتګرانې او مصلحينې تر نارينه وو ښه او پراخ فعاليت کولی شي.

مور چې ترڅو د افغانستان د نيمايي نفوس(ښځينه وو) لپاره د اسلامي شريعت عالمانې نه وي روزلې تر هغه به مو په مليونونو مسلمانې ښځې د الله تعالی له دينه ناخبره، د ناپوهۍ په تيارو کې، او د غربي مفسدينو له لوري زيان منونکې وي، او له هغوئ چې کوم اولادونه دنيا ته راځي هغه به هم پر دين د ناپوهو ميندو په کورونو کې رالوييږي چې پلرونه به يې بې سواده وي، او يا به مصروف او په کور نه وي، او د ميندو به څه زده نه وي. خو که ميندې ورته پر دين وروزل شي، نو اولادونه به په اسلامي محيط کې رالوييږي، او له همدې خلکو به په رېښتينې معنی اسلامي ټولنه جوړيږي. ښايي همدغه اهميت ته په پام سره عرب شاعر حافظ ابراهيم په خپله مشهوره قصيده کې ويلي وي چې:

الأم مدرسة إذا أعددتها          أعددت شعبا طيّب الأعراق

ترجمه: (مور مدرسه ده،که دي وروزله، نو يو اصيل ولس دې وروزه).

وروستی عرب امير الشعراء (أحمد شوقي) هم په خپله مشهوره قصيده (قم للمعلم وفّه التبجيلا) کې د مور بې علمۍ او پر اولادونو د دې د بې علمۍ بد تأثير ته په پام سره ويلي:

و إذا النساء نشأن في أميّة          رضع الرجال جهالة و خمولا

ترجمه: (کله چې ميندې په بې علمۍ کې رالويې شي د هغو اولادونه بيا له هغو د ناپوهۍ او سستۍ شيدې روي).

ښځينه وو ته شرعي علم ورښودل داسې څه نه دي چې د دې امت په خيرالقرون او د سلفو صالحينو کې په زمانه کې دې نه وي ترسره شوي، بلکې د اسلام په علمي تاريخ کې ډېرې داسې لويې عالمانې تېرې شوې دي چې نه يوازې دا چې د الله تعالی پر دين ښې پوهېدې، بلکې د ډېرو تابعينو، مفسرينو، محدثينو، فقهاوو او ستر علماوو استاذانې هم پاتې شوې دي.

د اسلامي ټولنې ښځې هم د نارينه وو په څېر انسانانې دې، موږ بايد پر دې پوه شو چې د اسلام دين د ښځې د انساني تکامل او د هغې د روحي او معنوي جوړښت لپاره پر څه امر کوي؟

ښځې هم مسلمانانې دي، پر دې هم بايد پوه شو چې اسلام د ښځو خصوصياتو، بدني او رواني جوړښت ته په پام سره له هغې څه غواړي او پر څه يې مکلفوي؟

پر دې هم بايد غور وکړو چې له الله تعالی سره د ښځو رابطه څنګه جوړه او قوی وساتو چې څنګه خپل رب وپېژني، او څنګه يې سمه بنده ګي وکړي، او څنګه يې داسې عبادت وکړي چې الله تعالی يې ورڅخه قبول کړي؟

پر دې هم باید غور وکړو چې څنګه په ښځو کې تقوی او تزکیة النفس پیدا شي، او څنګه له بدو کارونو او بدو خویونو خپل ځان او خپل اولاد وساتي؟ څنګه په شرعي لحاظ د زوجیت پاک او مبارک ژوند وپېژني؟ څنګه د خپل خاوند، خپل اولاد او خپل کور په اړه خپل مسؤولیتونه درک کړي؟ څنګه خپل اولادونه پر دین وروزي؟ څنګه یې په عقلي او فکري لحاظ تربیه کړي؟ څنګه خپل کور او کورنی اقتصاد تنظیم کړي؟ څنګه ښځینه فقهي احکام وپېژني او څنګه یې په خپل ژوند کې یې رعایت کړي؟

پورته یاد شوي صفات او وړتیاوې هغه وخت په افغانې مسلمانې ښځې کې کې راتلای شي چې شرعي علم وروښودل شي او پر دیني روحیه او دیني اخلاقو وروزل شي.

که ښځینه وو ته د عام تعلیم او د هغه د کیفیت په اړه شرعي ملاحظات وي، نو وي به، خو هغو ته د دین د زده کړې په اړه نه یوازې دا چې په دې اړه څه شرعي ممانعت نشته، بلکې دا د هغوئ شرعي مکلفیت هم دی چې هم د دوئ په ژوند پورې مربوط د الله تعالی د دین احکام زده کړي او هم عمل ورباندې وکړي.

دا چې ښځینه وو ته دې د الله تعالی د دین کوم احکام ورزده کړای شي؟ څومره دې ورزده کړای شي؟ څنګه دې ورزده کړای شي؟ د چا په توسط دې ورزده کړای شي؟ د دې هر څه لپاره ترتیب او تدابیر برابرول د اسلامي نظام کار دی. اسلامي نظام باید د شریعت د تقاضاوو او احکامو په نظر کې نیولو سره داسې یو میکانیزم ایجاد کړي چې هم ښځینه وو ته د الله تعالی د دین عقائدي، عملي او اخلاقي احکام وروښودل شي، او هم د تعلیم په مجال کې د فساد مخه ونیول شي.

د فساد مخه په دې نه نیول کیږي چې د یوه مسلمان ولس په ملیونونو ښځینه دې له دیني تعلیمه محرومې او د ناپوهۍ په تیارو کې داسې پرېښودل شي چې نه دې د قرآن کریم تلاوت کولی شي، نه دې په عقیدوي احکامو خبرې وي، نه دې په طهاراتو او د عباداتو په احکامو او صحت او فساد پوهیږي، نه دې په اسلامي اخلاقو روزل شوې وي، نه دې د اسلام د پیغمبر او د هغه د مبارکو بیبیانو له سیرت او احوالو آگاه وي، نه دې د زوجیت په ژوند کې له خپلو شرعي او اخلاقي مسؤولیتونو او حقوقو خبرې وي، نه دې د خپلو اولادونو په اسلامي روزنه پوهیږي، بلکې ټول عمر دې د ناپوهۍ، د ناروا رواجونو په تیارو او له غربه د راصادر شوي فیشني ژوند په هوسونو کې ډوبې وي.

د فساد مخه په دې نیول کیږي چې اسلامي نظام لکه څنګه چې په اسلام د نارینه وو د روزلو لپاره اهداف او تګلارې ټاکي، اداري ورته جوړوي، نصابونه ورته وضعه کوي، استاذان ورته روزي، بودیجې ورته تخصیصوي، د کفري او ګمراهو افکارو له خطرونو یې خبروي او د هغو له تباه کوونکو تأثیراتو ژغوري، د بلاغ د بېلابېلو وسائلو له لارې یې له اسلامي مفاهیمو سره اشنا کوي او په فکر او ژوند کې یې اسلامي فرهنګ او اسلامي روحیه راولي، همداسې باید د ښځینه وو د اسلامي روزنې لپاره هم لازم تدابیر ونیسي او ښځینه وو ته دې ور تفهیم شي چې دوئ هم دیني مسؤولیتونه او التزامات لري چې باید ورباندې پوه شي او په خپل ژوند کې یې راولي. او که داسې ونشي نو ژوند به یې د اسلام په لارښوونو نه، بلکې په ناروا رواجونو، غلطو عقیدو، خرافاتو او کوډو، شیطاني خواهشاتو، عشق معاشقو، غربي ډوله فیشنونو، اسراف، غیبتونو، کینو او کدورتونو او له دین څخه په ناخبرۍ کې تیریږي چې د دې وضعیت تاوان به ټولې ټولنې او نظام ته رسیږي.

**د ښځو لپاره باید څه ډول تعلیمي نظام او نصاب رامنځته شي؟**

په اوس وخت کې که څه هم چې د افغانستان په ځینې ښارونو او سیمو کې ځینې ښځینه مدرسې شته چې په نامنظم ډول بېلابېل تعلیمي نصابونه ورکې تدریسیږي، خو نه د هغو لپاره نه کومه رسمي اداره شته، نه یو هېوادشموله نصاب شته، او نه هم د هغو د نظارت، انکشاف او تنظیم کوم سیستم شته.

دغو مدارسو که له یوې خوا د ښځینه دیني تعلیم لپاره یو نیمگړی فرصت رامنځته کړی او د ښارونو په زرگونو نجونې یې د غربیتوب له محیطه د دینداري او دیني پوهې په لور سوق کړې دي، خو له بلې خوا د هغو لپاره د واحد نصاب او منظم نظارت نشتون کېدای شي د داسې افکارو د خپرېدو لپاره هم زمینه برابره کړي چې په هېواد او ولس کې د فکري کشمکشونو سبب شي. نو د دې لپاره چې هم په ښځینه وو کې دین خپور شي او هم د نامطلوب وضعیت د رامنځته کېدو مخه ونیول شي باید اسلامي نظام د ښځینه تعلیم لپاره یو داسې قوي او په شرعي ضوابطو منضبط تعلیمي نظام او نصاب رامنځته کړي چې لاندې ټکي ورکې په پام کې نیول شوي وي:

۱- په نصاب کې باید دومره اندازه علم نجونو ته په پام کې ونیول شي چې د واده عمر ته تر رسېدلو مخکې باید ورڅخه فارغې شي، ځکه چې زموږ په ټولنه کې نجونې عادتاً تر واده وروسته د زده کړې د دوام فرصتونه نه لري.

۲- د علومو او مضامینو په انتخاب کې دې د ښځینه ژوند د عمل او فعالیتونو ساحې په پام کې ونیول شي تر څو په داسې څه مصروفې نکړای شي چې په راتلونکي ژوند کې یې ورسره مخه نه وي.

۳- هغه فتنې او مشکلات دې په پام کې ونیول شي چې ښځینه په خپل ژوند کې ورسره مخ کیږي.

۴- د غرب او نورو شیطاني لوریو له طرفه هغه ویجاړوونکې فکري، فرهنګي او عملي فعالیتونه او پروګرامونه دې په پام کې ونیول شي چې په اسلامي نړۍ کې یې د مسلمانو نجونو او ښځو د بېلارې کولو په مقصد پر لار اچولي دي.
۵- داسې علوم او مفاهیم دې په نصاب کې شامل کړای شي چې له ښځو څخه په ښځینه دیني مجال کې دعوتګره، مؤلفه، او مصلحه جوړه کړای شي ترڅو په ویلي او لیکلي شکل ښځینه وو ته د الله تعالی د دین احکام او مفاهیم ور ورسولی شي.
٦- د ښځینه دیني مدارسو په نصاب کې دې د تربیة الأولاد في الاسلام، د مور او ماشوم د صحت، د ابتدایي طبي مرستو او حفظ الصحې، د تغذیې او پخلي د اصولو، د کورني اقتصاد، د کورني اسلامي ژوند او د حقوق الزوجین په څېر ضروري مضامین ورشامل کړای شي، ترڅو د نن نجونې چې د سبا میندې دي د اسلامي او مهذب ژوندانه علوم او مهارتونه هم زده کړي.
مورږ که د ښځینه وو لپاره د دیني علم یو ښه نظام او نصاب رامنځته کړو او په ښه ډول یې تطبیق کړو نو د دې کار په نتیجه کې به پر دین پوه داسې میندې، خویندې، لوڼې او ښځې وروزل شي چې دین به د پوهې او قناعت په نتیجه کې مني، حجاب به د شرم او راوج په خاطر نه، بلکې د عبادت په نیت کوي، خپله حیاء به د پلار، مور او د کلي د مشر له ډاره نه ساتي، بلکې د دیني مکلفیت په حیث او د ثواب په نیت به یې ساتي، رواجونه به ورته تقدس نه لري، بلکې دیني ژوند به ورته تقدس لري. د پردیو تقلید به نه کوي، په پردیو رسمونو او رواجونو پسې به نه ځي، د پردي فرهنګ تأثیر به نه اخلي، له خپل دین سره به شعوري تړاو لري، په دین به خپل کور رڼا کوي، او د ژوند په بېلابېلو ډګرونو او مناسباتو کې به د روا او ناروا د پېژندلو توانایي لري. دغه وضعیت به هغه وخت رامنځته کېږي چې مورږ په ټول افغانستان کې د علماوو

او تعلیم او تربیې د ماهرینو تر نګرانۍ لاندې د دیني مدارسو یو جال ولرو، علماء ورته پالیسۍ او نصابونه وضع کړي او اسلامي نظام یې قوي حمایت او نظارت وکړي.

د پورته یادو شوو او نورو ښو مواصفاتو د لرونکي یوه ښه نصاب تر رامنځته کېدلو وروسته باید همدغه نصاب د یوه واحد نصاب په ډول په ټول افغانستان کې له لاندې یادو شوو دوو لارو تدریس شي:

۱- په هغو ښځینه مدرسو کې دې تطبیق شي چې همدا اوس موجودې دي. په ابتدایي مرحله دې نا بالغو نجونو ته د داسې علماوو له لوري تدریس شي چې په عمر ښه مشران او پلرونه وي. او بالغو نجونو ته په هغو مدرسو کې تدریس شي چې ښځینه استاذانې ورکې درس ورکوي.

۲ـ د دې لپاره چې دیني تعلیم په پراخ او بې اختلاطه ډول په ښځینه وو کې خپور شي او د هېواد هر ګوټ ته په اسانه ورسېږي حکومت دې د یوه ځانګړي میکانیزم له لارې راډیویي او صوتي آنلاین مدرسې جوړې کړي او په منظم ډول دې همدغه نصاب د ښو ماهرو او با استعداده استادانو په واسطه د (ایف ایم) راډیوګانو له لارې تدریس شي. نو په دې ډول نجونې او ښځې په خپلو کورونو کې خپلو راډیوګانو ته ناستې وي او ادرس به اخلي.

د راډیویي مدرسو په اړه خو ما محض یادوونه وکړه، البته د معلوماتي ټکنالوژۍ او آنلاین تعلیم ماهرین د دې کار لپاره بهترین پروګرامونه او اپلکېشنونه جوړولی شي چې هم ټول شرعي احکام او آداب ورکې رعایت شوي وي، او هم د تعلیم له عصري مېتودونو او وسائلو ورکې کار اخیستل شوی وي.

د دې کتاب په پای کې زه د الله تعالی شکر ادا کووم چې ماته یې په خپل فضل او کرم توفیق راکړ چې د مدرسې اهل ته د تعلیم، تربیې، ذهن جوړونې، دعوت او اسلامي مبارزې په موضوعاتو کې څو خبرې ولیکم. که ما په دې کتاب کې حق بیان کړی وي، نو دا به د الله تعالی فضل او احسان وي، او که زه په ځینې موضوعاتو، احکامو، وصفونو او مواقفو کې تېرولی یم او غلطي راڅخه شوې وي،

نو دا به زما د کم علمۍ او ناخبرۍ له امله وي چې د دین له قدرمنو علماوو او د اسلامي مبارزې له ماهرینو مې غوښتنه ده چې په مینه، مهربانۍ او د اصلاح د ارادې او روحیې په لرلو د هغو په تصحیح کې زما مرسته وکړي.
رب تعالی دې زما دغه هڅه په خپل فضل او احسان راڅخه قبوله کړي او په خپل کرم دې یې له ما، زما له والدینو، زما له استاذانو او محسنینو د ده د راضي کېدو سبب وګرځوي. ﴿إِنْ أُرِيدُ إِلَّا الْإِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ وَمَا تَوْفِيقِي إِلَّا بِاللهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ﴾ [هود: ۸۸]

۱۴۰۲/۱۲/۲۴ هـ ش ۴ /۱۴۴۵/۹ هـ ق ۲۰۲۴/۳/۱۵ م

## مولوي عبدالهادي مجاهد څوک دی؟

- مولوي عبدالهادي (مجاهد) چې اصل نوم یې مولوي عبدالمتین (ابراهیم خېل) دی د ملا الف خان زوی د محمد یوسف لمسی د لغمان د ولایت د قرغیو د ولسوالۍ د حسن خېلو د کلي اوسېدونکی دی. په ۱۳۴۹ هجري شمسي کال کې زیږېدلی. قرآن کریم، پنج کتاب، دیوان حافظ، د سعدی ګلستان، خلاصه، مفید الطالبین ، قدوري، نور الإیضاح او کنز الدقائق یې مدرسې ته تر تللو مخکې د کلي په مسجد کې له خپل پلار او نورو استاذانو ویلي دي.
- د مکتب ابتدایه مرحله یې د کابل د چهاردهي د چهارقلعه، د لغمان د مندروړ او د هجرت په دیار کې د کوګا د کمپ د مهاجرینو په مکتبونو کې لوستې ده.
- تر شپږم صنف وروسته یې له مکتب څخه د مدرسې لار نیولې او د هجرت په دیار کې یې د بډه بېرې د عبدالله بن عباس په مدرسه، د چارسدې د ترنګزو په جامعه محمودیه، د چارسدې تحصیل دارالعلوم

مدرسه او مبارزه

اسلامیه، د امام ابو حنیفه عالي انستیتیوت او د مهاجرینو په نورو مدارسو کې درس ویلی او په پای کې په ۱۴۱۹هجري قمري کال کې د پېښور د صدر له جامعه امداد العلوم څخه فارغ شوی دی.

- د قرآن کریم ترجمه یې د چارسدې د ترنګزو په کلي کې د شیخ ادریس صاحب له نیکه مرحوم مولانا شهزاده صاحب، مرحوم مولوي محمود شاه صاحب، مرحوم مولوي غلام الرحمن صاحب سره کړې ده.
- د امام ابو حنیفه د معلم روزنې په عالي انستیتیوټ، د کندهار په جهادي مدرسه، د اکوړې په جامعه قاسمیه او ځینې نور مدرسو کې یې تدریس کړی.
- د اته لس کلنۍ په عمر د روسانو د اشغال له وخته تر اوسه الله تعالی په جهادي صف کې د پاتې کېدلو سعادت ورپه برخه کړی، او د امریکایي اشغال په وخت کې د مجاهدینو د معسکراتو د فکري او شرعي دورو استاد پاتې شوی.
- د دعوت، تدریس او جهاد تر څنګ شل کاله د اسلامي امارت د فرهنګي کمیسیون غړی او د امارت د عربي نشراتو مُعَرِّب او د الإمارة او الصمود عربي مجلو مؤسس او همدارنګه د عزم، استقامت، څرک، شهامت او مورچل مجلو لیکوال پاتې شوی دی.
- د اسلامي امارت تر بیا قیام وروسته د افغانستان د عدلي طب رئیس پاتې شوی.
- په پنځو ژبو پښتو، دري، اردو، عربي، او انګلیسي خبرې کوي.

مدرسه او مبارزه

- د شپونکي په نامه يې جهادي ادب او شعر ته کار کړی او په همدې نامه يې شعرونه او ترانې ليکلي چې ځينې مشهورو ترانه ويونکو ويلي دي.
- د فکري پوهنې
- د يرغل په وړاندې
- دانستنيهای از فکر اسلامی
- مدرسه او مبارزه
- الاحتلال الأمريكي و حقيقة الصراع في أفغانستان
- د معاصرې اسلامي مبارزې فکري ادبيات
- او د جهادي فکر په نامه يې کتابونه يې ليکلي چې لومړني ځلور يې چاپ شوي او نور يې ناچاپه دي.
- له تېرو ځلور دېرشو کلونو راهيسې د اسلامي علومو، اسلامي تاريخ، عربي ژبې، او د غرب او اسلام تر منځ د فکري کشمکش او فکري جګړې د مضامينو په تدريس بوخت دی. د مسلمانانو د عروج او انحطاط د اسبابو او عواملو د پېژندلو او له انحطاطه د بېرته راپورته کېدلو مضمون يې تر ټولو خوښ مضمون دی، او له کلونو راهيسې پر همدې موضوع ليکنې او ويناوې کوي.
- د اسلام د هر اړخيزې مطالعې په رڼا کې کمونيزم، ليبراليزم، سيکولرزم، هيومانيزم، رشنلنزم، نشنلزم، ديموکراسي، ګلوبلايزېشن او دېته ورته نورې فلسفې او نظريات ورته د معاصر جاهليت فکري مکتبونه ښکاري. په اسلامي نړۍ کې د دغو نظرياتو پيروان او د هغو ملاتړي اديبان او ليکوالان ورته د غرب د ملحدو او بې مهاره مفکرينو او ليکوالو ترجمانان ښکاري.

مدرسه او مبارزه

- مولوي عبدالهادي مجاهد د تېرو دوو پېړيو د تاريخ او تجاربو په پام کې نيولو سره په دې باور دی چې استعماري او يرغلگر هېوادونه هر وخت تر خپل پوځي يرغل د مخه پر مسلمانو هېوادونو د خپلو همفکره مفکرينو، ليکوالو، اديبانو، مطبوعاتيانو او د تعليم د ماهرينو له لارې فکري او فرهنگي يرغلونه کوي، د مسلمانانو ذهنونه د ځان لپاره تسخيروي او په فکري لحاظ يې په ځان پورې تړي، چې همدا تجربه په تکراري ډول په افغانستان او نورې اسلامي نړۍ کې رامنځته شوې ده.
- د امريکا د اشغال په مقابل کې مولوي عبدالهادي مجاهد ته الله تعالی د قلم د پورته کولو تر څنگ د غږ د پورته کولو توفيق هم ور په برخه کړ، چې په دې ډگر کې يې په بېلابېلو وختونو کې د هېواد له مجاهدينو، لوستو خلکو، او د فکر او فرهنگ له خاوندانو سره چې په هغو کې د پوهنتونونو، مدارسو، مکاتبو استاذان او محصلين هم شامل وو د فکري پوهاوي په زرگونو درسونه او مجالس لرلي.
- د فکري پوهاوي په سلسله کې يې پر بېلابېلو هغو علمي او فکري موضوعاتو چې په موجود وضعيت او جهادي جريان پورې يې اړه درلوده او پر هغو پوهېدل او پوهول د معاصرې اسلامي مبارزې له ضرورتونو گڼل کېدل يوه سلسله درسونه درلودلي چې له نيکه مرغه د هغو درسونو يوه برخه يې چې تر پنځو سوو درسونو رسېږي د ځينو مخلصو دوستانو او شاگردانو په همت په صوتي شکل ثبت شوې او خپاره شوي هم دي چې لاندې عنوانونه يې ځينې مهم موضوعات تشکيلوي:

۱ـ د قرآن کريم د ځينې سورتونو تفسير

۲ـ استشراق او پر اسلامي نړۍ د هغه فکري تأثيرات.

۳ ـ استعمار، د استعمار تاريخ، استعماري دولتونه، استعمار شوي دولتونه، د مستعمرينو ځايي ملګري او ځايناستي او د مسلمانانو د ژوند پر بېلابېلو اړخونو د استعمار تأثيرات.

۴ ـ ويسترنايزيشن ( داسلامي نړۍ غربي کول).

۵ ـ په اسلامي نړۍ کې د (شريعت) پر ځای د (وضعي قوانينو) د رائجولو اوږد او پراخ جريان.

٦ ـ ډيموکراسي.

۷ ـ سيکولريزم ( د دين او دولت بيلول) .

۸ ـ نشنلزم.

۹ ـ تنصير (د غرب له لوري د انسانانو د نصراني کولو نړيوال حرکت).

۱۰ ـ صليبي جګړې.

۱۱ ـ د اسلامي امت د ذلت اسباب او عوامل .

۱۲ ـ د اسلامي نړۍ معاصره پېژندګلوي.

۱۳ـ فکري استعمار.

۱۴ـ فکري جګړه او د هغې ډولونه.

۱۵ـ پر اسلامي نړۍ د غربی ډوله تعليم اغېزې.

۱٦ ـ د اسلامي تعليم او تربيې اهميت او ورکې موجود مشکلات.

۱۷ ـ د افغانستان د اشغالولو تر شا د امريکا سياسي، اقتصادي، پوځي او فکري اهداف.

۱۸ ـ د مجاهدينو لپاره د نړۍ او نړيوالو د پېژندلوضرورت.

۱۹ ـ د مجاهدينو ديني، پوځي او ټولنيز مسؤوليتونه.

۲۰ ـ د زاړه او معاصر جاهليت پيژندل.

مدرسه او مبارزه

۲۱ ـ د اسلامي دعوت اهميت او ضرورت.
۲۲ ـ قرآن ښوونه.
۲۳ ـ په افغانستان کې سياسي او فکري جريانونه (اسلامپالي، کمونستان او غرب پلوي).
۲۴ ـ د غرب له نظره منځلاري اسلام او منځلاري مسلمانان.
۲۵ـ غرب ولې او څنګه د مسلمانانو ځوانان بې لارې کوي؟
۲۶ ـ په اسلامي عقيده کې د حاکميت تصور.
۲۷ ـ په افغانستان کې امريکايي اشغال او د قوانينو بدلول.
۲۸ ـ د امريکايي اشغال د وخت پر اساسي قانون د شرعي تبصرې تفصيلي درسونه.
۲۹ـ په افغانستان کې د امريکا د جګړې بېلابېل اړخونه .
۳۰ـ د (معالم في الطريق) درسونه.
۳۱ـ د اسلامي فکر مشخصات.
۳۲ ـ د جهادي اعلام (مېډيا) اهميت، تأثير او وظائف.
۳۳ـ جهاد.
۳۴ ـ د ولاء او براء عقيده.
۳۵ـ د معاصر کفر د ډولونو د پېژندلو د درسونو سلسله.
۳۶ـ کافران څنګه مسلمانان د قوت له عواملو محروموي؟
۳۷ـ ويژه گی های افغان ها و افغانستان در جهاد.
۳۸ـ ولې جهاد کوو؟ څنګه جهاد وکړو؟ د چا په خلاف جهاد وکړو؟( د درسونو سلسله).
۳۹ـ غرب څنګه ځينې اسلامي جهتونه د خپلو اهدافو لپاره استعمالوي؟

۴۰ ـ اسلامپالو مبارزينو ته د مبارزې د اصولو او اهدافو په اړه لارښوونې او توصيې.

۴۱ ـ په افغانستان او اسلامي نړۍ کې د نصرانيت د خپرولو فعاليتونه.

۴۲ ـ په هره زمانه کې د علماوو مسؤوليتونه.

۴۳ ـ د پوځي او نرم قوت د حاصلولو ضرورت.

۴۴ ـ تر فتحې وروسته فکري، علمي او فرهنگي اولويتونه.

۴۵ ـ د اسلامي امارت د په رسميت نه پېژندلو تر شا د غرب او کفري نړۍ اهداف.

۴۶ ـ د اسلامي فعاليت مهم ډگرونه.

۴۷ ـ د اشغال د فکري او فرهنگي تأثيراتو د له منځه وړلو لارې چارې.

۴۸ ـ د عوت او اسلامي ژورناليزم په ډگرونو کې د پراخ فعاليت ضرورت.

۴۹ ـ د غرب ديني او فکري تاريخ ته کتنه.

۵۰ - د اولادونو اسلامي او فکري روزنه.

۵۱ ـ د اسلامي ادب او ترنم د انکشاف ضرورت.

۵۲ - د غرب پلوو له ليدلوري د فکري آزادۍ ماهيت.

۵۳ - د غرب پلوو له ليد لوري د بشر د حقوقو حقيقت.

او په لسگونو نور مهم موضوعات.

مولوي عبدالهادي مجاهد په افغانستان، سيمه او اسلامي نړۍ کې د اسلامي نهضتونو او حرکتونو او د هغ د تکاملي او تنزلي سير په اړه پراخه مطالعه کړې او د هغو د عروج او انحطاط اسباب او عوامل يې څېړلي دي.

مولوي عبدالهادي د اتو اولادونو پلار دی چې درې يې زامن دي. دوه زامن يې له ديني مدرسې فارغان شوي مولويان دي، او درېيم يې لا تر اوسه په مدرسه کې درس وايي.

مولوي عبدالهادي مجاهد د اسلامي نړۍ د مشهورو علماوو، ادیبانو او لیکوالو آثار لوستي، لولي یې او په خپلو ویناوو او لیکنو کې ترې استفاده کوي.

مولوي عبدالهادي مجاهد په خپل علمي ژوند کې تر ټولو مهمه مرحله هغه مرحله ګڼي چې شپږ کاله د داسې یوې علمي کتابخانې کتابدار و چې تر پنځو زرو زیات د اسلامي علومو کتابونه ورکې ایښي وو او ده یې د ژمې په اوږدو شپو او د دوبي په اوږدو ورځو کې د یوې لویې برخې کتابونو پاڼې اړولې او د هغو تلخیصات به یې ذهن ته سپارل او یا به یې له ځان سره خوندي کول.

مولوي عبدالهادي مجاهدي د اسلامي فکر او اسلامي تمدن تر څنګ د غربي افکارو، ادیانو، فکري مذاهبو او نظریاتو په اړه هم مطالعه لري او په دې یې سر خلاص کړی چې غربیان ولې او څنګه له تحریف شوو اسماني دینونو څخه مادي او الحادي فکري مذاهبو او فلسفو ته ور واوښتل، او څنګه یې اسلامي نړۍ ته مادي او الحادي افکار راصادر کړل.

د مولوي عبدالهادي مجاهد د فکري او علمي فعالیتونو د تمرکز نقطه دا ده چې څنګه د افغانانو نوي نسل ته د اسلام خپل فکري، معنوي او اخلاقي ارزښتونه ور تلقین کړي، څنګه یې د اسلام د دښمنانو له توطیو باخبره وساتي ترڅو په هغوئ پسې روان نشي، او څنګه یې په ځان کې د داسې وړتیاوو ایجادولو ته وهڅوي چې د هغو په لرلو د خپل اسلامي نظام د تقویې، تداوم او انکشاف فرصتونه رامنځته کړي.

رب تعالی دې یې له ابتلاءاتو او فتنو وساتي، او الله تعالی دې یې د خپل دین په خدمت کې استعمال کړي.